باچا خان

او

خدائی خدمتگاری

څلورم ټوک


(اوله حصه)

د پاکستان په سپریم کورټ کښې د ولی خان د بیان پښتو ترجمه

(دویمه حصه)

باچاخان په هندوستان کښې پښتو ترجمه

خان شهید کتابتون




KHAN SHAHEED LIBRARY

HTTPS://WWW.FACEBOOK.COM/GROUPS/KHANSHAHEEDLIBRARY

خان شهید کتابتون

Scanned By



Khan Shaheed Library

Join Us On

ټول حقوق محفوظ

د کتاب نوم _____ باچا خان او خدائی خدمتگاری

ټوک _____ څلورم

تالیف _____ خان عبدالولی خان

مهتمم _____ میرمن نسیم ولی خان

نائب مهتمم _____ سید بلال شاه

د چاپ نلپته _____ سنه ۱۹۹۹ د مئی میاشت

خطاط _____ سید قیوم

څلورم ټوک _____ ۱۰۰۰ جلده

بیه _____ (۲۵۰) کلدارې

ناشر: تقسیم کار _____ ولی باغ (اشنغر) چارسده

د خان عبدالولی خان بیان

"چې هغوئ په ۱۱ جون ۱۹۷۵ء په سپریم کورټ کښې وکړو او د دې پس ځې په عدالتی کار روانۍ کښې د برخې اخستو نه مجبوری بنکاره کړه، په سپریم کورټ کښې په نیشنل عوامی پارټۍ د بندیز لګولو متعلق د حکومت د ریفرنس باقاعده سماعت شوړو شو۔ اتاد نی جنرل یحیی بختیار عدالت ته خطاب کوونکے وُ، خو د دے نه اګاهو چې هغه خطاب کړے وے، خان عبدالولی خان په عدالت کښې د یو بیان وکړلو اجازت اوغوښتو، چیف جسټس شاغلی حمود الرحمٰن هغوئ ته د خپل وکیل په ذریعه د بیان وکړلو هدایت اوکړو۔ ولی خان ورته اووې چې هغوئ د خپل وکیل د مختارنامې واپس اخستو فیصله کړې ده۔ چیف جسټس ولی خان ته اووې: چې طریقۂ کار غوره شوے دے خو بیاهم هغه دې اخری فیصله اوکړی چې د خپل وکیل په ذریعه پیش کیدل غواړی یا پخپله (اصالتاً) د پیش کیدو خواهشمند دے؟ داسې نه ده پکار چې تن خپله پیش شی او سبا بیا د وکیل په ذریعه د پیش کیدو خواهش څرګند کړی۔ په دې ولی خان د خپل وکیل سره د صلاح کولو اجازت اوغوښتو چې ورکړے شو۔ لږه شیبه پس هغوئ عدالت ته اووې: چې هغه هم پخپله اصالتاً پیش کیږی هغوئ زیاته کړه چې په داسې کولو چې کومې پیچیدګۍ راپیښیدونکی دی زهٔ تر دې ښه خبر یم۔

جناب والا! مونږ چې کومو حالاتو سره مخ شوی یو هغه د پراهم دی د سیاسی کوندو فو په قانون (پولیټیکل پارټیز ایکټ) کښې ترمیم اوشو، د ایوب خان په دور کښې چې کوم قانون چلیدو په هغې کښې دا ذکر وو چې په پارټۍ د بندیز لګولو نه اګاهو به د غه معامله په سپریم کورټ وړاندې کول ضروری وی، خو زمونږ په پارټۍ د بندیز لګولو نه پس د سیاسی کوندونو په قانون کښې ترمیم اوشو، او د ریفرنس نه اګاهو پارټۍ غیر قانونی اوګرځولے شوه، دا یو داسې عمل وُ، لکه په یو سړی چې،

کسان په هائیکاټ کولو او د خپلې خلقي دنمایندګۍ نه کولو په ترڅ کښې د خپلې خلقي د خلکو حق وهنه کوی ، خو د هغه خلکو بلکې د فیډریشن دیوې برخې بلوچستان د نمایندګۍ پخلاد دوی څه خیال دے ، چې ټول ټی څلور میرات دی او په هغو کښې دوه درې په جبل کښې ساتلے شی ، دا خبره خو کولے شی ، خو د دې نه اړکاهو بې شمیره دا سمبلونه غوږې په جبل کښې واچولے شول ، هغوی سره چې د تېرو څو کالو نه کوم سلوک لګیا دے کیږی ، هغه د هرچا په وړاندې دے ، چې هرکله داسې حالت پیدا کړے شی ، څوک به څنګه د خپلې خلقي د خلکو نمایندګۍ اوکړی ؟ په دې مرقع د ملک د سیاسي سیاوڼ او د قانون د علمبردارۍ سوال دے ، او دا صرف د نیشنل عوامي پارټۍ سوال نه دے .

زما خواست دے چې د حکومت سره د مقدمې د چلولو د پاره دې هم ما ته برابره موقع راکړے شی . جناب والا ! زما خیال دے چې مخالف فریق د ملک په مستقبل کښې دلچسپی نه لری ، دې خلکو په بهر ملکونو کښې د ځانونو او خپلو بچیو د پاره کافی سرمایه جمع کړې ده ، په دې مقدمه د ملک مستقبل د جمهوریت بحالی او د قانون د حکمرانۍ اړاسره ده . زه دا مقدمه د ملک د سالمتیا ، تحفظ ، پروالی او بقا لپاره چلوم ، زه د خپل ځان یا د خپلې پارټۍ په خاطر عدالت ته نه یم راغلے ، بلکې د دې ملک د کروړونو اوسېدونکو د خاطره راغلے یم .

زمونږ حالت دا دے چې د تېرو پنځو کالو راسې د پېښورې په عدالت کښې زما یوه مقدمه روانه ده ، خو تر اوسه پکښې څه کار روانۍ نه ده شوے ، دا مقدمه دیر داسې سړي خلاف ده چاچې په یو پریس کانفرنس کښې الزام لګولے دے چې ماته د کابل په لاره د هندوستان نه روپۍ راړسی او د هندوستان نه د کابل په لاره دوه کروړه روپۍ راغلی دی .

جناب والا ! زما هم دا خیال دے چې د کابل نه دوه کروړه روپۍ راغلی دی ، خو ،

زه تپوس کوم چې هغه چرته لاړې ؟
زهٔ وایم چې دغه سړی ته دهغه پلیسو پته ده ، د هغهٔ نه د ې تپوس اوکړے شی چې هغه پلیسې کوم ځای دی ؟ د حیرانتیا خبره خو داده چې د پنځو کالو راسې په کښته عدالت کښې دغه مقدمه پرته ده ، خو کار روانهٔ پکښې چیخ نهٔ ده شوے زمونږ د ملګرو خلاف د ملک په مختلفو ځایونو کښې مقدمې روانې دی زمونږ مشران چې یو عدالت نه بل کښې فرسمدستی په هغوئ بل مقدمه جوړه کړے شی ، دا ملک زمونږ وکیلان د پر زیات کارکوی ، بعضې د صفائی وړاندې کولو وکیلانو حال داد ے ، چې نهٔ یواځې فیس ورته نه ورکړے کیږی ، بلکې د هغوئ په آزادی او عزت هم چپاوونه کیږی ، زمونږ وکیلان حکومتی پارټی د انتقامی جذبې تر مخه د دروغو په مقدمو کښې راګیروی . له د ې کبله هیڅ یو کس هم د خپلې آزادی او عزت د خطرې په خاطر زمونږ مقدمې ته غاړه نهٔ ږدی ، په د ې لړ کښې په میان محمود علی قصوری نن سبا په ضمانت قبل از ګرفتاری دے ، په هغوئ نوې نوې مقدمې جوړولے شی .
جناب والا ! زما مطلب صرف خپل مشکلات د عدالت په مخ کښې پیش کول دی ، مونږ د ې شهره وجوهاتو په بناء په د ې مرحله د د ې جوګه نهٔ یو چې په صحیح معنیو کښې دا مقدمه اوچلولے شو . او خپله صفائی وړاندې کړے شو ، په د ې کښې یوه وجه د پیسو کمے هم دے ، مونږ نقد رقم نهٔ غواړو خو دومره پرینبټنه ضرور کوو چې مونږ د صفائی د پاره د وکیلانو د نومونو یو فهرست وړاندې کړو ، او حکومت د د ې وکیلانو پرینبټنه اوکړی چې آیا هغوئ په د ې مقدمه کښې د صفائی د پاره تیار دی ؟ زهٔ د حکومت نه څه مراعات نهٔ غواړم ، زهٔ روپۍ ، پیسې نهٔ غواړم ، خو عدالت ته دا خبره کوم چې زما مشکلات په نظر کښې اوساتی ، ځکه چې زما معامله یوه دامې کس سره ده ، چې د ملک د نبهٔ وکیلانو خدمات او سهولتونه ورته تر لاسه دی .
جناب والا ! زهٔ دلته دا هم په واکه کوم چې زما مقدمه د نیپ خلاف

ده، اوبه هغې د سرکار پنام ولی خان سرخط صحیح نه دے، لهذا زما عرض دے چې په عدالت کښې کم نه کم زما د مجلس عاملې هغه څلور کسانو ته چې دا وخت په سهالۍ کښې بندی دی د حاضر اوسیدو اجازت ضرور ورکړے شی چې مونږ دیوبل د مشورې نه پس صفائی وراندې کړے شو.

جناب والا! زمونږ مشکلات داسې دی چې د بیانولونکو دی د مثال په توګه که مونږ ته دیو څیز ضرورت وی، یازما د تبس خط راشی نو هغې نه ای۔ وی۔ اینټلیجنټس اوبې شعبه سکټرانو او سرکاری کسانو ته ځی، پس له هغې بیا مونږ ته راږسی۔ مونږ ته د وکیل سره د لیدو موقع هم راکولے نه شی، د خبرو کولو موقع نشی راکولے، مونږ څنګه متقدمه اوچلوو؟ عدالت دې زمونږ د مشکلاتو اندازه اولګوی چې یو خوا طاقتونه فریق دے، اوبل خوا مونږ ته هیڅ سهولت نشته.

جناب والا! یره معامله پاتې شوه۔ زه د هغې ذکر کول هم مناسب ګڼرم، هرڅرګه د اخبار د افسوس وړ ده، خو زما مرکزی کمیټی د یو قرارداد په ذریعه د عدالت د دې بنچ په جوړښت اعتراض کړے دے، په کومو دوو وجوهاتو چې اعتراض دے په هغې کښې یو اوس څو وړځې وراندې (یو، یو) بورډ کښې زما د نظربندۍ په هغه بنیاد ونو توسیع کړې ده، چې په موجوده ریفرینس کښې شامل دی، او یو بل لا د سکرټري ؤ، له دې کیله دې د دې ریفرنس د مقدمې د پاره دې د سر بیا د بینچ جوړښت وشی۔

چیف جسټس:۔ دا یاد لره چې دا سې اعتراض نه د عدالت د سپکاوی (توهین عدالت) په زمره کښې هم راتلے شی، په دې غرض لږ محتاط اوسه۔

ولی خان:۔ ما درته صرف خپل مشکلات بیان کړل د دې اعتراض لپاره

چونکې مانه خپلې مرکزی کمیټې تائید کړے وُ۔ په دې وجه دلته مـا دا اعتراض وړاندې کړو، که تاسو ما ضمانت باندې پریږدئ نو زهٔ به په سبه ترکه دامقدمه اوچلوله شم۔

ولی خان د خپلو معروضاتو د وړاندې کولو نه پس په خپل خاې کښې ستر عدالت عظمیٰ یحییٰ بختیار اتهارنی جنرل د خپلو دلائلو وړاندې کولو ویتا وکړه۔ په دې خبره ولی خان د خپل خاې نه پاسیدو او عدالت عظمیٰ تر ټې خواست اوکړو چې د هغهٔ په معروضاتو خپله رائیه ورکړې۔ فاضل چیف جسټس په دغه معروضاتو خپله رائی سره وبا ره کړه۔ خان عبدالولی خان عدالت ته خواست اوکړو، چې تر څو پورې زما وکیل تهاکلے کښې ی، تر تر هغې دې کار روانی اوخندولے شی، عدالت عظمیٰ د هغهٔ دغه درخواست اونهٔ منلو، تر هغوئ اووئیل چې هغه د خپلو مشکلاتو په سبب په عدالتی کار روانی کښې په برخه نهٔ اخستلو مجبورهٔ دے او بهر روان شو۔ د هغهٔ سره د هغهٔ وړاندینی وکیلان اوخرا خوبۍ هم بهر را ووتل۔

سربیره ، د اد باچاخان تلپ هندوستان ته او زما بیان په سپریم کورټ کښې
د کتاب د څلورم جلد حصه ده ، خو کتاب چې پرغټ شو ، نو مونږ دا مناسب
اوګڼلو چې دا ځان له چاپ کړو .

باچاخان په د سمبر ۱۹۴۷ء کښې د هندوستان په دوره لاړ - چې
هلته په هندوستان کښې د مسلمانانو د حالاتو نه ځان خبر کړي ، او د
ګاندۍ جي د عدم تشدد او مذهبي رواداريۍ د اصولو جاج واخلي ، ما ته
د دغې دورې په حقله څه لیکلو کښې لوی مشکل دا وُ - چې یو خو مونږ
کښې څوک باچاخان سره په دغه دوره کښې شریک نه وُ ، بلکې لویه لاښه
دا پېښه وه ، چې د هندوستان او پاکستان اخبارونه د یو بل ملک ته پرېښودے
نه شي ، او بله څه ذریعه وه نا ، چې د دغې په وجه مونږ د باچاخان دغه
تاریخي دورې معلومه کړه وے - دغه خو دې خدائ د مسلم لیګ یو قامي
لیډر اسماعیل ذبیح سره ښه شي چې هغه چونکې په دغه وخت کښې
د خپل شخصي کار په سلسله کښې هندوستان ته تلے وُ - نو هغه یو پمفلیټ د
باچاخان د دغې دورې پحقله چاپ کړے وُ - ما چې هغه سره دا خبره
اوکړه چې د باچاخان د هندوستان د دورې پحقله مونږ د هیڅ قسمه
معلومات نه لرو ، نو هغه دغه لیکلے پمفلیټ ماله راکړو چې د دغې نه څه
ناڅه اندازه د باچاخان د هندوستان د دورې پوهه شي . زما دوستانو بله هیڅ څه
ذریعه نشته چې زه د باچاخان د دغې دورې پحقله دا اوسیکلے شم ، د اسماعیل
ذبیح صاحب مشکور یم ، چې دا پمفلیټ ئې لیکلے دے چې څه ناڅه خو د
باچاخان د دغې تاریخي دورې حالاتو ترینه معلومیږي .

" ولی "



خان عبدالولی خان

د پاکستان په سپریم کورټ کښې

ریفرنس نمبر ۱ سنه ۱۹۷۵ء

جمهوریه اسلامیه پاکستان بواسطهٔ وزارت داخله اودکشمیر اُمور اسلام آباد
مدعی:
عرض گذار:

په نوم

دنباغلی عبدالولی خان ایم. این. اے پخوانی صدر نیشنل عوامی پارټی ... مدعاعلیه

ریفرنس یو۔ ایس ۶ (۲) بحقله د سیاسی پارټیو ایکټ سنه ۱۹۷۲ء ؛

لیکلے بیان د خان عبدالولی خان صدر نیشنل عوامی پارټی دطرفه موجوده وخت کښې نظربند سهالکیمپ جیل - راولپنډی ؛

دا ټکی لیکو نکے خان عبدالولی خان صدر نیشنل عوامی پارټی دلاندینی امورو د پوره یقین سره اظهار اوتصدیق کوی:

وړاندې د دې نه چې زه د دې الزامونو په باره کښې کوم چې زما خلاف د مدعا علیه په حیث لګولے شوی دی څه ووایم د عدالت توجه دیو څو پر اصم. بیان طرفته راګرځول غواړم کوم چې د حکومت ترجمان د تعلیم وزیر سنباغلی حفیظ پیرزاده د نیټې د خلاف قانون کرځولو د حکم نامې په سلسله کښې وکړے وُ په کوم کښې چې وئیلې شوې دی چې حکومت دا قدم په سمدستی غضب کښې په راتلو نه دے کړے. یا داد دې صورت حال نتیجه ده کوم چې د حیات محمد خان شیرپاؤ د قتل سره شوه شو بلکې واقعه داده چې حکومت د دې وکالو راسې د نیټې سرکرموته کنټل او د دې په باره کښې څه مواد راجمع کول. د دې بیان وکړلو سره د دې څوان او وړ اوچت ارزښتناکو لوفکی اسامی سوهنا منډا په صفا توګه د انګریزی محاورې مطابق

پیشود تھیلی، نه بصر راویستې ده اوکه ددهٔ دغه ظاهرول د نظر څخه نه کهنبود لے شی، نو هغه ټول اقدامات کوم چې د پاکستان پیپل پارټی چیرمین ښاغلی بهټو د یوفرد واحد د آمریت قائیمولود پاره تر اوسه کړی دی په دې باندې پرمبنا اساسیږی.

د خپل ورځپاڼی نشری تقریر نه واخلې کوم چې موصوف په ۲۰/ دسمبر ۱۹۷۱ء باندې د چیف مارشل لاء ایډمنسټریټر او د خپل نوی پاکستان د صدر په حیث کړے دے، په کوم کښې چې هغهٔ د نیپ نه پابندی اوچته کړه او عین تر هغه وخته پورې کله چې موصوف په دې باندې بیا پابندی واکوله ټول صورت حال بلکل صفا او واضح کیږی په دې دوران کښې چې د ټول ملاقاتونه کانفرنسونه معاهدې او د تعاون وعدې وغیره وشوې، د هغهٔ په سوچ اونکر جوړې شوې منصوبې د کومې دمخه چې د خپلې لارې نه صرف یو خنډ لرې کړل وو مختلفې مرحلې وې

زهٔ به په شور وکښې د دې خبرې څرګنده ونه وکړم چې د نیپ خلاف قانون کرځول صرف د یوې سیاسی پارټی خلاف قانون کرځول نهٔ دی کومې ته چې د ښاغلی بهټو د نوی پاکستان د څلورو وقاقی یونټو کښې هوډ او سپدنکو خلکو د اکثریت اعتماد حاصل دے۔ ولې چې نیپ د بلوچستان او د شمال مغربی صوبې په صوبائي اسمبلوکښې د ټولونه لویه ځانله پارټی ده او د دې ملته ښکې هم هغه شان حیثیت دے کوم چې د حکمرانې پارټی په منده کښې دے.

د اخبرو به په لحاظ کښې ساتل د پره د لچه وی چې پاکستان کښې په په نوم کښې په اول ځل کړے شوو د عامو وټونو په نتیجه کښې یوه هم داسې سیاسی پارټی نهٔ وه کومې چې د پاکستان په پنځهٔ واړو صوبو کښې د نمایندګی دعوه کولے شوه. اګرچې عوامی لیډ د ټولونه زیات وټونه اخستی وو

* بلکې دا د یوې داسې سیاسی پارټی خلاف قانون کرځول دی

اوهغه په قامی اسمبلی کښې د مکمل اکثریت په حاصلولوکښې کامیابه شوې وه. لیکن هغه صرف تر مشرقی پاکستان پورې محدوده وه اود مغربی پاکستان په څلورو واړو صوبو کښې په یوه کښې هم هغې یومیمبر منتخب نه کړے شو. د دې نه پس پیپل پارټی وه کومه چې په قامی اسمبلی کښې دویمه لویه پارټی وه د دې د مشرقی پاکستان او بلوچستان نه یو ممبر هم رانغے اود صوبه سرحد په شلنو ممبرانو کښې صرف یوممبر د پیپلز پارټی په ټکټ منتخب شو. داشان دبهتو اکثریت صرف د پنجاب او سندھ پورې محدود وُ. دلته یوه اهمه خبره د نظر لاندې ساتل پکار دی اوهغه داچې د ښاغلی بهټو پیپلز پارټی د مشرقی پاکستان په وو ټوټو نو کښې د سره څهٔ حصه نهٔ وه اخستې اوداځیز په ډاګه د دې اړخ ښکارونه کوی په کومې چې پیپلز پارټی په رانلونکی وخت کښې د خپل مهم چلولو سوچ کولو د صوبائی اسمبلیو د انتخابونو نتیجې هم څهٔ کم و زیات د قامی اسمبلی په شان وې.

غرض داچې پاکستان داشان په درې ډلې سیاسی ګروپونو کښې تقسیم شو. مشرقی پاکستان بغیر د چاد شراکت نه د شیخ مجیب الرحمٰن د عوامی لیګ، پنجاب او سندھ د پیپلز پارټی او بلوچستان او صوبه سرحد د نیپ او جمعیت العلماء اسلام په حق کښې لاړ. داسې وشوه او داسې کیدل پکار وو. ولې چې د ملک په درویشت کاله ژوند کښې دا اولنی عام انتخابونه شوی وو او په دې ټول وخت کښې چې په پاکستان باندې کوموخلکو حکومت کولو هغوی اولس د خپلو بنیادی حقونو نه محروم ساتلے وُ. د جمهوریت او قانون پرې خندا ګانې کیدلې او په عملی توګه ملک په دې ټول موده کښې د آیین نه بغیر پاتې وُ. سیاست یومنع شوې اونهٔ وه او هرڅیارو حاکمانو یه صرف دومره ضرور کول چې "بې وقوفه اوجاهله" عوامو له کنټرول لرلو بنیادی جمهوریت ورکړو.

دا ښکاره وه چې د مغربی پاکستان د یو وحدت د قائمولو او د مشرقی

او مغربی پاکستان ترمنځه برابرې نمایندګی ته به داسې کتلے کېدل چې دا په
ورځوصوبو د غلبې حصولو د پاره یوقدم وُ د پاکستان دا اکثریت په خلاف یو
سازش وُ چې دا ټاټان د وئ د خپل سیاسی او معاشی حقونونه محروم وساتلے
شی . دې څیز بغیر د څه شك شبهې قومی یووالے تار تار کړو او د هریې
مخه ئ د خپلې صوبې طرف ته کړل او دا ټاټان په قامی یووالی او اتحاد باندې
سخت زخمونه ولګېدل د پاکستان د نظریې دا تش په نوم محافظان د دې
بنیادی او محرك قوتونو کوم چې د پاکستان د جوړېدو په صورت خپلې انتها ته
رسېدلے وو. نوی نسل ترمنتقل نه ډکړے شول د دې نتیجه د روحانی او سیاسی
اړیکو په شکل کښې دا دوتله محلاتی سازشونو د جمهوری اداروځای واخستو
مخلص سیاسی کارکوونکی غیب شول د هغوئ ځائ مهم بازو واخست چا چې
د هر په سوچ او فکر سره خپلې روپې په فضول خرچه د بنکار په پارتیو د راتلو او
رنډې په مجلسونو د شنځو او شراب په انتظام او په یو ځائ کولو کښې لګولې او دا
ټاټان هغوئ په پټه د هر په امانت د اقتدار په کرسی کښېناستل.

ظاهره ده چې دا ټاټان قامی یووالی ته سخت نقصان ورسېدو څه فکری
یوشان والے نه وُ کوم چې په عمل کښې یوشان والے راوستے وُ - د دې
هغه انتخابی نتیجې وې کومې چې په ټلنه ع کښې ظاهرې شوې بې شکه چې دا افسوناک
صورت حال وُ ، لیکن په دې کښې د امید یو ارخ هم وُ - او هغه صرف دا ټاټان چې
که دې لیډرانو هغه په دې لار اچولے شوے . د دې انتخابونو د نتیجو تر
مخه صرف حکومت په نئ طریقې سره د خپل کار چلولو د پاره مجبور وُ - چې هغه د
نورو صوبو د جذباتو صم احترام وکړې - او د هغوئ د ارزوګانو لحاظ وساتی . دا
ټاټان د ټولو کړوپو نو لطرف د حکومت په کار روزګار کښې شرکت یقینی کولے شو
ولې چې جمهوری عمل پخپله د دې خبرې تقاضا کوله چې په یوبل باندې
اعتماد او باور وکړے شی او دا څیز د ملک د یووالی او استحکام مضبوطترین ضمانت

ؤ - بهرحال په داسې حال کښې کېدلے شوې که د دې اکثریتي پارټیو لیډرانو داسې غوښتل.

په دې سلسله کښې د اخبره په هغه قوتونو باندې هم چاچې بهتو د پاکستان په سیاسی نقشه کښې وړاندې راوستے وو - دا ډېره واضحه شوه چې د معمول په مطابق د جمهوری عمل په کار راوستلو په صورت کښې د قائد اعظم په پاکستان کښې به بهتو د حزب اختلاف مشر ؤ. کوهې پرې چې هغه د مجیب سره د خپلې قسمه نسمجهوته ونه کړې - مونږ ته دلته د دې خبرې خیال سائل پکاردی چې داد مجیب په فائده کښې وه چې هغهٔ پاکستان یو ځاے ساتلے وے ولې چې په مرکزی سطح هغهٔ سره اکثریت ؤ - او هغهٔ ټه په یقینی طور د مغربی پاکستان د صوبو د پارلیمانی مرستې باندې هم د زیات اعتماد ضرورت ؤ.

د دې نه علاوه د انتخاباتو نتیجو بهتوته داسې حیثیت ورکړے ؤ چې هغه په هرې جمهوری عمل کښې د ملک په یوځاے د ساتلو په لړ کښې یو ډېر اهم کردار اداء کولے شو که هغهٔ خپل ځان د مجیب سره په اقتدار کښې په شریکولو راضی کولے شو - نو بیا خو خهٔ مسئله نهٔ او چتېدله ما ته هغه وخت دا معلومېدلهٔ - چې یو اوصرف دیو سیاست دان د چاچې هغه وخت د وطن سره د مینې ازمېنت ؤ. هغه بنا غلے بهتو ؤ. په متحده پاکستان کښې به هغه د شیخ مجیب دویم نمبر ؤ. یا به هغه د حزب اختلاف مشر ؤ - لیکن که هغهٔ اول نمبر جوړېدل غوښتل نو بیا خو به هغهٔ د شیخ مجیب نه ځان خلاص ولو. او دا حاصلات هم صرف د پاکستان په ټوکړو کېدو کېدلے شو.

دا صرف د یو اړخې بنا غلے بهتو مت ؤ - د چا مستقبل چې د پاکستان په وړاندې تلو چې کوم شکل جوړونکے ؤ هغهٔ سره د هغه خو په اصل کښې یو علامت او پیداوار ؤ - د مغربی پاکستان د دې مستقل مفاد کوم چې مختلفو مواقعو په مختلفو جامو کښې لک ځکه چې د دې د مفادو غوښتونکو د تدبیر

اوچل ول اوددوی د سامراجی مشرانو د تدبیر اوچل ول د پاره مناسب وی. بنکاره کیږی کله دوی د مسلم لیګ شکل اختیار وی بیا د مسلم لیګ او مخلص او ځانت قربانوونکی غړی یو طرفته کړی او د افسرشاهی په مرسته د هغې په عهد وقبضه دارشی. او دا مسلم لیګ په دې پبلک پارټی کښې بدل کړی. بیا وروسته د فوځی جرنیلانو په مرسته هغوی دې ته دکنونشن مسلم لیګ نوم ورکړی او اخره کښې مونږ په سیاسی سټیج باندې د هیڅ ماسټرانو ورځ اغوستې د ماسټرانو یو ټولګی ولیدو. د دې مستقل مفاد سره چاچې په دې ټولو کلونو کښې د اولس وینې وخښلې په کرانه دا توقع کیدلې شوه چې هغه دې دې استحصال کښه ونکو ته والې اختیار ورکړی. د هغه شان فوځی ټولګی، افسرشاهی، کارخانه دارو، سوداګرو او د زور او زر خاوندانو طبقې خپلې ټولنې وسیلې راجمع کړې او دا ټول صرف او صرف د مغربی پاکستان د ننه راغونډې کړې او داشان هغوی د بنګلې بهنو په راوړاندې کولو کښې کامیاب شول چې داشان هغه د هغوی د مفادا تو حفاظت وکړے شی. دا خبره بلکل بنکاره وه چې د معمول مطابق د جمهوری عمل په صورت کښې اقتدار شیخ مجیب ته منتقل کول وو او د دې په نتیجه کښې صفا ظاهره وه چې بنګال به د زیاتی خوری د سلسله بنده کړی یقیناً چې هغوی به په حکومت کښې د لازمی حقوقو او اختیاراتو او ملک په معاشی وسیلو کښې د خپلې حصې غوښتنکول په دې شکل کښې عوامی لیګ به نه صرف د خپلو حقوقو او اختیاراتو پاملرنه کول. بلکې هغوی به د مغربی پاکستان د زیاتی بنکار شوی اولس مدد به ځ هم کولو او دا ټول طاقتونه ظاهره ده چې په دې کښې به ځ خپله فائده کښلې چې د پاکستان د دواړو حصو د اولس د اتحاد دې په خاې پاتې شی.

داشان بهټو د پاکستان په سیاسی سټیج د مستقلو مفاداتو د محافظ دیو علامت په حیث مخې ته راغے لیکن په بنکاره هغه د عوامو د قائد جامه واغوستله. د عوامو سره د روټی، کپړې او مکان په وعدې سره.

مانه دلته د دې خبرې د وضاحت کولو څه ضرورت نشته - چې په ټن زمانه کښې دلته سیاست نړۍ نړۍ یو سائنس جوړشوے دے تر دې حده چې په دې معامله کښې امریکې والا د ډیمرو انصاف خوښه اوصفا خبرې کولو والا دی چې هغوی امریکا کښې د سیاست کار تر د پارټی مشین نوم ورکړے دے د میکیاولی د تعلیماتو د نظریاتی مطالعې او د امریکې د پارټی مشین د عملی تجربې نه پس د ښاغلی بهټو د پاره په دې کښې د صبح قسمه ګرانه نه وه چې هغه د اولس د جذباتو سره لوبې کولې د هر سړی ذاتی خوښه او ناخوښه به ئې شاربله او ده سره به ئې د دنیا د هر څیز وعده کوله - د هندوستان سره د دښمنۍ د جذباتونه په ګټه اخستلو کښې هغه د هندوستان سلو تر زړه کالو پورې د جنګ کولو په وعده کولو کښې هغه مسلم لیګ هم د هر وروسته پرېښودل - هغه د سوشلیزم په حقله دومره په جوش او جذبه، عزم او یقین سره خبرې وکړې - چې نه صرف عام ورکړې په دې کښې لاهو شول - بلکې هغه د هر مخلص سوشلستانو پورې هم په ذهنی کشمکش کښې اخته کړی وو - خپل کیمپ ته د هغوی په راوستلو کښې کامیاب شول - د دې جذباتی سوشلستانو د اهم ونډ لیدلے شول چې د سوشلیزم د مقابلې ډلو نوے ترین ترکیب دا دے - چې د سوشلیزم پحقله په هر زور سره چغې سوري وهلې او د دې خاص تعبیر نه ونډ کتلے شی کوم چې ښاغلی بهټو د سوشلیزم کړے وو - کارخانه د مزدور او زمکه د کروندګرې - دا هغه اعزازونه دے کوم چې سوشلستو نظام یوکس تر ورکړی - زه تپوس کوم چې کوم ځای؟ بنیادی نقطه داده چې د پیداوار ټولې وسیلې دې د ریاست سره وی اوس کله نا کله ښاغلے بهټو کارخانه مزدورته او زمکه کروندګرته نه ورکوی نو دې نه به د بهټو عزت خوښکاو نه شی - ولې د اولس به هم د سوشلیزم نه عقیده پورته شی د دې د پاره موږ به بهټو همیشه انقلاب دښمنه ګڼلے دے

بناغلی بهتو دوسره تبزاو چالاک ضرور و چې هغهٔ وکتل چې که چېرې هغه د مستقلو مفاداتو د محافظ په حیث د اولس مخې ته راشی- نو اولس به د هغهٔ مرسته نهٔ کوی- دغه شان د دې د پاره هغهٔ تر یو عام وګړی ته دهوکه ورکول وو هغهٔ د خپل سیاسی انتخابی مهم په وخت دا دعوی وکړله چې هغه به د عام وګړی د مفاداتو تحفظ کوي- او هغه به خپل اصل شکل کښې صرف هغه وخت مخې ته راغی کله چې هغه د اقتدار په کرسی قبضه دار شوے وو.

اوس زهٔ خپلې دویمې خبرې ته راځم. بناغلی بهتو همیشه په خپلسر سیاسی مخالفینو د هغه کارونو الزامونه لګوی کوم چې دے پخپله کوونکے وی. زهٔ به د دې خپل بیان په لږ کښې د یې شمیره مثالونو په ذریعه د دې خبرې وضاحت وکړم چې د میکیاولی د بنودلے شوی سیاست د طریقو شهزاده دے- چې نهٔ د خپلې پارټۍ سره مخلص دے اونهٔ د خپل سیاست سره، نهٔ د خپلو ملګرو سره او تر دې حده چې نهٔ د خپل ملک سره مخلص دے- په ډوند کښې د دهٔ یواځینے مشن د خپل او صرف د خپلو سیاسی مطلبونو د پاره د انسانی کمزورېونه فائده اخستل او کوم خلک چې د دهٔ خواؤشا دی- د دوی د فطری کمزورېو او خپل مطلبه طبعیتونونه ناجائزه فائده اخستل او دوی د پوښې په طور استعمالول او پرې پوره راتلل دی.

لکه څنګه چې په دې ټاټان مواقعو او حالاتو کښې همیشه کېږی بناغلی بهتو ته پته وه چې کوم خلک هغه د اقتدار په کرسی کښېولے شی هغوی د دې قابل هم وی چې هغه د هغه ځایه اخوا کړی او د دهٔ په ځای خوږ بل څوک راولی. د دې د پاره په اقتدار کښې د راتلونه پس د دهٔ وړومبۍ نخښه خپل ملګری دی. هغه خدائی دې کړی که د فوج جرنیل وی او که جج یا دوست وی، هغه پارټۍ والا خپل خپلوان تر دې حده چې قادیانیان هم کېدلے شی

داخلک نفسیاتی «کیس» وی - دوئ د اقتدار پسې لېونې وی په صرفیت او هره طریقه چې وی، په دې کښې یو د لوټې نه لویه قربانی نه وی او که په دې کښې څه څیز منع وی، دوئ نه خو په هرحال کښې منزل ته رسیدل وی. خرا که دا د خپلو ملګرو په لاشونو باندې په تېرېدلو یا د خپل ملک د اولس ګهوپړئ د خپلو چینو د لاندې راویستلو باندې د دوئ ناروغه ذهن په څه څیز هم نه اودریږي. تر دې چې د خپل ملک په ټکړې ټکړې کولو هم - چې داسې هغوئ یو داسې وکیوتے ملک بیلوموسی. کوم څای چې هغوئ بغیر د څه کړاو نه حکومت وکړی.

فی الحال به زه د انتخاباتو د زمانې نه زیات روستو نه خم، چل، دا سوچ کړئ شوئ و چې د سلو نه څان داسې خلاص کړی چې ښاغلی بهټو ته د مجیب د اکثریت نه خلاصے ملاؤ شی یا کم نه کم داسې حالات پیدا کړے شی په کوم کښې چې مجیب په داسې کارونو کولو مجبور کړے شی چې ته چې وطن د ښمنه اوښلې شی. شیخ مجیب د خپل اکثریت مظاهره د قامی اسمبلی په ذریعه صرف په مرکزی سطح باندې کولے شوه - د ښاغلی بهټو عمل خو داسې ؤ - چې هغه به اسمبلی ته نه خی اګرچې د دې غونډه د دستور سازۍ اسمبلی په طور نه، د قانون سازۍ اسمبلی په طور راغونډ ته شوې وه - بهټو د هر ناقلار ؤ او هغه د دستور جوړولو انتظار نه شو کولے. نو هغه مطالبه وکړله چې په دستور باندې د اسمبلی نه بهر سمجهوته کول پکار دی - په دې دوران کښې مستقل مفادات په پوره حرکت کښې ؤ. او د هغوئ ترمنځه پدې حقله پوره ملګرتیا او اتحاد ؤ - کوم څای چې یو طرفته د دستور سازۍ اسمبلی د اجلاس د بائیکاټ کولو مهر دې د بهټو په عامو جلسو او اخبارې بیانونو په ذریعه جاري وساتی. او که موږ د هغه د هدایاتو د خلاف ورزی جرأت

وکړو نو زمونږ د پښتو ماتوونکو او پوښتنې ماتوونکو دهرڅ دې راکړې،
اوهغه خلک څوک چې د پاکستان اسمبلۍ تړلې۔ دا مشوره ورکړې چې
هغوئ دې واکې ته د تللو صرف د یو اړخ ټکټ واخلي " آیا ددې اعلانونو
کولو والا د دې نیت د ثبوت د پاره د نورځ ضرورت نشته چې هغه د
هغه وخت ته د مشرقي پاکستان نه د ځان خلاصولو طرف ته اشاره کوله،
هلته بل طرفته فوجي تولګې د مغربي پاکستان د پارلیمانې پارټیو په
مشرانو باندې په دهرڅو اچولو کښې مشغول وو۔ چې هغوئ دې د بهترو
سره د اسمبلۍ د بائیکاټ په لړکښې مرسته وکړې. آخر داچې د صدارتي
فرمان په ذریعه د اسمبلۍ اجلاس وځنډولے شو. آیا تاسو ته ددې حقیقت
دې نه ډیرې واضح ثبوت څه ضرورت نشته؟ چې محلاتي سازشونو دا پخه
اراده کړې وه چې هغوئ به د پاکستان اولس ته د هغوئ د نوو منتخب کړے شوو
مشرانو په ذریعه د خپل دستور چوکاټو د خپل جمهوري حق د استعمال اجازت
نه ورکوی. او آیا دا د مشرقي پاکستان والاو د پاره یوه دهرڅه نه وه چې د پاکستان
په حیث د هغوئ اکثریت به هیڅ پکار نه راځی. او داچې هغوئ به همیشه
د مغربي پاکستان د مستقلو مفاداتو تابعدار وی۔ خواه که هغه مفادات خپل
ځان په کوم شکل کښې هم پیش کړی.

په دې لړکښې د نظر په پاکستان تش په نوم محافظانو هم لږ
د ډیر خپل کردار اداء کړو په دې وروځوکښې هغوئ د مشرقي پاکستان د
خلکو د سپړولو د پاره د مضبوط مرکزي تجویز ونه کړل او په سرکونو به یې
پریږدونکو (آیا دا خبره اهمیت نه ده چې د ډاکې د ښارلونه پس اوس
مونږ هغه جمله یا تجویز نه اوروو؟) د مشرقي پاکستان خلک وسیرولے شول،
اخوا دې خوا ته د یکه کړل هغوئ ته د هرکې ورکړے شوې او کله چې هغوئ
پسرکولو باندې مجبور کړل۔ نو د هغوئ د پلاو د تښتېدلو یوه لاره هم نجوړیږ

کړے شوه .

زهٔ به دلته دا بیان وکړم چې زهٔ د خپلې ستړکې د علاج په لړکښې په برطانیه کښې وُم . کله چې د دستور ساز اسمبلی د جوړولو حکم جاری شو . ما ته هغه وخت هم دا د خاتمې شورو لکهٔ د صدر جنرل یحیٰی خان ماته د واپس راتلو د پاره ووې . زهٔ واپس راغلم او د میرغوث بخش بزنجو سره نیغ د هاکې ته ورسیدلم مونږ ته وویلې شو چې شیخ مجیب په غصه کښې نامت دے او هغه بلکل نا امیده شوے دے . تر دې حده چې هغه د صدر سره د ملاویدلو د پاره هم تیار نهٔ دے .

زهٔ به دلته یوه خبره بله هم وکړم - چې کله مونږ د دې ملک په سر باندې کرښه ونکړو خطرناک کومو ته چې دا قصداً ورډیکه کړے شوے وو . د بیج کولو په کوشښونو کښې ووُ . مونږ یعنې دا سې خبرې واورېدې کومې چې ورسره تو په پیغمبرانه طور داشان صحیح ثابتې شوې چې هغې نومونږ په ذهنونو کښې یقیناً چې شک شبهه پیدا کړلې . چې آیا د دې حکمرانې د دوارو اړخونو خلکو په یوځای خو د دې منصوبې مطالعه نهٔ وه کړې او اوس هغوئ صرف د دې د پاره چې خپل پارټ ګوي او د ډاسې په ډایلاګ کښې خپلې خپلې خبرې دوباره کوي . حال دا چې دا ډاسه کښې او د دې هدایات ورکوونکے ډائریکټر) په ارام سره د پردې شاه ته نامت دے

کله چې مونږ په شیخ مجیب زور ورکړو چې هغه د صدر سره ملاوُ شي . او کله چې مونږ د دوی سره د خبرو اترو په شورو باندې زور واچولو نو مجیب مونږ ته ووې چې د دې نه به خهٔ سبهٔ نتیجه راوتهٔ ووې ولې چې د اسلام آباد ولکمنو خپله فیصله کړې ده - یحیٰی به خبرې اترې شوې کړې لیکن په اصل کښې به هغه صرف وخت تېروی چې هغه د هوائی جهازونو په ذریعه خپل فوځونه دلته جمع کړي شي . شیخ مجیب ووې : بیا به ایم . ایم احمد راشی او د دې نه پس به بهتو راشی . د خبرې اترې به روانې وی . کومې چې پورې چې

نوځی ټولګی په مونږ باندې د دباؤ اچولو او زمونږ د وطلو د پاره کافی قوځ جمع نه کړی د دې نه پس به هغه قدم پورته کړی۔ هغه به منتخب شوی مشرانو ته کله هم اختیار منتقل نه کړی۔

مرکزی حکومت هغه وخت په دې ټولو خلکو باندې د پره سختی کوله چاچې د صدر یحیی خان د غیر جمهوری او وطن دښمنه کار خلاف احتجاج کړې وو۔ هغه د اسمبلی اجلاس وځنډولو په دې سلسله کښې ئې د زور زیاتی د پاره پوره چهتی وکړه پهوه په دې دوران کښې چې کله بنګالیان ئې ویښتیا په مرئ ژوبله باندې مجبور کړي وو بهتو په دې موقعه باندې په یو پاکستان کښې د دوؤ دستور سازو اسمبلو او د دوؤ وزیر اعظمانو تجویز وړاندې کړو او دا شان په دې حساب بنګالیانو ته د بهر وتلو لاره ویښه ده۔ ما د اخبارونو یوځ بهر ملکی نمایندګانو د دغې تجویز په باره کښې د عوامی لیګ درد عمل د معلومولو د پاره وایل ل۔ لیکن هیڅ تبصره مالوؤ نه شوه۔ په دې باندې ما د عوامی لیګ یو ترجمان راغوښتو چې رد عمل ئې معلوم کړم نه شی د هغه جواب د معنی نه د پر ولګوؤ۔ کله چې ما د هغه نه نور وضاحت وغوښت۔ نو هغه ووې چې خبره د پره اسانه ده۔ د خپلو شپږو نکتو په بنیاد مونږ د فیډریشن د نه د صوبایی خود مختاری غوښتنه کوله د بنا غلی بهتو د دوؤ دستور سازو اسمبلو او د دوؤ وزیر اعظمانو د تجویز په ذریعه مونږ ته د مکملې آزادۍ په پیښکش کولے شی مونږ ئې ترې ولې په یو غږ په دواړه لاسه وانخلو۔

دا آؤ د دې سره سره مجیب ته د یحیی د اخفیه پیغام لیږل په کوم کښې چې هغه ته د هغه د شپږو نکاتو نه د څه ډ نیات ورکولو وعده شوې وه د دې اړخ نښکاره نه کوی۔ د کوم طرف نه چې د مستقل مفاداتو په اتفاق سره خپله منصوبه د دې منطقی نتیجې ته ورسوله۔

زمونږ په اصرار شیخ مجیب د صدر یحیی سره په خبرو اترو کولو رضا

شو- او بیا هم ټول معامله همداسې وشوه - لکه څنګه چې مجیب وئیلي وه ، ایم ایم احمد راغے - په هغهٔ پسې بهټو راغے ، د خبرو اترو سلسله جاري وه د سمجهوتې کولو افواه کانې هم خوریږې شوې - تر دې چې دکابینې د غړو نومونه هم اختتل شورو شول - لس د یو یادوو وزیرانو په نومونو کښې لږ اختلاف وُ - او دا نومونه ځې د سودابازۍ د پاره شامل کړې وو - د دې ټولو خبرو باوجود په ۲۳/مارچ ۱۹۷۱ء کښې مونږ د صدر مانې ته وغوښتلے شو - او د جنرل یحییٰ د طرف نه مونږ ته داوو ئیلې شول چې اوس ماسره د دې نه سیوا نور څه ذریعه نهٔ ده پاتې چې « زهٔ چې اوچلوم » او خپله لاړ ولوباسم - سنګاره ده چې هغه به په دې سوچ کړے وو - چې اوس هغهٔ دومره فوجُ د هوائی جهازونو په ذریعه په راوستلو کښې کامیاب شوے وُ - چې هغه به دې سره اوس خپل بچې او وروڼه ډباوُ کړې شی . اوهغوئ قتل کړے شی » لکه څنګه چې شیخ مجیب پیش کوئی کړې وه .

زمونږ خیال وُ - چې یوه سیاسی شخړه په فوجُ طریقې سره حل کول پاکل ټوب دے - نور خو نور دی - خو د امریکې په شان عالمی طاقت هم خپلې یا مراجې مسئلې په ظالمانه طریقه په حل کولو کښې کامیاب نهٔ شو - دلته خو د خپلو بچو او وروڼو سره واسطه ده - ما د اخبره جنرل یحییٰ خان ته پخپله کړې وه - چې د یوفوجی کمانډر په حیث ته دګولئ چلولو سره به څنګه لاړ راووېښتلے شې او کوم خوابه ځې وباسې - ایا د اسلام طرف ته ، د برما او مغربی پاکستان طرف ته؟ یا په خلیج بنګال کښې ؟ زهٔ په خپله خبره ټینګ وُم - ما جرنیل ته ووې چې ماته یقین دے چې د هغهٔ د اکلم به د یوې لوئې تباهی باعث شی بهر حال کم نه کم مونږ په دې کښې د هیڅ قسمه شراکت نه تیار نهٔ یو - د غه شان مونږ د هغهٔ نه دواړیس تللو اجازه وغوښتله ولې چې په فوجی حل کښې به په مشکل زمونږ د خدماتو څهٔ ضرورت وې .

بل سحر یره بله ډیره د حیرانتیا خبره وشوه کله چې مزینجو او زړه دواړه مجیب مړ د مخه ښه اختلاو د پاره لاړو - او کله چې ما هغهٔ مړوې چې تاته پته ده چې زهٔ د خپلې مړکې د علاج د پاره د څو میاشتو راهسې په برطانیه کښې وُم او د دلته اوس زما کم نه کم دوه هفتې شوی دی - او اوس چې د بهتو او یحیٰی سمجهوته شوې ده - مونږ واپس تلل غواړو - په دې مجیب ډیر په حیرانتی انداز کښې ووې - اوُ - اوُ - ولی خانه ! تاته چې کوم هم ویره ده هوائی جهاز ملاویږی - په هغې کښې سویډره - او دا بد نصیبه زمکه پریږده ماورته ووې شیخ د څوا راشه ! ټ دویره نا امُیده کیږې - هغه زما طرف ته را ټاوُ شو - اوُ وې وے - زما د نا امُیده کیدلو ټولې وجهې موجودې دی - ولې چې صدر د خپلو خوځ جرنیلانو سره د شپې د ډاټو بجې ټه واخلې نو سحر تر اوُو بجو پورې ناست دے - او هغوئ د ګولی په ذریعه د خپلې لارې راوینکلو فیصله کړې ده - دا . بلکل هم هغه الفاظ ووُ - کوم چې ما پروت د شپې یوولس بجې د یحیٰی خان نه اوریدلی وو کله چې مجیب مونږ ته د مخه ښه وښلو د پاره د کور نه بهر راووتلو - ماته راتر غاړه او وې وې : د ې خلکو ته ښکالئ ویښه پکار ده او د دې د بهولو د پاره به داهغوئ ته په زیات مقدار کښې ملاوُ شې - د د ې نه پس هغه ووښیل : ولی خانه ! دا شاید چې آخری موقع وے چې مونږ په دې دنیا کښې ملاویږو و خدای پاک دې ستاسو حفاظت کوونکے او مددګار شی - کله چې ما د هغهٔ طرف ته وکتل - د هغهٔ سترګې د اوښکو نه لوندې وې - د ا د ۲۴/مارچ ۱۹۷۱ نه خبره ده .

مونږ د ډهاکې نه په ۲۴/مارچ ماسپښین روان شو - جنرل یحیٰی وروستو په ۲۵/مارچ راغے او بهتو ټ وروسته پریښود و - بهتو په ۲۶/مارچ د فوځ کار روائی نه پس راروان شو - زما یقین دے چې هغه

به دانستر کانفټنینټل هوټل د خپلې کمرې نه پوره ډهاکه د لوګو او اور په شغلو کښې کښلو لید لې وی ۔ او هغه به شاید چې یو نیم ستی هاسټل هم ضرور لید لے وی ۔ دکومې د مَلبې د لاندې چې زمونږ حامن او لونړه سنبځ پراتهٔ وو ۔ هغهٔ به د خپل هوټل نه تر هوایئ اډې پورې په موټر کښې کښې راتلو په وخت تر کافی حده فوځی کار روائی هم لید لې وی ۔ کومې چې هغهٔ ته دا یقین ورکړو چې د خدا مې! شکر دے چې پاکستان بچ کړے شو ۔ دا هغه الفاظ دی کوم چې بهتر د ډهاکې نه کراچۍ ته په رارسیدلو په هوایئ اډه ویلی وو ۔ زما خیال دے چې که هغهٔ دا ووے ۔ نو له دې نه د هغهٔ مراد د خپل نوی پاکستان او د دې دوو د مستور سازه اسمبلیو او د دوو وزیرانو اعظمانو د تجویز د تمیلولو سره وو ۔ ؟)

اوس به زهٔ د دې الزام پخله خه وواسم ۔ کوم چې په مونږ لګولے شوے دے ۔ چې مونږ په ډهاکه کښې په خپلګا وی باندې د بنګله دیش جنډا لګولې ګرځیدلو ۔ زهٔ د دې حقیقی ګواه یم ۔ چې شیخ مجیب ته په ۲۴/مارچ سحر معلومه شوې وه ۔ چې فوځی ټولکی د کولی په چلولو سره د خپلې لارې راویستلو فیصله کړې ده ۔ بیا هم هغهٔ د آزادی یا بنګله دیش جوړولو اعلان ونهٔ کړو ر نهٔ د ۲۴/مارچ ماښام نه ۔ تر دې چې نهٔ په پخه ویشتم مارچ) خبره داده چې شیخ مجیب په دې دوران کښې کله هم د بنګله دیش اعلان نه دے کړے دا اعلان خود هغهٔ د نیولو نه پس او روستو چې کومه فوځی کار روائی وشوه د دې نه پس د هغهٔ د خلکو دا بڼ نه ؤ شو کوم چې وروسته پاتې وو ۔ ماته پته ده چې د مجیب دلاسونو د تړلو او د هغهٔ د مجبورولو ترڅنګه مولانا بهاشانی په خلکو کښې د اعلان وکړو ۔ چې هغه به د ډهاکې په پلټنځی میدان کښې دیوې جلسې نه خطاب کوی او هغه به په ۲۳/ مارچ د آزادی اعلان کوی ۔ لیکن کله چې مجیب په سختی سره د هغهٔ مخالفت وکړو نو مولانا ناروغه شو (او دا د هغهٔ معمول دے) او جلسې هغه هډو د سره

رانغلے ۔ غرض دا چې ترکومه مونږ په دې هاکه کښې وو ۔ د بنګله دیش صیغ وجود نه ؤ ۔ ښکه چې مونږ ټوله جنګوله وه کوم چې د احتجاج علامت ؤ ۔ دصدر د دستور سازې اسمبلی د اجلاس د ځنډولو د غیر قانونی ، غیر جمهوری اوغیر آئینی قدم خلاف ۔

چونکې نیپ یواځې پارټی وه ۔ کومې چې د فوځی کار روائی مخالفت کړے ؤ ۔ او کومې چې د جنرل یحیٰی خان د فوځی ټولګی او د بناغلی بهټو د ناولې منصوبو مرسته نه وه کړې ۔ په مونږ باندې زور واچولے شو چې مونږ په بنګاره ټوګه د فوځی کار روائی مرسته وکړو ۔ په دې حقله زمونږ پوزیشن بالکل په داسې ؤ ۔ مونږ محسوسوله چې دا فوځی کار روائی به نه صرف د ملک په تکړو کولو ختمه شی ۔ بلکې دې په وجه به په وېلې راتلونکی وخت کښې زمونږ د دوباره ټنډې را ټلو موقع هم بلکل ختمې شی ۔ دغه شان مونږ په یوه داسې کار روائی کښې کومه چې په لانجه ټوکه د ملک د تکړې تکړې کولو باعث کیږی نو وړسره نشو شاملیدلے ۔ مانه پوره یقین دے چې مونږ صرف یواځې نه وو ۔ چا چې داشان سوچ کولو او محسوسولو شي ۔ لیکن زمونږ نه علاوه چې نور کوم وو ۔ نو په هغوئ کښې دومره همت نه ؤ ۔ چې هغوئ د خپلې عقیدې د پاره پوره پوخوالے وښودلے وے ۔ ددې نتیجه دا راوویتله ۔ چې زمونږ پارټی غیر قانونی وګرځولے شوه ۔

دا شاید چې صرف اتفاق وی ۔ چې چیف مارشل لاء ایډمنسټریټر جنرل یحیٰی د نیپ د غیر قانونی کولو حکم د بناغلی بهټو سره د خپلو دوهرو اوبنو دواړو ملاقاتونو په ترڅ کښې د یو ملاقات نه پس کړے وی او د دې په وجه دا افواه کاني خوږ شوې چې جنرل یحیٰی د بناغلی بهټو په . وینا نیپ غیر قانونی کړ ځولې ده ۔ وروسته بناغلی بهټو په پښور کښې ما سره په خپل یو ملاقات کښې د دې تاثر دلرې کولو کوشش وکړو او ماته ئې یقین راکړو چې کله هغه ته د دې

خبر ملاؤ شو۔ نو هغهٔ ددې مخالفت وکړو یحیلی ددې نه وړاندې حکم جاري کړے وو۔ بهرحال پاریتی دیوې میاشتې نه هم دکم وخت د پاره خلاف قانون پاتې شوه او ددې د خلاف قانون کرځولو حکم چې په ۲۶ / نومبر ۱۹۷۱ء کښې یوجرنیل کړے وو هغه د هغهٔ جانشین چیف مارشل لاء ایډمنسټریټر بناغلی زیډ۔ اے بهټو په ۲۱ / دسمبر ۱۹۷۱ء کښې منسوخ کړو۔

وړاندې د دې نه چې زه خپل دا بیان ختم کړم۔ زهٔ ددې وضاحت کول غواړم چې د بناغلی بهټو په مونږ په دغه لګولی الزام کښې هیڅ رښتیا والے نشته۔ چې مونږ د شیخ د شپږو نکتو مرسته کړې وه۔ دا خبره په ریکارډ باندې ده چې بناغلی بهټو د پی۔ پی د شپږ په حیث په شپږو نکتو کښې پنځه نیمې نکتې منلې وې او په دې ئې دا زیاته کړې وه چې په پاتې نیمه نکته خبرې کیدلے شی۔ د عوامی لیګ نه علاوه دویم یو اځیټے سیاست دان چاچې په غیر مشروط توګه د شیخ مجیب د شپږو نکتو مرسته کړې وه عبدالقیوم خان وو۔ دکراچی په هوائی اډه د بناغلی یو اخباري مرکه کښې په ۲۱ - ۲۲ / مارچ ۱۹۷۱ء ډهاکې ته د روانیدو په وخت شایع کړې د روزنامه ډان کراچی، بناغلی بهټو دې صاحب ته د قائد اعظم د پاکستان په توتې توتې کولو کښې د خپلې حصې دکار کولو دکافی نه هم زیاته بدله ورکړې ده او هغهٔ اوس ځانې د پی پی جامه اغوستې د هر په غږ د لوکیر کړې۔ نیږې د شیخ مجیب مخالفت وکړو او د شیخ مجیب الرحمٰن د عوامی لیګ خلاف ئې د مرکزی او صوبائی په دواړه اسمبلیو انتخابونه وکړل۔

اوسه پورې چې ما څه ویلی دی ددې نه د اخبره په قطعی طور بنکاره کیږی چې بناغلی بهټو په قامی سطح د شرقی پاکستان اکثریت منلو ته تیار نه وو۔ او هغهٔ شیخ مجیب ته دا یونوے اوښکاره دلیل وړاندې کړو۔ او هغه داچې اګرچې په قامی سطح ستا اکثریت دے۔ لیکن چونکې ستا اکثریت د یوې صوبې پورې محدود دے۔ ددې د پاره تاته په فورۍ صوبر باندې د هغوئ د مرضۍ او مرستې

نه بغیر د حکومت چلولو هیڅ حق نشته د پاکستان دیو مملکت تصور دلته نشته۔ او د پاکستانیانو اکثریت هم دلته نه دے منظور۔

فرض کړئ موږ د بهتو په مخ هم هغه دلیل ورکړو۔ کوم چې هغهٔ د مجیب خلاف وړاندې کړے دے۔ نو بیا به هغه کوم ځائې اودریږی؟ په مشرقی پاکستان کښې د اسمبلو د انتخاباتو نه کولو سره هغهٔ پخپله د ځان د پاره د عمل یوه لاره خوښه کړیده «دلته موږ اوهلت نه» اوازې پورته کړو۔ او د داسان ې خپلې اوادې بنکاره کړې او د دوو د دستور ساز اسمبلو او دوو وزیر اعظمانو غوښتنه په کولو سره هغهٔ د بنګلا دیش جوړ دل یقینی کړل او په آخر کښې یکښې د رسمیت د لحاظه په آخره کښې نه۔ چې کله بناغلی بهتو د بنګله دیش د منلو جوړ د مسلم لیګ د ۱۹۴۰ نه د قرار داد پاکستان دې تعبیر کولو سره چې په دې کښې د دوو خپلواکه مسلمان ریاستونو غوښتنه شوې وه۔ د کتلو کوشش کوی او دا تعبیر د هغه تعبیر نه کوم چې قائد اعظم کړے وو۔ په هره توګه مخالف دے هغه د اخره دکاتې نه هم زیاته بنکاره کوي چې بناغلی بهتو د فوځي تولګی سره پوره مرسته کولو کښې په معاملاتو کښې داسې جوړ ستور اوکړو۔ چې هغه د جمهوریه اسلامیه پاکستان په توتې توتې کولو کښې واقعي چې کامیاب شو او د تولونه اخرنے تیښتدك ې د ملګرو ملتونو د سلامتی کونسل د قرار داد په صوبت کښې ورکړو۔ کوم ځائې چې بناغلے بهتو نا روغه شو او د ډنګام بهانه ې جوړ کړه او خپلو د اسان د توقو اوخندا په حرکتونو کښې لګیا ؤ۔ چې کله به ې کاغذونه شلول او کله به ې د سلامتي کونسل نور غړی کنځل دابرابر کړل۔ ترڅه حده چې زموږ بهادر او تورپالي وسله بند فوځونه څوك چې په توله دنیا کښې د خپلو خوبیو په وجه پېژندلے او منلے کیږی۔ د هر د بې اعزته په طریقه د توري غوږ ځولو او د قاعد اعظم د پاکستان د دې باب په هیڅ ولو باندې مجبور کړے شو۔

لکه څنګه چې دغه نه وړاندې ماوښلی دي. زما د قانون پښې سره څه تعلق نشته. لیکن زه به داخبره صفا صفا اوکړم چې ماته په دغه وینا کښې هیڅ شک نشته چې د دغه دومره درونده دستاویزد پاسنۍ ورځو راوړلو نه پس زما په شان سړے هم دغه نتیجې ته رسي. چې د حکومت د سره هډوڅۍ کیس نشته. د دغه دستاویزاتو زیات مواد بلکل غیر متعلقه دی. ځینې شهادتونه خو د چا خاص سړو خلاف خو استعمالیدلے شی لیکن د پارټۍ د بعض کسانو شهادتونو بیانونو او تقریرونو په قاتونی توګه پارټۍ ذمه دار نشي ګرځولے. خدائ دې کړي چې داکسان په خپره اوچتو عهدو ولاړ نه وي. د دغه نه پس په دستاویز کښې صفحې په صفحې، د افغانستان حکومت څه ډول اوځه وائ. د دې په اقتباسونو کښې یا څنګه د سند د حکومت د ارادو بیان دے. یا بیا د خان عبدالغفارخان د تقریرونو. د چا چې د ټولنې راسي د نیټې سره د هیڅ قسمه تعلق نه دے پاتې شوے "هغه زما پلار ضرور دے ولې د نیټې پلار نه دے". او داخبره تر دې حده چې ما د پاکستان د قامي اسمبلۍ د ایوان دننه په خپل یو تقریر کښې کړې ده چې مونږ ته د یوبل نه د سیاسي دوونو د کټلو په کوشش کښې د یوبل مور او پلار بدنامول نه دی پکار. ځکه مونږ به یو داسې ور پرانیزو. د دې په وجه چې مونږ نه البته دغسه به په ګرانه کښې ضرور پرلپوځي.

د دې نه پس په دستاویز کښې د پنجوانی سکرټري جنرل، د بنا غلی احمد ختک په سر کښې باندې کافي توجه اچولے شوې ده. د بنا غلی احمد ختک اوس د نیټې سره هیڅ تعلق نه دے پاتې او د دغه په څاې اوس یوبل حبیب قسورکردیزي راغلے دے په یقیني توګه بنا غلے بهتر هغه ټول هرڅه نشي تبلولے کوم چې د هغه سکرټري جنرل بنا غلی جے. اے. رحیم

او د پټې سکریټري جنرل نباغلی خورشید حسن میر منن وائي ـ که چې هغوئ دواړه اوس هم د پارټۍ د رینټینو او اصلي غړو کېدو دعوه کوي ـ او بیا د اچې هغوئ دواړه د ملک د ننه هم دی نو بیا څنګه د نباغلی بھټو حکومت په نیپ باندې د یو داسې سړي د افټر او رهنمائۍ حاصلولو الزام لګولے شي چاچې صرف د اچې پارټۍ غړي پریښې دے ـ بلکې ملک ته هم پریښې دے نو خو ځکه لاځکه کوي چې هغه خانله یو بل تنظیم جوړکړے دے او د چاچې ددې ریفرنس د شهادت په رو سره خان عبدالغفار خان او نباغلی ولی خان سره اصولی او مونډیزے اختلاف دے ـ یعنې په قول د ددې ریفرنس چې اجمل خټک وائي چې د دغه کسانو د خوش فهمی پرده به زر ماته شي ـ ولې چې دوی د بلوڅ او پښتنو د پاکستان د ننه د حقونو د پاره جنګ کوي ـ بهر حال حقیقت چې هرڅوک وی د نباغلی بھټو حکومت د نیاته برابر دا وائي ـ چې اجمل خټک زمونږ ه لیډر دے ـ غرض داچې که تاسو د دغه دستاویزونه دا ټولې غیر متعلقه حصې پرې کړئ ـ نو د حکومت په کیس کښې به په مشکل څه شے پاتې شي .

مانه پوره باور دے ـ چې حکومت ته داپته ده ـ چې د دغه متعلق میځ کیس نشته لیکن صرف د نیپ نه د ځان خلاصولو په خاطر هغه نه صرف د قانون په بعضې دفعو کښې بلکې د پاکستان په دستور کښې هم بدلې اوکړي ـ د سیاسی پارټیو دا قانون دکوچې دمخه چې دا کار روانۍ شوے ده د یو فیلډ مارشل د قابو کړے شوې او بنیادی جمهوریت د حکومت دکومو چې هغه ټولو څوک چې د شمېرې آزادو او بنیادي انساني حقونو ، مرستیال ؤ ـ سخته غندنه کړې وه ، ورکړې وه ـ لیکن د دې ټولو په نوم رینټینې او منتخب نمایندګانو په عوامی دور کښې په دې قانون کښې هم خپله داسې بدلې اوکړې شوې ـ چې د مقدمې چلولو نه اوّل ملزمانو ته د سزا پوره خراک ورکړے شي .

د غیر ترمیم شوي اصلي قانون کښې د سپریم کورټ نه ریفرنس کوُل ضروري وو ـ او د حکومت د اړخه د یوې سیاسی پارټۍ د سپریم کورټ د دې ریفرنس د مقدمې د پېښې نه پس غیر قانوني کړځولے کېدلے شوه ـ د قانون د حکمرانۍ او د آئین

د دې بهادرانو د اړخه د شوې موجوده ترمیم ترمخه د سپریم کورټ نه د اختیار لخلی - چې پارټی غیر قانونی وګرځولے شوه - د دې د زیاتې نه زیاته سزا ورکړے شوه د دې ټول مشران او غړي په جیلونو کښې بند کړے شول - دفترونه ئې بند کړل او ورته ئې تالې اولګولې د پارټی فنډ ضبط شول - د دې په ریکارډ پولیس قبضه اوکړه - یا زهٔ به دا اووایم چې لوټ کړے او اوسوزولے شو - او نهٔ صرف د پارټی د عملي سیاسی ارخ بلکې د پارټی د ملګ د قانون جوړولو سره تعلق لرونکې حصه هم بې عمله اوبے وسه کړے شوه - د صوبائی او قامی اسمبلی غړی او د سینیټ غړي په حفاظت قید خانوته اوسولے شول د دې هرڅه کولو نه پس د سپریم کورټ نه ریفرنس شوے دے -

زهٔ به دې ته د دې زیاتی هیڅ هم اونهٔ وایم چې دا د عدالت سره توقعه او د دې سپکاوے دے - اوس د دې نه پس چې حکومت ته هم څهٔ کول دی هغه دادی چې هغه د هرقسمه بې ربطه اوغیر متعلقه اسباب او سامان راغونډ کړي او هغه عدالت ته مخکښې کړي او بیا په شلونو وکیلان بهرنی کړي او هغوئ ته د غیر ضروری وروستو والی موقع په لاس ورکړلو اود بحث داوږدولو او مقدمې ته د ګنډولو د پاره اوږوائی چې دا شان دا مقدمه په کالونو اوچلیږی - په دې کښې د حکومت فائده ده چې د دوئ هغه سیاسی مخالف دلاړې نه اخواشي اودې سره سره د دوئ د خورولو لپاره وسیلې تولې دنیا ته په دې وسیلو دهوکه ورکوی - چې مخالف ئې د ملګ د تولو نه لوئ عدالت ته ویاندې کړے دے - په دې کښې وکیلان خوشحاله دی هغوئ ته به روزانه بغیر د څهٔ کولو الاونس ملاویږي - او د عدالت ججانو ته به د بوسو د توپ نه په یوه یوه دانه ببلولو کښې د تکلیف سنبکار جوړیږي - لیکن ترکومې چې د نیپ سوال دے هغې ته خو د اول نه سزا ورکړے شوې ده - اوس که دا سې وی چې عدالت د مقدمې په ختمولو

کښې بربالے هم شي او هغوئ د حق فیصله هم اوکړي نو بیا هم د پارټه په حیث
ټیپ به د اولس سره د هرقسمه رابطې بایللې وي ـ د دې منتخب نماینده ګان
د خپلو آئینې او جمهوري حقونو او د خپلو رایو ورکړو د مفادا تو د خیال ساتلو
د نماینده ګي او د خپلو منتخب شوو حلقو د خلکو د ترجمانۍ کولو نه په دې دوران کښې
محروم پاتې شوی وي داشان د انصاف چې کوم اصل مقصد دے ـ هغه لاسه تللے
او د نظر نه اخوا کړے شوے وُ ـ

نباغلے بهټو چې دکلونو راهې د محلاتي سازشونو سره د پردنزدې پاتې
شوے دے او په دې خو مُشتبه سودا اچاؤ کښې هغهٔ د یو دلال کردار هم ادا کړے
دے ؛ د دې ټولو لویو لویو خبیثو او بد نیته ذهنونو نه خبر وو ـ کوم چې د دې
کار د پاره بهرتي کړے شوے ـ یو سړے صرف د دې نومورو سړو باندې د هغو
د تېرو عملونو، د هغوئ د شهرت ، د تېر حکومت سره د هغوئ د تعلقاتو او
رابطې، د هغوئ په نظریاتي او سیاسي کارنامو باندې یو نظر اچول وي ـ دا ټول به
کردار او داشان یو غیر معمول هوښیار خلک صرف د یو مقصد د پاره دے
چې هغه د نباغلي بهټو د پاره سیاسي جنګونه اوکړي ـ د غه قامي مسئلې بلکل د نظر نه
اخوا کړے شوې ـ یادې ته د حکومت په پالیسو کښې دویم نمبر ورکړے شو
او ټوله توجهٔ او زور په سیاست باندې دے دکومو چې په ساده الفاظو کښې
مطلب دادے چې د نباغلي بهټو پوزیشن دې بغیر د څهٔ اختلاف د بادشاه په حیث
مستحکم کول وي ـ په خوا اوشا د نظر اچولو نه یو سړے داسې صفا توکه کتلے شي
چې نن فرځې فیډرل سیکورټي فورس ، سول او وسله بند فوج او پریس وغیره ـ ټول
په سیاست کښې لګېدلی دی ـ او هغوئ خپلو د قامي ذمه دارۍ پوره کولو نه نشي
پریښودلے ـ په ملک کښې دامن امان صورت حال د پردې افسوس نه ډک دے ـ لیکن د دې
باوجود دا ټولې محکمې کوې چې دامن راوستلو ذمه داري وي ـ په کومو
کښې چې دکومو چارو د وزارت او تجربه کار او د پر زیات د قدر قابل وزیر

داخله هم شامل دے چې په مشکله سره کله هم د خپل اولنی فرض خبره قدری هم کوی ؟

د کورنۍ چارو وزیر ته دومره تجربه ضرور ده چې هغه دا وکړی چې د هغهٔ خپل وزارت محفوظ دے۔ داسان چې هغه د ریاست دامن و امان د صورت حال فرض څنګه سرته رسوی۔ بلکې مخالفینو ته کنټرول کوی او د بهتو د ذاتی حیثیت د بچ کولو په خاطر سازشونه کوی۔ قاتلان لاړ شکوونکی اوغلهٔ پریښودی۔ او ټوله سرکاری مشینری د سیاسی مخالفینو پیچ شاته لګولو او د دوئ خلاف د دروغو مقدمې جوړولو او بهتونه صرف د اقتدار د کرسی نه داخوا کوڼو بلکې د هغوئ په صحافی توګه د ختمولو د فرضی سازشونو سره د هغهٔ د غوږونو په ډکولو کښې مصروف دی داسان د دې مشینری په توپ پرزې هم د خپل خپل پوزیشن په مضبوطولو او د خپلو وزارتونو په قائم ساتلو کښې مشغول دی ۔ د خپرونو ذریعې په مشکله سره کله د صحت مند او روښان خیاله رائی عامه پیدا کولو په پیښو حالاتو کښې د صحیح صحیح خبرونو ورکولو د پخلی کولو او د قوم او خاصکر د دې د ځوانانو د صحتمند تعمیری قامی او نظریاتی لارښود نې د خپلو بنیادی فرضونو د پوره کولو طرف ته پام کوی ۔ د دې په خلاف د دې درېوو سرو دا ټولې کوم چې منباغلی بهتو د خپل ځان نه چاپیره جمع کړی دی ۔ پیر علی محمد (رشدی) منباغلی یوسف بچ او د اطلاعاتو سکټر نسیم احمد د خپل تربیت او روایاتو مطابق د پوره اخلاص سره کارکوی۔ په دې کښې هریو د خپلې نوکرۍ په حقه د ثابتولو او د یو فرد واحد د ریاست جوړولو کښې د لوئ نه په لوبیه عهده د مقرر ولو په خواهش کښې د یو بل نه په وړاندې کېدو کښې لګیا دی ۔ یو داسې ریاست په کوم کښې چې تاسو صرف بس یو مخ وینئ او بس صرف یو اوان اوړئ د عدالت د پاره د دې خبرې کتنه به د دلچسپۍ باعث وی چې د

ترست یو اخبار وځپانه مشرق لاهور د مارچ ۲۱/۱۹۷۵ء په اشاعت کښې ما د بنا غلی بهتو دوه شپیته تصویرونه وشمیرل - صرف په یوګډه کښې هیشکه چې دا تصویرونه د هغهٔ دوړو کوالی وو - دې سره سره د هغه خلکو خلاف څرګ چې د بنا غلی بهتو د سیاست د مخالفت کولو جرأت کوي هغوی ته کنځل کول د بدنامولو او د هغوی د سپکولو هسې جاري دي

دا ریفرینس او دې سره متعلقه دا غټ دستاویز کوم چې په شپږ خپرې اوچتولے هم نه شي زما د دې عرض کړے شوو خبرو د ریښتیاکید و د کوهو چې زهٔ د وړاندې کولو کوشش کوم - یو بنکاره ثبوت دے - په دې د ستاویزونو څومره کاپۍ شوے وو - د بابو چکانو او سرکاري محکمو څومره قدرې پټ زیات شمیر کښې کښتې او نور څومره زیات خرڅ د دې بنکار شو - او دا ټول آخر د کوم مقصد د پاره ! - صرف د هغه خلکو څوک چې د بهتو د ریاست مخالفت کوي - د هغوی د تنکولو او بدنامولو د پاره - که دې محکمو ته د قام د ځوانانو د تعلیم او تربیت وکړلو - په دوی کښې د قامي یووالی او په خپلو کښې په یو میل د اعتماد کولو، او دوی ته په قامي ترقي او قامي تعمیر په کارونو کښې د مشغول ساتلو پخپلو کښې د مرستې کولو او خیر سګالۍ په ذریعه کارونه ورکولے کیدل - نو دې سره به ملک ته څومره فائده رسیدله لیکن دا کاږهٔ، کسوټه، او د کنده مذمن د څه ښهٔ څیز د پیدا کولو اصل نهٔ دی -

اوس به زهٔ په دې الزام بحث کوم چې د خپل مطلب پرسته خلکو د اړخ نه لګولے شوے دے - چې نیپ د پاکستان د جوړیدو مخالفت کړے ووے او دوی ته او سه د پاکستان د نظریې سره خپل ځان نهٔ د ے منلے -

د دې نه زیات یو څیز هم د توقع ویشتو نهٔ شي کیدے - چې په نیپ دا الزام اولګولے شي چې هغهٔ د پاکستان د جوړیدلو مخالفت کولو - ولې چې د پاکستان، تحریک په ۱۹۴۵ء کښې اوشو او پاکستان په ۱۹۴۷ء کښې جوړ شو

اونیپ په ۱۹۵۵ء کښې یعنې د پاکستان د جوړېدو لو نه لس کاله وروسته جوړه شو۔ دغه شان صفا او سوچه حقیقتونه د پاکستان د اولسی د نظریې قصداً پټ ساتل ضروري وو۔ دې د پاره د خپلو ونو په وسیله د دې قسمه سخت کنټرول د ے۔

زمایقین د ے چې دې سره به د ډېرو غلط فهمو په لرې کولو کښې لاس اوشي۔ کد نیپ دې پالیسو د دې د غړو ونو او مقصدونو مختصر شان تاریخ او د دې سیاسی منشور د لته بیان کړے شی۔

دا ۱۹۵۶ء کال وُ چې د مغربی پاکستان شپږو سیاسی پارټیو پخپله په خپلې رضا سره په یو واحد تنظیم کښې د کوم نوم چې پاکستان نیشنل پارټی کښېښود لے شو۔ د خپل خان د منظم کولو فیصله ئې وکړه په ذاتی توګه زما خیال د ے چې دا یوه تاریخی واقعه وه او یوه داسې فیصله وه کومې چې د دغه وخت ضرورت پوره کړو۔ هغه وخت څه داسې یوه پارټی نه وه کومه چې د تمامی کړاو د بوج د اوچتولو دعوه کولے شی۔ دې د پاره د مختلفو صوبو سره تعلق لرونکو دې مختلفو سیاسی تولګیو د تمامی یووالی د پکار راوستلو د پاره یو ځای شول۔

د تنظیم نه څه په دغه وخت وو؟:

۱۔ د پنجاب نه د آزاد پاکستان پارټی د کومې مشرې چې میاں افتخار الدین او د میاں محمود علی قصوري په لاس کښې وه۔

۲۔ :۔ د سند محاذ : چې د دې مشران جی۔ ایم سید او شیخ عبد المجید سندهی وُ و۔

۳۔ :۔ سند هاری کمیټی : د کومې مشرې چې بابا غلی حیدر بخش جتوئی کولے

۴ :۔ بلوچستان وروره پښتون۔ د دې مشران عبد الصمد خان اچکزئی او محمد هاشم غلزئی وو

۵ ۔ استهانکل :۔ دا هم د بلوچستان یو سیاسی تنظیم وُ او د دې مشرې

شهزاده عبدالکریم او د میرفوت بخش بزنجو په لاسوکښې وه .

۶ :- د صوبه سرحد خدائي خدمتګار :- چې د دې مشر خان عبدالغفار خان وو .

د دې ټولو غړو نو او مقصدونو نه علاوه کوم چې نور دې نزدې نزدې په ټولو سیاسي پارټیو کښې شریک وو - د پاکستان د نیشنل پارټۍ دغه لاندې کارکنان خوښیانې دا وې :

الف: دغه د هیڅاسره د نړۍ اوانا دې خارجه پالیسي غوښتنه اوکړه کومه چې ملک د غټو طاقتونو د بلاکونو د عالمي سیاست د چلولو نه په پوره احتیاط سره بچ اوساتي .

ب :- دې د برابرتیا په اصولو د یوې معاشرې تجویز اوکړو - او وفاقي دولت ته زیات د انصاف په طریقه د تقسیمولو غوښتنه اوکړه چې زمونږ د معاشي نظام د سرمایه دارانه او جاګیردارانه طبقې په کلکه توګه مخنیوے اوشي .

ج :- دې د مغربي پاکستان د یو وحدت جوړولو مخالف اوکړو - ولې چې دغه سره به د مشرقي پاکستان او مغربي پاکستان ترمنځ تاوتریخوالے راشي او دیره به د مغربي پاکستان وړې صوبې دا اوګڼي چې دې په وجه د دوی د خپلو آئیني سیاسي اومعاشي حقوقو او خپلواکو نه محروم کولے شي .

د دې ترڅنګ خو ټولو او قامي تنظیم د بنیاد کښېښود و نه پس دې مشرانو په مشرقي پاکستان کښې د دا قسمه خیالات لرونکو مشرانو سره رابطه اوکړه د ۱۹۶۵ء نه مخکښې د عوامي لیډ یو ټولګے د کومې مشرانو چې مولانا بهاشانۍ او محمودالحق عثمانی وو او ګنتري دلد د کومې مشر چې محمود علي سلهټي وو - چې د پاکستان نیشنل پارټۍ سره یوځاې شول - او دا شان نیشنل عوامي پارټي جوړه شوه - په کراچۍ کښې قامي او په خوښو کښې اولسي - مولانا بهاشانۍ د دې پارټۍ صدر جوړ شو .

اوس هم د دې پارټي د خپل ساخت نه دا خبره وه په بنکاره دول کتے شی چې د دې دیو یا دوه ممبرانو نه علاوه لکه څنګه چې خان عبدالغفارخان او خان عبدالصمدخان اچکزئ وو باقی د دې ټوله په ټوله مشران - مسلم لیګ نه راغلی وو د دې صدر مولانا بهاشانی - پاکستان یو عظیم مجاهد وو - د چا په سر چې د اسلام د صوبې د علاقې سلهټ د استصواب د کټلو او په پاکستان کښې د شاملولو سهره ترلاسه ده - د پارټی سکرټری جنرل مبارغلی محمود الحق عثمانی یو پوخ مسلم لیګی او مهاجر وو - چا چې د پاکستان د کار د پاره قربانی ورکړې وه - د پنجاب نه میاں افتخارالدین وو - خو لکه چې د ملک د ویش نه پس د پنجاب د مسلم لیګ صدر وو - او چا چې د پنجاب د یونینټ پارټی د حکومت خلاف په احتجاج کښې لوبه حصه اخستې وه - قربانی چې د ویش نه پس د پنجاب د مسلم لیګی وزارت یوځل پاتې وو - ده ډیره - پنجاب نه بهادر خوان مسلم لیګی لیډر میاں محمود علی قصوری پارټی ته راغے .

د سندھ نه مبارغلی چې - ایم سید شامل وو خو له چې د نا وېشلی هندوستان په پخوانو مسلم لیګی مشرانو کښې شامل وو - او چا ته چې د اخلاص حیثیت حاصل وو - چې هغوی د سندھ په صوبائی اسمبلی کښې د پاکستان قرارداد وړاندې کړے وو - ده ډیره خدمت د دنیا لیدلی کتلی او تجربه کار مشران راغلل چا چې خپل ژوند د ملک د خدمت د پاره وقف کړے وو - دا شیخ عبدالمجید سندھی وو - چا ته چې د سندھ په سیاست کښې دیوناموس سړی سر شاه نواز بهټو (د بی بی د چیرمین بلاور) ته په وقتونو کښې د بیلابیلو ډکولو امتیاز حاصل دے .

د مولانا بهاشانی سره د صوبه سرحد نه د مانکی شریف پیر صاحب د صوبه سرحد د استصواب د معرکې یو لوے مسلم لیګی پیروو ، څمین جان خان خوله چې د پاکستان د جدوجهد په دوران کښې بلکې تر دې چې د دې نه پس هم د صوبه سرحد د مسلم لیګ صدر پاتې شوے وو - ارباب عبدالغفور خان او

ارباب سکندرخان د چاچې د خپل ځان اوکړلو چه په تحریک پاکستان کښې خدمتونه د هر قسم شک شُبهې نه اوچت دی راغلل او دې پارټۍ کښې شامل شول

د دې نه دا خبره بلکل په واګه کیږی - چې دا یې غرضه مخلص او ځان قربانوونکی مسلم لیګی مشران چاچې د مسلم لیګ پارټۍ په صفونو کښې د ومړه اوچت او لوړ مقام لرلو. د مسلم لیګ د مرد مشرانو او هغه ځواک چې د اقتدار په کرسۍ ناست وو د دوئ د پالیسو نه زړه ښتې شول - او د خپل ملک د خلکو د پاره د هغه خیزونو چې مسلم لیګ د کومو وعده کړې وه پرې د کومې نه چې وړستو دوئ په شاه شول د حاصلولو د پاره دې مشرانو مسلم لیګ ته په مخه ښه ووې - اونیشنل عوامی پارټۍ جوړه کړه - د دې مشرانو تر مخه هغه مقصدونه حاصلول وو - د کومو د پاره چې دوئ په اول کښې په مسلم لیګ کښې شامل شوی وو او هغه نظام ته یې راوستل وو - د کومو چې هغوئ د اولس سره اول وعده کړې وه - او د کومو د پاره چې دوئ خوارې کړې او قربانۍ یې ورکړې وې - د دې ضمیر خاوندانو او د قوم سره د محبت لرونکو خلکو خلاف د عبدالقیوم په شان بې حسه او غټو غټو خبرو کولو والا دکمې و د ضمیر والا خلک هم موجود وو - چاچې د مسلم لیګ مخالفت کړے و - د دوئ د پالیسو پورې یې ټوقې وشتې کړې وې - د دوئ مشرانو ته یې ډک پې ووې او رولې وې - د دوئ په سیاست یې وتے اینبے ګی - صرف په خُله نه بلکې د دوئ خلاف یې ورویستو یعنې ۱۹۴۵ء نه پورې یې د کتابونو پورې هم لیکلی وو

لیکن څنګه چې د هغوئ د باداران نو د اړخ نه هغوئ ته خبر اوشو - چې بس صفیر وشیلے کیږی نو بیا هغوئ په مسلم لیګ کښې شامل شول او بیا هغوئ په هغه پخوانیو مخلص او ځان قربانوونکو مسلم لیګی غړو باندې منصفان کښینا ستل - تر دې چې هغوئ یې غدار او د دښمن ایجنټان اوګرځول .

په دې کښې شاید نشته چې د اقتدار په کرسۍ د خپل ځان د مضبوطولو

په خاطر د حکمران ټولګی د پاره ضروري وه - چې هغوی جمهوري اداره ختمې کړي. دغه شان هغه یوپه یوختمې کړے شوي. تردې چې د ملک څه اټین او دستور هم نه وُ. او چاچې لږ د زړه توب نه کار واخست او ددې قا شنزم د پالیسیو خلاف یې اواز پورته کړو - نو هغوی ټول د جیل په چار دیوالونو کښې بند کړل - پخپله زه ستر شپږ کالو په قید خانه کښې بند وُم - لیکن په دې دوران کښې زه کله هم د قانون عدالت تر وړاندې نه کړے شوم - نور خو یې لا پرېږده چې په کومو بنیادونو یې زه په جیل کښې ساتلے وُم - هغه یې هم کله راته اوښه نه بنودل - زه یې صرف دازادۍ نه محروم کړے نه وُم - بلکې د قیوم د حکومت له دوې زما ټول منقوله او غیر منقوله جائداد ونو ضبط سرکاري شول - او زما بال بچې د خپل کور نه اُوویستل.

څنګه چې نیا غلی بهټو د چیف مارشل لاء ایډمنسټریټر په حیث د اقتدار تر لاسه کولو سره نشرۍ تقریر اوکړو - دې پې سمدستي مایو اخباري بیان جاري کړو په کوم کښې چې ماد قامی تعمیر په ټولو ملرځلو او جمهوري اداره د بحالۍ په کوشش کښې حکومت ته د خپل بغیره څه شرط د ملکرتیا پیرزوینه وکړه - مونږ ته د صدر سره د ملاقات بلنه راکړے شوه او زه د ارباب سکندر سره هغه ته د ملاویدو د پاره لاړم.

بعضې خلک چې دا اوکوري نو یقیناً حیران به شي او هغوی به په مونږ په یو داسې سړي باندې د باور کولو په وجه ضرور اعتراض اوکړي د چا په حقله چې مونږ ته پوره یقین وُ چې د پاکستان په تباه کولو کښې یې یو د پر غټ او اهم کردار ادا کړے وُ - بیشکه چې ددې حقیقت نه انکار نشي کیدے - چې د پاکستان په تباهۍ او ټوټو کښلو کښې د نیا غلی بهټو کردار مونږ ته په ځانګړې توګه علم وُ لیکن هغه وخت مونږ مجبور کړل - چې ددې اولنې مقصد په قامی سطح باندې د شیخ مجیب د اکثریت پاه هغه د حکومت منه ځان خلاص وو - او ددې د پاره هغه دا ټولې سیاسي لوبې اوکړې - او اوس

چې هرکله د هغهٔ دا مقصد ترسره شو او د قائد اعظم د پاکستان د توټې توټې کولو نه پس هغهٔ ته خپل نوے پاکستان ملاؤ شو۔ مونږ دا اوګڼلو چې اوس به هغه د دې نوے پاکستان د یو ځای ساتلو کوشش اوکړي ۔ دې د پاره مونږ په هغهٔ باندې خپله قسله بنکاره کړله۔ اګرچې مونږ ته د هغهٔ دا اولنی عمل د وچې په دې باندې پوره باور نه ؤ۔ د دې نه علاوه زمونږ دا کار د قامي نه بیکرۍ له مخه ؤ۔ په دې کښې د سرکاري عهدو یا وزارتونو وغیره بلکل څه کشش نه ؤ مونږ غوښتل چې دا څهٔ پاکستان باقي پاتې شوے دے هغه بچ کړو۔ او اوس چې هرکله دا خلك د پاکستان په دوټو توټو کولو کښې بربالی شوی دی او هغوئ د دنیا په نقشه عملاً بنګله دیش اودرولے دے ۔ نو زمونږ دا فرض دی۔ چې د پاکستان څهٔ هم باقي پاتې شوی دی هغه بچ کړو۔ او هغې پاریتې سره مربسته اوکړو ځکه چې د پاتې پاکستان په ځلورو صوبو کښې په اکثریت کښې وے ۔

دا وخت مونږ بهتر د پخوا نه بلکل بل شان سړے اولیدو ۔ هغه په حقیقت کښې په شورو کښې د پرد تاثر نه دے تقریر اوکړو ۔ په کوم کښې چې د د پرو کړانو مسئلو ۔ په کوټه کولو نه پس د کومونه چې به ځان اوکیل وے ۔ هغهٔ مونږ ته د مرستې او مدد سوال هم اوکړو ۔ هغهٔ وویل چې زمونږ په خارجه پالیسی یقیناً چې بیا نظر اچول دی۔ او په دې کښې هغه تردې حده لاړو چې هغهٔ اووې چې هغه به تهلو طاقتونو کاونډیانولے ځی۔ او هغوئ سره تعلقات به معمول ته د راوستلو کوشش کوي په دې حال هغهٔ د هندوستان او روس خاص طور نومونه واخستل ۔ دې اوږدو سره واقعی چې حیران شو چې څومره په آسانه سباغلی بهتو سولاتی اړولے شی هغهٔ دا تجویز کړه چې دیو خیر سکالیٔ دوفد سره زهٔ هندوستان ته لاړشم وغیره وغیره . ما هغه خبرهٔ دوباره اوکړه ۔ کومه چې ما په اخباري بیان کښې کړې وه ۔ او ما هغهٔ ته باور

ورکړي چې زمونږ نه څه هم کېدے شي نو د پاکستان د بچ کولو د پاره به ګډ
کوو او مونږ د قامي مفادو سره تعلق لرونکي ټولو معاملو کښې د خپلې مرضۍ پېرزوينه
اوکړه - ما هندوستان ته د ټلونکي وفد د مشري کولو ته بلښنه اوفرښتله - او
ويې ويل چې زه به هرڅه کوم او مرحوم به حتم خو هندوستان نه بغير ولې چې پخوانۍ
ټولو حکومتونو مونږ ته د هندوستان تالي ستړ ويلې - او د دې د پاره د
هندوستان سره کومې هره معاهده کومې سره چې زما تعلق وي نو هڅه ته
به همېشه د شلد په نظر کتلے شي - ما بناغلي بهټو ته اوويل چې هڅه به زما سره
انصاف اونه کړي - که هڅه د دې باوجود هم زما د هندوستان تړلېزلو پوره نښتے
وي .

مونږ يقيناً په بناغلي بهټو باندې د جمهوري اداره د بحالۍ ضرورت
منلے کړو - او هڅه وعده اوکړله چې د مارشل لا ترڅو پورې سخت ضرورت
وي د هغې نه به يوه ورځ هم زياته نشي ساتلے .

بناغلي بهټو د چيف مارشل لا ايډمنسټريټر په حيث د حياټ محمد خان شېرپاؤ
د صوبه سرحد د ګورنر او مارشل لا ايډمنسټريټر په حيث د تاکلو اعلان اوکړو
په دې کښې ځې د مونږ سره مشوره نه وه کړې - ليکن مونږ سوچ اوکړو چې
د بناغلي بهټو سره د مرستې د دې يقين ورکولو نه پس مونږ ته د دې په دې
کار اعتراض کول نه دي پکار - بهرحال واقعه داده چې حياټ محمد خان
شېرپاؤ په صوبائي اسمبلي کښې کله هم نشو منتخب کېدے که چېرې نيټ
خپل امېدوار لاله ايس - ايم ايوب د انتخاب نه لاس په سر کولو يا د دې
رضا کړے نه وے د او دا دې په حق کښې او د عبدالقيوم خان خلاف خپل ټول
طاقت ځې استعمال کړے نه وے - ليکن مونږ د بناغلي بهټو په نوټس کښې دا خبره
ضرور راوستله - او هڅه مونږ سره بيا د پاره د مشورې کولو وعده اوکړه
د دې نه پس په بلوچستان کښې د کوټس جوړولو سوال پيدا شو او د دې

دپاره ښاغلی بهتر نواب خیر بخش خان مری او میر غوث بخش بزنجو پسې سوال جواب اوکړو اوشوه دا سې چې ماته په هغه وخت په پښور کښې د کارکنانو یوې جلسې ته تقریر کول وو ـ دې د پاره د پښتې په هوائی اډه ددوې سره ملاؤ شوم ـ ښکاره وه چې هغوئ د ښاغلی بهتر سره د ملاقات کولو نه وروسته د خپلې پارټۍ د صدر سره مشوره کول غوښتل ـ دغه شان هغوئ په موټر کښې پښور ته راغلل او ما سره د ملاویدو نه پس پښتې ته لاړل ـ ولې چې هغوئ ته د ښاغلی بهتر سره ملاقات کول وو ـ زه روستو بیا پښتې ته روان شوم ـ هغوئ ته د پښور نه پښتې ته د ټلو په لاره کښې پته اولګیدله ـ چې ښاغلی بهتر هغوئ سره د ملاویدو د انتظار کولو نه بغیر د بلوچستان دکورنر او مارشل لاء ایډمنسټریټر په حیث د ښاغلی غوث بخش ریئسانی د ټاکلو اعلان کړے دے ـ په ظاهره ښاغلی بهتر ته د دې مشرانو د هغوئ سره د ملاقات کولو نه اول د خپلې پارټۍ د صدر سره د ملاویدو د پاره ټلل ښه اوښتې ښکاریدل او د خپل د دې د عمل ښکارولو نه هغوئ په دې ټاکلو سره اوکړله ـ په دې باندې دکوټې د اولس سخت جوابې عمل اوشو او هغوئ د دې خلاف مظاهرې اوکړې ـ چې په هغې کښې یو خوان طالب علم منان د ځان نه لاس ووینځل ـ په کوټه کښې حالات برابر خرابیدل ـ او موښې ته د پښتې نه د قلاړتیا د راوستلو د پاره تیلی فون کول وو ـ او کله چې په دې کار اوښه شو نو بزنجو مو د خلکو د پوهولو د پاره او د قلاړتیا د راوستلو د پاره کوټې ته اولیږلو ـ دلته د دې خبرې خیال ساتل ډیر د دلچسپۍ باعث وی ـ چې په کوټه کښې د دې ټولو مظاهرو انتظام نواب اکبر خان بګټی کړے و راو هغه د بزنجو امن وامان او د قلاړتیا د راوستلو د بزنجو په کوشښونو سخت بد منلی وو ـ او د دې وجې نه د هغوئ خلاف د ډیر سخت احتجاج کولو نه پس نواب اکبر خان بګټی خپلو پخوانو دوستانو سره تعلقات پرې کړی وو ـ

څنګه څنګه چې وخت تیریدو ـ موښې اوکتل چې ښاغلی بهتر د خپلې مخصوصې

چالاکۍ او هوښیارۍ په طریقو د نیپ په صفونو کښې په بلوچستان اوصوبه سرحد کښې د بلوچستان په بلوڅو اوپښتنو کښې او وروستو په نیپ او جمعیت العلماء پاکستان کښې د نفاق پیدا کولو کوښش کولو او هغۀ د دوئ تر منځه د غلط فهمیو پیدا کولو یوه موقع هم د لاسه نۀ پریښودله چې د اشان هغۀ د دوئ دا اتحاد او اتفاق ګډ وډ کړي .

د نباغلی بهټو سره زمونږ اولنے اختلاف هغه وخت راپیدا شو کله چې صوبائی اسمبلیوته په خپلو خپلو قانون سازه اسمبلیو کښې د زنانو غړو د منتخبو کولو دپاره او وټلې شول - نباغلی بهټو د نواب اکبر مګټی سره تاسو کل اوجنګ کولو - چاچې د خپلو دوو اسمبلی غړو د نیپ سره د ووټ ورکولو اجازت ورنکړو - د نباغلی بهټو سره د خپلې وفاداۍ له د باوره ورکولو د پاره نواب اکبر بګټی هغه وخت په پیښاوه کښې پاتې شو - په صوبه سرحد کښې د ووټونو غاړولو نه یوه ورځ مخکښې د نباغلی بهټو یو خاص ایلچي پیښور ته راغے او د سودا کولو د پاره ئې د عبدالقیوم خان سره رابطه اوکړه - او د دوئ تر منځ سودا اوشوه - او هاشان پیپلز پارټۍ په اول ځل په سیاسی توګه د نیپ سره ټکی اوکړه - کله چې ما په قامی اسمبلی کښې دې وئیلو سره چې باوجود د دې چې تاسو یعنی (پی پی پی) زمونږ په نکاح کښې وئ ، تاسو زمونږ نه د طلاق اختلونه وړاندې لاړئ - او قیوم خان مولانا ډغارۍ ولیستو - د پی پی پی د هغه وخت د اطلاعاتو وزیر او اولنے د مذهبی چارو وزیر مولانا کوثر نیازی په جواب کښې اووې : چې قیوم خان سره نکاح نه کیږی - متع کیږي .

بهرحال نیپ د دوئ اسمبلو کښې د زنانو ټول درجا په درجا سیټونه اوګټل . خنګه خنګه چې وخت تیریدلو مولانا محسوس کړله چې د نباغلی بهټو په حقله زمونږ ه اندازه د څه بل څیز په ځای زیاته زمونږ په خوش فهمی بنا ده - او اګرچې مونږ د ملک دبیج کولو د زړۀ د اخلاصه د خواهش او د جنګ

جګړې نه د بچ کېدلو په خاطر هغه ته د خپلې پوړۍ او مکلفې مرستې پیښنهاد کړې وه - ولې چې هغه وخت ملک د بوبل جنګ یا جګړې بار نشو وړلے لېکن بهتو زمونږ د وطن دوستۍ نه ناجائزه فائده واخسته - او هغه دا اوکړله چې هغه زمونږ د ټولو په مقابله کښې زیات چالاک او هوښیار دے او د تاش پانې ډېر په سمه طریقه کولے شی او د هر هغه صورت حالات نه کوم چې هغه پیدا کولے شی - د زیاتې نه زیاته فائده اوچتولے شی - په مونږ او هغه کښې بنیادی اختلاف په اصل کښې طریقه کار دے - کوم ځای چې زمونږ تر مخه د څه فیصلې په وخت کښې د ملک نېښکړه او د دې مستقبل د هلته د سیاسی بهتو تر مخه اولنے اوصرف اوصرف یو مقصد د خپل اقتدار مضبوطول وو - هغوی محسوس کړل چې که هغه مونږ په زور د اسمبلۍ نه ړاوباسی - نو د هغه پوزیشن نشی پخېدے .

نو څنګه چې شکسپیر وئیلی دی ؟ اصل څیز خپل استقلال دے - د دې نه زیاتی نور هیڅ نشته " مونږ صفا صفا والیدے شو چې سیاسی بهتو په صوبو کښې د خپلې پارټۍ کورنیان مقرر کړل - تر دې چې په دې دوو صوبو بلوچستان او صوبه سرحد کښې هم کوم ځای چې د هغه پارټۍ بد بد بیلات کړے وو - عملاً دې پارټۍ حکومت جوړ کړے دے او د دانشان حکومت یې خپلې پارټۍ نه حواله کړے دے - ولې چې د مارشل لاء د لاندې گورنر پس د صوبې حکومت وو - په دې خلورو واړه صوبو کښې د خپلې پارټۍ د حکومت جوړولو نه پس اوس د دې کار د یو فرد واحد د حکومت جوړولو د پاره د خپل آخرنی او قطعی مقصد حاصلولو وو .

په دې صورت حال کښې مونږ د مارشل لاء اخراج کړو ، د هغه سیاسی حالاتو د واپس اخستلو او د صوبائی اسمبلیو د فعال جوړولو او د قانون جوړولو والا ئی اسمبلیو ته جواب ورکولو وزیرانو ته د اقتدار حواله کولو او د جمهوری اداره د

بحالہ غوښتنه کول شورو کړل۔ او کله چې بناغلی بهټو په دې کښې دلم لاپټ نه کار اختتل شورو کړل۔ نوهغه وخت موښنې دا تجویز کړل۔ چې په داسې حال کښې چې په سندھ او پنجاب کښې د هغه ځایې د اسمبلو د اکثریتی پارټیو نه کورنران اختتل شوی دی۔ همدا طریقه د دې دوو صوبو په حقله هم پکار راوستل پکار دی۔ ولې چې نه د دغه دوو صوبو د پاره کوم ځایې چې د پی پی پی اکثریت دے۔ او د پاټې دوو صوبو د پاره کوم ځایې چې د پی پی پی مخالفه پارټیې دے هغه بیلې بیلې آئینی پیمانې نه شی کښیودلے۔ دا شان موښنې بناغلے بهټو صیبو کړې چې هغه د خپل روایتی رسمی او آئینی اختیار نه لاس په سرشی۔ اونوې دوو صوبو سره د خپلې پالټی برابر سلوک اوکړی۔

دلته په دې خبرې بیانوول د دلچسپی نه خالی نه وی چې پی پی پی او نیپ چې یو۔ آی (جمعیت العلمای اسلام) ترمخه یوه سمجهوته اوشوه۔ د کومې ترمخه چې صوبه سرحد او بلوچستان د کورنرانو نامزدګی په عمل کښې راغله۔ او دا خبره اوشوله۔ چې هغوی په اول اپریل ۱۹۷۲ء نه باندې سوګند اوچتوی۔ لیکن هغه رسم بهر حال اونه شو۔ د دې پرد دلچسپ او د توقعې نه وړ سبب د پاکستان صدر بناغلی بهټو دا وو چې دا هغه نه دا هرڅه بلکل هیر شوی وو، تر دې چې هغه ماته ګیله اوکړه۔ چې ماهغه ته داوې یاد نه کړل؟ آیا د دې څه جواب کښې شی؟ په حقیقت کښې د دې اصل وجه دا وه چې په اول کښې خو بناغلی بهټو د کورنرانو په تاکلو باندې بغیر د څه شرط رضا شو۔ لیکن روستو د سوچ کولو نه پس په دویم څل هغه د متعلقه پارټیو نه څه وعده اختتل او غوښتل (بنکاره ده چې د دې د پاره چې د روستو بیا هغه د هغوی خلاف کار روائی اوکړے شی) په شرطونو باندې د دواړو پارټیو د دستخط کولو نه پس بناغلی بهټو دا هر په نه زړه د کورنرانو نه سوګند واخستو۔ بناغلی بهټو هغوی سره کوم سلوک اوکړو۔ او د هغوی سره ئې ترکومه حده مرسته اوکړه۔ دا ټول دا رباب سکته

او مباغلی بزګرو د لیکلی بیانونو نه کوم چې عدالت ته وړاندې دی واضحه کیدے شی .

اوس د مارشل لاء دلرې کولو او د ځنګاګی حالاتو د اوچتولو زمونږ غوښتنې نور هم زور اوښیولو - مباغلی بهتر په مرکزی کابینه کښې د دې وزارتونو د پیرزو ځنې په کولو سره زمونږ د اختلو کوشش اوکړو - لیکن مونږ دا تجویز اوکړو چې اول دې مونږ د دې صوبې په سطح د دې تجربې کوشش اوکړو او کله چې په مکمل توګه جمهوریت بحال شی - یعنې کله چې مارشل لاء اوچت کړے شی او ځنګاګی حالات اوچت شی - د دې نه پس به مونږ اوکتے شو - چې د دوئ سره مونږ کوم قسم تعلقات قائمولے شو - او دا چې دا حکومت به څه قسمه وی - آیا دا به یو قاهی حکومت وی ؟ یا یو کډوډ حکومت ؟ یا دا به څه وی ؟ ولې چې زمونږ نه یقیناً چې دا توقع نشی کیدلے چې جی یو آی (جمعیت العلمای اسلام) او نیپ سره د تعلقاتو سائلو باوجود هم مونږ خالص د پلې پلې غړې جوړ شو او د دې وړی واچوو - دې کار بهتر نور هم په قهر کړو - د دوئ وډیرا تربیت او ذهنیت د دوئ د ذات سره وفادارۍ غوښتنه کوله - د دې د پاره د جمهوریت د قانون د حکمرانی پاپارلیمینټ یا عدلیې ته د اختیاراتو سپارلو باندې هغه غصه کیږی - او کله خو هغه د دې اداروپه حقله خپل دسپکاوی جذبات هم څرګند پټولے اوهغه به د خپلو دې خیالاتو منګارونه دې هر په غیر مبهمه طریقه کوله .

د صوبائی وزارتونو او سیسټم د دې د برطرف کولو پاڅه کښې د څه ویلو نه وړاندې د دې صوبې صوبه سرحد اوبلوچستان د صوبې د درجې د حاصلولو د تلې د دود یو مختصر شان تاریخ ذکر ضروری دے .

صوبه سرحد ته د یوې مکمل صوبې آیینی درجه د دې وخت نه پس یعنې په ۱۹۳۵ع کښې ملاؤ شوه او دا هم د دغه صوبې د اولس د اپخه ډاخت

او اوښ ود تلې ودو نه پس

د صوبه سرحد علاقه د برطانيې د حکومت د نولسمې صدۍ په منځ کښې يوه حصه جوړه شوه هغه وخت د پنجاب صوبې ديوې حصې په حيثيت به ددې انتظام چلېده و ـ لارډ کرزن (د هند وايسرای) په زمانه کښې پرلسمې کښې د اصوبه د پنجاب نه بېله کړے شوه په دې علاقه کښې د انتظام دا بدلون د برطانيې خاجه پاليسي ته ديو نوې شکل دوېکولو په نتيجه کښې راوستے شوے و دې صوبې ته سرحد (Frontier) نوم ورکړے شو ـ دا د خاص پاملرنې خبره ده ولې چې دا هغه وخت وه ـ کله چې د برطانيې په حکومت کښې نمر نه ډوبېده و او ددې په دښمنو نو سرحدونه وه ـ ليکن اخر ولې خاص دې علاقې ته د سرحد وېلو د خصوصي اعزاز د پاره چنې کړے شوه ـ دا ددې د پاره وه ـ چې دا هغه علاقه وه کوم ځايې چې د برطانيې نمرے د روس د ملو په مقابله کښې وه ـ او د برطانيې حکومت غوښتل چې هغه ددې په اهميت زور ورکړې او هر انګريز ته دا معلومه وه ـ چې دا د برطانيې د سلطنت د ټولو نه اهم او فيصله کوونکے او د جګې او سياسي حکمت عملي لرونکے سرحد دے ـ د هغه شان د ددې د هر ممکن حفاظت د يقيني کولو د پاره دې ته په هندوستان باندې چې کومې تش په نوم مهربانۍ کېدلې د هغې دولقې نه ډې بهر اوساته ـ او د دې کار د روښکار به ډې د پوليټيکل افسرانو په ذريعه چلولو بغير د خپل قانوني حقونو او اختيارا تو ـ او د دې افسرانو سرچې به هدام د روس د خطرې طرف وه برطانيې خو افغانستان ديو بفر (دوه ملکونه بېل بېل ساتلو والا) رياست په توګه اوساته د دې نه پس قبايلي علاقه وه ـ دريم سرحد دا ډېر جنس وۀ ـ او د دې نه پس ريت علاقې يعنې بندوستي علاقې را تلې ـ دا د مانټيګو، فيمسفورډ د دستور اصلاحاتو د فائيدو نه محروم اوساتلے شوې ـ او کله چې سائمن کمېشن راغے ـ نو سرسائمن هم د خپلو وړاندينيو سره او صلاح او ډې ليکل ـ چې د اصوبه

د توپك د باروده و په شان ده او دلته دځنډ قسم د ستوري اصلاحات به د ماچس د تیلی کار اوکړي - لیکن د دې باوجود د دې صوبې او د اشان د قبایلی علاقې اولس کله هم د برطانیې قبضه اونه منله او د وخت د خپلې آزادۍ د پاره او د خپلواکۍ د پاره برابر تلې ودو کوو.

دلته ماته د آزادۍ د تلې و دوئ په باره کښې په تفصیلاتو کښې تلل منظور نه دی لیکن زه دا خبره په پوره دلیل سره کوم چې تاسو به دې دوهره لویه پښتنه علاقه کښې به یو هم داسې ځای اونه موندلې - کوم ځای چې د برطانیې د فوجیانو وینه د آزادۍ د مجاهدینو د وینې سره ګډه شوې نه وی - ترکومې چې د صوبې سرحد د دې علاقو تعلق دے - هلته د اجد وجهد د عدم تعاون او عدم تشدد په ذریعه جاري او ساتلے شو په ۱۹۳۵ء کښې زمونږ پنځه لسو زره تنه نږدې قیدیان په جیلونو کښې وو - په پیښور کښې د قصه خوانې په بازار کښې په مردان کښې، په ټکر کښې - کوهاټ، بنوں، هانګو، جیل، د پیښور ضلعې په اتمانزو او بازار کلان کښې چې کوم قتل عام او وینې اوبهیدلې - دا د صفه جوش، شوق او بهادرۍ دکافی نه هم زیات شهادتونه وړاندې کوی - د کومې سره چې د آزادۍ د جنګ اوکړے شو، د هریوې هزارې د جیل نه بهر د آزادۍ د صفه کښې د مجاهدینو یوه مقبره ده چاچې د جیل د تنه خپل ځانونه قربان کړل.

غرض دا چې مونږ د برطانیې نه خپله صوبائی خپلواکی حاصله کړله - دا ئې د انعام په توګه نه وه راکړې - بلکې د هغو قربانیونه پس د برطانیې نکومه چې د دې د پاره تیاره نه وه په زور واخستے شوه د ۱۹۳۵ء د دستور د اصلاحاتو ترڅنګ دا صوبه د هندوستان یوولسمه صوبه شوه او د نورو صوبو په شان د برابر حقونو قانونی او آیینې رعایتونو نه قسمتی شوه - د دې صوبائی اسمبلۍ د برطانیې د دې ځای نه د تلو پرځای برابر کار کولو.

د پاکستان د جوړېدو نه یوه هفته پس د ډاکټر خانصاحب وزارت د هغه

وخت کریښر جنرل قائد اعظم برطرف کړو ـ هغه وخت د ډاکټر خان وزارت ته د پنځو سو کسانو په مجلس کښې د دري د ډېرش د اسمبلۍ د غړو اکثریت حاصل ؤ ـ ددې په څاېې عبدالقیوم خان ته چانسره چې ټول اووه لسو غړي وو ـ د وزارت جوړولو د پاره اوبلې شول ـ عبدالقیوم خان څنګه حکومت اوکړو ـ او خپل کومې ځې په زیاتو کښې څنګه بدل کړو ؟ دغه بیانول زما مطلب نه دے ـ داوخت زما د ویاند د دې واقعې رسمیت صرف په دې وجه دے چې همدغه عبدالقیوم خان بناغلی بهتو نه دانبودنه کوی ـ چې هغه څنګه داکارنامه بیا دسره کړې .

صوبه سرحد د مغربی پاکستان دیو وحدت جوړولو نه پس د خپلې صوبائی درجې نه محروم شو ـ د دې خلاف چې مونږ بیا کوشش اوکړو ـ او یو تحریک مو او چلولو ـ په کوم کښې چې د فیلډ مارشل ایوب خان د مارشل لاء دور حکومت کښې زرګونه سړي جیل ته لاړل . او هغوی ته د یو کال نه تر پنځه ویشت کالو پورې د مشقت سره سزاګانې ورکړے شوې ـ جریمانې کړے شول ـ جایدادونه ې ضبط کړے شول ـ او مونږ د ایوب خان د جیلخانو نه د خپلو بهادرو وروڼو تر اووه سلو پورې لاشونه راوړل .

د ایوب خان د تلو نه پس دا اوشوه چې جنرل یحیی چې د مشرقی پاکستان خلکو ته د یو سړې د یو ووټ صحیح او جائز حق ورکولو سره د پاکستان د دوائړ برخو تر منځه د برابرې نمایندګۍ طریقه ختمه کړله هلته ې صغر پخوانۍ صوبې هم بحال کړې او ووټونه ې اوکړل ـ په کومو کښې چې نیږې په صوبائی اسمبلۍ کښې د ټولو نه د یوې لوئې پارټۍ په حیث راښکاره شوه ـ او د (جے ـ یو ـ ائی) ې د څان سره کولو سره په اسمبلی کښې غټ اکثریت حاصل کړو .

بلوچستان والاؤ ته هم داشان دخپلې صوبائ دجب حاصلولو د
پاره دمیر سخت تاړ و دؤ کوؤل وو - د دوئ مشرانو او کارکنانو په جیلونو
کښې سزاګانې تېرې کړې او بعضې ځې په دې مجبور کړل چې هغوئ
دفیلډ مارشل ایوب خان په وخت کښې د خپل مرام د حاصلولو د پاره په
وسله پرې جدوجهد اوکړې - د دوئ د جدوجهد او قربانیو په نتیجه
کښې بلوچستان په ۱۹۷۰ء کښې د یوې مکملې صوبې درجه حاصله کړله
کله چې جنرل یحیی خان د مغربی پاکستان نوې صوبې بحال کړې بیا ووتونه
اوشول او نیپ په صوبائ اسمبلۍ کښې د یوې لوړې پارټۍ په حیث وراندې
راغله - او د (جې - یو - ای) سړه په یوځای کېدو په غټ اکثریت کښې
بشوه.

بناغلی بهټو ته زه معلومه شوه چې هغه په نیپ او جې - یو - ای کښې
ډېر اتفاقی منډ ښې اچولې - نو داشان هغه د په خپلو چالونو کښې بدلی اوکړې
هغه سوښنډ یو کانفرنس ته راوغوښتو - سوښنډ سړې د سرکاري میلمنو په شان
سلوټ اوکړو - سوښنډ ځې په انټر کانټینینټل سوټل کښې ایسار کړلو - تر دې
چې هغه د ماسټر د ملاوسېدو د پاره پخپله هوټل ته راغې - لکه چې هغه د خوشا
مندګرۍ نه په پښوکښې ولړېدهٔ - د دې دوه وجهې وې - اول خو داچې هغه
په هغه فوځي جرنیلانو باندې ډېر کوم اثر کوؤل غوښتل - چا چې دې وخت واقعی د
اقتدار په کرسۍ کښېنولې وؤ - داوؤ چیف آف جنرل سټاف جنرل کمل حسین اواېر
مارشل رحیم - هغه سوښنډ سړې د روغې جوړې هغه کوښښونه د اخبارونو او
رېډیو په ذریعه د عوامو د نظر وړاندې کښېودل غوښتل - او په دې دوران
کښې هغه یو طرفته د ملک ستر کې اوتوجه د دې روغې جوړې طرفته راواوکړځولې
هلته بلخوا هغه د هغه قوتونو په دوه حصه باندې کومه چې په اوله ترکه د
فوځي تهولکې د اخواکولو اوچې څه هم پاکستان بچ کېدل هغه د اولس د منتخ

کړے شوی مشرانو ته د حواله کولو ذمه وار ؤ ـ کندهار کولو او ختمولو فیصله اوکړه ـ داد بیاغلی بهتر دپر د خوښې د کار کولو طریقه وه ـ یو د له کوڼ او اړے کړے پیدا کړل ـ زمرے راغے زمرے راغے چغې وهل ـ اوکله چې د ملک ټول دفاع او وسلې هم په خپل لاس کښې وې ـ د اخبارونو او ریډیو په ذریعه (د کنټرولر خبرونو په ذریعه) د لېونتوب ترحده جذبات راپاڅول او بیا چې کله د عوامو ستړیا په یو ځیز باندې نګه ډلې وې ـ او د دوی توجه یو طرفته وې نو هغه به په خپله غښه کندهار کولو ـ او د دې ټولو کوششونو به یې کولو ـ او په دې کښې تر ډېره حده کامیاب پاتې شوے دے ـ ولې چې په ټولو اخبارونو او خبرونو په وسیلو د ډېر سخت کنټرول په وجه خلکو ته د تصویر په دا بل اړخ ډډان پوهولو هیڅو موقع نه ملاویدله ـ هغه بدخصلته او د غیر معمولی ذهن او قابل خلک کوم چې هغه د دې غرض د پاره د دنیا نه راجمع کړې وو ـ د دې خبرې خاص خیال ساتل ـ چې یو اخبار یا رڅپاڼه او وه وڅنې یا میاشتینۍ دامې پلاټې نه شی کوم چې د حزب اختلاف نقطهٔ نظر وړاندې کړے شی ـ

د دې عارج د میاشتې د وغې جوړې نه کومه درنه فائده چې بیاغلي بهتو اوچتول غوښتل ـ د دې دوه اړخه وو ـ هغه کنټرول وو ـ چې د واړه پارټۍ د نیپ او (جمعیت علماء) د وزراء توتو په جوړښت او د متعلقه محکمو په وېش به په خپلو کښې په جګړه شی ـ او په وزارتی عهدو باندې د وزیرانو په لګولو او انتخاب په معامله کښې به هم دواړه پارټۍ د مشکلاتو سره شی ـ په دوهم کښې به ناڅاپه تیا پیدا شی د کومې فائده چې به دے، دا اوچته کړی ـ چې اختلاف کولو والا به د دوی د پارټۍ نه راپېل کړی ـ د دې دویم اړخ داوو چې په ملک خو هنګامی حالات ټراوسه مرجوح وو ـ او د بیاغلی بهتو په لاس کښې خو پوره اختیارات هم وو هغه صوبائی حکومتونه د زیات نه زیات کمزورولو او پېښو کښې د لاس وهلو

شول - او بیا چونکې په دواړه صوبو کښې د قبائلي علاقې انتظام د مرکز او صوبو دواړو
سره دۍ - د دې دپاره د صوبائي حکومتونه ټول په ټول د مرکزي حکومت لاس ته
ناست وو د دې معنیٰ عملاً دا وې چې دلته به صرف یوسړے نباغلے بهتر وې
او بس - اګرچې هغه د دې ټولو امیدونو سره ناست ؤ - چې هغوئ به زر تر زره
پخپلو کښې یوځاې شو او دیوبل نه به بېل شو - اوکه داسې هم اونۍ شوه نو هغه
به داسې حالت ضرور پیدا کوی - او سیاست او نظم ونسق هر دواړو کښې
به داسې کړدار او پریوتی ذهن خلکو د مریتې او تجربې په برکت به هغه د دې
پورې انتظام اوکړې - چې خلک دا ګوښتان او وزیران پهانسې ته اوخټروې -

لیکن هغه د دې معاملو سره بالکل حق حیران شو - چې اګرچې سرحد
اسمبلی کښې نیپ د ټولو نه لوېه پارټی وه - لیکن د دې باوجود هغه روستو پاتې
شوه - او حکومت یې (جمعیت - یو - ای) ته وسپارلو - او دا چې زه په ایوان کښې د
اکثریتی پارټۍ مشر ووم - او په سرکاری کرسیو به کښېناستم - لیکن د دې باوجود
د ایوان مشر د جمعیت - یو - ای مشر وو - غالباً چې د برصغیر په تاریخ کښې
په اول ځل داسې صورتحال په ګټو کښې راغلے وې - دغه شان نباغلی بهتر
لوویدل چې دهغه د منصوبې اوله مرحله خو ناکامه شوه او د دواړو صوبو
نه دیو احتجاج یا اختلاف ګڼلو والاؤ اواز وانه اورېدے شو

بهرحال دا یو دېر عجیب انتظام ؤ - کوم خلک چې په صوبو
کښې د اقتدار خاوندان وو - هغوئ په مرکزی اسمبلی کښې په مخالفه ډله
کښې ناست وو او د مرکز وفاق وزیر په صوبه سرحد کښې د حزب اختلاف
مشر ؤ - د بلوچستان ګورنر میرغوث بخش بزنجو په مرکزی اسمبلی کښې
د اختلاف په کرسۍ کښېناستو - اګرچې د ګورنر په حیث هغه په بلوچستان کښې
د مرکزی حکومت نماینده ګڼل کېده - د اشان مفتی محمود د صوبه سرحد وزیر
اعلیٰ په قامی اسمبلی کښې د مخالفې ډلې په کرسیو کښېناستلو حیات محمد

او غوښتل چې د صوبائي اسمبلیو غړي وو د کورنۍ د عهدو نه د اخوا کولو نه پس وفاق وزیران جوړ کړے شول او هغوئ به په صوبائي اسمبلیو کښې د مخالفې ډلې په کرسو کښینا ستل ـ که بناغلی بهتو غوښتلے نو دا صورت حال ئې د نورو نورې مرستې په خپلو کښې د اعتماد پیدا کولو د پاره استعمالولے شو . په دې کښې شک نشته چې دا یوه نا اشنا تجربه وه ـ لیکن د دې حقیقت نه هم انکار نشی کیدلے ـ چې د دې خلاف معمول صورت حال نه د زیاتې نورې مرستې فائده اوچتولے شوه ـ خاصکر د بناغلی بهتو دا چه خوک چې په مرکزی سطحه باندې هڅه وُ ـ لیکن ترکوچې چې د دې دوو صوبو تعلق دے د دوئ هلته څه خاص کردار نه وُ لیکن بناغلی بهتو خوک چې د خپلو روایاتو او پالنې له اعتباره د هغه جاگیردارانو او وډیره گانو بدترین مثال دے ـ چا چې د هارباڼ نه د ذلالت د غلامۍ تر حده پورې مکمله تابعداری غوښتله ـ نو په اقتدار کښې د شریکولو اوکم نه کم د ژوند ے اوسه اوبل ته د ژوند حق ورکړه" پوهیشن اختیارولو خو نه تصور کولے شو او نه ئې سوچ کولے شو ـ نو هغه د غه شان د لاندې وتو لاره خوښه کړه ـ او داسې حالات ئې پیدا کړل ـ او د خپلې منصوبې په دویمه مرحله ئې عمل کول شورو کړل ـ په کومه کښې چې د غه دواړه ذکر شوې د صوبې حکومتونه په مزه مزه بهر ویستلے شو

د بناغلی بهتو دا تولې منصوبې په خاوره کښې ملاوُ شوې او څنگه چې صوبائی حکومتونو د قانون جوړولو کار شورو کړو نو دهُ ته سمدستی یوه بله خطره ښکاره شوه ـ دا چیلنج دوه چنده وُ اول خو داچې د ملک نه اولس خو د صوبائی حکومت د پالیسو او کار او ددې د وزیرانو د کردار او د کار د طریقو مقابله کول شورو کړل

او دویم چیلنج او زما په نزد دې بناغلی بهټو ته زیات تکلیف ورکړه
داؤ چې بناغلی بهټو برابر دا ټپې کولې او هغه پخپل خپل اولس
او دا شان بهر خلکو ته دا یقین وکړلو چې صرف او صرف یو سړے
دے څوك چې د حکومت چلولو قابل دے او هغه د دې فیلډ مارشل د کابینې
یو ډمین او قابل د بهرنۍ چارو وزیر یو بهترین سړے کوم چې لکه
د یو ګل راوتے دے۔ او په اسانتیا سره امریکایانو ته د دوئ
د پالیسو سبق ښودلے شی۔ روسیانو ته د سیاست چل ښودلے شی
انګریزانو ته د جمهوري اداره د احترام او ددې په نقصانونو باندې لیکچرې
ورکړلے شی۔ یو غیر معمولی ذهن یو لوړ د بحث او مباحثې ماهر، یو
نامتو د خبرو اترو کولو والا۔ څوك چې چې این لاك غوندې لوړ سړے
په ډیرو لوبولے شی۔ اوس ترڅو چې د ملک دننه د پالیسو تعلق دے۔ د
ده ډیر چاپیره چې کوم خوشامدګري راجمع دی۔ کنې چې د دې دومره
لوړ شخصیت د پاره خو دا یو دهر وړوکے میدان دے بلکې دا خو د د
د پاره صرف د ماشومانو لوبه ده۔

غرض دا چې په دې معامله کښې بناغلے بهټو دې حساس وو۔ اوس
په خلورو صوبو کښې په دوو کښې او دا هم هغه کوچې په قطعی طور د دې
ته توجهی ښکاره شوی دی۔ د دوئ د ټولو نه زیات استحصال اوشو۔ او
دوئ د ټولو نه روستو پاتې وو۔ دا دواړه صوبې داسې قد قامته د دیانت
او امانت تر دې چې د ذهانت او قابلیتونو اهل خلک پیدا کړي۔ او داسې
خبره وه چې بناغلی بهټو دا ننډ شو زغملے۔ د دواړو صوبو ګورنرانو۔ د
دواړو صوبائی اسمبلیو سپیکرانو په هغه ټې شمېره کانفرنسونو کښې کوم
چې به اکثر راغونډیدلے کېدل۔ د خپل صلاحیت او قابلیتونو لوبه مظاهره
اوکړه۔ د دې صوبې د ګورنرانو د اولس سره ښه رابطه وه۔ صوبائی

وزیران ایماندار ، دپر کارکوونکی ، دجوش نه ډک او د تبلیغی جذبې نه مامور
وو، او د ټولو نه اصله خبره خو داوه چې دوی دپر ذیات ایماندار وو
د دیانت دار خلکو په حیث هغوی د صفت قابل حد پورې خپل ځانونه
اهل ثابت کړل او دپر په ډې غرضه یې کار اوکړو - نیپ د یوې سیاسی
پارټی په حیث هم د بناغلی بهټو د پاره یوه خطره جوړه شوه - ولې
چې پارټی حکومت او د پارټی تنظیم دواړه بیل بیل ایښوولې وو - داشان
چې د پارټی کوم عهدیدار وو نه به په حکومت کښې د خدماتو د ترسره
کولو د پاره اوونیلې شو - نو د هغه د پاره ضروری وه چې هغه د پارټی
د عهدې نه استعفیٰ ورکړی - خلکو اوونیل چې میرغوث بخش بزنجو
څوک چې د نیپ د بلوچستان صدر وُ - او اسفندیار ولی خان خلیل
چې د سرحد د نیپ صدر وُ - د دواړو دګوښنانو په حیث د تاکلو نه پس
د پارټی د عهدو نه استعفاګانې ورکړې - د ډې پی پی، د غږو په
خلاف د چا چې په سرکاری دفترونو کښې پوزیشن اولګیدو چا چې
به نه صرف پخپله فائدې اوچتولې - بلکې نورو له به یې هم فائدې ورکولې
بلکې دوی د پارټی په عهدیدارانو کښې یو هم په سیاسی
سیدان کښې پاتې نه شو - نیپ د سرکاری عهدو نه بهر هم یو
مضبوط تهیم وروستو پرېښود و چې هغوی د حکومت د اولس او د پارټی
د تنظیم ترمنځه د یوې رابطې کار اوکړی - ماد نیپ د صدر په حیث
د پارټی د دکاندارانو چې د تبلیغی جذبې سره سرکرم وو مشري کوله او هغوی
ته د حکومت یوه عهده هم پخپله پارټی ته کوم چې د پارټی د تنظیم پخپله دکار
کنانو اوداشان د حکومت د مضبوطتیا او رهنمائی سرچینه وه په نظر انداز کولو
نه شو راوړلے په دې معامله کښې هم نیپ د ډې پی پی ، د سیاست یو بدل
پیش کړو او د هغه خلکو منځې ته چا چې د دې دواړو سیاسی پارټیو کار او

روزګار کتلے شو خپله مظاهر اوکړه ددې په نتیجه کښې د نیپ سره د حکومت او پارټۍ ترمنځ په خپلو کښې پوره یو شان وو ـ دلته د دیو ورکوتی مثال نه ددې خبرې وضاحت کیدے شی ـ په بلوچستان کښې د پټ فیډر په علاقه کښې څه کې بر اوشو او داشان قبائیلیانو قانون په خپل لاس کښې واخست او په ځې اباد کارانو باندې یې حمله اوکړه ـ په دې حکومت د هغوئ د چقولو د پاره سعد ستی څه سخته کار روانې او نه کړه ـ بلکې د پارټۍ صدر نواب خیربخش خان مری پخپله هغه علاقې ته اوسپړه او دا جګړه یې د تولو د پاره په تسلناکه طریقه ختمه کړله ـ په عامه سرکاری طریقه او دې طریقه کښې چې کوم فرق دے هغه ص سړے کتلے شی او دې کار ته باغلے بهتو او پې ـ پې ـ پې ـ سخت دلګیر کړل ۔

دا خبره صرف تر دې حده نه وه ـ واقعه داوه چې د دې دوو صوبو وزارتونو د بناغلی بهتو سره د مرستې نه کولو په وجه دا پریشانۍ پیدا کړې نه وې ـ بلکې د داسې قوانینو جوړولو او خپلو رائو ورکوونکو خلکو سره د نوموسیاسی پارټۍ مخې ته یو مثال قائم کړو ـ بیا د یو ذاتی قصه دده هم وه او هغه دا چې کله د سرحد حکومت په شراب څښلو باندې پوره بندیز اولګولو ـ نو دې د پې ـ پې ـ پې د قیادت د پاره یوه شخصی مسئله پیدا کړه یو عام سړے ددې مشرانو ددې خراب حالت په آسانه سره تصور کولے شی ـ ځکه چې هغوی ما بنام اوکتل چې د صوبه سرحد کورنر ارباب سکندر خان سره خو نور د څښلو څیزونه نشته لیکن شراب نشته او هغه د شراب دقسم د نشې ورکولو والا څیز د پښتو کولو نه معذور دے بیا دا هم اوشوه چې ددې صوبو کوم ځایې چې د پیپل پارټۍ حکومتونه وو ـ عامو خلکو د هغوئ نه دا مطالبه اوکړه ـ چې هغوئ دې هم د نیپ په لار روان شی او په شرابو دې پابندی اولګوی ـ لیکن آیا

هغوئ داسې کولے شول۔ یو بادشاه چې شراب څښی هغه په شراب څنګه پابندی لګولے شی ؟

لیکن ددې خبرې نه علاوه نورې کرانې مسئلې هم وې۔ کومو چې د بناغلی بهتو دپاره په رښتیا پریشانه پیدا کړې۔ د مثال په توګه د بلوچستان او صوبه سرحد د صوبې حکومتونو کوم ځایې چې د قاعدې اردو د خپلې خپلې صوبې سرکاري ژبې د ساتلو فیصله اوکړله۔ هلته سندھ سندھی سرکاري ژبه جوړه کړه د کومې په نتیجه کښې چې هلته دیرې مظاهرې اوشوې اوخبره دفسادونو او جګړو پورې اورسیده په کومو کښې چې صرف د جایدادونو او قیمتی انسانی ځانونو کافی نقصان اوښه شو بلکې د پخوانو او نورې سندهیانو ترمنځه یې خپلو کښې د مرستې او مینې محبت فضاء هم ډیره خرابه شوه۔

دا شان د بلوچستان اسمبلی په صوبه کښې د سرداری نظام د ختمولو قرارداد منظوری هم د هغې د پریشانۍ باعث شو۔ دا قرارداد د نیپ د تش په نوم د سردارانو د اړخه په اسمبلۍ کښې وړاندې شو اوهغه په پوره اتفاق سره منظور کړے شو۔ لیکن تر اوسه پورې وفاقی حکومت ددې منظورۍ ورنه کړله۔ چې په دې عمل اوکړے شوے اوس د دې سرداری نظام پخپله د حکومت په قبضه کښې د خپرونو وسیلې او قبضه شوی اخبارونو په ذریعه دکافی نه هم زیاتې خاورې الوزولے کیدلې چې اوس د اصل حقیقت نه بې خبره اوساتی۔ حکومت وائی چې دوئ بلوچستان تر وسله بند فوج ددې د پاره اولیږلو۔ چې هغوئ غریب او بې اسره بلوچیان د سردارانو د غلامۍ او زور ظلم نه بچ کړی۔ لیکن یو ډیر ساده، واضحه او د هر معقول سوال تپوس کولے شی چې واقعی که داخبره وه نو بیا بناغلی بهتو د بلوچستان د صوبائی اسمبلۍ د هغه قرارداد منظورۍ

ولې وړ نشکړله او سرداری نظام ئې ولې د همیشه د پاره ختم نه کړو؟ ده ځو نه د پاکستان د صدر په حیث د دې قرارداد منظوری ورکړه اوئه ئې د پاکستان د وزیر اعظم په حیث تراوسه پورې د دې منظوری ورکړې ده - اګرچې د بلوچستان د غربي اولس د خلاصی او د دوئ د تکالیفو نه د خلاصی والا پی پی پی څلمه د هر شوروزوبن اوسېدلے شی یقیناً چې هر هغه کس څوک چې د نیپ اوپی پی پی، د کلراو پالیسو په حمله مقابله کولے شی او د حقیقتونو په توجه سره مطالعه کولے شی - هغه به د دې خبرې سره اتفاق اوکړی - چې عملونه د لاندنیو نه زیاته ژمبه لری (پی - پی - پی او نیپ کښې د سردارانو شمېره) په دولس نیم ایکړه باندې د مالیې معافی - دا ټول څیزونه هم پی-پی-پی په یو سخت پوزیشن کښې اچوی .

اوس به زه د دې مسئلې زیات وضاحت نه کوم - لیکن په دې سلسله کښې به د دې خبرې ضرور وضاحت اوکړم - چې په کومه طریقه د دې دوو وزارتونو دا مسئلې لکه د زمکې د مالکانو اود کروندګرو مسئله یا د مزدورانو او کارخانه دارۍ مسئله کومه چې د دوئ د پاره پیدا کړے شوې وه د حل کولو کوشش اوکړو - دوئ په ملک باندې بنګاره کړه چې د نیپ او د جمعیت یوسای په مسئلو باندې زیات کرفت دے د دوئ د مسئلې د حل کولو طریقه زیاته د همدردۍ او جمهوری ده او هغوئ هغه ټولې مسئلې د څه ورکړه او څه راکړه او په خپلو کښې د روغې جوړې د جذبې لاندې د حل کولو کوشش کړے دے - د دې برخلاف پی-پی-پی د هغه مزدورانو او طالب علمانو سره کوم سلوک اوکړو څوک چې د دوئ په کړیو باندې د راوستلو ذمه وار وو د اخیره د خلکو د پاره په رښتیا چې د زغملو نه بهر و .

لیکن هغه پالیسی کومې چې پلي-پې- د تولو نه زیات تکلیف ورکړې و- هغه په دې دواړه صوبو کښې د خپلې رائې د اظهار او د اخبارونو د آزادۍ پالیسی وه - دې دواړه صوبو د دې پر ضد او صبر نه کار واخست یا ما ته داویل پکار دی چې هغوئ د هغه خلکو سره چاچې به په دوئ باندې نکته چینی کوله دوئ سره بې د دې پر صبر نه کار واخست - د پلې پې حکومتونو چې پریس بې په دې قابو کښې ساتل غوښتل د حقیقت لپ تل محسوسولو چې د اطلاعاتو محکمه د صوبائې حکومتونو لاندې راځي او ترکې چې هغوئ د خپلو مخالفینو ژبې په خلور واړه صوبو کښې بندې نه کړې د دوئ په خپلو دوو صوبو کښې سخت کنټرول به ښه مؤثر ثابت نه شي ولې که دې د ضمیر خاوندانو او وطن سره د محبت لرونکو اخبار لیکونکی په کراچۍ او لاهور کښې د لیکلو نه منع کړي او هغوئ کوښې یا پښور ته لاړ شي نو د ملک او اولس په باک کښې خپل فرض ادا کولے شي - او خپلو ضمیرونو ته تسلي ورکولے شي - یو خل عملاً دا سې حال پیدا هم شو داسې ښکاره وینې دې تولو خلکو ته څوک چې خپل اخبارونه ، میګزینونه او رسالې د دې دواړه صوبو د صدر مقامونو نه وېستل غواړي نو تولې اسامیانو کاپې سره د ډیکلوریشن وړاندې کولو کښې د هیڅ قسمه ټیل ټال او نه کړه - دا یقیناً چې د دې باغلي بهتر د پاره ډېره د په قهر ډک لوخبره وه - او د دې د لیدلې ذهنیت ته خوښه رانغله - د دې په نزد په دې ملک کښې د یو فرد واحد حکومت د منصوبې پر لاره کښې دا د تولو نه لوئ خنډ وو - په دې ملک کښې صرف یو اواز کیدل پکار دی او هغه دا په دې کښې نمبر یو او بیا بیا نمبر یو پکار دی .

بیا داچې په دې دوو صوبو کښې سیاسي هلې خلې او په شهري آزادو هم څه پابندي نه وه - نه علته دفعه (۱۴۴) وه او نه د ډنډې وېدې

او نه د او ښکو بهیرونکو کیسونو بهونه پرېښودلے کېدل

او بیا دې دوو صوبو نوم هم کرانه پیدا کړه لکه څنګه چې ما دده نه اول وسیلی دی - چې دا دوه صوبې بلوچستان او سرحد نظر انداز نه کړے شوې وې - د دوئ سره زیاتے شوے وُ - دې د پاځ دا دواړه ډزوند په هره مانده کښې د پرې روسته پاتې شوې وې - نه صرف د سیاسی لحاظ نه - بلکې د انتظامی، سیاسی، معاشی، تجارتی او تعلیمی اړخه هم - نیپ چاچې د دوئ د حقونو د پاځ دومره په کلکه او زوره اوه طریقې سره جدوجهد کړے وُ - په واضحه او قدرتی توګه په کم او ممکن وخت کښې زیاتې نه زیاته توجه وسکول او په پوره اخلاص سره په دې کار کښې لګیا کېدل غوښتل - دوئ ته په هره محکمه کښې د خپلې حصې غوښتنه کول وو - د مغربی پاکستان د یو وحدت د نظم اونسق په دوه کښې وړو صوبو ته زیات نقصان پېښ شوے وُ - ولې چې هغه وخت د دومره سخت مرکزیت زمانه وه - او مغربی پاکستان دومره لوی صوبه وه - او مسلې دومره کړکېچنې وې چې د صوبو د بحالی نه پس چې ترڅو پورې لا مرکزیت نه وُ راوړے شوے د دې لرې پرتې علاقو خلك د ملك په سیاسی او معاشی په دواړو کښې د خپل چابك او د شعور نه ډك شركت احساس نه شو کولے -

د سرمایه دارۍ طبقې د مستقلو مفاداتو چاچې په دې تولو کلونو کښې د ملك وسیلې لوټلې وې نو د دوئ جرړې په ژمکه کښې ډېرې پښته تلې وې - مغوئ دومره قوی شوی وو چې د هر چیلنج مقابله اوکړې شی - د بنګلی بهتو په هر معامله کښې خامخا د کوټو وهلو عادت وُ - هغه په اسلام آباد کښې خالص په صوبائی معاملو کانفرنسونه په کانفرنسونه راوللو سلسله شورو کړه - او د صوبې په پالیسو کښې یې هم خپل حکم چلول غوښتل - کوم چې قدرتی طور سخت ناخوښه کړے شو. تر

کومې چې د صوبو تعلق ؤ - دوئ سره د هرکم اختیارات وو - او بیا هنګامی حالت هم تر دغه وخته برابر چلېدل - او د قبایلی علاقو سره متعلقه وفاقی او صوبائی په شریکه نظم او نسق هم د دواړو صوبو حکومتونه په قسما قسم زنځیرونو کښې راګیر کړی وو - هغه دآزادی ورځې دوړاندې د وخت ډیو د ستورکټ بورډ د درجې برابر هم نه ؤ - اوس که بهتوته بغیر دغه منع کولو دا هرڅۀ د کولو اجازت ورکړے شوے ؤ - نو هغۀ به روزانه اطلاعات، امن وامان، جګړو، ځنګلونو، لوکل باډیز وغیره وغیره په باره کښې دا کانفرنسونه راغونډل - د مقامی او صوبائی معاملو پرحقله به ئې امرانه حکمونه جاری کول - او په دې کښې ئې کم تې وهلې - دا شان به صفحۀ بعضې وخت صوبائی حکومتونه په ډېر پریشانه حالاتو کښې اچول .

د مثال په توګه وفاقی حکومت په ډېره اسماعیل خان کښې د یوې ، یو په سیدو شریف سوات کښې او تر دې چې یوه درېیمه په ایبټ اباد هزاره کښې د یونیورسټۍ د جوړولو اعلان اوکړو - او دا شان د صوبائی انتظامیې د پاره ئې د دې د محل وقوع د دې دکار په اسانه کېدلو ، او کوم ځایونو چې دا جوړېدې دهغه ځایې دا بادی ، او اوهلته چې کومې لاندې سکولونه وغیره کېدل پکار وو - او د ټولو نه اهمه دا چې د دې د پاره د پیسو معامله - د دې ټولو کارونو په حقله ئې مشکلات پیدا کړل. د دې نه ئې مطلب په اصل کښې دا تاثر ورکول وو - چې دا ټول اصلاحات او اجازت نامې او منظوری او دا ټول تعمیری کارونه اود ترقۍ منصوبې او عطیې د صوبو نه نۀ راتلې - بلکې هغه صرف د یوسې ښاغلی بهتو د طرف نه راځی - او دا چې د وفاقی آمدن نه د صوبائی حصې غوښتنه د یوحق په طور نشی کېدے - بلکې دا به د یو مهربان او سخی آقا د یوې عطیې په طور وصولول وی - ښاغلی بهتو غوښتل - چې هر سړے دې په هرځای کښې د دۀ شتۀ کېدل محسوس کړی - د کراچۍ د یو مین خول د سړنه واخلې د چترال د یو پرایمری سکول پورې - په بلوچستان کښې د نمین دوزکا ریزرنه واخلې په لاهور کښې د سوچه پیوۀ د سپلائی پورې هرځیز

د دې پر رحم دل اوفیض رسونکی ښاغلی بهتو د نوم سره تړلې وی۔ او په منځ کښې دې د څه قسمه واسطه نه وی۔

د دې دواړو صوبو حکومتونه د هغه ټولو خلکو د حقونو او اختیاراتو د حفاظت ذمه وار وو۔ کوم چې هلته اوسیدل۔ دې حکومتونو ته ظاهره ده۔ چې په نوکرو کښې فوج، سمندې او هوائی کښې، په مرکزی نوکرو کښې۔ د وفاق او بهرنیو چارو په نوکرو کښې۔ په خپلواک اوبیم خپلواکه اداره کښې۔ کوم څائې چې د وی نمایندگی په سلوکښې نیوه حصه هم نه وه۔ د دوی د خپلې حصې د پاره جنګ کړل وو۔

د دې صوبو د پاره د مرکز او صوبو تر منځ د حاصلاتو او آمدن د ویش مسئله هم ډېره اهمه وه۔ ولې چې د دې صوبې آمدن او حاصلاتو نزدې نزدې ټولې وسیلې مرکزی حکومت په خپل لاس کښې اخستې وې۔ د بلوچستان د معدنیاتو کانونه د دې سوئی ګیس کوم چې د نورو صوبو د پاره د آرام او راحت او کامخانو روانولو د پاره د دې نه د آمدن حاصلولو ذریعه وه۔ دا په هغه صوبه کښې چې د کوم څائې نه دا راوځی۔ نه خو د بجلی یو بلب قدر پې روښانه کوی۔ او نه په نغری کښې اور بلوی۔ دا حال د دې صوبې د کلاهو د نیولو والا ځایونو او نورو څیزونو دی۔ دا شان صوبه سرحد کښې د زمرودو د کانونو نه راواخله۔ تر بجلی پورې ټولې د کلتهې وسیلې د صوبې نه اختلې شوی دی۔ بیا دې صوبې ته دا امتیاز هم حاصل دی چې دهغې په زمکې پیداوار باندې ټیکس اولګولے شي او د دې ګټه مرکزی حکومت ته جمع کیدلے۔ تمباکو په کومه چې د ایکسائز ډیوټی نه په کروړونو روپۍ راتلې۔ د دې پحقله خو بل شان طریقه اختیار کړے شوه۔ د نورو صوبو په حاصلاتو کښې نه د دې او نه خو د ورېژو وغیرو نه مرکزی حکومت ته څه ټیکس تلو۔ دا خو صرف په یوحد کښې دی کله چې غواړی نو دا سې څه نورهم په ګوته کیدے شی۔

مونږ محسوس کړه چې د دې صوبو امداد ته به نه خو مرکزی حکومت او

اومنډ د کارخانو سرکاري شعبه مدد ته راشي ولې چې مستقل مفاد ونو ددې لپاره نګار او وروستو پاتې علاقونه خام جنسونه، بجلي، ګیس، قوله او مزدوران غواړي چې داشان هغوئ ددې ځایونه دبهر پرته کارخانو ضرورتونه پوره کړي اودهغوئ په چلولوکښې تري مدد واخلي - اندازه لګولې شوېده چې په کراچۍ کښې څه د اتلسو نه واخلي ترلس لکهه پورې بلوچیان اوپښتانه مزدوران دی - آیا چا ددې حساب لګولو څه خواري کړې ده - چې که یو مزدور په خپل خرچ او نورو ضروریاتونو باندې روزانه دوه روپۍ خرچ کوی - نوددې نه دکراچۍ معیشت ته روزانه شل لکهه اودمیاشتې شپږ کروړه روپۍ ددې دوو صوبو صرف دغریبو مزدورانو نه حاصلیږي آخر دا کارخانې په داسې ځایونو کښې ولې نه لګولې کیږي - کوم ځایونه چې پخپله خام څیزونه موجود دی - ولې چې وچینیا تمباکو د سرحد نه او داشان مزدور، تردې چې بجلي هم نورو صوبوته لیږلې کیږی چې ملت سکریټ جوړ شي - آیا ریښتیا به ددې نه د پاکستان روغرالی او یووالی ته خطره پیښیږی؟ که داغوښتنه اوګرځې شي چې دې مزدورانو ته دې د خپلو کورونو سره نزدې روزګار ورکړې شي - چې ددوئ کورنۍ اخوا دېخوا خوریږي ورې نه شي - اوخام څیزونه او د اوبو د بجلي لګښت چې د خپل پیداوار ځایونو سره نزدې راوړې .

"ایا دا صوبائي حکومتونه ددې خبرې په غوښتنه کښې په حقه نه دي چې ددې غیر ترقي موندونکي علاقو د مرستې دپاره دې د مرکز نه رقمونه ملاوُ شي - او د دوئ نه د نورې محکمو د پرانستلو او نوکریو دپاره د نورې مواقعو د لاسته راوړلو په ځایونو کوم ځایونه چې د سیاسي رشوت په طور خلک بهرتي شي - د کارخانو لګولو او د مقامي قدرتي وسیلونه په کارا ختلو خرچ کړې شي - او د دې په څیر په پیداوارې او غیر ترقیاتي کارونو کښې په لګولو زور واړه اچولے شي .

بلوچستان سره د راتلونکو دګاه د علاقې په شان سلوک اوشو - دا په مکمله توګه نظر انداز کړے شوے ؤ - او ددې سره ټول زیاتے شوے و - لیکن د دوئ

څه اواز نه وُ۔ چې اوسېدلے شوے وے۔ داشان صوبه سرحد ئې نه صرف د ملك د دولت د وېشلونه محروم ساتلے وُ۔ بلكې هغه د هغه اقتصادي مرستې نه هم محروم ساتلے شوے وُ۔ كوم چې څو دوست ملكونه راغلي وو۔ په دې كښې صرف د يو څو ذكر كولے شي ۔

الف :۔ يو دروند د بجلي د كمپليكس ۔ داد روس پېژندېنه وه۔ او تجويز داوو چې داد پېښور سره نزدې جمرود كښې اولګولے شي ۔

ب :۔ د عمارتي لرګي كمپليكس ۔ د پولينډ پېژندېنه وه دا په دېر كښې لګول وو

ج :۔ د چيني اوسنر كمپليكس ؛ داد جرمني منصوبه وه ۔ او دا په سوات كښې لګول وو۔

د :۔ د كومل زام سكيم :۔ دې سره به اوبه خوصم كېدلو او بجلي چې ترې پيدا كېدل ۔

دا سكيم د پېړه اسمعيل خان د پاره وُ۔ دا ټول سكيمونه د بهر ملكونو په مرسته وو او د پاكستان د حكومت خو يا د سره دې سره څه تعلق نه وُ۔ او يا كه وُ نو صم د بهر لږ ۔ دا سكيمونه د پاكستان د وحدت د زهاني وو ۔ او په دې كښې يو هم سره اونه رسېدلو۔ د ريا ست دير د كمپليكس ماشينري راغلې ده. او د څوكالو راسې په بكسونو كښې پرته ده خرابېږي ۔ د روسي كمپليكس د عطيه ورکولو والا د ماهرانو د رائې خلاف (واه) ته منتقل شو ۔ د كومل زام سكيم پاندې د شورو كارنه څوكرورو روپه د لګولونه پس اوس په دې كار بند دے۔ د سوات ته د راوتونكې چيني خاوره د سړكونو په ذريعه كمبرات ته رسولے شي ۔ چې هلته پرې د لوښو جوړولو صنعت ښه كړے شي او داشان نورې مسلې هم وې د كومو تعلق چې د مركزي حكومت سره خبرې اترې كول وُو۔ او صوبائي حكومت ته دا كول وو ۔

کله چې مونږ محسوسه کړه - چې نباغلي بهتو ددې دوو صوبو د مرستې
د پاره تیارنه وُ - نومونږ د نورو وسیلو کتل شروع کړل - د صوبه سرحد
کومښر ارباب سکندرخان خلیل د ملک غټ غټ صنعت کار او تاجران ددې
غرض د پاره پېښور ته راوغونښتل - چې دا اوکتے شي - چې ایا د صنعت ذاتی شعبه
په دې باندې رضا کوله شي - چې هغوئ ددې دوو صوبو مدد اوکړي - د
دې پوهه خیال پسې د صوبې دخزانې وزیر د غلام فاروق خان ذه کاسکو وادا
خلک چې د (پی-پی-پی) د کیږولو او سوزولو د سیاست نه درې پدلی وو - او دا پی
پی-پی) والاوُ ددې نارو چې کارخانه د مزدورو وې - انجام ئې د قامی معیشت د اړې
کړې په صورت کښې لیدلے وُ - په ورځنۍ عمل د سوچ سمجهه برداشت او پخپلو کښې
د باور او مرستې په ذمه وارۍ کښې د دواړو حصې د خپلو تعلقاتو دفرت په خاطر
د محبت او مقصد سره د خواخوږۍ په بنیاد د قامُ ولو خبرې واورېدې - هغوئ
نه لوېدلے شو - چې د اوسوسته پاتې علاقې او ددې اوسېدونکی هم د مالدارې
طبقې ذمه واري ده - که دوئ د کارخانو لکولو د پاره دلته راشي - نو شاید چې
هغوئ د خپلو کلپونو او اساسیاتو نه محروم شي - لیکن ددې په بدلو کښې به
مینه، محبت، حفاظت او سلامتی ملاویږي - دلته به کیږیدل او سوزول نه
وي - مونږ په صرف په نقطهٔ نظر او دکار د طریقې پخلله زور اچوو - تاسو
خلک په خوشحالی کښې - لیکن خپل انسانی وروڼه هم د خان سره شریک کړئ
مونږ په یو خاې یو داسې عملی انتظام کښے شو - په کوم چې تعمیر او ترقی
وي - لیکن زیاتی خوږی نه وي - ددې خبرو نه علاوه به دلته تاسوته خام مال
ملاویږي - اړینه بجلی به ملاویږي - او دېر ښه صحت مند، مضبوط او
تندرست او قابل مزدوران ملاویږي - ددې خلکو جوابی عمل دېر ښه وُ
او هغوئ زمونږ د نیک نیت تر دېره حده قایل شول - او زمونږ د اړخ نه
چې دکومو جذباتو اظهار شوے وُ - هغوئ هغه دېر خوښ کړو - دغه شان

هغوئ په دې تیار شول - چې هلته راشي - او په دې صوبو کښې سرمایه اولګوی هغوئ
دا تجویز وکړو - چې که د مرکزی حکومت نه د اضمانت ملاوُ شی - چې هغوئ
به د صوبائی حکومت سره کوونکې فیصلې وغه ستنه ختمو - نو د دوی د پاره
به داډیره ښه وی - زه داوایم چې هغوئ ښاغلی بهتر نمونې نه وړاندې
پیژندو - د غه شان مرکزی حکومت دخپل جوابی عمل په ښودلو کښې زیات وخت
اونه لګولو .

د دهٔ د طرف نه خراولنے کار دا اوشو - چې په ورویستو پاتو علاقو کښې
د فیبو کارخانې په لګولو په اوله کښې چې په ټکس کښې کومه آسانتیا وکولے شی
هغه رعایت ئې واپس واخستلو - د دې پرواخیښے محرک کوم چې په کم ترقی لرونکو
علاقو کښې د سرمائې لګولو باعث وو - هغه ئې بلکل د سره ختم کړو .

کیس او بجلی ئې د صوبو نه په اختلو او مرکز ته په حواله کولو کښې
د توانائی ارزانه بله وسیله وه - هغه هم واختلے شوه - د اخره د دلچسپی
باعث ده - چې هغه وخت په بجلی باندې خومره خرچ راتلو - د لته چې د دې
په خپلو کښې مقابله اوکړے شی (زه د اشمار په یاد ولرلو کوم) - د
بجلی د یو یونټ قیمت کوم د ملا کنډ هائیډرو الکټریک سکیم نه حاصلیږی
د یو نټ په سر یوه پیسه دے - د دې په مقابله د لائیل پور د بجلی کهر
نه حاصل شوې بجلی اوه لس نیمې پیسې یو یونټ او د ملتان د بجلی کهر نه د
حاصل شوې بجلی یو یونټ په سر درولس پیسې پورې - صوبه سرحد
دې کارخانه مارو ته په سرمایه لګولو باندې صرف دارنې بجلی په پیښور ویشل
کولو سره دوې راما تولے شول - د کومې چې ښاغلی بهتر د سرنه هډو لاره بنا
کړه .

او آخره کښې دا او شوه چې د روپے د تبادلې شرح ئې کمه کړه - د
کومې په وجه چې د اختونکې مشینرۍ قیمت په غیر ملکی پیسه کښې څو چنده سمدلاسه

زیات شو۔ په دې سلسله کښې د یو وسکوټی شان مثال وضاحت کوم۔ د مغربي پاکستان د وحدت په زمانه کښې پېښور سره د خزانې د چینو د میل د لګولو تجویز اوشو۔ دغه وخت په دې د خرچ ټوله اندازه یو کروړ پنځه ویشت لکهه روپۍ لګولې شوې وه۔ د مشین اردو ورکړې شوے ګڼې دکالاباغ نواب دا تجویز رد کړو۔ کله چې د دا شان او دومره چینی پیدا کولو کارخانې نیټ او جې یو ای حکومت منظوریک ورکړه۔ نو په دې د خرچ اندازه اتلس کروړه روپۍ ولګیده۔

غرض داچې په صوبه سرحد او بلوچستان کښې پرذاتی مدکښې د کارخانې لګولو داقیصه هم داسې پاکه شوه۔

پاکستان کښې د چینو کمے دے۔ دا وخت صوبه سرحد د دومره ګنو پیدا کولو جوګه دے۔ چې هغه کمرنه کمه خلوړ د چینو میلونو ته ورکولے شي۔ او بیا صوبه سرحد دګنونو بلکې د چغندرو نه هم چینی پیدا کولے شي۔ صوبې د چینو په راغونښتلو په کروړونو روپۍ لګوی۔ لیکن په صوبه سرحد کښې د نوو میلونو د لګولو نه انکار کوی۔ آخر د دې مقصد څه دے او دا هرڅه د چا د پاره کولے شي؟ ۔ یو سړے د دې ټپوسی کولے شي؟

یوه بله مسئله: کومې چې د صوبه سرحد حکومت او مرکز ترمنځ ګډوډۍ پیدا کړې ده۔ هغه د چشمه بیراج د بنیاد غاړې نهر ؤ۔ صوبائي حکومت د دې د پاره د لسو زرو کیوسک اوبو مطالبه اوکړه۔ چې د ډیره اسمٰعیل خان وچو اوغیر وابادو زمکو ته اوبه ورکړے شي۔ دې سره د دې ضلعې تقریباً دولس لکهه ایکړه زمکه اوبه کولے شوه۔ دې سره نه صرف د دې ضلعې او صوبه سرحد صورت حال بدلیدهٔ۔ بلکې په ټوله کښې به هم ملک په خپل کور پوهه کیدو) بناغلی بهتو د دې بهانې کتلو سره داورو ستو کړې چې دا به هغه وخت کښې کله چې د دریاے سند هم داوبو په ټولو صوبو د ویشلو

ټول مسئله د بحث لاندې راځي ـ هغه داوخت د دې فیصلې کولو په سر کښې نه وي ولې چې دا مسئله ډېره نازکه ده ـ ظاهره ده چې هغه نه اخر پنجاب خفه کولے شو ـ چاچې د وخت په ورکولو سره هغه په ګډه کښېنولے وو ـ او سندهٔ ئې هم نشو خفه کولے ـ ولې چې هغه خو د ډېر صوبه ده ـ او س دې صوبه سرحد تهینک شی او سزا دې خوږ ـ ـ چاچې (پی ـ پی) له وخت نه دے ورکړے ـ په دې خلا ښاغلی بهټو ته اووئیلې شول ـ چې په دې خاص معامله کښې د دریاے سندهٔ داوبو قیصله نه راځی ـ صوبه سرحد خو د کابل د سیند نه دوه درېش نهٔ کیوسک ددې او بو اختلو کوشش کوي ـ پدې کښې به د دریاے سندهٔ په غاړه پروت ډېره اسمعیل خان ته تش زده کیوسک اوبه ملاؤ شی ـ او باقی اوبه به په مجموعی کهاته کښې لاړې شی ـ چې وړاندې هغه د صوبو په منځ کښې تقسیم شی ـ

زه داشان ډېر مثالونه ورکولے شم او دا صرف ددې د پاره چې زه اوښودلے شم چې د صوبې د حکومتونو جائز مطالبې یا خو رد کړے شوې یا هغه د غوږ لاندې اوغلے شوې ـ چې د صوبې حکومتونو نه داورې یاد کړے شی ـ چې د ښاغلی بهټو دا تول لوبه صرف د صوبو د حکومتونو د پاره مشکلات پیدا کول دی ـ او د اشان یو طرف نه هغه هغوئی د اولس په وړاندې بد نام کړی ـ او بل طرفته هغه ددې صوبونه بهر داتاثر ورکړی چې د هغوئی حکومتونه د مرکز سره مرسته نه کوي ـ او ده سره د دغې په پالیسی روان دی زه ګڼم چې ما داصورت حال تر ډېره حده واضح کړے دے ـ چې دا ښاغلے بهټو وو ـ چې هغه د دې حکومتونو سره په هر قدم او هره مرحله یاندې بلکل ملګرتیا نه کوله ـ په ۱۵/ اپریل ۱۹۷۵ء په اخبارونو کښې یو خبر چاپ شوے دے ـ کوم چې د قامي اسمبلی د سوالونو جوابونو پخلا دے ـ په دې کښې د مرکزی حکومت له خوا د غریب او ضرورت مند طالب علمانو ته بخښیر د

منافې د قرضې ورکولو ذکر دے ۔ د اخبر دهر د لچپ دے ۔ تولې قرضې
چې ورکړے شوے دی د دې ټول مقدار څلور دهرش لکهه روپه وي
په دې کښې اتلس لکهه پنجاب کښې او شپاړلس لکهه په سند هر کښې ورکړے
شوې ۔ معلومېږی چې په صوبه سرحد او بلوچستان کښې د طالبعلمانو
هډوکه برادرۍ نشته دے ۔ اوکه ده نوهغه طالب علمان حاجتمند او
غریبانان نه وی ۔ د اهغه اعمال دی دکوې پخلا چې به زه یوځل بیا
اووایم ۔ کوم چې د ټهکو نه زیاته ثبه لری ۔ د بناغلی بهټو پالیسی اولس په
دې مجبورۍ چې هغوی د خپلو خپلو سیمو په رښتیا کښې سوچ اوکړی
اوس تاسو داخلور واړه صوبې واخلئ، او بیا چې په دوی کښې په هر یو
کښې څومره د ترقی کار ښه شوے دے ۔ په هغې نظر واچوئ ۔ که دیوې طرف
نه اوهغوی نو کلفټن کراچی کښې د بناغلی بهټو کور نه تلونکے سړک ارتهږی۔
او دوې سپنګلے والے کهږی ۔ او دوې په څاې تاسو بلې صوبې نه لاړشئ
سرحد او بلوچستان نه دې چې د پنجاب او سند هم په بعضو حصو کښې
کوم څاې چې خلک د غروبنو په غاروبنو کښې اوسېږی ۔ او هغوی دمیلونو
لرې نه اوبه راوړی ۔ د اخیزوبنه به غامخا خفګانونه ، محرومۍ او د پام نه ګوزلو
احساس پیدا کوی ۔ د دې ناهمواره او نه برابرتوب خلاف احتجاج کول او
دیو سړے د غیر متوازن بې وقوفتیاوو په ګوته ګول صوبائیت نه دے بلکې
د دې خلاف داد صوبائیت نه دهره لرې خبره ده ۔ خبره داده که دا ناهمواره
لرې نه کړے شوې ۔ نو بیا داچې په اولس کښې د حکومت سره د مشترکه کیدلو
داکوم احساس دے ۔ هغوی به ځان د دې نه محروم محسوس کړی ۔ او د
دې نتیجه به داشی چې ۔ زمونږ سره هم په یو ملک کښې په مختلفو علاقو
کښې د خلکو مختلفې ډلې وی ۔ او په آخره کښې به داد ملک د سالمتیا د پاره یوه خطره
ثابته شی ۔

د مثال په توګه دلته یو ساده مثال سوال کولے شی - یو خاص اخبار زما په تقریر اعتراض کړے وُ - په کوم کښې چې ما ویلی وو - چې خلور واړه صوبو سره د برابرتیا او وروړولے سلوک په کار دے - ولې چې مونږ د خلورو وروړو په شان یو - کوم چې د پلار په جائیداد کښې د برابرې حصې دعوىٰ کړو - دې اخبار پرې د تنقید کولو په وخت لیکلی دی - چې مونږ خلور وروړه نه یو بلکې یو وجود یو - دلته زه د دې اخبار نه سوال کول غواړم ایا دے به مهربانۍ اوکړي - او دې وضاحت به اوکړي - چې بیا د دوۍ په خپلو کښې دا دومره فرق او اختلاف ولې دے ؟ د پنجاب یو سړے د بنا غلی بهټو په حق کښې ووټ ورکوي - او دعفه دې ووټ په نتیجه کښې بنا غلے بهټو د پاکستان بادشاه جوړ شی - لیکن د بلوچستان یو سړے عطاء الله خان مینګل ته ووټ ورکوي - دکومې په نتیجه کښې چې عطاء الله خان مینګل خان د جبل د سیخونو دننه بیاموي - دا اختلاف څه دے ؟ او ولې دے ؟ د الفاظو میز او د اطلاعاتو د محکمې د نامې جامې سپې د بیا بیا سره وباسه کړي. د دې دا بنیادي حقیقت نشي بدلولے - ولې چې دا پاڅه حقیقتونه دي - او دا ټک ورکوي او کله چې دا ټک ورکړي نو لازماً جوابي عمل پیدا کوي - او د رد عمل جوابي عمل - او دا شان د قدرتي عمل ، د دکتیټرانو او میکیاولیانو ، د هیټلرانو او مسولینیانو - چنګیزانو او فرعونیانو باوجود جاري وي - وخت او مکانونه د فطرت د دې قانون لاره نشي بندولے -

(د سویلی کوریا) سنګمین دی ، (د کمبودیا) لیون نول او د (سویلی ویتنام) هیتروکا د امریکې د جنګی مشین ، او د امریکې د وسائلو باوجود یو شان څیړوي هر چالاک او تهولواکے حکمران داګنړي - چې هغه به دخپل وخت دا غ نه په ځان بچ کولو کښې کامیاب شي . ولې چې هغه دده نه زیات هوښیار او چالاک دے - لیکن د دې هرڅه نه څه نه څوروړیږي - بنا غلے بهټو دې څ

د پر چالاکه او هوښیار کښږي - او داشان دې خپل ځان او د خپل لنګوټی یاران کوم چې د ده نه چاپېره جمع دی په دې وسیلو سره دهوکه کړی - چې چنګې هغه د فیلډ مارشل ایوب خان د جابرانه او سخت ګیرانه قانونونه نورهم نیات سخت کړي دی - او د زور ظلم طاقتونه یې جمع کړي دی - تردې چې هغه ټول بدمزاجه غیر معمولی هوښیار او ذهین خلک خواه کې هغه د بهر ملک نه هم راغونډ کړي شي - خدمات یې حاصل کړي دی .

هغه په د فطرت د دې قانون یا د کار د طریقې په بدلولو کښې کامیابی یقیناً چې هغه به د هر زمانې او هر ټاټوبي لپاره وی - د هغه سخت نه چې وړاندې خوښ چې هغه اوس داوخت د دې منلو د پاره تیار دے د مساعلی بهتر د مستقبل په حقله خو هیڅ شک شبهه نشی کېدے - ولې چې د ده حشر خو د ده مقدر شوے دے - لیکن دلته بنیادی سوال دا دے - چې د پاکستان به څه کېږي؟ ولې چې مهمه به د پاکستان په حقله د خپل لاس صفائی ښودلې وی - هغه به د هغه ټکی عمارتونو یوه یوه خښته راغونډوی - د هرې اداری غلط استعمال لګیا دے کوی - او دا وړانوی - تر دې چې د دې سره د فطرت خلاف عمل کولے شی - دې د پاره هر پوهه وطن دوسته پاکستانی له دا سوال کول پکار دی - کوم چې ما د پی-پی-پی د غړو نه د قامی اسمبلۍ د ډنډ کړے وُ .

ما په قامی اسمبلۍ کښې هغوی ته وسیلی وو - چې موږ د بحث او دلیل په غرض ستاسو دا دعوه منو - چې په دې دنیا کښې کله هم څوک دده نه نیات ذهین ، قابل ، هوښیار یا مختصراً غیر معمولی تابعه او کامل انسان او سوپر مین پیدا شوے نه دے - ما هغوی ته اووې - چې زهٔ د دې نه یوقدم وړاندې خُم - اومنم چې کله هم څوک ده په شان ترکومې چې دا دنیا ختمه شوې نه وی د هغه د کېدې نه به نه پیدا کېږي - راځئ موږ ټول دا اومنو - لیکن ایا تاسو ټول په زما د دې سوال جواب راکړئ - چې آیا ستاسو داسې د یوې ښځې د کېدې

نه پیدا شوے دے۔ او آیا دے فناه کښه ونکے نه دے۔ یا آیا تاسو داګنړئ چې دے نه فناه کښه ونکے دے ؟ نه ده که دے فنا کښه ونکے دے نو بیا خو به یوه نه یوه ورځ دے مړکښې۔ آیا پاکستان به هم په دې صورت کښې په خپل مړئ مړشی۔ په کومه ورځ چې قاعد عوام نه مړئ راشی ؟ دا ټول هغه ما په یوه اخباري مرکه کښې د خپلو خیالاتو د اظهار په لړکښې د یو جواب په توګه په قامی اسمبلی کښې وئیلی وو۔ ما په اخباري مرکه کښې وئیلی وو۔ چې د ښاغلی بهټو پالیسوته چې اوګورئ نو یو سړے به خامخا دې نتیجې ته اوسی چې پاکستان او بهټو یو ځائې نشی پاتې کیدے۔ د دې وجه نه ده که مونږ پاکستان بچ کول غواړو نو مونږ ته به د بهټو نه ځان خلاصول ضرور وی۔ او ما تجویز کړے وُ۔ چې (پی پی پی) دې بل ځوك د پاڼه مشر اوتاکی او حکومت دې اوکړی۔ ولې چې دا د دوئ جمهوري حق دے۔ زما د دې خبرې په جواب کښې یو وفاقی وزیر غلام مصطفیٰ جتوئ ما ته خبر راکړو۔ چې زه دا ثابت کړم۔ چې پاکستان او بهټو دواړه یو دی۔ که بهټو نه وی نو پاکستان به هم نه وی۔ په دې زه صرف ده او ئیلے شم چې :

اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ ما

اوس زه د بلوچستان طرفته راځم۔ څنګه چې ما د دې نه د وړاندې خط په جواب کښې عدالت ته وئیلی دی۔ چې بلوچستان په یوځل د عالمی طاقتونو د فوځی او سیاسی پالیسو د آلو نکې منصوبه بندی په لړکښې د هر اهم شوے دے خبره داده چې بلوچستان د مشرق وسطیٰ د کشمکش په نتیجه کښې او د تیلو د وجې د قامی پالیسئ په اعتبار سره د هر اهمیت حاصل کړے دے۔ عربو تیل اخر دیوږ وسلې په توګه استعمال کړل۔ دغه شان بحر هند او خلیج فارس د عالمی معیشت د پاڼه یا د دې د پاڼه چې د عالمی معیشت ټول دارو مدار په تیلو دے۔ مرکزی نقطې جوړې شوې دی د دې د پاڼه مونږ ته د غټو طاقتونو د عالمی فوځ او جنګی پالیسو باندې د دې بدل شوی حالاتو په رڼا کښې سوچ کول پکار دی۔

په موجوده وخت کښې عالمی طاقتونه په خپلو کښې د روغې جوړې
د پاره هلې ځلې کوی ـ او د نیا کښې د جنګ نه کولو عمل شوروشور دے
کله چې دا نوے حال پیدا شو ـ نو برطانیې د خلیج نه خپل فوځونه راوکښل
او د عربو د یووالی د ختمولو او تباه کولو د سامراجیانو کوششونه ناکام
شول ـ اوس د اسرائیلو ملګ د دوئ په کار نه شی راتلے ـ او امریکه تر دې
حده غوږ ځپلې ده ـ چې په صفا توګه د جارحیت « په نوره مالګه بغیر د څه
وجهې حمله » د مخې وکړی ـ که عرب د امریکې په شرطونو د تیل وکولو انکار
کړی ـ د دا شان د دې حالت د نوی سره جاړه اختیار ضروری دی ـ د دې
هغه حالات په کوم کښې چې د غټو طاقتونو په عالمی پالیسی کښې بلوچستان
د فوځی او جنګی پالیسیو په اعتبار سره یوه اهمه زمکه جوړه شوې ده ـ
اوس که د اسرائیل « یهودی ریاست » د سامراجیانو په کار نشی راتلے ـ نو
د دې د پاره به هغوی ته څه بدل انتظام کول ضروری وی ـ دا به یو اسلامی
ملک او مسلمان وزیر اعظم وی ـ کوم چې به د اسرائیل ځای واخلی او د
امریکې د نوی سامراجی جارحیت ذریعه به جوړه شی ـ

امریکې او د دې دوستانو ته پته ده ـ چې نیپ به په هیڅ حال کښې هم
په خپله زمکه د بهر ملکی اډې اجازت ورنه کړی ـ بلکل همدا شان لکه څنګه چې
دوئ د پینټاګون سره نزدې په دې خبره کښې د امریکې د اډې مخالفت کړے دے
او د اډې نیپ به د دې د اسې منصوبې ملګرتیا هیڅکله هم اونه کړی ـ د کومې
ترمخه چې مشرقی وسطی د تیلو زیاتی خوړې وی ـ او د تیلو نه زیاته د اډې هغه
هیڅ یو د اسې طاقت سره شامل نشی ـ څوک چې د عرب د ورورنو د اتحاد
او یووالی د تباه کولو د پاره اوښی تړی وی ـ د دې د پاره به بلوچستان لازمی
طور فتح کول او نیپ به خقول وی ـ دا ما په مارچ ۱۹۸۱ء کښې سپرډیم کوریټ
ته په خپل جواب کښې لیکلی وو ـ او همدا هرڅه په امریکه کښې زمونږ سفیر

صاحبزاده یعقوب علی خان په واشنګټن کښې په یو ټهلې وېژن انټرویو کښې اوږې کوم چې په پاکستان ټایمز کښې په مې ۲۳ ۱۹۷۵ء کښې خپور شوے دے ،
صاحبزاده یعقوب علی خان اوږے :-

د فوجی اوجنګی پالیسی په لحاظ به د پاکستان اهمیت په مزه مزه زیاتیږی - ولې چې خلیج فارس ته د ننه تلونکو لارو باندې د ده قابو دے او ددې حقیقت په بناء بناغلی وزیر اوږې : چې هغه ته امید دے چې د پاکستان او امریکې ترمنځ به برابر ښه تعلقات قایم شی .

هغوی اوږې چې : دا خبره هم بالکل صفا بنکاری - چې پخپله د خلیج فارس زمکه په کومې چې قبلیږی یورپ او جاپان په اقتصادی اعتبار سره دارومدار کوی - د زیاتو نه زیات اهمیت به خپلوی ، وغیره وغیره - د ددې د پاره به بلوچستان فتح کول او د نیپ خنثول ضرور وی - ځکه د بلوچستان د پوره مسلې او د بناغلی بهټو دا ډکه د ددې حل به پخپله د بناغلی بهټو د خپلو ځانګو په ږنړا کښې کټل وی - کوم چې هغه ماته پخپله لیکلی وو - کله چې ما د پاکستان په تولو صوبو کښې جمهوری عمل ته په وده ورکولو باندې زور ورکړے وو - نو بناغلی بهټو دګیلې په توګه وئیلی وو - "زه بلوچستان د نیپ په حوالګولے نه شم ولې چې د ایران بادشاه دا نه خوښوی " ما دې ته په معصوم توب سره اوږې : چې ما خو دا ګنډلې چې دا د بلوچستان عوام دی - چاته چې دا حل کول او فیصله کول پکار دی - چې څوک د دوی مشر - اوګړی او دا می هم اوږې : چې ما خو دا ګنډلې چې خوښه او رضا خو د پاکستان د شاهنشاه پکاږده " ما د بهټو طرفته اشاره کولو کښې اوږې " نه چې د ایران د شاهنشاه - ماته دا پته نشته چې شاهنشاه ایران دا رښتیا داسې وئیلی وو - یا دا د بهټو په غټې دروغ کښې یو دروغ وو - کوهو ته چې هغه د ډیر په آرام د " سیاست " نوم ورکولو ما د دې خبرې بنکاروله چې په قومی اسمبلی کښې اوکړه - او دا اسمبلی نه بهر

مې هم دا خبره دوباره کړه - لیکن د دې خو نه ټر اوسه د مناغلی بهتو د ارغې ترڅه شوے دے او نه د شهنشاه ایران د ډډې .

د دې نه پس سمدستی د ایران بادشاه اعلان اوکړو - که د پاکستان سالمیت ته چرته خطره پیښه شوه - نو هغه به په عملی توګه په دې کښې راتلے وے - بلکې هغه خو تردې حده لاړ - چې هغوی تردې حده اووے :

چه په بلوچستان او سرحد کښې بعضې بهرنۍ طاقتونه لګیا دی - زمونږ د دې خلاف سخت جوابی عمل اوشو - او مونږ دا دیرهاونډی ملک په کورنیو چارو کښې په صفا دول کوتې وهل اوګرځول - دې د پاک بهتو ته لږ دې خبره تر تهولنه پورې ټلل پریوتل - چې هلته هغه په یوه سرکاری میلمستیا کښې اعلان اوکړی چې بعضې غیر ملکی واړه مشران په شاهنشاه ایران باندې د پاکستان په کارونو کښې د کوتو وهلو الزام لګوی - ولې کله چې په یوکور کښې اور اولګی - نو ګاونډی یقیناً چې ویښ او پریشان شی - نو کوریا مناغلی بهتو د دې دلیل مطابق که څه وخت هم په پاکستان کښې اور اولګی - نو د هغه ګاونډی ته دا حق حاصل دے چې هغه په دې کښې راتلے وے کړي - هغه وخت ما دا تپوس کړے ؤ - چې آیا یوائې ایران زمونږ ګاونډے دے ؟ زمونږ خو داسې طاقتور ګاونډیان هم دی - لکه روس اوچین - او زمونږ اوبه د سرحد د هندوستان سره لګی - او په دې حقله افغانستان خو به د ډیرو نه د زیات حق غوښتنه کوی - ولې چې په پاکستان کښې خو څه د ایرانیان آباد نه دی - البته صوبه سرحد او بلوچستان کښې پښتانه یا افغانان ضرور آباد دی .

لیکن مونږ دا لږدل چې مناغلی بهتو د نیپ او شاهنشاه ایران ترمنځ د غلط فهمیو پیدا کولو کوشش کوی - مناغلی بهتو ته ما خبره کوله چې شاهنشاه د نیپ پخله کړې وه مونږ ته درسولو څه خاص حاجت نه وو - که هغه د شهنشاه دوست ؤ - نو هغه به د یو دوست د خاطر دروغ هم ویلے شول . - آخر هغه هره ورځ دومره دروغ وائی - چې هغه خپل ځان نړۍ بین الاقوامی دروغژن مشهور

دے - هغه د خپل دوست شاهنشاه د پاره دروغ وئیلے شول - زه ګمنهم چې د
وړاندې شاهنشاه د بهتو په دې حال پوهه شوے وُ او هغه د بلوچستان د
قومي کار روایتو نه وړاندې خپل هیلی کاپټرونه واپس کړی وو -

بهرحال د بناغلی بهتو د دلیل له مخې کله چې هم پاکستان کښې اوله
اوکی - د هر ګاونډی به د اقدر تی جوابی عمل وی - چې هغه به خفه وی او په
دې لړکښې به بناغلی بهتو د هر ګاونډی د دې نه په دې کښې راتوپ کول
حق بجانب ګڼی - داسې چې کله په یو کور کښې اور اوبلی - نو د دې د فته
اوسیدونکی د هره طرفه د مرستې پاملته دار وی - چې هغوئ د دوئ په مدد سره
اور مړکړی او د مصیبت نه خپل ځان بچ کړی - د بناغلی بهتو دا منصوبه په
نظر دا ئله - چې اولس باندې بې شمیره تکلیفونه راوله - دوئ د خپل انسانی بنیادی
حقونونه محروم ساتله - د دوئ نه د دوئ سیاسی، جمهوری او ائینی حقونه
واخله - او کله چې هغوئ په آخره کښې د مایوسی تر سره اوسی - نو هغوئ
ته د بهر تلو لاره بنایه! او د هغوئ مخې ته د هغه ځمکه بدل وړاندې کړه -

په دې لړکښې به زه اول د بلوچستان ذکر اوکړم - د بلوچستان اولس
ته د پاڼې ملګ داولس په شان په اول ځل د قامی او صوبائی اسمبلیو د پاره
پخپله خپل مشران د منتخب کولو موقع ورکړے شوه - په دې صوبه کښې جمهوریت
راغے - د هغه ځمکې خلکو په اول ځل د خپلواکه حکومت خوند واخستو - چې کورنۍ
وزارت او د قانون سازۍ مجلس د دوئ خپل وُ - او په وفاقی قانون جوړولو
والا مجلس کښې د دوئ د مفاداتو د حفاظت د پاره پخپله د دوئ مشران وو - د
څه وخت تېریدو نه پس د ملګ مستقل ائین هم منظور شو ،

او اوس چې هر کله هریې ته په خپلو کښې - د باور - مرستې دیو اوبل د
دوه د پاره مطمئن کېدل پکار وو - خپلو ځانونو ته ئې د حالاتو سره د برابر
جوړولو کوشش کول پکار وُ - او د صوبې د اختیار او د صوبې د درجې د پاره

چې هغوئ کوم اوښه د او پرله پسې جدوجهد کړے وُ - د دې نه هغوئ ته فائده
اخستل وو - او چې کله ملک په ایلین کښې د صوبائی خپلواکی په تمائلی مقدار باندې
سمجهوتې کولو سره د اطمنان ساه واخسته - بناغلی بهټو بلکل د غه وخت د
چکدار دپاره خوښ کړے وُ - هغه د مینګل وزارت برطرف کولو سره د صوبائی
خپلواکی او د حکومت د پارلیمانی نظام د پاره چې کوم د کلې نو جدوجهد شوے
وُ - او په وفاقی ایلین کښې ئې د صوبائی خپلواکی د مقدار په مقرر ولو کښې په خپلو
کښې د روغې جوړې د کوم روح نه چې کار اخستے شوے وُ - د اهرځه د خاورو
سره خاورې شول - د کوئټه نه په دوهره بده طریقه برطرف کول او د برطرف شوے
وزارت د قائمې او صوبائی اسمبلی د غړو د جلاوطنۍ نه لږ وړاندې د بلوچستان عوامو نه
د اسلامیه جمهوریه پاکستان د اوسیدونکو په حیث چې د آئین او د ملک د قانون
د طرف نه څه ورکړے شوی وو - د هغه هرځه واپسی اختلاط عمل ئې پوره کړو
پخپلو کښې دباور - اعتماد او د مختلفو صوبو او علاقو د طرف نه پخپله د هغوئ په
مرضۍ سره په حکومت کښې د شریک کیدو د کوم احساس او شعور د پیدا کولو کوشش
چې شوے وُ - هغه دوهره په ئې د ورځې سره د سپې دې کیدو نه وړاندې ئې
اومرو ړلے وو -

هغوئ ته د دې تکلیف احساس دې د پاره هم زیات وشو - چې
د بلوچستان اولس د خپلواکی د حکومت لږه شان مزه څښلې وه - د پارلیمانی جمهوریت
په بختور سحر کښې د ستر کیدو غږولو او د حکومت په نظم او نسق کښې د لامرکزیت د
یقین ورکولو نه پس کوم څای چې د دوئ حکمرانان د دوئ نه وو - د دوئ په
ژبه ئې خبرې کولې - د دوئ خاص مسئلې او مشکلات ئې پېژندل - او د دې نه
نه ئې صحیح احساس کولے شو - او د تولو نه زیاته داچې دوئ ته رسیدل آسان
وو - د بلوچستان اولس په یوځل دا اوکتل چې د اتو ل هرځه د ستر کی په رپ
کښې غیب شول - ته وائی چې دا یو خوب وو - کله چې هغوئ په دې باید او مسئل

د حکومت مضبوطولا سوبنو دوئ راتینګ کړل - کله چې دوئ د دې مخ نیږې کولو - نو د دوئ خولۍ واشنګټن ښوږ وې - د دوئ په کلوچاپ او وهلې ښوږې - دوئ په عملي توګه غږ وینو ته ورسیدلې کړې شول، دوئ او ټیرولې شول - د دوئ د ښځوانو رهایانو سپکاوې اوشو - دهغوئ عزت نفس، عظمت، اوچتوالې اوه احترام د ښځوا راسې ، د عزت او درناوې قابل رسمونه د محمولې شان ذاتي خواهشاتو په قربانګاه کښې قربان کړې شول دا غریب اوساده خلک حق حیران پاتې شول - او هغوئ د پر په معصومیت سره تپوس اوکړو - چې آخر هغوئ ولې مجبور کړې شول - او داسې حالاتو ته ورډکې کړې شول؟ چې چرته خو هغوئ د لوبډې ، لې عزتۍ ، لوټ مار ، دا اور لګونې او ذلالت او سپکاوې سبکار شول - یا د خپل ځان او خپلو زنانه وُ د عزت بچ کولو د پاره غږونو ته اوتښتېدل او د پناه غاښونه ې کتل - د دوئ د پاره بهتره خبره منډوه - او هغې خلکو د دې توقع هم نلرله - دا هرڅه خو د یو ناګهاني مصیبت، په توګه په دوئ د آسمان نه راپرېوتل - هغوئ د دې د پاره بالکل تیار نه وو.

لیکن ښاغلی بهتو چې څه اوکړل - دې پسې د هغه یو مقصد وُ - د بلوچستان اولس ې د هغوئ دا ټینګې ، سیاسي او بنیادي انساني حقونو نه محرومولو او د پاکستان په صوبائي او مرکزي او وفاقي اسمبلیو کښې د هغوئ ټول مشران په جبلونو کښې د اچولو او بیا د مرکزي سیکورټي فوج ، سول وسله بنده فوج - او پاکستاني فوج او د هوائي فوج د استعمالولو سره د دوئ دیو دا سې جغرافیائي ملوک پرې د هغوئ پسې ټلل - کوم چې د هغوئ دخوبنې نه وُ - طالب علمان او عالمان ې په سخت ګیره کښې راښیول - دې مرحله کولو سره ښاغلی بهتو د بلوچستان د اولس د پاره هره دروازه بنده کړه - او هره لاره ې اونیوله - د ښاغلی بهتو ماته دا ټینګه په نوم ظاهر شول - چې ترکوي د بلوچستان تعلق دے - د پاکستان

شاهنشاه پې وسه دے - ولې چې دا خو د ایران بادشاه دے - چې فیصله به
[illegible] چې په بلوچستان چاته حکومت کول پکار دی - بناغلی بهټو غوښتل چې
بلوچستان به صوبه اسټاټو پوهه شي - او دغې هڅې په عملي توګه مظاهرې هم
اوښودلې - چې د دوی خلاصه د ایران طرفته په تښتېدو کښې ده - ولې چې د
بهټو په پاکستان کښې د دوی دپاره صبح خای نشته - او دا چې ترکوي د دوی د
حقونو تعلق دے - نو اسلام آباد پې وسه دے - بیا هغوی اسلام آباد نه ولې
لاړ شي؟ کوم چې د دوی نه زیات میلاپ دے - او د دې په مقابله کښې تهران
د دوی سره نږدې دروازه دے - بیا پاکستان کښې هغوی د څه قسمه مستقبل
توقع کولے شي؟ کوم خاې چې د هغوی دپاره جیل خانې دی - ګولۍ دی،
ذلالت او سپکاوے دے - او پرې لوبه او د دوښې د چې د اولس کښې د لاد
پاسه! بناغلی بهټو د بلوچیانو توجه خاصکر د هڅه جغرافیاې حالت نه کول غوښتل
دکومې سره چې د هغوی تعلق دے - او هغه دے خلیج فارس ته کومې ترڅې زه
ضمناً خلیج بلوچ وایم - ولې چې بلوچ په ایران کښې پروت بندرعباس نه واخلي
ترکرا چه پورې په تهو سمندی غاړه آباد دی - مختصر دا چې بناغلی بهټو
اول د بلوچیانو ژوند د بهټو په پاکستان کښې بالکل د برداشت نه بهر کړو او
بیا ئې هغوی ته دپره د هوښیارتیا د دې حالت نه د وتلو لاره یعنې د پاکستان
بدل اوښود. یعنې چې هغوی د ایران سره شامل شي - نو د دنیاې ترقه توقع
کولے شي - ولې چې شاه شنشاه سره دپر بې حسابه دولت دے - د دې په مقابله
کښې پاکستان یو غریب او بې ترقه ملک دے - کوم چې د دې دپاره هم تیار نه
دے - چې بلوچستان سره خپل د وۍ خپلو وسیلو پرې پرېږدی

دا ؤ هغه سبب چې کوې په وجه چې د بناغلی بهټو دا دپر زوره او رخواسې
ؤ - او هغه د دې دپاره خپل وسایل او عقلی صلاحیتونه او ټول بدکردار
غیرمعمولی ذهنی او د قابلو خلکو مشورې استعمال کړې - چې هغوی د نیپ نه

او خاصکر د صوبه سرحد او بلوچستان ترمنځ د نفاق اچولو کوشش اوکړی ۰ ددې نه هغوی اولنی مقصد بلوچیانو ته لټې ورکولو سره د خلیج حصې نه بېخې دایران غېږې ته وردیکل دو۔ نیپ د سامراجیانو ددې منصوبې خلاف د جد وجهد کولو پورې کوشش اوکړو ۔ کوم چې هغوی د خپل تالی مست بنا غلی بهټو په ذریعه د پکار ناوستلو په کوشش کښې وو ۔ او هغه د دښمن ددې ناولو ارادو خلاف په دې جدوجهد کښې د خپل یووالی دا عملی ثبوت ورکړو چې د صوبه سرحد وزارت تړې په بلوچستان کښې د مینګل دوزارت د بنا غلی بهټو دا رخې دغیر قانونی ، غیر آئینی او غیر جمهوری طریقې سره د برطرف کولو خلاف د احتجاج په توګه د استعفاو ورکولو دپاره اووېل : کله چې دې وزارت ته د بلوچستان په اسمبلی په دریو کښې دوو د اکثریت مرسته حاصله وه ۔ بیا نیپ د پاکستان د نورو ترولو سیاسی پارټیو سره د متحده محاذ په جوړولو کښې مدد ورکولو سره د بنا غلی بهټو په دې سکیم باندې چې هغه به بلوچستان لخانه کړی ۔ او د خپل امداد او مرستې دپاره به ټې د پاکستان د سرحد د نورو نه بهر په کتو مجبور کړی سخت ګذار اوکړو ۰

د بنا غلی بهټو منصوبه او مقصد بالکل بنکاره وُ ۔ هغه نه غوښتل چې د بلوچستان د اولس پورې د همدردۍ یوټکے هم اخبارونه، ریډیو ۔ او ټیلې ویژن په وسیله اورسی ۔ هغه خپل زیات کوشش کولو چې قامی اسمبلۍ ته په دې باندې د بحث کولو موقع ورنکړی ۔ او که مونږ هغه په بحث کولو باندې مجبور کړو ۔ نو هغه چې هم د حزب اختلاف د بنچونو ۔ تر دې چې د پی پی پی، د همدردۍ لرونکی بعضو ممبرانو له طرفه د بلوچستان د اولس په حق کښې اوویلې شی ۔ نه غواړه چې هغه په اخبارونو کښې چاپ شی ، نه په ریډیو راځی ، ظاهره ده چې هغه د بلوچستان په خلکو دا محسوسول غوښتل چې په پاکستان کښې د هغوی ځوک دوستان نشته ۔ اګرچې دلته د کشمیریانو د جدوجهد په حق کښې اود

هندوستان خلاف ، د اسرائیلو خلاف او د هربو په حق کښې ، د یونان خلاف او د ترکو په حق کښې ۔ تر دې چې د ویتنام او کمبوډیا او سکم او د هغوئ د بادشاه چرګیال بچهٔ اوازونه اوچتیږی ۔ لیکن یو سړے هم د هغه ظلمونو خلاف کوم چې دلته کولے شی ۔ او د سی ۔ ائی ۔ اے په طرز د تکلیفونو رسولو بچهٔ کوم چې ډیموکریټ په حیوانانو باندې کولے شی ۔ د خبرې کولو جرئت نشی کولے ۔ مباغلے بهټو غواړی ۔ چې د بلوچستان خلک د دې تر خپې تجربې نه واقفیت محسوس کړی ۔ چې پاکستان کښې د هغوئ د پاره هیڅ ځای نشته ، او نیک نیک د دې وجهې نه هغه خرک سیاسی مشر د هغه غلاقو کوم چې د هوائي جهازونو په بمبارد او فوجی کارروائیو غصه کړے شوے دی ۔ د دوئ کولو د پاره هغوئ ته اجازت نه ورکړی ۔ د اشتراکی محاذ ته د دې د کتو اجازت نشته ۔ چې هغوئ د متاثره شویو خلکو پرې اوسی ۔ او هغوئ ته د پاکستانی ورونړو لخوا د مینې او وروڼلې د جذباتو او احساساتو پیغام اورسوی ۔ نور خو بیا لا څه کوی چې په پارلیمینټ کښې د حزب اختلاف غړو ته د هغه خلکو ته د رسیدلو اجازت ورنکړے شو ۔ او سی مباغلی بهټو په بلوچستان باندې له دواړه طرفه حمله شوے کړیده ۔ بلوچستان د پښتنو د پاره د هغه بلکل بدله منصوبه ده ۔ د کوې تر هغه چې هغه په سیاسی توګه او د دې حکومت د نظم و نسق په ذریعه هلته په جنګ کښې مشغول دے ۔ د دې د ټولو نه غټ مقصد خو د هغه هلته د بلوچیانو او پښتنو په منځ کښې نفاق اچول دی ۔ چونکې د دې د منصوبې د هغه د هغه سکیم یوه حصه ده ۔ کومه چې هغه د صوبه سرحد د پښتنو د پاره جوړ کړیده ۔ د کوم چې د پاره ۔ چې په دې بیان کښې به هغه ته د دې ذکر اوکړم ۔ یعنې د بلوچستان پښتو ژبه ویونکی علاقو کښې د مباغلی بهټو چې کومه پالیسی ده ۔ هغه به اصل کښې د هغه منفی منصوبې یوه حصه ده کومه چې د پاکستان ټولو پښتنو له هغه ټاکلې ده ۔

زه دلته دا خبرې دوباره کول نه غواړم - کوم چې ملاد دې حالاتو په لړ کښې
کوم چې مشاغلي بهټو په بلوچستان کښې پیدا کړي، ویلي دي - چې دا شان
صفه د پاکستان د نه د بلوڅو ډوند د برداشت نه بهر کړي - او د دوی
او سپډل ناممکن کړي - په صوبه سرحد کښې هم کم و زیاته دغه شان ملاو یدونکي
پالیسي ده - بېشکه په دې خط چې کومه طریقه او تدبیرونه اختیار کړې
شوي دي په دې کښې لږ شان فرق ځکه ولې چې د بلوچستان په مقابله کښې صوبه سرحد
لږ زیات ترقي لرونکې دے - په قامي وسله بنده فوځونو او سیول انتظامیې
په نوکرو کښې د دوی خاص نمائندګي ده - په تعلیمي توګه هم لږ وړاندې دے
بیا د آزادۍ نه وړاندې د خپلواکه حکومت تجربه لري - دلته هم د صوبه سرحد
د مرکه تاوولو د دوه ځلوېښت ممبرانو په ایوان کښې د درې ممبرانو په زور د
«پي پي پي» وزارت راټپل - د عوامي اواز دباوول - د دوی اخبارونو اشتهار
او فرنټیئر ګارډین د بندولو او د دې ایم پېرانو او کارکوونکي قلندر مومند
همیش ګل، طوفان او یوسف لودهي وغیره قید کول - د خلکو د نیولو په
وخت په دوی باندې زیاتي کول، د پرده دارو کورونو بې عزتي کول - او د
سي - ای - اے برانچ د تکلیفونو نه پس د مشاغلي بهټو دا یقین او شو چې د
بلوچو په شان پښتنو ته هم د بهر تلو لاره د بندولو د پاره مناسبه فضا پیدا کړې
شوې ده - او حالات ټیک شوي دي - د پښتنو د پاره د پاکستان بد لحظه دے - د
دې اعلان د مشاغلي بهټو د بندوبست لاندې - ریاستي علاقو، ضلعو، قبائلي
علاقو سره تړلې په ایجنسو کښې د خپلو لویو لویو دوره په موقع او کړې
د ده تقریرونه ټک په ټکي نه صرف قبضه کړې شوي اخبارونو کښې دا غلل،
بلکې هغه بیا بیا په ریډیو او ټیلي ویژن باندې هم نشر شول - چې دا یقیني کړې
شي چې د هغه دا منصوبه او سکیم یو یو پښتون ته اورسي - خدای کړه
هغه په ضلعو کښې اوسي - یا ایجنسیو کښې، یا قبائلي علاقو کښې ظاهره ده.

چې د ټولنې زور آور د خپرونې وسیله د رسیدلو ده ـ د بناغلي بهټو د تقریر نه دا صفا پته اولګېده ـ چې د خپرولو د دې مهم په منصوبې جوړولو کښې به د پروخت او محنت لګولے شوے وی ـ ولې چې دمهم په دوران کښې بناغلي بهټو په ژبې شوې غلطۍ کښې چې کوم دلیلونه وړکړل ـ هغه دصفي نه د کومې نه چې هغه په کښې ترقي لرونکې قبائلي علاقو کښې کار اخستے وو بالکل بلکل وو ـ ۰

د صوبې په ریښتیا علاقو کښې بناغلي بهټو زیاد تر د عقل نه په کار اخستلو زور وړکړو ـ په دې سلسله کښې هغه خلک په دا لاندې څیزونو باندې پوه کړل ـ

د دې مهم شوو بناغلي بهټو په درېو درونو ویلو سره اوکړه ـ اګرچې دا څیزونه د پرحیرانونکے نه وو ـ ولې چې هغه منل چې هغه دروغ وائی ـ لیکن دلته چې هغه کوم دروغ د خپلې تهیلې نه چوپړ کړی وو ـ هغه داسې دروغ وو ـ د کومو وړوسته چې یو مقصد وو ـ (د بناغلي بهټو د دروغو دا بیاناتونه ، په څه نه څه شکل کښې زما سره تعلق لرلو ۰)

وړومبے دروغ چې هغه په خپلو تقریرونو کښې په دې مهم کښې اووې ـ هغه دا وو چې ـ "برطانیه کښې د علاج کولو نه پس کله چې ولی خان توخم ته راواستلے شو ـ نو هغه اووې : چې زه به دا ژمنه د دې لپاره اوچت کړم (د دې نه مراد د پیوستون کرنسۍ ده) د پښتنو په چوپړ یادګار کښې به ږدم" اوګڼوم ـ اوس داخبره بالکل غلطه ده ـ ولې ! کله چې زه توخم ته راواستلے شوے نو یقین اوکړو چې د دې پیوستون د کرښې نه دوارې طرف ته زګونه خلک د یو ارخ نه ماته د په مخه ښه ویلو او د بل طرف نه ماته د هرکلي د پاره راجمع وو ـ هغه وخت صرف دا مناسبه وه چې زه د هغوی د ټولو د هغه کړاوونو کوم چې هغوی په دې ګرمۍ کښې کړے وو ـ شکریه اداء کړم ـ هلته یو جیپ وو ـ په کوم کښې چې لاوډ سپیکر لګېدلے وو ـ لیکن ماته د پارټۍ د غړو له طرفه او وینلے شول چې د هغه ۱۴۴ لګېدلې ده ـ دې د پاڼ د ملک د قانون د احترام په لوګه ، ما حاضر

خلکو ته "ستاسو شکریه" قدرې هم اونۍ وې : لیکن بهتو چې زما پخله دا دروغ اوږدې او ددې شاه ته یو مقصد وُ - هغۍ دهرې پښتون توجه د ډیورنډ کرښې ته راګرځول غوښتل - په اصل کښې هغۍ غوښتل چې هر پښتون دې دخپل ځان نه دا سوال اوکړي چې آخر داد ډیورنډ کرښه څه شے دے ؟ د چا راکښلې ده ؟ - او کله راکښلې شوې ده؟ وغیره وغیره - د دې سوالونو جوابونه ظاهر ده چې یو خاص طرفته اشاره کوي اوهغه دا چې د ډیورنډ کرښه برطانوي سامراجیانو راکښلې وه - تقریباً سل کاله وړاندې دا د پښتنو په زړۍ شلولو کښې تلې ده - وروسته بیا دوروسته ، خاندان بیا د خاندان نه او قبیله بیا د قبیلې نه جدا کړې ده (لکه څنګه چې د برلین دیوال دے)

دا شان بناغلی بهتو د تورخم زخیر په چوک یادګار کښې دلګولو طرفته په خپل اشاره کوی - د دې معنیٰ به وی لرې ریستو ۱۸۹۳ء م کښې برطانوی سامراجیانو چې څه کړی وو - دا خټول - اوس چې کله انګریز اوږه زړه میله لرې خپلې جزیرې ته واپس تلے دے او د هغوی د تللو اته ویشت کاله شوی دی - زیاته داچې دا یوځت وُ - کله چې به د ډیورنډ کرښې نه د دولت مشترکه سرحد ویلې شو - لیکن بناغلی بهتو دا مشکل هم لرې کړے دے - ولې چې اوس پاکستان د دولت مشترکه ممبر هم نۍ دے - غرض دا چې په دا سې ماهرانه او واضحه توګه بناغلے بهتو د صوبه سرحد د پښتنو د پاره دوئ سره نزدې د پاکستان کوم بدل دے هغۍ وړاندې کولو اود دوئ دوسره دیکه کولو او په لټود وهلو د افغانستان دلارې د بندولو کوشش کړے .

د دې علاقو خلک به سمه ستی دا اووائی چې په مونږ کښې او افغانستان کښې څو دومره زیات فرق دے - د پاکستان رییس یو بیا بیا مونږ ته وائی - چې په افغانستان کښې نۍ خو جمهوریت دے او نۍ آیین - دې د پاره د دې خلک په سیاسی لحاظ سره ترقی کوونکی پښتانۍ به د هغه نظام سره خپل ځانونه څنګه یوځای کړی - اوس بناغلے بهتو دلته یو بل دروغ وائی : او دا دروغ هم هغه د یو مقصد

د پاره وائی، وائی چې: «کله ولی خان د کابل نه راتلی - نو یو افغان جرنیل د هغه په غوږ کښې په پته سره ویلی وو - چې دا ټول فوج، هوائی فوج او د افغانستان ټول توپخانه ستا دی، بیا دا یو پلیټ دروغ د ټولو نه اول خو داسوال دے - چې ښاغلی بهټو هغه خبره څنګه واورېدله؟ کوم چې افغان جرنیل زما په غوږ کښې پته کړې وه» لکه څنګه چې ما دده نه مخکښې ویلی دی - چې آیا بهتر د شیطان مجسمه ده؟ چې هغه هغه خبره واورېدله - کوم چې یو سړی په پته د بل سړی په غوږ کښې اوږی، ددې دروغ ټول مقصد پښتنو ته ددې یقین ورکولو کوشش وو - چې هر څیز د هغوی مشر ولی خان ته حواله کړلے شی - دې د پاره تاسو ددې آئینی بارکیو پچقله ولې پریشانه کیږئ - لیکن بیا هم د ښکلا داسې آئینی ذهن لرونکی خلک به وی خوک چې به ددې باوجود هم نه منی او وائی چې صرف د سړو نه کار نه جوړیږی او بیا داد یو فوج جرنیل او ولی خان ترمخه - یا زیات نه زیات د ولی خان او داؤد خان ترمخه د معاملې خبره خو به نه وی - هر وخت د حاضرو دماغو خاوند ښاغلے بهټو په مازغو زور اچوی - او دلته د موقع مناسب پوښل دروغ وائی او وائی: چې کوم ځای چې په افغانستان کښې پښتونه آباد دی - هلته په پاکستان کښې ددوی شمیره یو کروړ وه - دې د پاره په هر یو جمهوری نظام کښې اکثریت به د پاکستان د پښتنو وی - د دا شان ددې لحاظه د افغان پښتنو د بالادستی هیڅ خطره نشته - اوس ښاغلے بهټو لږ نور هم وړاندې ځی او وائی چې د پاکستان پښتانه په تعلیمی، د حکومت په نظم ونسق او د صنعت له اعتباره وړاندې دی - دې د پاره په دې معامله کښې هم د هغوی نه د څه قسم وېرې امکان نشته.

صوبه سرحد ته ددې سوچ ورکولو او ددې ځای اوسیدونکو ته د هر یې پښتې خطرې څخه ولو او په دې څله د ټولو سوالونو جوابونه ورکولو نه پس ښاغلے بهټو قبائلی علاقې ته لاړ - کوم ځای چې د معمول مطابق د هغه د جلسو د پاره خلک د پولیټیکل د محکمې ددې راوستے شوے وو - په دې علاقو کښې څوک

د سیاسی علومو څخه خبرنه دی - او چونکې ملت سیاسی پارټیونه د کار کولو اجازه نشته - دې د پاره د خلکو څخه سیاسی تربیت نه کیږی - او نه کله هم هغوی په سیاسی لکیرو سوچ کوی - پولیټیکل ایجنټ ظاهره ده چې صرف قبائیلی ملکانو او د لوی عمر والا، او هغوی د څرک د حکومت نه ماجب او وظیفې وصولوی (د ماجب تکے د مغلو دوخت نه راروان دے) جمع کوی - د اخلک د سیاست نه هیڅ خبر نه دی - په دوی کښې د ټولو نه ټیز او هوښیار هغه خلک وی کوم چې صحیح صحیح د راتلونکی حکمران شناخت اوکړی - چې د ا شان دوی د هغوی سره معامله اوکړے شی - او د ا شان چې کله حکومت بدل شی - نو د هغوی د وظیفو، لائیسنسونو او پرمټونو سلسله د پې جاری وی - واقعه داده چې عام طور سره د ا د پهر هوښیار خلک دی - او د مغلو، درانیانو او انګریزانو دوخت نه د حکومت دواکمنو سره د خپلو راشر درشه د سائلو په وجه هغوی همیشه د حکومت د بدلی د هر امکان په تلاش کښې وی - او دزی نه په نری د اشلو پوهیدو پورې یوه موقع هم دلاس نه نه اوباسی - هغوی به د بناغلی بهټو په جلسو کښې شریکیدو سره په دې باندې د خان پروفایل د پاره د پهر په شوق کښې وی - چې بهټو خومره مضبوط دے - بلکه دا چې د دوی څوک امکانی وارث کهدے شی - او په آخر کښې دا او هم دا څیز د ټولو نه اهم وی - چې ددې دوو په مقابله کښې د غلی کسانو کښې د چا سره خومره طاقت دے ؟

هغه وخت کښې د بناغلے بهټو په پرخلاص ذهنی حالت کښې راکښه وی - که هغه د چا حکیم سره مشوره کړے وے - نو هغه به په قسمی توګه د دوی مالیخولیا تشخیص کړې وے - لیکن ما هغه ته په قاضی اسمبلی کښې وئیلی وو - چې هغه په مالیخولیا کښې نه بلکې په ولی خولیا کښې کیږ دے - ولې چې د هغه په تقریرونو کښې د دې نه سیوا چې هغه په ولی خان باندې موقع بې موقع اوونت بې وخته حملې کړی - نور څه نه کیږی - لاهه حقیقت کښې دې وئیلو سره ما

په داګه د دې شکریه اداء کړي وه - کړچې ما په خپله پرو پیکنډه باندې
په لکهونو روپۍ لګولې وې او د دې کار د پاره ما سره د عوامو سره د رابطې
مینځ افسران هم وو - نو د دې باوجود به هغوئ د دې لسمه حصّه کار هم
نه وو کړې - کوم چې بناغلی بهتو په دې دوهو کښې زما د پاره اوکړو - د
بناغلی بهتو بیا بیا د ولی خان، ولی خان دوباره کولو نه د دې ملګرتو او د دې
متعلقه خلکو نه به مسمدستی د اتلی شوې وې - چې اوس انتخاب د ولی خان او بهتو
ترمنځ دے - او هغوئ د بهتو د مقابلې د سړې شناخت کولو کښې کامیاب
شول - اوس دا ولی خان نه دے - بلکې بناغلے بهتو دے - چا چې هغه خلک
ته اووې چې دا ولی دے د چا په ویناچې د هندوستان وسله بند فوځ
زمونږ د سرحدونو طرفته راغلے دے - داشان د ډیرو خانانو ملکان اخوا
دې خوا کوړې - او د هر په مزه د خپل ملګرې نه تپوس کوی - چې ایا دا
خو هغه هندوستان نه دے - کوم چې تېرکال د متحده پاکستان فوځونو له
بیلات وکړے وُ - «اوجی» ملګرې جواب وکړو - او ایا دا هغه هندوستان
دے - چا سره چې زمونږ یو لکهه تر نزدې بهادر سپاهیان د جنګی قیدیانو په طور
وو «او جی» هم هغه هندوستان دے - او اوس خو د بهتو د خپرونو ذریعې
دا هم وائی - چې هندوستان والا دا ایټم بم جوړ لو کښې هم کامیاب شوی
دی - اوهمدا هندوستان نور خلک خو پریږده پخپله بناغلے بهتو وائی - چې
ولی خان سړه دے - بناغلے بهتو په دې دوران کښې دا خبره د دې اعلان سره
وړاندې بیائی - چې افغان فوځ هم د ولی خان په ویناکښې دے - او دا چې د افغانستان
فوځ هم د پاکستان سرحدونو ته راوستلے شوے دے - د ډیرې والا ملک جنپل
ملګرې طرف ته کوی - او دا شان سړخوځوی - لکه چې وائی: چې دا خو نوره هم
مینځ ده - ولې چې اوس خو معامله زمونږ د سرحد ده - او افغان فوځ هم د ولی خان
سړه دے - د دې نه پس بیا د بناغلی بهتو اواز پورته کیږی - چې وُوس

پنځلس سوه فوځي ماهرانو او دفن استاذان افغان فوځیانو له راليږلي دي - او د دې نه علاوه هغوئ له وسله او د جنګ سامان هم ورکولے کيږي دي - بناغلی بهټو د تلو نه پس دا ټول سپين ږيري يو ځای کښيني - او چې څه ئې اوريدلی وو - دهغې پخپله په خپلو کښې خبرې اترې کوي - هغوئ خو د بناغلی بهټو د دښمن ولی خان او پيژندو - اوس چې هغوئ نه څه کول دی - هغه صرف دومره معلومول دی - چې دا سړے څوک دے - کوم ځای اوسی - او هغه سړی دوئ څنګه رابطه کولے شی . په دې حقله دويمه خبره داده - چې دا پخپله بناغلے بهټو دے - څوک چې دا وائی ، چې هندوستان ، افغانستان ، تر دې چې روس هم ولی خان سړه دے - بناغلے بهټو هلته په دا شان تقريرونو کښې ولې وخت ضايع کوی ؟ خبره داده : چې دا شان هغه د هغه قبائلی خلکو د پاره څوک چې د افغانستان او پاکستان په سرحد کښې اوسيږی د پاکستان د يو بدل او د دې نه د بهر وتلو دلارې نښودنې قابل شوے دے

دا دومره هرڅه خو د پاکستان د خلکو د پاره اوشول - تر کومه چې د قبائلی علاقو او پښتنو متعلق دے - بناغلی بهټو هغوئ په خپلو وړاندې کښې پوهه کړل چې کله د هغوئ کور ته اوړه اولګی - نو هغوئ ته د سرحد نه پورې د افغانستان طرف نه کتل پکار دی - اوس د دې مسئلې دويمه مرحله شوروکيږی - ضرورت وُ چې په دې کښې افغانستان هم راوبلے شی - دغه شان د دې منصوبې د پکار راوستلو د پاره بناغلی بهټو د افغانستان سړه د مکالمو او سياسی خبرو اترو يوه غير معمولی طريقه خپله کړه - او هغه وه د هغه په عام جلسو کښې تقريرونه کول او بيا په ريډيو باندې بيا بيا د اخبارونو - دا تقريرونه د بهټو د طرف د مخصوصو سياسی مکالمو په طريقه وو - ما دا په ريډيو باندې واورېدل - او څپلې پيلې وينځې مې هم دا اوکتل ، بناغلی بهټو اوږې چې :

اے! داوُ ده یک یک بند کړه - که نه وی نو موږ به خپله جنده په کابل باندې اودروو - او لکه څنګه چې دا کافی استقبال وکړونکے نه وُ۔ هغهٔ د خپل بیات نوم هم وضاحت اوکړو - او د تاریخ د حوالې وکړلو سره یې په دې وینا د دې خبرې امکان ثابت کړو.

که رنجیت سنګهه په جلال آباد باندې حکومت کولے شی نو موږ ولې نه شو کولے؟ دا بیا یو غلط بیان وُ - ولې چې سکهانو کله هم په افغانستان حکومت نه دے کړے - هغوی د پښور د تهکال کلی نه چرته هم وراندې نه وو تلی - دوی ته آخری او قطعی بیلات د جمرود دې غاړې شوے وُ - کوم ځای چې د هغوی جرنیل مړکړے شو - لیکن بهتو هلته چاچې د قبایلی علاقې او افغانستان سره لګیدلی سرحد د علاقې دوره کوله - نو د هغهٔ د وراندې خو څهٔ د تاریخ سبق ښودل نه وو - نه - نه - د دهٔ مقصد خو د افغانستان لکه ته کوتې ورولو او هغه هم صرف په غصه وکولو والا ژبه نه وُ - بلکې پخپله د افغانستان د سالمیت د پارهٔ د خطرې او په کابل باندې د خپلې جنډې د لګولو - د بناغلی بهتو د امکان او ارادو دهرکې وکولو سره دا یو چیلنج وُ - کوم چې د افغانستان حکومت له ورکړے شوے وُ - او که دا کافی نه وه - نو بناغلی بهتو تر تاریخ پورې په غلط رنګ کښې د وراندې کولو کوښش اوکړو - چې هغه افغانانو ته د ډیورنډ د کرښې د اړخه د خطرې په حقله که د څهٔ قسمه بې پروائی او اطمنان دے - نو په دې حقله هغوی په زوره او خوځوی - اوخبردار یې کړی - د دا شان د بناغلی بهتو له خوا د افغانستان په حکومت په ښه طریقه سره واضحه کړے شوه - چې هغوی دې د خپلې علاقې د سلامتیا د پاره د پاکستان د طرف نه د راتلونکې خطرې د مقابلې د پاره تیار اوسی - او دا صرف زبانی دهرکې نه وې د افغانانو وینا ده چې هغوی د خپل حکومت خلاف د دا سې سازشونو

او مجرمانه منصوبو سراغ لګولے دے - په کومو کښې چې پاکستان او پاکستانیان ایغ په ښځه شریک دی .

د نیپ غړی ټې وطن د ښمنه او د افغانستان تالی ست ګروپ لو سره د اخیره ټوک هم د افغانانو په توجه کښې راوړلے شوه - چې هغوی د صوبه سرحد او بلوچستان په پښتنو او بلوڅو په مرسته باندې باور کولے شی - ایا څوک دا د دوړې د دې مثل :

آ بیل مجھے مار !

د دې نه به نور واضح عملی مثال په مشکله ملاوشی .

غرض دا شان بناغلی بھټو د صوبه سرحد د پښتنو د حقونو مسئلې ته بین الاقوامی حیثیت ورکولو کښې کامیاب شوے دے - په دې کښې شک نشته چې د دې حقیقت نه څوک هم انکار نه شی کولے چې د پاکستان او افغانستان په خپلو کښې تعلقات د اوړې وخت نه کړ کیچن راروان دی او اګر چې د دې د ښه کولو د پاره بیا بیا کوشش نه اوشول - لیکن هغه کلاسم په پوره خواخوږۍ سره او نه شول - د خپل نوی پاکستان د خپل نوی حکومت په شروع کښې د دې خبرې په وضاحت کولو کښې بناغلے بھټو بالکل صحیح وو - چې داؤد خان په خپل اولنی نشرې تقریر کښې څه نوې خبره نه وکړه - هغه ټکی په ټکی نزدې نزدې هغه څه دوباره کړل - کوم چې د افغانستان بادشاه هر کال د افغانستان د رخ په موقع په خپل نشري تقریر کښې وائی - لیکن د دې سره یو سره د دې حقیقت نه هم انکار نشی کولے چې اګر چې افغانستان دا مسئله ژوندۍ ساتلې ده - لیکن دا هغوی کله هم د پاکستان دیو والی او سالمیت د پاره د څه قسمه خطره نه ده بنودلې په دې باره کښې د ۱۹۶۵ء او ۱۹۷۱ء جنګونه د افغانانو د رښتیا او کره کیدلو کافی ثبوت پیش کړی - زه بې ضرورت نه څوک په پریشانه کښې

اچول نه غواړم - لیکن دلته به زه دا خامخا په ګوته کړم - چې د بناغلي بهتونه زیات چاته معلومه نه ده - چې په ۱۹۶۵ کښې د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر په حیث په دې حقله د افغانانو د نقطهٔ نظر څانګې علم لري - چې په داسې وخت کښې چې پاکستان د کشمیر په معامله کښې د هندوستان سره په جنګ ؤ - او د پاکستان وسله بند فوج په جنګ کښې وړغورځولې شوے ؤ د افغانستان سرحدي یوځای سرحد بالکل خالي پریښودے شو - نو که د افغانستان واقعي څه د علاقې مطالبه وه - نو هغه ته د خپل حق سنګار کولو او په زور د دې حق اخستلو دا ډیر ښه موقع نه شوه ملاویدے - زه نه پوهیږم چې هغه وخت پاکستاني فوجونه په دې پوزیشن کښې وو - چې هغوئ په یو وخت د دواړو سرحدونو حفاظت کولے شی - په دې موقع د افغانستان د پاره دوه ستونزې د حملې معنی صرف دا نه وه - چې هغه به په دې علاقه قبضه کړے وے - کومې ته چې به هغه خپله علاقه ویلې - بلکې دا به په یقیني توګه هم د هندوستان په ګټه د پاکستان د بیلات باعث ؤ .

د ۱۹۷۱ء په جنګ کښې خو حالات نورهم خراب وو - پاکستان پخپله د خپل ځان سره په مشرقي پاکستان کښې په جنګ ؤ - او د باقاعده فوج نه علاوه سول وسله بند فوج، تردې چې پولیس هم مشرقي پاکستان ته لیږلے شوے ؤ - او د افغانستان د سرحدونو د حفاظت د پاره څوک هم نه وو پاتې - موږ په یو تباه کوونکي جنګ کښې ښکیل وو - او په مشرقي پاکستان کښې موږ ته په یقیني توګه یو ذلیل بیلات ته مخامخ کیدل وو - د مغربي پاکستان د محاذ صورت حال هم څه ډیر ښه نه ؤ - که په دې موقع افغانستان په دې علاقه د قبضې کولو د پاره کوم چې هغه خپله ګټه د حملې کولو فیصله نې کړے وے - نو د دې چې به کومه نتیجه راوتله - د هغې په حقله صحیح شکل هم نشو کیدے - نه صرف په افغان محاذ، بلکې د هندوستان خلاف د مغربي پاکستان په محاذ هم

د افغانستان د اړخه د یو دوست ګاونډی په حیث د خپل ریښتیا اوکړه کېدو او دا ثابتولو دپاره چې دده د پاکستان خلاف د خپلو علاقې دعوې نشته او دا چې هغه به یقیناً د دې احمقانه صورت حال نه په کوم کښې چې پاکستان خپل ځان اچولے وي، د فایدې او چتولو خواهش نه لرلو - د دې نه زیاتې نورې عملي مظاهرې کېدلے شي ؟

مبا غلی بهټو ته د دې هرڅه پته ده - ولې چې د پاکستان پخوانیو حکومتونو سره د ده د پېر نېدې تعلقات پاتې وو - د دې د پاره هغه د افغانستان د دې حملې نه ګوڼلو د موقف نه د دوستیو او دې نه په زیاته مخالفانه او حملې کړونکې عمل په اختیارولو باندې د مجبورولو او دهغه ئې په دې د پوهولو کوښښ اوکړو - چې تر کومې هغه د خپل ځان د پاره څه مناسب انتظام اونه کړي - نو د ده د خپل وجود د پاره یوه ریښتینې خطره ده - په دې موقع داسې افراهکاني تصدا خوږې کړے شوې - چې د پاکستان فوج د خپل بیالات د بدل اختلو او د خپل عزت د بحال کولو د پاره ناقراره دے - اوکه مونږ اوس داوخت د هندوستان سره جنګ نشو کولے - نو مونږ افغانستان ضرور دپښو لاندې کولے شو - مبا غلی بهټو معاملات څه داسې ګډوډ کړل - او په دې جلسو کښې په خپلو تقریرونو کښې کوم چې د قامي پروګرام لاندې په ریډیو او ټیلي ویژن خوږېدل - په دوهمه واضحه توګه د دوستانو د کتلو د پاره اشاره اوکړه - چې افغانستان ته د خپلو دوستانو او ملګرو په تلاش کښې د څه قسمه منصوبې جوړولو ضرورت پاتې نه شو - مبا غلی بهټو د افغانستان د بهرنیو چارو د افسرانو مشر په حیث د هغه د پاره د هغه د ټولو مسئلو حل اوکتو - او هغه کوم طاقتونه او کوم ملکونه دي - د کوم لحاظ چې هغه ته مدد ملاوېدلے شي - چې د اسې هغه صغرې د ځان سره ملګرې او دوستان کړي

لکه څنګه چې د بهتو وینا ده چې کله د چا په کور کښې اور اولګی - نو د هغه ګاونډیان قدرتي طور فکر مند شی په دې حقله د بنا غلی بهتو د طرف نه د ایران په مقابل کښې افغانستان ته یو مبټ د طریقې کار او بنودلے شو - مثلاً د اجې افغانستان ته اوویلے شول چې د پاکستان په دوو صوبو، صوبه سرحد او بلوچستان دننه د هغه دوستان او ایجنټان موجود دی - بلکې افغانستان له خوې دا رائې هم ورکړې وې چې هغه هندوستان او روس خپل ملګري جوړ کړی - او د تولو نه مزید اړه خبره خو دا وه چې دا تول منصوبه مبټ په کهلاوې د عامو جلسو په تقریرونو کښې تجویز کړے شوه او بنا غلی بهتو دا تجویز کړے - د دې نه هرڅوک چې ما د پاکستان د پښتنو په حقله د وضاحت کولو کوشش کړے دے - اوس به د دې مضمون په ربط کښې د بلوچستان ذکر اوکړم - د بنا غلی بهتو چې د بلوچستان متعلق کومه منصوبه وه - په دې باندې ما بحث کړے دے - اوس زه په بلوچستان کښې د پښتنو متعلق دهغه سکیم طرف ته راځم .

د بلوچستان نیپ په دوو حصّو کښې تقسیم شو - ببلبډونکی تولګی خپل نوم پښتونخوا نیپ کښودلو - د دې مشر عبد الصمد خان اچکزے (مرحوم) وُ - د دې تولګی تولې هلې ځلې صرف د پښتنو پورې وې - لکه څنګه چې د دې د نوم نه ښکاره ده - د دوې زیاتې ګیلې له ما نه وې - اول دا چې ولي خان د پښتونستان مریسته نه کوی - او د صوبه سرحد او بلوچستان د پښتنو د یو ځای کولو خلاف دے - د دوې دویمه ګیله داوه - چې ما په بلوچستان کښې د پښتنو مفاد د بلوڅو د پاره قربان کړی دی - او هغه داسې چې کله نیپ په بلوچستان کښې مخلوط وزارت جوړ کړو - نو داسې انتظام پکار وو چې د ګورنر او وزیر اعلیٰ په غټو عهدو کښې هره عهده پښتنو ته حواله کول پکار وو - نو چونکې داسې او نه شوه - د دې د پاره په ولي خان د الزام اولګولے شو

چې هغه د پښتو مفادو ته نقصان رسولے دے .

په جولائی ۱۹۲۳ء کښې د صوبه سرحد او قبائلی علاقې د دورې نه پس بناغلی بهتو سمدستی بلوچستان ته لاړ - او هغه د پښتو او بلوچو د علاقې اوښده دوره اوکړه - د معمول مطابق عامې جلسې اوکړے شوے په هره جلسه کښې چې د پښتو په علاقه کښې او شوه بناغلی بهتو په دې خبره دخپلو خیالاتو څرګندونه اوکړه - چې هغه د پښتو دوست دے - ولې چې پښتونخوا نیږې د هغه مرسته کوی - د خپل بیان سلسله جاری ساتلو کښې هغه په تقریرونو کښې خپل دلیل وړاندې بوتلو - او په ولی خان ې الزام اونګولو - چې هغه د انګریزانو تالی ستړ دے او هغه په هر قیمت پښتونستان جوړولو غواړی . او نۍ بهتو به کله هم هغه دې ته پرې نږدم - پښتونستان به زما په لاش جوړیږی - اوس هغه ټول پښتونخوا نیږې جلسو ته راوستی وو - هغوی ته دا وئیلے شوی وو - چې ولی خان د پښتونستان ملګرے نه دے - لیکن دلته بناغلی بهتو په خپل اوچت اواز کښې چغې وهلې چې ولی خان د پښتونستان جوړولو پسې شوے دے - دا سې بناغلی بهتو د حاضرینو کښې د پښتونخوا د مشرانو په باړه کښې انتشار او شکونو په پیدا کولو کښې لګیاوو - دا شان چې کله بهتو د جلسې شریکوالو ته اووئیل - چې پښتونستان به د دوی په لاش باندې جوړیږی - نو هغوی په بې تعلیمه او ساده پښتو باندې بیکاره کړل - چې پښتونخوا په دې خپل دعوی کښې چې هغه پښتونستان جوړول غواړی - مخلص دیانت داره او رښتیا وئیلو والا نه دے - دا شان بناغلے بهتو د پښتونخوا نیږې دې اړخ نه کوم چې د پښتونستان په حق کښې وو ځان له بېلولو کښې کامیاب شو .

د پښتونخوا د نورو اعتراضونو نه کوم چې د هغوی په ولی خان باندې وو - بناغلی بهتو د بلوچو په علاقه کښې د خپلې دورې په دوران کښې په ډیرې کامیابۍ سره ځان فارغ کړو - دا شان بلوچو ته د خطاب په

وخت هغهٔ هغه خلکو ته کوم چې په جلسو کښې موجود وو او وے : اودهغهٔ
داخبرې د ویډیو او ټیلې ویژن په ذریعه پاتې خلکو کښې هرچاته اورسېدلې
چې ولیخان دافغانستان ایجنټ دے ـ او هغه په هرقیمت پښتونستان جوړول
غواړي ـ په دې پورې دا لږه نوټ هم ورزیاته کړه ـ چې ولیخان بلوڅ دخپل
مطلب سیاسي مقصدونو د پارهٔ استعمالوی ـ ولې خان د بلوڅو په اوږه توپک
ایږدی او د پښتونستان جوړولو د خپل مقصد د حاصلولو جدوجهد په وړاندې
کولو کښې استعمالوی ـ اوس داخبره دیوې نه بهر ده چې د حکومت د یوې شر
دآبادۍ په مختلفو طبقو کښې د اشان د خفګان او بې اعتمادۍ پیدا کولو کوشش
کوی ـ لیکن زهٔ فی الحال دې طرفته اشارهٔ کوم ـ زهٔ صرف د هغه اظهاراتو د په
په ګوته کولو کوشش کوم ـ کوم چې د بناغلي بهټو د هغه تقریرونو نه چې د
بلوچستان په پښتو پروټوتل ـ د کومې یوه حصه چې د پښتونخوا نیپ د دې
پروپیګنډې نه متاثره وه ـ چې ماد بلوچستان د مرستې د حاصلولو په غرض
د پښتنو مفاد قربان کړل ـ اوس دا بناغلے بهټو وه ـ چې د چهت د پاسه
ټې چغې وهلې ـ چې دا چالاک او هوښیار ولیخان د پښتون کاز د وړاندې
ښولو د پارهٔ بلوڅ استعمالوی ـ او هغه د پښتونستان د جوړولو د لارې هموارولو
د پاره د بلوڅو په استعمالولو کښې لګیا دے ـ ددې په پښتو باندې او خاصکر
د پښتونخوا نیپ په ملګرو پښتو باندې دهغه اثر اوشو ـ هغوی پخپله د بهټو
غوندې سړي نه دا واورسېدل ـ دا شان د هغوی په نزد د دې دا معنی
شوه ـ چې ولیخان اخر دومره خراب او د کردار نه خلاص پښتون نه دے
او داچې هغه د پښتون کاز د وړاندې کولو د پارهٔ بلوڅ استعمالوی ـ ایا زهٔ
د بهټو د هغه ټول سیاسي امداد د پارهٔ کوم چې هغهٔ زما اوکړو ـ کافي شکریه
ادا کولے شم ؟ لیکن دلته هم هغهٔ په خپلو تقریرونو کښې د افغانستان
او د هغهٔ د کوښښونو طرف ته په بنکاره ډول اشاره کوی ـ او ظاهره ده چې

د دې غرض د پاره هغه د بلوچستان د بلوچو او پښتنو ترمنځ نفاق واچوي او هغوی ته د یو بل نه بېلې بېلې لارې اوښائي.

بیوه بله ډېره دلچسپه نقطه کومه چې دې طرف ته منکارونه کوي په کوم کښې چې مناغلے بهتو په دې ریفرینس کښې درج شوی د دې الزام په بناء باندې کوم چې په مناغلی غوث بخش بزنجو باندې لګولے شوے دے بلوچستان ته بوتلل غواړي - هغه دا دے چې په دې ریفرینس کښې د مناغلی بزنجو د یو تقریر حواله ورکړے شوې ده - کوم چې هغه په ۱۹۴۸ء کښې د قلات په اسمبلی کښې کړے ؤ - سوال دا دے چې د دې تقریر د ټیپ د مقدمې سره کوم چې په ۱۹۶۵ء کښې جوړ شوې وه څه مناسبت کېدلے شی - لیکن اصل کښې خبره داده - چې مناغلی بهتو په واضحه طریقه د بلوچو توجّه دې طرف نه د کولو کوشش کوی - چې هغوی ته د پخوانو ریکارډونو او معاهدو پته اولګوی - او دې نه ثابته کړی چې د قلات (ریاست) د برطانوی هند حصّه نه وه - بلکې دې ته د یو خپلواکه ریاست درجه ورکړے شوې وه او هغه په ۱۱ / اګست ۱۹۴۷ء باندې په عملی توګه یو آزاد او خپلواکه ریاست جوړ شوے ؤ - یعنې د پاکستان جوړېدونه دمخه وړاندې - په ظاهره دا منکاری - چې مناغلی بهتو د دې اندراج په ذریعه د قلات اوسېدونکی په دې پوهوی - چې هغوی دې د دې نقطې په بناء د خپلواکه غوښتنه اوکړی.

دا خبره بالکل ټهیک ټهیک د مناغلی بهتو دا بې صبرې منکاره کوی کومه چې هغه د دا سې صورت حال پیدا کولو دپاره توپې ممکنه مواقع په پوره توګه د کیرولو په سلسله کښې کوی - په کوم کښې چې بلوچ محسوسه کړی چې هغوی په آئینی او قانونی لحاظ سره که هم د پاکستان حصّه نه وی او دا شان هغوی د پاره یو جواز پیدا کړے شی چې هغوی د بهتو د پاکستانه نه بهر کړے شی.

اوس به زهٔ مختصراً په هغو طریقو بحث کوم-کوم چې د بناغلی بهتو دطرف نه د نیپ اواچیږی) د مخلوط حکومت نه د خلاصی حاصلولو باره اختیارکړے شوے- اگرچې دهٔ پخپله دهغوی اکثریت منلے وُ او د ملاتڑنهٔ دمارچ دمیاشتې دمعاهدې لاندې دهغوی دوزارت جوړولو حق ئې منلے وُ- په دې موقع مونږ زور ورکړے وُ-چې هغه دې د معاهدې په هره صفحه دستخط اوکړی- ددې توقع سره چې هغهٔ ته د یو دستخط پرځای دپنځه دستخطونو په بې مزلقه کولو کښې به زیات ذهنی تکلیف وے. لیکن ددې باوجود هغهٔ ته په دې کښې د لوبه کولو هم څه شرم اونهٔ شو. دهٔ په شوروکښې زمونږ دپاره مشکلات پیداکول شوروکړل-او داچې په دامې معاملوکښې هغه دپر هوښیار او تیز دے- دا ټول تفصیلات دبرطرفه شوی صوبائی حکومتونو په بیانونو کښې ملاویدے شی- زهٔ به دلته صرف هغه بدنما او احمقانه وصاحتونه واخلم-کوم چې د دې حکومتونو د برطرف کولو په جواز کښې ولې ندې شوی دی.

د وصاحتونو په دې فهرست کښې د ټولو نه اوچته بیشکه هغه روسی وسله راځی کومه چې په اسلام اباد کښې د موجوده عراقی سفارتخانې نه نیو لې شوې وه د حکومت دکنټرول لاندې د خپروښو ټولو وسیلو به سحر مانبام په اشارو اوکنایو کښې په دې ثابتولو کښې لګیا وُ-چې په دې کښې نیپ ایغ په نښه ککړ دے- کوم چې دوئ په بلوچستان کښې په خپل وسله پورې جدوجهد کښې استعمالول غوښتل- یو وفاقی وزیر مولانا کوثر نیازی خو په خپل یو بیان کښې دا دعوی اوکړه-چې کله د وسلې اول صندوق راغے- نو مونږ ته د دې پته لګیدلې وه- لیکن حکومت د هغه وخت انتظار اوکړو-چې کله د بعضې صندوقونو نه وسله تقسیم شوه- ظاهره ده حکومت ته معلومه وه-چې داوسله چرته اوچاته تقسیمیږی؟- لیکن د دې باوجود هم

تر اوسه د یو سړی نوم هم نه د ے اختتل شوے ۔ او نه پوچا د دې وسلې د کښښود لو الزام لګولے شوے دے ۔ البته د دې ذکر صرف د حزب اختلاف د مسلم لیګ د یو پارلیمنټ د ممبر چودهري ظهور الٰهی د مقدمې په سلسله کښې ضرور راغلو ۔ کله چې د حکومت د طرف نه په هغه د اجرم اولګولے شو ۔ چې د دوئ عملې د ښاغلی د الحاډ که نه په دغه روسی وسله کښې ځنډ نیولې ده ۔ بس صرف دومره اوشوه ۔ نه په چودهري ظهورالٰهی باندې مقدمه اوچلولے شوه ۔ او نه موښنې د دې نه وروسته د دې په حقله ځنډ نور واورېدل ۔

وروسته بیا نواب اکبرخان بګټی د روسی وسلې تول سازښ د ښکاره کولو او مجرمان حاکمانو ته د حوالہ کولو وعده اوکړه ۔ په دې شرط که هغه د بلوچستان ګورنر مقرر کړے شی ۔ او چې هغه ګورنر مقرر کړے شو او تقریباً یوولس میاشتې پس بیا اخوا کړے شو ۔ لیکن هغه ځنډ هم د دې روسی وسلې د نیولو او مجرمان حاکمانو ته د حوالہ کولو د قام سره کړې وعده سره نه اونه رسوله ۔ لکه څنګه چې تولو ته معلومه ده ۔ د دې روسی وسلې په سپیشل ریل ګاډی کښې د نمائش انتظام اوشو ۔ کوم ته چې تول اهم صوبائی ښاروان او ښاریوته تلل وو ۔ چې ساده ګانو ګلیوالو ته دا ثابته کړی چې د نیپ د پاکستان د توټې توټې کولو د پاره د عراق او روس سره معاهده ده ۔ دا پوره په پوره ګاډے په ځو ښاروبو او ګلیو کښې د چکر لګولو نه پس بلکل په هوا کښې غیب شو ۔

اګرچې ما د مخالفې دلې د خوا د قامی اسمبلۍ په ایوان کښې د دې پوره معاملې د تحقیقاتو غوښتنه اوکړه ۔ لیکن د دې نه هیڅ هم حاصل نه شول او ښاغلی بهتو د دې تولې ډرامې نه په دې وینا دوتلو کوشش اوکړو چې دیو دوست مسلمان ملک د عراق د خواهش ترڅه د پاکستان حکومت دا

معامله د مخکښې ډلې بوټلو فیصله کړېده .

کله چې هم بناغلے بهټو په یوه کشاله کښې اونښلی - دا دوست ملک همېشه هغه د دې نه د بهر راویستلو د پاره راځی - کله د بنګله دېش د منلو په سلسله کښې او کله په نورو موقعو - کله چې بناغلی بهټو ته ددهٔ د انتخاب مبارکښت وا وعده یاد ولے شی - چې هغه د سینټو په شان د فوځی معاهدو نه بهر اوځی - نو هغه دا دلیل ورپېښ دې کوی - چې د ایران او ترکې په وېنا باندې هغه د سینټو دا معامله بیاد سره فعاله جوړه کړې ده - او هغه به په بحر هند او خلیج کښې د فوځی مشقونو د پاره دکوریه فرض پوره کوی .

بناغلی بهټو د عراق سفارتخانې نه د دې روسی وسلې د راویستلو باره کښې په حقیقت کښې هرڅهٔ خبر کړی دی - ولې چې هغه د بلوچستان د نږدکونو چا په مارونه چاچې خپلې وسلې حاکمانو ته حواله کړې وې - یوه روسی وسله هم نهٔ ده راویستې - دا شان چې کله بهټو په پاکستان کښې د نیپ خلاف دا الزام ثابت نهٔ کړے شو - نو بیا هغهٔ د هغه ځانې په صوبائی حکومت دا الزام اولګولو - چې هغهٔ د صوبې دلس ډلې په ضلع کښې په امن وامان قائم ساتلو کښې ناکام پاتې شوے دے - او ددهٔ د طرف نه دکوښنر او د صوبې د وزارت د برطرف کولو صرف دا وجه ورکړے شوې وه - اوس دلس ډلې دا پلان په اصم اداء کارانو جام صاحب دلس ډلې او د نبی بخش زهری په مدد سره سټیج کړے شوه - او د دې دواړو تعلق د قیوم د مسلم لیاګ سره دے - د صوبې حکومت سمدستی کار روائی اوکړه - او دا ټول تش په نوم بغاوت ټې د شورو کښدو سره سمدستی ختم کړو - دا زاده کړه په دې پوهه خپلهٔ کښې تول جانی نقصان صرف الله دے - په دې سرکښه وتکو کښې دوه فوځی حوانان هم وو - کوم چې د اشان سره شوی وو چې د یو فوځی ټرپ ډلې غلطی چلیدلے وو - د کوم سره چې د هغهٔ سره دوه حوانان ملګری قتل شو - غرض دا چې د دې شپږو سرو په مرګ وزارت برطرف کړے

شو۔ په اسلام آباد کښې هیڅ امپیریل میجسټی مطبوعات کولو د پاره دا کافی مواد وو۔ چې د بلوچستان حکومت په خپله صوبه کښې د اوسپدونکو د ژوند د حفاظت کولو خپلو ذمه وارو کښې ناکام پاتې شوے دے۔

بناغلی بهټو خو دېر په آرام سره دا هېر کړل۔ لیکن هرچاته دا پته ده۔ چې د بلوچستان کاونډی صوبه سنډهکښې کوم ځای د بناغلی بهټو قابل د تره ځوځ په کرهی ناست ؤ۔ په لسګونو کښې په سوونو مړه شول۔ او زخمیان شول۔ کورونه او سوزولے شول او اولوتلے شول۔ لیکن هلته یقیناً چې دامن او امان سوال کله هم پیدا نه شو۔ کراچی سنډهاو پنجاب کښې مزدوران اووژلے شول نو هر ځایونو کښې په جلسو جلوسونو کښې د زړه اوښوب۔ لیکن دې خیزونو وفاقی حکومت ته کله هم دومره کافی مواد په لاس ورنه وسپارل چې هغه د (پی پی پی) دغه وزارت برطرف کړی۔ بیا یو سړے به دام معلومول غواړی چې په مجموعی حیثیت په ملک کښې امن او امان څه حالت دے اوایا د بناغلی بهټو د امن عامه د قائمولو په سلسله کښې د وفاقی د کورنو چارو د وزیر باره کښې تحقیقات کولو او د دغه خلاف د مناسبې کارروائی د پاره هم سوچ شوے دے۔ صحیح خبره داده۔ چې بناغلی بهټو په پاکستان کښې د ناپ کولو په حقیقت کښې دوه پیمانې دی۔

دلس بېلې د ډرامې بل دلچسپ اړخ دادے۔ چې کله صوبائی حکومت د دې ډرامې دوه اهم اداکارانو د نیولو وارنټ جاری کړل۔ نو هغوی اونټبل نبی بخش زهری اسلام آباد ته راغلے۔ هغه به قامی اسمبلی ته راتلو۔ او په یو اخبار کښې د دغه تصویر هم چاپ شو۔ په کوم کښې چې هغه د کورنو چارو د وفاقی وزیر سره خبرو اترو کښې مشغول ؤ۔ تر دې چې زیری څرلاچې د قانون د کرښې نه تښتیدلے ؤ۔ په اسلام آباد ټیلی ویژن هم اولیدلے شو۔ دجاً صاحب لس بېلې کارنامه د دې نه هم زیاته وه۔ یو ځلې هغه په یوه داسې

کنړه کښې موجود وُ۔ کوم ته چې وزیر اعظم خطاب کولو۔ او وزیر اعظم د خپل تقریر په دوران کښې جام صاحب ته مخاطب کول خوښ کړل۔ او د ده طرف ته ئې اشاره اوکړه۔ او وئې ویل چې جام صاحب ده سره په ملګرتیا کښې سکرټ څنبی۔ لیکن که هغه کوښتې ته لاړو۔ نو یقیناً به هغه خپل ځان په جیل کښې بیا موی دا دے د پاکستان وزیر اعظم۔ څوک چې د پاکستان د یوې صوبې مفرور مخاطب کوی۔ یو سړے به د دې پر په حیرانتیا تپوس اوکړی۔ چې ایا بلوچستان د پاکستان یوه صوبه یا حصّه ده اوکه نه؟ ایا دې ته د خپلو ګاونډی صوبو سندھ او پنجاب نه د مفرورانو خپلې صوبې ته د واپس راوستلو د پاره بین الاقوامی پولیس (انټرپول) ته درخواست کول وی؟ په دې دواړو۔ چا باندې چې د صوبې د امن وامان د کنټرول الزام وُ۔ یوتپه دې دوه همسایه صوبو کښې د کومښتو چا رول وزیر پناه ورکوی او بل وزیر اعظم په خپله پناه کښې اخستے دے۔ ایا څوک سړے د دې خبرې د دې نه زیات ښکاره مثال کټلے شی۔ چې دا خپله وفاقی حکومت وُ۔ چا چې د امن وامان صورت حال خرابولو حالات پیدا کول۔ دوی خلک راواړول۔ او دوی د راپارونکو د سر سره پناه ورکړیده۔ بیا هم دغه وفاقی حکومت دے۔ کوم چې صوبائی حکومت دې د پاره چمتی کوی چې هغوی امن وامان په خپل منځ سات لے۔

وروسته بیا ښاغلی بهټو د وزارت برطرف کولو یوه دریمه وجه لاډریم خُل د سوچ کولو نه پس» هم راوړه۔ هغه وائی چې وفاقی حکومت د بلوچستان د غریب اوچخښتې شوی اولس د بچ کولو د پاره دا کار روائی کړیده۔ څوک چې د سردارانو د ظالمانه غلامی لاندې مشکلات اوچتوی۔ پی پی پی چونکې یو سیکولر پارټی ده۔ او دې په ووټونو د ټولو زیاتی خوښو ظالمانه طاقتونو خلاف د جنګ کولو وعده کړې وه۔ دد ې د پاره د دې غریبو بلوچو قبا ئیلو د مدد د پاره لاړه۔

لکه څنګه چې ما د دې نه وړاندې وئیلی دی۔ د بلوچستان اسمبلی په یو

اتفاق یو قرارداد منظور کړے وُ۔ کوم چې د نیپ (ټشن په نوم) سردارانو وړاندې کړے وُ۔ او په دې کښې مرکزی حکومت ته د سرداری نظام د ختمولو د پاره وسیلې مشوره ورکړے وه) دا بنا غلی بهټو دے۔ خوک چې ترټن وسځې پورې د دغه قرارداد د پاسه نامت دے۔ او بیا په نیپ باندې د سردارانو په اشاره د چلیدلو تحریک جماعت کښو الزام لګوی۔ میر غوث بزنجو د نیپ د نامزد کښو په وجه د بلوچستان گورنر جوړشو۔ خوک چې د بنا غلی بهټو دا ډغه برطرف کړے شو۔ او د چا په خاطر چې نواب اکبر خان بګټی راوستے شو۔ بزنجو سردار نه دے لیکن بګټی نواب دے۔ یعنې د سردارانو سردار۔ او کله چې بګټی بهټو اخوا کړو۔ نو د هغه ځای د قلات خان راختلو۔ کوم چې د سردارانو د سردار سردار دے۔ او دا د بنا غلی بهټو د چالونو یو مثال دے۔ چې هغه په نورو خلکو هغه الزام لګوی کوم چې هغه پخپله کوی۔ او دعوی دا کوی۔ چې هغه د سرداری نظام خلاف دے۔ لیکن سرداری نظام مضبوطوی۔ هغه سردارانو بحال کوی۔ د دا دعوی کولو سره چې هغه د هغوی اثر او رسوخ ختموی۔ که نه څوک د بلوچستان د سردارانو شمار اوکړی۔ نو دا به اووینی چې په دې کښې په سلو کښې شپږ اویا د بهټو په غبن کښې دی۔ لیکن د دې باوجود دا د ده بهادری ده۔ چې دا اعلان کوی۔ چې هغه د هغوی په اثر رسوخ خټو پسې راختې ده۔ یعنې دا جاګیرداران، رئیسیالان او زمیندارانو اثر و رسوخ۔ بیا په کومه طریقه چې پخپله بهټو په بلوچستان کښې دا سردارانو په لټو وی۔ هغه چې یقیناً به د هر ساده زړه خاوند بلوچ په ټولو سردارانو کښې د ټولو نه زیات طاقتور پخله سوچ کولو باندې مجبور کړی۔ کوم چې په دې حیثیت کښې وی۔ چې خپله هم د هغه په زړه کښې راځی۔ هغه د هغه سردارانو سړ کوی۔ دا د برد نسټ د پاکستان شاهنشاه۔

د بلوچستان په جمهوری عمل کښې د کوټو وهلو په حق کښې تازه دلیل داورکړے شوے دے چې په دې غیر ترقی موندونکې صوبه کښې د تعمیر او ترقی کول دی۔ د دې نه زیاته د کم عقل توب خبره نشي کیدای چې

چونکې سکولونه اوهسپتالونه، پُل اوکاروبار (د زمکې ډنډ نالی) جوړول دی، دې د پاره صوبه د خپل نمایندو حکومت نه محرومول ضروري دی. که موږ د بناغلی بهټو دا دلیل ومنو چې کله وفاقی حکومت په یوه صوبه کښې د تعمیر او ترقی کارونو کښې د مدد فیصله اوکړي. نو د هغوی نمایندو حکومت برطرف کول او د هغوی منتخب مشران جیل ته لیږل پکار دی، نو زما خیال دے چې هغه صحیح په کومه کښې چې په ترقیاتی کارونو کښې د وفاقی حکومت د اړخه د ټولو نه زیاته توجه ورکړے شی هغه سنده دے. د دې سربراه علاوه بله صوبه داسې نشته کومې ته چې په مجموعی ډول د تعمیر او ترقی په سلسله کښې دومره څه ملاویږی نو بیا د سنده وزارت ولې برطرف نه کړے شو؟

بهرحال که بناغلی بهټو څومره هم د پردې اچولو کوشش کوی لیکن دا یو بنیادی حقیقت دے چې د دې ملک هر سړی ته معلومه ده چې د فرد واحد حکومت په دې ملک د ټولو او د بهټو خاندان د بادشاهی قائمولو کوشش کولے شي.

اوس زه د دې الزام طرف ته راځم - چې د ټیپ مشران د وفاقی حکومت بدنامولو او بدو ردو مهم چلول شوروع کړي دی.

دا یو بل صفا او واضحه مثال دے - د بناغلی بهټو د دې نه زیات خوښ او اکثر استعمال شوے جال چې هغه خپل سیاسی د ښمنانو ته د هغه کارونو کولو الزام ورکوی - کوم چې هغه پخپله کوی یا یې پخپله ډول غواړي - که څوک د قبضه کړے شوی اخبارونو لکه چې د نیشنل تربیون اخبارونه دی - او د بدې ورکړے شوی او وپرولی ترخولی اخبارونو کالمونو ته اوګوری - نو هغه به په آسانه سره اوکتے شی - چې د اخبارونو په ذمه دوه کارونه ورکړے شوی دی او ل د هیرو پرستی فضاء پیدا کول - او دیو برتر او کامل انسان (سپرمین) شبیه او تصویر را منځ ته کول - دویم هغه خلک څوک چې د بهټو مخالف دی د هغوی خلاف د هغوی بدنامولو او د هغوی د سپکوالی او د ښمنی مهم چلول - او د دې د پاره بناغلی بهټو دری دنامي جامې کسان خدمات حاصل کړی وو - د دې کامیابو په ډبه د ویکټری سټینډ کوم چې د لوبو په مقابله کښې وی) په ولاړو کښې د

ټولونه اوچت پیرعلی محمد راشدی دے ۔ څوک چې پخپله د چیرمین د خپلې صوبې دے ۔ کوم خلک چې د برطانوی سامراجو د وخت نه د دې پیرځه حال احوال پوهږي ۔ او د دې نه پس چې دده کومه طریقه ده، او د مختلفو حکومتونو چې دده کوم رابطه د وغیره وغیره ۔ هغوی به یقیناً چې د نباغلی بهتر د دې انتخاب تعریف اوکړي ۔ کوم چې هغه د دې د نیاد استاذ (ماسټر مائنډ) په انتخاب کښې کړې ده ۔ چې هغه د ده د پروپیګنډې د مهم په چلولو کښې د دې د پاره د منصوبې جوړولو سکیمونو جوړولو والا او د فن خصوصي ماهر په حیث مړ کار اوکړي د پیر نبي اوګس اړخ نه مسټر یوسف ۔ او نباغلے نسیم احمد ولاړ دی ۔ یقیناً چې یو سړے به د دې خلاف معمول طریقه کار په کوته کول غواړي ۔ کوم چې نسیم احمد د برطانیې نه په راغونډتو او هغه د وفاقي اطلاعاتو د محکمې مشر جوړولو په سلسله کښې اختیار کړے شوے دے ۔ او هغه به د انټیوس کولو غواړي چې پخپله د محکمې په دې سوئو کارکوونکو او دې د پورو سړو کښې کوم چې د کلونو راسې د دې پر محنت نه پس ترقي کولو سره د ذمه وارۍ دې عهدو ته رسیدلی دی ۔ د دې عهدې د پاره څوک ولې منتخب نه کړے شو ۔ اخر نباغلی بهتر د هغه نه د کوم څیز تمنا کوله ۔ چې هغه اخباري نامه نګار (پریس کار سپانسنټ) منتخب کړو څوک چې د ښلوکالو راسې د خپل ملک نه بهر په بل ملک کښې وي ۔ او هغه په یو توپ کښې د ټولونه په اوچته عهده اولګولے شو ۔ او دریم رونبانه ستوري یوسف بچ دے ۔ هغه کوم صفتونه وو کوم چې نباغلے بچ د دې قابل جوړکړو چې هغه د نباغلی بهتر په بیدارو او هوښیارو مشیرانو کښې راپوهیږي او هغه نباغلی بچ ته د خپل پریس د مشیر امتیازی عهده ورکړي ۔

غرض دا چې د دې شکرم د وران شوے ذهن او کوټ سوچ سبب جوړ دے ۔ د قلم د عصمت خرڅولو والا دانشوالو نو دیو دا سې طبقې په وجود

کښې ولاړ ستل ـ د چا چې بس صرف یو او یو کار دیو واحد سړی په صفت کښې هروخت ژبه خوزوُل او د صحافت د پوړ اداروپدا سې بد نامه طریقه خرابول او وډانوُل وو ـ چې د خبر د لیکلو او خبر د رسولو ټولې دروازې بندې پاتې شوې دی ـ د قامی مسئلو بالکل چرته ذکر نشته ـ ټول زور په جذباتی انداز په تشو توروغږو او د عوام د وطن سره د محبت د جذبو سره لوبې کول دی ـ دتناؤ او د بطرئ، نفسیاتی وېره پیدا کولو ـ د عوامی جذباتو راوچتولو او د ملک خلکو ته د شتو شتو باغونو ښودلو د پاره همیشه خُړ ناخُړ د لوبو کوډ اکی کینوُلو د غریبو او بې تعلیمه خلکو توجّه د بنیادی او اهمو مسئلو او د دوئ د روزانه ضرورتونو نه واخوا کولو ـ حضوؤ د روښانه اوښاندار مستقبل په غلطو وعدو خوشحالول ـ د تصویر صرف یو اړخ ښودلو ـ او د حکمرانې پارټۍ په پالیسو د څُه قسم تنقید اجازت نه ورکولو ـ د دې تولو په نتیجه کښې د شك شبهې، بدګمانۍ اوکړکې، داسې حالات پیدا کړے شوی دی ـ کوم چې د غیرقینی او باور نه کولو او د یو عقلمندې او روښان خیال خلکو د مکمل کمی او نشتوالے د اقتدار خاوندانو پارټۍ ـ داولس خائې نیولے دے ـ او د پارټۍ چیرمین د ملک مشکل او صورت اوجوړښت اختیار کړے دے (د فرانس حاکم لاټس څوارلسم په انداز باندې) د هغې نتیجه داده ـ چې نه په سوچ او خیال کښې یووالے دے اونه په هیڅ چا پورې حالاتو کښې د یو کښې د احساس ـ دا شان دې حالاتو د یو مملکت په حیث زمونږ یووالی ته غټه خطره پیښه کړې ده ـ د څُه متبادل مشرۍ امکان دنه پاتې کیدو ترڅنګ دې خلکو د حکومت د پالیسو د مخالفو د بدنامولو کوشش اوکړو ـ او دوی ته ې غدار او د دښمن د تالی سمت لقب ورکړو ـ د دې عجیب نتیجه داده چې راشدی، نسیم اوډیج مطابق زمونږ سره د وطن دوسته خلکو په خائې غدارانو زیات دی ـ د عوامو په چاهم باور نه دے پاتې ـ او د عوامو او د « عوامی پارټۍ » ترڅنګ دبې باورۍ داکنده دومره ښکته شوې ده چې

قائد عوام ته په هیلی کا پټهر وکښې سفر کول دی۔ او په عامو جلسو کښې چې کوم خبرې هغه ته تقریب کول وی۔ اولسی ددهٔ نه کم نه کم دیم میل په فاصله باندې پاتې کول وی۔ د بنا غلی بهټو متبادل د جمهوری عمل په ذریعه کوم خبرې چې خوانان او مضبوط قیادت سیاسی تسلسل په خبرې ساتی۔ او داسان د ملک د سالمتیا حفاظت به کوی۔ د اقتدار او په امن ناکه طریقه تبدیلی نشته دے۔ لته داسې نه ده۔ د دې د ریپوارو صاحبانو په نظر کښې د بنا غلی بهټو هیڅ بدل هم نشته نا۔ اویس چې د بنا غلی بهټو څوک مخالف دی۔ هغه یا خو غداران دی، یا نا اهل او بې وقوف او یا د وارث۔ دې د پاره دیو وړان کړے شوی۔ د غلط او عام معمول خلاف د ورځې په حیث سړه چاته چې دیو مطلق او د پابند ی نه آزاد د غلبې او طاقت هوس دیو هوښیار تر حده پورې خبرې دے۔ برداشت کول او زغمل وی او دده متبادل د دې صاحبانو په نزد د آزاد بلوچستان، پښتونستان سندهو دیش او جدا پنجاب (د بنا غلی بهټو په الفاظو کښې) دے۔ لیکن پاکستان نه دے۔ دا د ریپوارو د پروپیګنډې د دې زبردستې مشینرۍ په ذریعه کوم چې دوی ته حواله شوې ده۔ د عامو په ذهنونو کښې د دوی د قسمت په حقله په شکونو پیدا کولو کښې کامیاب پاتې شوی دی او داسان اولسی د خپل مستقبل په حقله یقین او باور بائیللے دے۔

لیکن په نیټه چې د وفاقی حکومت د بدنامولو د مهم چلولو کوم الزام لګولے شوے دے۔ د دې د پاره توقو او خندا ارخ دادے۔ چې آخر د دې مهم په چلولو کښې د نیټه په ویس کښې کومې وسیلې او ذریعې دی۔ د مخالفې ډلې ټول اخبارونه د کراچی نه تر پیښور پورې بند کړے شوی دی۔ په ټول ملک کښې د دفعه (۱۴۴) لګولې شوې ده۔ او څوک جلسه نشی کولے۔ قبضه کړے شوے پریس ریډیو او ټیلې ویژن د حکومت سړه دے۔ تر دې چې کوم تقریرونه په قومی اسمبلۍ او سنیټ کښې کولے شی په اخبارونو کښې نه چاپ کیږی

دا صرف د دې ایوانونو په چهار دیوالۍ کښې د ننه اوسیدلے شی ـ او بیا بیا اوریدے شی ـ سوال دادے چې آخر د وفاقی قیادت د بدنامولو دامهم د کوم خایه او څنګه چلولے شی ؟

په دې کښې شک نشته چې په هر جمهوري ملک کښې د مخالفې ډلې دا فرض وی ـ چې هغه د واکمنې پارټۍ په پالیسو سخته نکته نیوانی اوساتی ـ او دا شان نه صرف هغوی د ملک د قوانینو او آئین د تقدس او د دې د خلاف ورزۍ د نه کولو حفاظت اوکړی ـ بلکې د خلکو د حقونو حفاظت هم اوکړی ـ او په دې کښې نه د تولو نه اهم دا کښې ـ چې په ترقی کوونکو ملکونو کښې د مخالفې ډلې دا اولنے کار دے ـ چې اوسنۍ چې قامی دولت خو چرته ضایع کولے نه شی ـ یا هغه په غیر پیداواری او غیر تعمیراتی اوغیر ترقیه په خایونو کښې خو نه لګی ـ او د تولو نه زیاته دا چې مخالفې ډلې ته په سرکاری پارټۍ او د هغې په وزیرانو باندې سخت نظر ساتل دی ـ چې په سرکاری روپو کښې خوکرې بې نه کوی ـ چې د دې معاملو کښې مخالفې ډلې ته تول تر تولو د خپرونو په وسلو دارومدار کول وی ـ د بهتو د حکومت د دوړې نیم کاره پس د دې ملک په صورت حال دیو نظر اچولو نه یو سړے دا صفا لیدے شی ـ چې په دې دوران کښې د سیاسی لحاظ خو هیڅ نقصان نشوے دے ـ لیکن زمونږ په معاشرتی او اداره چې کوم مصیبت راغلے دے هغه د حساب او شمیر نه بهر دے ـ په دې کښې د بېرې سماجی خرابۍ ، زیاد تر د حکومت په قوانینو او حکمونو نشی لرې کیدے ـ په دې خطره باندې د قابو موندلو د پاره د عام اولس رائے یو اهم کردار ادا کوی ـ کله چې اولس او خاصکر د قوم او ملک هغه بهادر محبان خوک چې د حکومت د مخالفت کولو حوصله لری ـ د خپرونو د وسیلو نه محروم کړے شی ـ نو د دې نتیجه همدغه وی کوم چې نن هر سړے وینی ـ د عوامو پیسې په دې مهم باندې لګولے شی ـ کوم چې د هغه تولو اداروـ د تباه کولو پسې شوی دی ـ کومې چې د ملک د مضبوطیا ضمانت ورکوی ـ او کومې چې د قانون د حکمرانۍ

اړین ته د سر تیټولو او دژوند د جمهوري لاړو عمل تعلیم ورکوی - او په کومو کښې چې د حکومت حواله کول په پټه امنه طریقو کښې ی - او په کومو کښې چې وړ وک - کوم چې د حکومت د بدلې یا د حکومت د بیا د جلولو فیصله کول وک - نه چې کولې - د دې ټولو څیزونو په ذهن کښې د کښیناوه لو سره د حکومت ترجمان سره په کراره نه مانه نښکاری - چې هغه نیپ باندې د وفاقي حکومت د بدنامولو مهم چلولو الزام اولګوی - ولې حقیقت د دې خلاف دے - په کنټرول کښې ساتلې شوې د خپرونو وسیلې سیوا د دې نه چې هغوی نیپ او د دوی مشران نه بدې ردې اووائی او بدنام ځې کړی - نور هیڅ نه کوی - او دا د دې د پاره چې د ملک په وفاقي اړین کښې نیپ ته برابر حیثیت حاصل وی - ولې چې د دهٔ په خلورم د وفاقي یونټونو کښې په دوو یونټو کښې د دوی اکثریت وُ - او هغه اول هم او اوس غم په دې ملک کښې د بهتو راج په قائمولو کښې د بهتو د سکیم او هوس لاره کښې د ټولو نه لوئے خنډ دے .

په دې سلسله کښې د هر وخت او قوت او د اشان د هوامو فنډونه او روپه د ملک دننه او د ملک نه بهر پورې ضایع کیږے شوې - او د نیپ د مشرانو او خاصکر زما کردار کښې اوکړے شوه - زه ئې د دې د پاره چې په اصلي پاڼې په طور وړاندې کولو کښې ځې یوه موقع هم دلاسې نه خالي پریږے نه ښودله - او په خپل دې جوش او جذبه کښې چې هغوی هر ملک ته دا یقین ورکړی - چې زهٔ د دې خلاف یم - هغه بعضې وخت اولتهه بیانونه هم ورکوی - په اول اول کښې ځې نیپ د یوې سوشلستې پارټۍ په حیث نښکاره کړه - لیکن کله چې مولانا بهاشانی بهل شو نو مونږ ته ځې د ما سکو نواز لقب راکړو - بهرحال د شورونه په دې ټولـه سوده کښې زمونږ د خپل ملک خلکو ته زمونږ پیژندګلو د هندوستان د تنخواه دار او تالی ستې په حیث سره اوکړه - او دس چې په بناغلی بهتو باندې د باوړ اچول کښې - چې هغه هندوستان سره خپل تعلقات معمول ته راولی - نو اوس مونږ

افغانستان ته حواله کولے شی ـ ددې سلسلې دا هم پرې د لسدن منصوبې دی ـ اوس
شان د عراق د مغارتخانې نه د روس دوسلې راویستل دی ـ ما ته یاد دی چې یو
ځل د امریکې یوې ژنانه په قامی اسمبلی کښې د بناغلی بهټو د تقریر اوریدو نه پس
د اسمبلی په کیفی ټوپیا کښې زما طرف ته را غله او وې وې : د مخالفې پلې بناغلے
مشر! تاته ددې ملک د ټولو نه معروف مړه کېدل پکار دی ـ ولې چې د وزیراعظم
دوینا مطابق ته په یوه وخت د دومره ډېرو ملکونو مړه یې ؟ دا کېدل هم پکار دی
د امریکې ضیانو او د هغوی ددې پلاک سره تعلق لرونکو نورو ملکونو کښې
دغه پوزیشن مشکوک جوړولو دپاره به ما د روس ایجنټ ښودل وی ـ د هغوی د
هندوستان د ایجنټ کېدو په وجه به د چین سره د ډوښ په تعلقاتو اثر پرېږدی
او یا به مملک کښې د ښځې باندې بد ډوله وېلې کېږی ـ چې د ښځې د اندې یا د هندوانو
سیاست کوو ـ او د دوی نه د ښځې هدایات بلکې پیسې هم اخلو ـ ددې نه مطلب
دغه خلکو مذهبی جذبات او هندوستان سره د هغوی د هغه پخوانی کرکې نه
فائده اوچتول دی ـ چا چې د پاکستان جوړېدو نه پس ښه فائدې اوچتې کړې
او د هر دولت او جائیداد نه یې راټول کړی دی ـ د اخلاک د غیر مسلم به پرېښودلو
شوو جائیدادونو باندې قبضه دار دی ـ په کومو کښې چې د کر (زمکه) کارخانې
کاروباری دفترونه او دکانونه اوچهاپه خانې وغیره ټول شامل دی ـ د مستقلو
مفادو لرونکې د اطبقه د هر دیانت دار او وطن دوسته او ترقی خوښه حکومت
نه حان بچ ساتل دی ـ د اشان په مړه چوکه چې نیږې پرې وهلے شی ـ د دوی د
پاره ښه ده ـ په دې سلسله کښې حکومت ته هم په دې کښې هیڅ وېره نشته ـ چې
هغوی په دې کښې د "بابای قوم" پورې د اکاډمی رفهرست د الزامونو ـ کراونو نمبر
صفحه ۵۱) ـ

زه به د عدالت نه دا توقع لرم ـ چې هغه ددې اخباری مرکې ټول قیصه
کوم ته چې ما تقریر کړے وو حاصل کړی ـ صفا خبره داده چې په پرېښ کښې

دوسره همت نه وُ- چې د قائد عوام ښاغلی بهټو پرځلد چې ماڅه وئیلی ور- هغه دې
شایع کړی- ما د پیپلز پارټی دچیرمین د عام معمول خلاف طریقو څو مثالونه
ورکړی وو- او په اخره کښې ما د پارټی د سکرټری جنرل د ښاغلی جے- اے
رحیم په دیره بده طریقې سره برطرف- او بیا ورورستو په پولیس د هغه د وهلو وړاندې
ته امشاره کړې وه- کله چې د شپې یا بل سحر په شورو کښې پولیس د هغه په کور چاپه
اووهله- ما په دې اخباری مرکه کښې په پیپلز پارټی والا باندې ښکاره کړې وه
چې په نزدې بهتر وخت کښې د هغوی د چیرمین چې کومه طریقه پاتې شوې ده- دې
په مونږ کښې د هغې هغه شکونه شدت ته اورسول- چې د هغه په دماغو کښې خلل دے
او ملک ته د دې لپاره کچه ځوان د غیر متوازن او کچه حرکتونو نه دیځ کولو د پاره
پیپلز پارټی ته مشوره ورکړې وه چې هغوی ته خپل چیرمین د دماغو هسپتال ته
لیږل پکار دی- او د دې خدماتو په بدل کښې کوم چې هغه د پارټی کړی دی- پارټی
ته پکار دی چې هغوی د دې یا د دماغو د مشهور ماهر انتظام او کړی- چې د دې
کتنه او کړی- او دے د خپل نظر لاندې اوساتی- په دې دوران کښې د پیپلز
پارټی یو بل مشر خوښ کړی- او په ملک کښې د دې حکومت کوی- زما د دې طبرو
نه ښکاره ده- دا په شریک مرضونو والا ټولو کې معتقد کړه- لیکن هغوی دا حقیقت
محسوس ولو- چې ما غالباً د دې ملک د اکثرو خلکو د جذبو اظهار کړے وو- په
کومو کښې چې بعضې هغه خلک هم شامل وو- کوم چې د ښاغلی بهټو نزدې دی- البته
په دوی کښې دومره همت نشته- چې هغوی د اخبره او وئیلې شی- زه د اخبره په
دې حیرانت سره وایم- د دې د پاره هغه د هغه قصه راوړې چې ما د بابائې قوم باره کښې
سپکه ژبه استعمال کړیده- ما په دې اخباری مرکه کښې د بابائې قوم په حقله هیڅ بده
خبره نه وه کړی- اونه مې دده په شان کښې څه گستاخی کړې وه ۔

وړاندې د دې نه چې زه د اجث ختم کړم- زه به یوه خبره ضرور وچوگوته
کړم- چې په ما باندې د الزام لګولے شوے دے- چې ما د قائد اعظم پرځلد سپکه ژبه

استعمال کړیده ـ زه ددې الزام تردید کوم ـ لیکن فرض کړئ چې بنا غلی بهټو او ولی خان دواړو ته د قائد اعظم په وړاندې کېدل دی ـ یوې دې الزام کښې چې یوه هغه د سیاسی پالیسۍ پخلله باندې ژبه استعمال کړیده ـ او دویم بنا غلی بهټو په دې الزام کښې چې هغه د قائد اعظم پاکستان توهین تهوتې کړے دے ـ د کومې په نتیجه کښې چې قتلونه اوشول ـ او وینې اوبهېدلې ـ لوټ مار اوشو ـ کورونه اوسوزولے شول ـ او د پاکستان د صوبې په مشرقی پاکستان چې څومره د ترقۍ کارونه شوی وو ـ هغه ټول خوړې ایرې شول ـ او د پاکستان وسله بند فوج ته ذلت ورپېښ شو ـ زه پتوس کوم چې په دې دواړو کښې به قائد اعظم چا ته بد وے اووائی او ملامت به یې کړی .

باقی پاتې شو دا الزام چې زه دویم قامی قیادت بدنامولم ـ نو تاسو اجازت راکړئ چې زه دا غلط فهمی لرې کړم ـ زه بنا غلے بهټو په هیڅ شان د هم یو قامی مشر نه ګڼم ـ د ذیلات نه زیات نه زه هغه ته د پلې پلې ، چیرمین وېلے شم ـ د چا نماینده حیثیت چې ملاکنڈ (دووتونو ترڅنګه) په پنجاب اوسنده پورې محدود دے ـ بس صرف دومره او د دې نه زیات نه ـ د بنا غلی بهټو شا ته څه تاریخ نشته ـ د دوۀ د ملک د آزادی د تحریک سره د څه قسم تعلق هم نه وے پاتې د برطانوی سامراجیانو خلاف د آزادی په تحریک کښې د دوۀ بالکل څه حصه نشته بلکې د دې خلاف د دوۀ خاندانی پس منظر د سندهی جاګیردارانو دے ـ د چا په ژوند کښې چې صرف دا یوه ارزښت وه ـ چې د وې خپل خان د غیر ملکی استعماریانو دومره قدمچې وفادار ثابت کړی ـ او خپله د خپل وطن او د وطن د خلکو خلاف په دومره اخلاص او ایمانداری سره کار اوکړی ـ چې هغه سندونه ، جاګیرونه ـ او القابونه او د سر د خطابونو د حاصلولو قابل شی ـ او خپله بنا غلی بهټو سخکار کاڼې بجاڼې د بنځو او شرابو په ذریعه د مکی او قریب نه د کار اخستلو او محلاتی سازشونو پورې خان نه لاره هوار کړه ـ هغه په سیاسی هلوځلو وړاندې نه

د دې په جدّي جهد کښې ئې حصّه هم اخستې وه - لیکن دلته ظاهره ده چې د خان عبدالغفار خان طرف ته اشاره ده - اګرچې په عدالتي مقدمه کښې د دا قسمه الزام چې بعضې د نیپ د مشرانو ګول مول او واضحه نه ده - زما خیال دے چې دا الزام لږ وضاحت غواړي - او د دې د پاره به موږ لږ د وړاندې نه لږ مخکښې تلل وي .

خان عبدالغفار خان د خپل قامي ژوند شروع د یو داسې ځوان په حیث سره اوکړله د چا چې د سماجي او معاشرتي اصلاح سره دلچسپي وه - هغه د پرنګو په منلنه کښې یو تنظیم جوړ کړو - د صوبه سرحد په مختلفو حصو کښې ئې مدرسې جوړې کړې - چې په دې کښې د معاشرتي اصلاح مقصدونه وراندې کیدل لکه شي او تعلیم ورکړے شي - دا شان هغه د مدرسو په یوجال خوږولو کښې کامیاب شو .

د دوستو بیاد خپل ژوند وقف کولو والاؤ او اخلاص مند کارکوونکو ضرورت شو کوم چې د پښتني معاشرې نه د خرابې لرې کولو کښې لاس اوکړي لکه د کورونو په خپلو کښې د پخوانی دښمنی ، په لږ غه توپک او چتول په نکاح کاتو ، ودونو تر دې چې په غم کښې د بې ځایه خرڅونې منع کول - او د دې ختمول وو - د دې خرابو رواجونو د اصلاح د پاره د خدائی خدمتګار په نوم خالص د معاشرتي مقصدونو د پاره ئې د رضاکارو یو تنظیم جوړ کړ د دې د پاره ضروري اوګرځولے شوه - چې هغوئ به د دې د برغصه کیدلو باوجود هم د تشدد نه کولو وعده اوکړي - دا تنظیم لکه څنګه چې د دې د نوم نه ښکاره ده - یو سماجي تنظیم وُ - انګریزان خوښ چې د فرقې اوجنګې لحاظ په دې غټه او حساسه علاقه کښې د څه قسمه سرګرمۍ پخپله خدائ دې کړي کله هغه سماجي وي یا سیاسي - د ضرورت نه زیات احتیاط کوونکی او سمدستي اثر قبلوونکی وو - په سخته کار روانی کولو تیار شول - او په ۱۹۳۵ء کښې هغوی په خدائی خدمتګار وباندې په پوره زور ګذار اوکړو - پوره صوبه ئې په

دے داغلے - ددۀ وړاندې راځل هم ډېر ورو ستو یعنې د ۱۹۵۸ء خبره ده - ددې منورانديې خو هغه د پاکستان پر اوسېدونکې هم نۀ وو - ددې خلاف هغه د خپل هندوستاني اوسېدونکې دغا بټولو د پاڼه د هندوستان په عدالتو نو کښې مقدمه کوله - پیر علي محمد راشدي د بهر نۀ راوستلے شو - لسیم یا بچ صاحب دې ښاغلے بهتو قامي مشر ګڼې - لیکن زۀ خو هغه ددې زمکې حقیقي بچے هم نه ګڼم د هغۀ بابا ګانې قوم مسلم خو یو طرف نه پاتې دی .

ددې ټولو وېلے شوو او کړے شوو نه یو طرف نۀ د یو ضمیره خاوند سیاسي کارکن په حیثیت ماته د احق حاصل دے - چې زۀ بغیر د څۀ وېرې او طمې د ښاغلي بهتو په پالیسو تنقید او کړم - نیپ نه په خپل دې کردار فخر دے چې مغرب کلهم یو د کټهپتر نه سر نۀ دے ټیټ کړے او نۀ اوس هغه د چا د وړاندې د سر ټیټولو ارادې لري .

یو الزام دا هم لګولے شوے دے - چې د نیپ بعضې مشرانو د انګلستان بهارت مریسته کړې وه وغیره وغیره .

که رښتیا وایو نو پوښ کوې نو ماته دا پته نشته چې د دې الزام دې مقدمې سره څه تعلق کېدے شي - ولې چې د پاکستان قرارداد په ۱۹۴۵ء کښې منظور شوے وۀ - ملک په ۱۹۴۷ء کښې جوړ شو - او حال دا چې نیپ په ۱۹۴۷ء کښې جوړ شوے دے .

لیکن دلته ددې الزام د جواب ورکولو ضرورت دے - چې د دې ذهني انتشار او شک شبهې کوم چې منځه سوچ او ارادې سره د عوامو په ذهنونو کښې پیدا کولے شي - لرې کړے شي .

لکه څنګه چې ما دې وړاندې وېلې دی د نیپ ټول مشري زیاتره د هغه مسلم لیګیانو نه راغلې ده - کوم چې د مسلم لیګ نه زړه ستړی شوی وو - اوچا چې نه صرف دا چې د پاکستان جوړېدو ئ مخالفت کړے وۀ - بلکې

کیږه کښې واخسته - او چاته اجازت نه ؤ - چې هغه د صوبې نه بهر لاړ شي
نو هلته چې کوم ظلمونه کېدل د هغې خبر بهر خلکو ته اورسوی - فوج کلي په
په کلي خپل کیږه کښې واخستل - کورونه يې لوټ کړل - خلك په ډنډوا وهلے
شول - تر دې چې په دوئ ګولې اوورولې شوې - په دې ټول وخت کښې چاته
اجازت ورنکړے شو - چې هغوی دې صوبې نه راشي - عبدالغفارخان او د هغه
د چوټې یاران په ګجرات (پنجاب) جیل کښې بند یران وو - چونکې د دې خلکو د
هندوستان د ننه څه ډلې سیاسي پارټۍ سره څه تعلق نه ؤ وو - دې د پاره دوی
د ټولو نه ډېل کړے شول - او داشان هغوی د دې غیرانساني او ظالم دسلوک
تخنه کړے شول - خالصتاً د ذاتي پلټې کېدو او د تحفظ جذبې دا کارکنان د حفاظت
او مرستې په کټو کښې د هندوستان طرف ته په تښتېدو مجبور کړل - د ټولو نه
اول د دې کارکنانو ډال انډیا مسلم لیګ د وانې اوتېکولې - او چې کله هغوی د
دوې نه نا امیده شول - نو بیا هغوی کانګرس طرف ته مخه کړله - د دې نه پس
دا کارکنان واپس ګجرات ته راغلل - او خپلو مشرانو ته ځې اووې - که زمونږ هندوانو
سره جګړه وی نو په دې حال کښې مسلم لیګ زمونږ مرستې ته تیار دے لېکن د مسلم لیګ
والا د انګرېزانو مخالفت نه کوی - نو د دې کارکنانو نوم دا اووې - چې یو تنظیم
صرف انډین نیشنل کانګرس دے - کوم چې زمونږ تحفظ او مدد له راتلے شی - که
مونږ خپل ځان دوی سره اوترو - داشان دا سماجي کارکوونکی د زبردست او
طاقتورې برطانیې د حکومت خلاف سیاسي جدوجهد کوونکی احتجاج کوونکی جوړ
کړے شول - داشان صوبه سرحد د خپل ملك د آزادۍ په جدوجهد کښې شامل شو
او دوی ته د کانګرس نه مرسته او امداد ملاؤ شو - د دې واحد تنظیم نه چې
هغه وخت د برطانوی سامراجو خلاف په جنګ وو - د دې جدوجهد او کانګرس
سره د دې د تعلق په نتیجه کښې صوبه سرحد ته د یوې کاملې آلینی صوبې درجه
ورکړے شوه - او هغوی ته د برطانیې د پولیټیکل افسرانو د پنجونه خلاصے ملاؤ

شو۔ کوم چې په دوئ د اوسپنو په لاسونو۔ د نور قانون په مدد سره حکومت کولو۔ او دوئ ئې په قابو کښې د ساتلو د پاره اوکنټرول کولو د پاره د سرینډ ځواکمن او قانون نه وو۔ د دې نه پس هم د صوبه سرحد خلکو خپل جدوجهد جاری اوساتلو۔ داشان د برطانوی حکومت خلاف تحریکونه اوچلولے شول۔ او د تشدد نه کولو مهم جاری وو۔ مونږ ټول په پارلیمانی محاذ جنګیدلو۔ تر دې چې په ۱۹۴۶ء کښې مونږ د هندوستان پریږدئ » په تحریک اورسیدلو۔ او داشان د آزادۍ اخری منزل راغلو۔ د صوبائی اسمبلۍ د ۱۹۳۷ء او ۱۹۴۶ء هر دواړه ووټونه کښې خدائی خدمتګار په اکثریت کښې منتخب شول۔ او هغوئ د دواړو ځله خپل وزارتونه جوړ کړل۔

ترکومه چې د مسلم لیګ او خدائی خدمتګارو په خپلو کښې د اختلاف تعلق دے۔ دا د پر دوستو راپیدا شو۔ په صوبه سرحد کښې تر دې پورې دوستو تر دې چې ۱۹۴۶ء د شورو دهائی پورې هلته دا ګل انډیا مسلم لیګ څه څانګه نه وه او نه د صوبه سرحد په صوبائی اسمبلۍ کښې د مسلم لیګ سره تعلق لرونکی یو ممبر هم نه وو۔ دا وخت صوبه سرحد یواځې صوبه وه۔ کومه چې د مسلم لیګ د سیاست سره متعلق نه وو۔ د هندوستان په نورو پوائنټ پرتو صوبو کښې۔ کوم ځایونه چې پاکستان جوړ بدل وو۔ په صوبائی اسمبلیو کښې د مسلم لیګ سره تعلق لرونکی ممبرانو فهرست د پر دلچسپ دے۔

زه د دلته د هغه نشستونو تفصیل ورکوم۔ کوم چې مسلم لیګ د ۱۹۳۷ء په ووټونو کښې کټلی وو۔

صوبه	ټول مسلمان نشستونه	مسلم لیګی ممبران
پنجاب	۸۶	۱
سنده	۳۴	۸
صوبه سرحد	۳۶	۴
	۱۵۶	۱

صوبه	ټول مسلمان نشتوونه	مسلم لیګي ممبران
بنګال	۱ ۱۹	۴۰
آسام	۳۴	۹

په دې فهرست د پام وړ نظر)چولو نه صفا بنکاري - چې ترکومه دقبلیږې حصې دې مسلمان اکثریت صوبو تعلق دے - د مسلم لیګ هلته هیڅ نماینده حیثیت نشته - او د ۱۹۳۵ء د صوبائی اسمبلیو په انتخاباتو کښې دوی په ۱۵۶ مسلمانو سیټونو کښې صرف یو سیټ ګټلے وُ - داوُ د مسلم لیګ هغه سیاسی اونمایندګۍ د کوم په بنیاد چې په ۱۹۴۰ء کښې په لاهور کښې د پاکستان قرارداد وړاندې کړے شو - او دا منظور کړے شو ډیرو پر خیال او دوی کښې د دې ډیر ډیر کډچیني او تاوُ راتاوُ مسئله کومه چې هندوستان ته پاتې وه - دا یو سیاسی حل وُ - د دې نوم هم حلونه کیدے شول - زه دلته د پاکستان د اولنې د دستور ساز اسمبلی کښې ۱۱ / اګست ۱۹۴۷ء د قائداعظم د افتتاحی تقریر نه کوم چې هغوی دې اسمبلی د رهنمایی صدر په حیث کړے وُ - یو اقتباس نقل کوم .

"وېښ خو په وجود کښې راته - دواړه طرف ته په هندوستان کښې هم او په پاکستان کښې هم - د خلکو داسې تولګی کیدلے شی کوم چې شاید هغوی خوښ نه کړی - لیکن زما په خیال کښې دې نه علاوه بل حل نه وُ - او زما یقین دے - چې تاریخ به دې په حق کښې فیصله اوکړی - او د دې نه هم زیاته داچې څنګه څنګه مونږ وړاندې خو پخپله به د عملی تجربې نه دا ثابتیږی چې د هندوستان دا ډول مسئلې صرف همدا یو حل وُ - د متحده هندوستان هیڅ تصور کله هم د عمل قابل نه وُ شی کیدے - او زما په خیال به دې مونږ غټې تباهۍ او بربادۍ طرف ته بوځلو - کیدے شی چې دا خیال صحیح وی - او دا هم کیدے شی چې دا صحیح نه وی بهرحال داخو بهرو ستر کتے شی .

علاوه دې نه پخپله د مسلم لیګ پورې ډیر ډیر ستر یعنې ۱۹۴۶ء کښې

هندوستان په درې ټولګو کښې د ویشلو برطانوی کابینه مشن منصوبه منلې
وه ـ دکومې د مخې چې یو ټولګے په نصرخانته کښې بنګال او آسام باندې اودیم
ګروپ په نصرپه پوانته کښې پنجاب سند ، صوبه سرحد او بلوچستان باندې
مشتمل وۍ ـ او دریم ټولګے د پاتې هندوستان د صوبوو ـ د دې ټولو
ټولګو یو وقتی حکومت به جوړیدلی کښې وۍ ـ کوم چې د ټول ملک د دفاع، بهرنو
چارو او مواصلاتو ذمه وار وۍ ـ غرض دا شان مسلم لیګ د برطانیې دکابینه
مشن د دې منصوبې منلو سره د پاکستان د مطالبې نه لاس په سر شوے وۍ ـ
دا څیز سبکار کوی ـ چې د مسلمانانو د پاره د یوځانګ وطن غوښتنه د زمیر
بحث مسئلې په څو حلونو کښې یو حل ګمراه کن شو ـ تر دې چې تر مسلم لیګ
پورې د دې حل قبلولو د پاره تیار نه وو ـ د یوې سیاسی پارټی په حیث
او یوه داسې سیاسی پارټی کومه چې د برطانوی سامراج خلاف اوجنګیدلې ـ
خدائی خدمتګار ته د دې پوره حق وو ـ چې هغوی په دې څلمه خپل تجویز
وړاندې کړی ـ هغوی محسوسول چې د هندوستان ویش ب د هندوستان
د مسلمانانو ویش وی ـ او هغه مسلمانان څوک چې د مسلمان اقلیت صوبو سره
تعلق لری او داوخت هغوی د هندو مسلمان مسئلې ته مخامخ دی ـ د پاکستان
د جوړیدونه پس به هم دوی ته دا مسئله پاتې وی ـ ولې چې پاکستان به د
مسلمان اکثریت په صوبو کښې جوړیږی ـ کوم ځانی چې به په اکثریت کښې
دګډلو په وجه دوی ته دا مشکلات نه وی ـ د هغه مسلمانانو د حقونو د پاره
کوم چې د مسلم اکثریت په صوبو کښې اوسی ـ دوی ته د څه تحفظ او حفاظت
او ضمانت ضرورت نشته د اصل مسئله خو دا وه چې څنګه د هغه مسلمانانو
د حقونو حفاظت اوکړے شی ، دوی ته تحفظ وی ـ او دوی ته ضمانت ملاؤ
شی ـ کوم چې د هندوستان د هندو اکثریت په صوبو کښې د اقلیت په حیث
اوسیږی ـ او دا مسئله خو د پاکستان د جوړیدلونه پس به هم داسې بغیر د

حله پاتې وی- بلکې د دې برخلاف په هندوانو او مسلمانانو کښې پخپلو کښې د دښمنۍ په وجه او په دې حقله دواړه حکومتونو چې ورسره کومې پالیسۍ اختیار کړې- د دې په نتیجه کښې به د هغه مسلمانانو حالت کوم چې د پاکستان جوړیدو نه پس په خپلو خپلو صوبو کښې پاتې شی نور هم زیات خراب شی- بهرحال دا غوښتنه موږ نه د راتلونکی وخت تاریخ لیکونکوته پریښودل دی.

په حقیقت کښې د هغه خلکو په طرز عمل او دفکر په انداز کښې څوک چې دوښش خلاف وو- د څه قسمه بې لچکې او سختې نه وه- په دې حقله یو منزل راغے- کله چې برطانیه، مسلم لیګ او نیشنل کانګرس د طرف نه وښې او منلے شو او تهیک تهیک با لکل په دې بنیاد باندې خدائی خدمتګارو په صوبه سرحد کښې د ریفرینډم مخالفت کړے وو- ولې چې که مسلم لیګ او کانګرس دواړو پارټیو وښې منلے دے- او که د دې دواړو پارټیو په دې باندې پوره اتفاق دے چې دوښش په صورت کښې صوبه سرحد ته په پاکستان کښې شاملیدل وی- نو بیا په ریفرینډم کولو کښې څه ګټ دے- د انګریزانو د پرخواهش وُ- چې ریفرینډم ضرور اوشی- ولې چې دا د هغوی دتش په نوم د انصاف خوښوی احساس باندې ښه نه لګیدلے چې هغوی د ۱۹۴۶ء د انتخاباتو نتیجې نظر انداز کړی- کله چې په یوه داسې صوبه کښې چې ترټه چې ۹۵ فیصد مسلمانانو اباد ی ده- د دې په صوبائی اسمبلۍ کښې د خدائی خدمتګارو په ډیوکښې د دوه اکثریت وی- او په کومه صوبه کښې چې د مسلمانانو سټونو پوره ۶ د خدائی خدمتګارو اسمبلی پارټۍ په غټ اکثریت سره ګټلی وی- مسلم لیګ د ریفرینډم کولو په حق کښې وو- چې د دا شان هغوی ته د ریفرینډم د نتیجې په ذریعه د ډاکټر خانصاحب وزارت د برطرف کولو بهانه ملاؤ شی- کوم چې یقیناً د پاکستان په حق کښې وتلے- ولې چې د دی مخالفت نه کیدونکے وُ- د معمول مطابق د دغه فیصلې منلو نه پکار وه- او د دې مرکلے کوُل پکار وو- او د دواړو پارټیو د طرف نه د صوبه سرحد په پاکستان کښې د شاملیدو رضامندی د

ټولو په اتفاق د مطالبې حیثیت ته صرکلے و ئیل پکار وو۔

لیکن کله چې د خدائی خدمتګارو د اعلان باوجود مسلم لیګ په دې نور واچولو۔ چې ریفرینډم ضرور کول پکار دی۔ نو بیا خدائی خدمتګارو غوښتنه اوکړه۔ چې مسلم لیګ په ریفرینډم باندې زور اچوی۔ نو په دې صورت کښې دوو ټرانو مخې ته دیوې درښې موضوع اختیار هم پکار دے۔ او هغه د پښتنو د یو ازاد ریاست د پاره د ووټ اچولو حق دے۔ چې دا شان د ریفرینډم دخپلواکۍ د حق یو کامل اظهار اوشی۔ کله چې د دوهم د تجویز منظور نه کړے شو۔ نو بیا خدائی خدمتګار خپل هغه وړومبے موقف ته واپس ښول۔ چې چونکې هغوی د براعظم دوښتی او پاکستان جوړیدل منلی دی۔ دې د پاره هغوی محسوسوی چې ریفرینډم غیر ضروری، بې موقعې او بې محله دے۔ اوکه د دې باوجود اوس هم د اقتدار خاوندان د بد مزګۍ اوجنګ فضا پیدا کولو د پاره په خپلې منصوبې پورې ښتی دی۔ نو خدائی خدمتګار به د ریفرینډم بائکاټ کوی۔ او با لکل هغوی مدا اپې اوکړی۔ اوس په ریفرینډم کښې چې کوم ووټونه واچولے شول۔ دهغې شمیره څخه پته خپل خولۍ خبرې کولو والا تصویر دے۔

د ووټونو کل تعداد = ۵۷۲۷۹۹

ټول ووټونه چې واچولے شول = ۲۹۲۱۸۸

د پاکستان په حق کښې اچولی ووټونه = ۲۸۹۲۴۴ ۵۰/۶ فیصد

د هندوستان په حق کښې اچولی ووټونه = ۲۸۷۴

دلته به په دې پوهیدل د دلچسپۍ باعث وی چې په هغه ډګو کښې د ووټرانو حلقه ملحدوله وه۔ د صوبه سرحد په ټولپښتنو ولسوالۍ ریاست مشلو کښې په ۲۵ لاکهه اباده کښې صرف د شپږو لکهو نه کمو خلکو ته د ووټ اچولو حق وو۔ لیکن که په دې کښې یو سړے د پوښ قبائلی علاقې مشین وایجنسۍ او مرجدی ریاستونو اباده چاچې په ریفرینډم کښې ووټونه نه وو اچولی) شامل کړی۔ د کومې اباده چې

اندازتاً (۲۵) لاکھ دہ ـ د دې پورتنۍ کرښې نه د پخوا اوسېدونکی د ټولو پښتنو په جمع شمېره (۷۰) اویا لاکھه جوړېږی ـ په دې کښې تر دریو لاکھو پورې هم د پاکستان په حق کښې ووټ نه دے اچولے ـ دا خو صفا بنکاره کوی ـ چې د دې حلقو په دعویٰ کښې کوم چې اوس هم په لویو لویو نسرونو کښې چغې وهی خومره زور دے ۔

لیکن خدائی خدمتګارو د ریفرنډم صحیح کېدلو او د دې فیصلې کلمه هم چیلنج نه کړه ـ ولې چې د اخلاک د خپلې مورنۍ زمکې د آزادۍ د پاره جنګېدلے وو ـ غوښتل یې چې د خپل محنت او جدّوجهد ثمره حاصل شوے مراد د نړیوالې ابادۍ او خاصکر د هغه پرېوتې خلکو چې کوم چې د خپلو بنیادی ضروریاتو نه هم محروم ساتلے شوی دی ـ په رسولو کښې مدد ستی اولګی ـ او د هغوی د پاره په څه کولو کښې لګیا شی ـ همدا خدائی خدمتګار وو ـ څوک چې د آزادۍ په جدّوجهد کښې وړاندې وړاندې وو ـ او چا چې د اینډین نیشنل کانګرس سره متحده محاذ جوړولو سره د برطانوی غلامۍ نه په آزادۍ حاصلولو کښې آخر کامیابی حاصله کړې وه ـ او داشان یې د آزادۍ د پاره او د پاکستان د جوړېدو د پاره لاره هواره کړې وه ـ ولې چې پاکستان د انګرېزانو د دې خایه د تلو نه پس جوړ شو ۔

لیکن د پاکستان د جوړېدو نه پس په یوه هفته کښې دننه د ډاکټر خانصاحب د وزارت د پاکستان کورنۍ جنرل برطرف کړو ـ اګرچې دوی ته په اسمبلۍ کښې په پنځو سو کښې د دریو څخه زیاته مریسته حاصله وه ـ د دې په خاطر یې عبدالقیوم چا ته چې صرف د اووه لسو ممبرانو مریسته حاصله وه ـ د وزارت جوړولو د پاره او وئیلے شول ۔

د دې تاریخ بیانول به د دلچسپۍ نه خالی نه وی ـ چې د ریفرنډم د نتیجو اعلان کولو نه پس مدد ستی د مسلم لیګ مشرانو د هند وستان د هغه وخت کورنۍ

جنرل لاردمونټ بیټن ته د ډاکټر خانصاحب د وزارت د برطرف کولو د پاره
اوږې ـ هغه د دامې کولو نه خپله مجبورې ظاهره کړله ـ یو خو دې د پاره چې د
دې ریفرنډم د صوبائی وزارت سره هیڅ تعلق نه وُ ـ ولې چې د ریفرنډم پاکستان
یاهندوستان کښې یو سره د شاملېدو په سوال شوے وُ ـ اوداپه وزارت پاندې
دباور یا ناباورۍ په رولت سره په هیڅ قسم نه شو تعبیر کېدلے ـ اوبله داچې داسمبلۍ
د اکثریت پارټۍ دې باغیکات کړے وُ ـ په دې حقله د لاردمونټ بیټن دلیل
داوُ چې وزارت قانون سازې اسمبلۍ ته جواب ورکړونکے دے ـ او په دې کښې
ډاکټر خانصاحب ته اوس هم په درپوره کښې د دوه حمایت حاصل دے ـ دې د پاره
د ابرطرف کولے نه شي ـ

دې دومره سخته لاپاره کولو باوجود خدائی خدمتګار د دوغې جوړې
لار اختیارولو کوښش اوکړو ـ او بېشکه چې یومنزل دامې راغلے ـ چې د خدائی
خدمتګارو جوړه او په خپلو کښې د نزدېوالی د سترګو دمخې وُ ـ لیکن مقامی قیادت دکوې
مشرۍ چې قیوم خان کولے ـ او متعصب وخته پورې د اخلاق دوزارتونو او وزارتونو
سره چې نور د هرخه وی ترهغې ـ بلکې دلوټ مار او پاتې جائیداد دونو باندې د قبضې
کېدو پورې د خپلو پښو په مضبوطولو کښې کامیاب شوے وو ـ محسوس ئې کړه چې
د خدائی خدمتګارو او مسلم لیګ د مرکزی مشرانو ترمنځه د خدائی قسم سمجھوتې معنی به
د هغه زیاتی خوږه ختمېدل وی ـ د هغه شان د مسلم لیګ مقامی مشرانو د اخبرې
اترې د ناکامولو د پاره سازش اوکړو ـ او د اشان ئې د جنګ جګړې او تکرې
فضاء پیدا کړه ـ په دې حقله دا اولیکلے شو ـ که چرې خدائی خدمتګار ئې په حکومت
کښې پاتې کړل ـ نو د دې ډې د کشمیر د آزادۍ په تحریک اثر اوغورځېږی ـ ولې چې
قبائیلو ته به کشمیر ته د تلو د پاره په صوبه سرحد باندې د تېرېدو اجازت ورنکړے
شي ـ د اشان دې د پاره به هغوی ته د قبولو غیر مسلم لیکیانو نه د هندوستان د
ایجنټ لقب ورکول وی ـ هرخه ئې د اسلام او پاکستان په نوم باندې اوکړل ـ لیکن

په حقیقت کښې داد کریسې لالچ وُ۔ کوم چې د هغوی په مانځونو باندې سوره وُ۔ د مقامی مفادونو یاد عام سړي د ښېګڼې کار ته کله هم په ولېندې نه وُ۔ په دغه علاقه کښې د انګریزانو د روپو او توپک نه د کار اختلاو چې کومه پالیسي روانه وه. هغه بیا استعمال کړه شوه۔ خدائ خدمتګارو په اخلاص او وطن دوستۍ د خاطره د مرستې کوم لاس چې وړاندې کړه وُ۔ د هغې د تېلولونه په انکار کولو سره د جنګ جګړې فضاء پیدا کړه شوه۔ او داشان هغه قوتونو ته چاچې د انګریز سامراج مخالفت کړه وُ۔ یوځل بیا مجبور کړه شو۔ چې هغوی په خپلو اینئ او قانونی حقونو کښې د تېلولو په زبردستۍ د ډکولو وهلو مخالفت اوکړي ۔

لېکن په دې حقله د تېلولونه زیات د کم عقل توب او تهوقوهنده الزام داده، چې دې خلکو تر اوسه پورې د پاکستان سره خپل ځانونه نه وې منلی ۔

اخر تاسو دیو سړي د عمل څنګه جاج اخلو ؟ او داچې تاسو څه ته ځان منل وائ؟ نو دا ځان منل دچا سره ؟ کله زه دا احتجاج اوکړم۔ چې د دې اسلامیه جمهوریه پاکستان د یو امن خوښې او قوانینو پابند دیوشهري په حیث سره زما په حقونو کښې څوکې وهلے کېږي۔ او غومښتنه اوکړم۔ چې ما سره د مملک د قانون او دستور مطابق سلوک اوکړئ۔ نو ایا دا یو داسې جرم دے۔ کوم د پاره چې ته دې نزدې شپږ کاله پورې زه د مقدمې چلولونه بغیر په جیل کښې ساتلے یم۔ او په دې دوران کښې نه خوږ زه د عدالت ته وړاندې کړم۔ او نه ئ زما په قید کښې د ساتلو اسباب، او وجوهاتو نه خبر کړم۔ او زیاتې پورې داچې حاکمانو زما تول منقول او غیرمنقول جائیداد ضبط کړے۔ او زما بال بچ د کوره اوباسي۔ اوکه زه احتجاج اوکړم چې په جمهوری نوګډه منتخب شوې اسمبلی ته په کوم کښې چې زما په درېږوکښې د دوواکثریت دے۔ د دې دائینی درجې۔ او دا ئ د کارکولونه محرومه کړے وو۔ نو د دې مطلب دا دے۔ چې زه د مملکت د سالمتیا خلاف یم۔ اخر هغه کومه پیمانه ده۔ په کومه چې تاسو دیو سړي وفاداري او وطن دوستي ناپ کوئے شی۔ که خدائ خدمتګار

د براعظم د وېش مخالف وُو ـ نو د دې مخالف خو نور هم وو ـ تر دې چې د ال انډیا مسلم لیګ پورې دومره ورسته یې جوړ کړ ـ کله چې د پاکستان غوښتنلو نه لاس په سر شول ـ او دوی د متحده هندوستان یو وفاقي حکومت اومنلو ـ لکن اوس د دې فیصلې هغه سړه کوي ـ څوک چې په کرسۍ ناست دے ـ قیوم خان نه صرف د هندوستان په قامي اسمبلۍ کښې د کانګرس پارټۍ ممبر وُو بلکې هغه په ۱۹۴۵ء د مسلم لیګ د پالیسو خلاف کتابونه اولیکل ـ او د مسلم لیګ د مشرانو په حقله یې سپکه اوبازاري ژبه استعمال کړه ـ لیکن دا سړے پیر صاحب مانکی شریف، شمین جان خان او ارباب عبدالغفورخان نه د پاکستان د مخالف کېدو الزام درکوي.

خان عبدالغفارخان د پاکستان د دستورسازۍ اسمبلۍ په غونډو کښې شریک شو. او د دې د غړې په حیث هغوئ په مارچ ۱۹۴۸ء کښې د وفاداري سوګند وکړو ـ په پنځم مارچ ۱۹۴۸ء کښې هغه په اسمبلۍ کښې په خپل ورومبې تقریر کښې اووې: ... ما هغه نه په صفا ټکو کښې اووې چې بېشکه زما خیال او عقیده وه ـ چې هندوستان تقسیم نه شي ـ ولې چې مونږ په هندوستان کښې د الوبه کنډې ده په زړګونو بلکې په لکونو خوانان، بوډاګان، ماشومان، ښځې او ښځې قتل کړے ټول او تباه او برباد شو ـ زه دا منم چې دا زما دیانت دارانه او د اخلاص نه ډک مشوره وه ـ چې هندوستان تقسیم بدل نه دی پکار ـ د هندوستان ټوټې ټوټې کېدل نه دی پکار ـ لیکن اوس خو دا اوشوه ـ اوس جګړه ختمه ده *

اوس یو دېر آسان لیکن دېر معقول او مناسب سوال تپوس کېدے شي، چې په پاکستان کښې آخر هغه کوم یو څیز دے ـ کوم چې قیوم خان منلے دے ـ او کوم چې عبدالغفارخان نه دے منلے ؟

دلته د دې وضاحت کول به دېر دلچسپ وي ـ چې زمونږ په ملک کښې څوک حاکم وي د هغه به صفت صرف زمکه او اسمان نه شي پوره کولے بلکې د هغه عبادت به کولے شي ـ لیکن څنګه چې هغه د کرسۍ نه اخوا شي بیا هغه نه

مبدرد وئیلے شی ـ دے په هر تصور کښې دراتلونکی جرم ذمه وار گرځولے شی او په داګه پرې لعنت وئیلے شی ـ په دې کښې هغه د شعور خاوندان او وطن دوسته د تکلیفونو نشانه جوړیږی په چا کښې چې دوسره همت اوحوصله وی چې هغوی د اقتدار په خاوند انو باندې تنقید کوی ـ ولې چې د هغوی څه اصول وی کوم چې هغوی ته لاره نبائی ـ او هغوی د عاموسیاست دانانو په شان نه وی د چا چې پیړند کلو مخونه او بدلیدونکی ضمیرونه وی ـ او هغوی خپل سیاست او هغوی خپل سیاست ګپارتی ، تر دې چې خپل ضمیر هم دیوې عهدی ، الاټ منټ کارخانې ، پرمټ ، لایسنس تر دې چې د خپل یو ریشتیا دار د ټوکرې د پاره خرڅولو ته همیشه تیار وی ،

ما باندې دا الزام لګولے شوے دے ـ چې زه د تشدد په ذریعه د حکومت د بدلولو د پاره د تشدد پرچار کوم ،

دا یو بل سنګاره او واضحه مثال دے ـ د بنا غلی بهتو د هغه چل چې هغه خپلو مخالفینو باندې هغه الزام لګوی ـ کوم چې هغه پخپله کوی ـ د بنا غلی بهتو د ایین او قانون د حکمرانی خبره کول د دې صدیه د ټولو نه لوی ګپ دے ـ یو سړے د دې حقیقت نه څنګ ستړګې پټولے شی ـ چې په بلوچستان اسمبلی کښې د پیپلز پارټی یو ممبر هم نه وو ـ او د دې باوجود نن په دې صوبه باندې د پی پی پی د طرف نه حکومت کیږی ـ دا بدلون څنګه راغے ؟ زه دا سوال کوم چې ایا دا اینی طریقې سره اوشو ؟ ایا د سردار مینګل وزارت د دې د پاره مات شو چې د صوبائی اسمبلی د خوا د عدم اعتماد قرارداد پاس شو ؟ اصل حقیقت دا دے ـ چې بلوچستان ته د پاکستانی فوج د لیږلو نه پس د بنا غلی بهتو له ارخه د سردار مینګل وزارت برطرف کړے شو ـ اوس د دنیا کوم یو دستور دا وائی چې په یو پارلیمانی جمهوریت کښې یو وزیر ته ـ چا ته چې د اسمبلی په درپوو کښې د دوو اکثریت حاصل دے د وزارت جوړولو حق نشته ؟ بلکې د وزارت جوړولو عملاً حق په درپوو کښې

یوټه حاصل دے ـ دا هغه حساب دے په کوم چې اوده د خوارلسو نه زیات وی ـ

دې سره ماته یو قیصه رایاده شوه چې یو سړی واده اوکړه ـ او د واده نه دری میاشتې پس د ده ښځې نه یو ښکلی خوئ اوښتو ـ یو زما په شان ساده پښتون سړے هغه له ورغے ـ او ورته ئې اووې ـ په دې کښې اخوا دیخوا څه کړې ښکاری ـ ده سره دهوکه شوې ده ـ او ده سره ټکی شوې ده ښه به داوی چې دے دې تحقیقات اوکړی ـ لیکن د واده د زلمی سوچ د دې نه بدل وُ ـ په ځائے د دې چې هغه د دې طرف ته توجه ورکړې وے ـ هغه د دې باسغوړ اعتراض کوونکی طرف ته مخ کړے ـ او ورته ئې اووې : تاسو پښتانه دغوا غوښه خورئ کوم چې تاسو نالائقه او په حساب کښې کمزورے کړی ـ یعنې سړے صحیح دماغ او معقول سړے خو په دې کښې د هغه اعتراض قابل څیړنه وینې ـ د دې نه پس د ډګب په انداز کښې هغه حیران شوی پښتون ته د ده سره د شمار د پاره اووې ۔

زما د واده خوښه وخت شوے دے ؛ د واده د زلمی په چیغه پټوس اوکړه ـ د دې میاشتې ـ او زما د ښځې د واده خو میاشتې اوشوې ـ پښتون په پوره نرمۍ په دې اعتراض اوکړه ـ او ولې وئیل چې ستا د ښځې او ستا خوښه یو وخت واده شوے وُ ـ لیکن د واده زلمے په قهر شو او ولې وئیل چې : اے کمعقله ! بحث مه کوه ـ بس زما د سوالونو جواب ورنه راکوه ـ پښتون ورته اووې د دې میاشتې ـ او ما شوم کله پیدا شو ـ جواب ملاوُ شو ـ د دې میاشتې روستو اوس شمار د دې ، د دې او د دې ـ دا شپږ نهه میاشتې ـ اوس د واده زلمی پښتون ته مخ کړو ـ او هغه ته ئې اووې : اوس که دا ساده صفا خبره ستا په دې غټه کلهاړه کښې نه راځی ـ نو دا زما فیصله نه دا ده ـ دې نه تازه اپه خوا می اداو کښې خوا می حساب وایم ـ تهیه تهیه بالکل داشان د بناغلی بهتر ذهن کارکوی او د ده خوشامندیان او تعریف کوونکی د ده د مخالفو په مقابله کښې د ده د هوښیارتیا

قابل غوږ او مکار چالونو د اوچت والی باندې دې ته په امبار کو ورکولو نه ستړی کیږی ـ

په بلوچستان کښې د حکومت د بدلوت چاراوست ؟ او د بدلون څنګه راوستے شی ؟ د دې سوالونو صفا اوکړه جواب به د دې پورې وضاحت اوکړی ـ اویو سړې به په اسانه په ګوته کړے شی ـ څوک چې په غیر اساسی طریقو حکومت کښې بدلوت راولی ،

نیپ د جمهوریت او قانون د حکمرانۍ حامی پاتې شویدے دوئ د اوچتو مقصدونو سره صرف زبانی همدردی نه ده کړې ـ بلکې دوئ د ټولو امرانو او د اقتدار خاوندانو خلکو کله چې هغوئ په جمهوری عمل کښې مداخلت اوکړو ـ مخالفت اوکړو ، او په خوشحالی یې د دې سزا ګانې اوخړلې ـ د قید نظر بندۍ او ګرفتاری او د جائدادونو د سرکاری کولو په صورت کښې به پرتې پابند اولګیدل ـ او هغه د قانون مخالفه اوکړځولے شوه ـ هغوئ د اصرځه او زغمل ـ لیکن دې ټولو امرانو ته یې د تهیتبدلونه انکار اوکړو ـ که هغه په قوتی جامه کښې وو یا په عامو ساده کپړو کښې ـ د اصرځه یې دې د پاره اوکړل ـ چې موږ به په پوره خلوص سره محسوسوو ـ چې د املاک صرف د اوس په ارادو او رضا او په خپلو کښې د باور او مرستې په ذریعه یو ځای او متحد ساتلے شی ـ او که د بناغلی بهتو په شان تېز سړے ـ یا د دې نوے سیاسی ټولګے ـ بناغلے قیوم خان د اکثریتی چې هغوئ به د غټې دندې په زور باندې د فیډرل سیکورټی فورس سره یا آرډی نفس لګولو سره دلته حکومت کولے شی ـ نو دوئ ته دیوې غټې صدمې د پاره تیار اوسېدل پکار دی ـ د قیوم خان په شان خلک دی څوک چې به سر کښته کړی ـ او خپل وجود به ست پرمپ دی ـ او خوند مزه به اخلی ـ لیکن نور به یې مزاحمت کوی ـ او که د اقتدار خاوند حکومت د خلکو د پاره ټولې اساسی او جمهوری او قانونی لارې بندې کړی ـ او کله چې د سیاسی مندې مترې ټولې

عامې او ټاکلې طریقې بندې کړي نو اوس به د نورو طریقو په سوچ کولو باندې مجبور شي - که حکمرانه پارټي د قانون د محافظ کېدلو باوجود د قانونت احترام نه کوي - نو اخر هغه د نورو نه د اطمع ولې کوي - چې هغوئ د قانون احترام اوکړي - که ښاغلے بهتو دایئ د محافظ په حیث د خپلو کړے شویو وعدو او ذمه وارو خیال نه ساتي - نو د نورو نه هغه د دې طمع څنګه کولے شي - دیوې لوبې په طریقه د کولو د پاره د دواړه طرفه د کسانو رضا په کار ده - فرض کړئ دوه ټیمونه د فټبال په میدان کښې داخلیږي - او دیو ټیم مشر ښاغلے بهتو د لوبې ټولې قاعدې یو خواته کړي - او فټبال په ترخ کښې او نیسي اود مخالف ټیم کول طرف ته منډه کړي - او کوم لوبغاړے چې هم د دهٔ مخې ته راځي دے هغهٔ ته دیکې ورکوي - په ټکو ځ وهي او لتې ورکوي او وراندې ځي - او د نورو کول ته چې اوږې - نو اعلان کوي - چې هغهٔ میچ اوګټلو - هغه د مخالف ټیم نه خوښتنه کوي - چې هغوئ دې د فیصلې اومني - او د میچ ګټونکي دې ددهٔ د پاره لاسونه او پرقوي - او واه واه دې کوي - اوس د مخالف ټیم د پاره درې لاري پرانستې دي - یا خو به هغوئ د دا سې میچ کولو نه انکار کوي په کوم کښې چې قاعده او قانون نشته - او هغه لوبه خرده - لیکن فټبال نه دے - یا بهتو مجبور کړے شي چې د لوبې د قاعدو پابندي اوکړي او که دا دواړه خبرې منظورې نه وي - نو بیا د مخالف ټیم دپاره د دې نه بغیر بله لاره نشته چې هغوئ هم په دنیا کښې د لوبې منلے شوې او فیصله شوې قاعدې په خاطر پریږدي او د بل ټیم د دې قاعدې او قانونت نه خلاف کارونو نه د خپلو مفادو حفاظت اوکړي - او هغوئ د ښاغلي بهتو د سره پخپله د هغهٔ د لوبې د قاعدو مطابق د ورکه دې له د قاعدو نوم ورکولے شي) کار اوکړي - او د دهٔ مخالفت اوکړي - په دې ټول موده کښې زما د تو لو تقریرونو موضوع او مراد هم دا پاتې شوے دے - د تشدد د تلقین نه لرې او د هر لرې اوسېدو باندې

ما همیشه عوامو او دلې پلې ، مشرانو ته د دې خبرداری ورکولو کوشش کړے
دے - که مونږ په سیاست کښې د ټشد د تبلیغ کوو - نو په دې کښې نه صرف
زمونږ د سیاسی اجتماعی حالت - بلکې پخپله د دې ملک د سلامتۍ او سالمتیا د
پاره خطره پیدا ده - په دې سلسله کښې د یو مثال په ذریعه ما داخپل خبرداری
بیا بیا داسې بیکاره کړے دے - چې یو سړے په خر باندې د نیمبو د بنیبو د بنګړو
بار اوړلو - په خُلۍ یو زور ور بدمعاش د چا په لاس کښې چې یوه اوږده ډنډه وه
هغۍ ته په لار کښې مارۍ شی - دې بدمعاش هغه بار یو اړخ ته په ډنډه او وهلو
او په زور ې ترې تپوس اوکړو - تا څه اوړے ؟

خو ورته جواب ورکړو - که تا دویم ګذار ورکړو - نو زۀ بیا څۀ هم
نۀ اوړم - څۀ هم نه - پاکستان د فوځی جرنیل دیوې ډنډې ګذار خوړلے
دے - او دې دې د نیمې نه زیاته حصّه چغنۍ شوې ده - او کوم پاکستان چې
پاتې دے هغه د غیر فوځی د سول مارشل لاء ایډمنسټریټر د ډنډې بوجل
ګذار نۀ شی زغملے - مونږ ته د بهتو لاس نیول او د هغه ته په پاتې پاکستان
باندې د بل ګذار لګولو نه منع کول دی - په ټولو تقریرونو کښې زما دلیل
هم دا ؤ - مونږ ته دا اوس د پاکستان د تباه کولو نه منع کول دی - او که
دا اوس بیا هم - په دې پوره انتباه دے - نو مونږ ته به بیا دا لاس ماتول
وی - چې پاکستان بچ کړے شی - مونږ د دې د پاره خپل ځان تیار نۀ بیا موندلے
چې دا اعلان اوکړو - چې ملک کښې اکثر غداران دی - او دا شان هغوی د
خپل جائز قانونی او آئینی حقونو نه محروم کړو - او دوی د ډکټر د موقف
په خپلولو باندې مجبور کړو - په کوم کښې چې فوج استعمالول وی - یا د
سیاست، مرستې او په خپلو کښې د باور په ځای ظالمانه طاقت استعمال کړو
د دې چې کومه نتیجه ده هغه به هر سړے لیدلے شی - اوس هم که نباغلے بهتو
دا کار ناخوښه یا دې ته بدنۀ وائی - بلکې د دې خلاف هغه خپل اولس ته دا

یادوی - چې مونږ مشرقي پاکستان څخه بایلود چې هغه دېر لرې وُ - او نه مونږ فوځ ته دا ګرانه پېښه وه - چې مشرقي پاکستان مړ د مغربي پاکستان څخه جغرافیائي جوړښت نه وُ - د دې مطلب دا شو - کنې مونږ به هغه فتح کړے وُ - چنې ډې کړے به موو - او دا به مو دیو نوا یادیه په حیث په خپله قبضه کښې ساتلے نن سباغلے بهتو خلکو ته دا یقین ورکوی - چې چونکې بلوچستان او صوبه سرحد پنجاب سره په جغرافیائي لحاظ جوړښت لري - د دې د پاره د دې په فتح کولو کښې به مونږ ته ډیخ ګرانه نه وی - داشان به مونږ دوباره د مغربي پاکستان یو یونټ جوړ کړو - او د دې اساسي باد شاهي بنیاد به کښېږدو - په کوم چې به بهتو شاهي خاندان حکومت کوی - په دې حقد هغه دې حقیقت ته نه ګوری - چې د برطانیې په شان زبردست طاقت د هندوستان د مرضئ خلاف هغه په خپله قبضه کښې اونه ساتل شول - او د براعظم مسلمانانو د خپلو حقونو د پاره په جدّ وجهد کولو کښې د خپل پلار ځیکه، وطن او ټولې پرېښودلو نه هم اونه وېرېدل - او په کوم کښې چې هغوئ دکلونو راسې اوسېدل - او دا ولې؟ ولې چې هغوئ محسوس کړل - چې هغوئ ته خپل بنیادی او حقیقي انساني حقونه نه ملاویږدل - کله تاسو دلته هم هغه عمل بیاد و باره کوئ - نو د دې به بالکل هم هغه جوابي عمل وی - دا ورځې به اوچتې شی - او کله دا په وهاکه کښې سوزول کوی - نو د دې اثر به په اسلام اباد کښې او داشان په مکه کښې هم ونه لیدلې ی - کله تاسو یو خُل دا خلک د بنیادی انساني حقونو نه محروم کړئ - او هغوئ ته دا باور ورکړئ - چې هغوئ د دریمې درجې اوسېدونکي دی - او په ترڅه عملي تجربه به هغوئ دا محسوس کړی - چې د هغوئ پخپله په خپل ملک کښې څه قانوني، جمهوري او اساسي حقونه نشته دی - نو بیا اړ دی نفس ظالمانه قانون نونه یا فیډرل سیکورټي فورس یا پولیس او د نور ظلم تولې طریقې داشان ټینګې په خُلې نارې او مبرۍ تقریرونه - او د شاندار مستقبل وعدې، دیدبو او تهیلې وېرځن - یا د

قبضه شوی پرلپس پروپیګنډې په یقینی توګه داخلک کله هم یو ځای نشی ساتلی
داخبره ما په خپلو تقریرونو کښې کوله - او دا به زهٔ هن بیا هم دوباره
کړم -

دمتحده محاذ سره دخپل ځان ترلو او ددې په هلوځلوکښې په
عملی توګه حصه اخستلو موښږ مطلب داتحاد او سالمتیا دیقینی کولو د پاره
کوښش کوو - ولې چې زمونږ دا پخه رایه ده - چې په ظالمانه طاقت او ظالمانه
قوانینو او اړې نشونو نافذولو د انسانانو نې ترمنځه کله هم پاځه تعلقات
نه شی جوړیدے - ددې جوړیدل سپکاردی - په خپلوکښې د باور او اعتماد
په ذریعه دکوښې صلی اظهار چې وفاقی حکومت او وفاقی وحدتونو ترمنځه
او نیغپله په وفاقی یونټونو کښې په خپلوکښې دمرستې او شرکت په دې باشعوره
احساس کښې وی کوم چې زمونږ برابر او برابرې درجې خلکو کښې وی.

دنیې دخلاف قانون کړنولو د لارې د سوارولو د پاره دالزام
لګولے شوے دے - چې موښږ دملک دسرحدونو نه بهر کوردو وغیره
وغیره.

مکاره ده چې دا ځې ددوو مقصدونو تر نظره کړیده - په دې کښې
یو غټ مقصد دنیې خلاف دخه کار روانې د پاره لاره صفا کول دی.
ولې چې د داسې بې بنیاده پروپیګنډې د مهم جاری ساتلو سره د پې پې
پې قیادت داګنړی چې دا شان به هغه یوسړی ته په دې باور ورکولو
کښې کامیاب شی - چې نیې یو قام دښمنه تنظیم دے - د پاکستان په
تباه کولو ښې راځتې ده - اوددې د پاره دهغې دچټنړی کولو د
پاره حکومت ته د هرقسمه قانونی جواز حاصل دے - او بل مقصد ځې دا
تاثر ورکړل دی - چې دوځې ته د سرحد نه پورې یعنې د هندوستان
اوافغانستان نه صدایات اوپیسې راځی - اګرچې دا ډېر سخت الزام دے

لیکن بیا هم حکومت د دې په ثابتولو کښې ناکام پاتې شوے دے ۔ داد عام معمول مطابق داقتدار په کرسۍ ناستې پارټۍ د غصې او جوش په حالت کښې کولو والا وُ۔ خبرو کښې یوه خبره ده ۔ عدالت د پاره دا معلوم ول به د دلچسپۍ باعث وی ۔ چې دا مسئله د پښتنو د یو عدالت ته وړاندې ده ۔ اوږه شپږ پنځو کالو راسې وړاندې ده ۔ د دې مقدمې واقعات دا دی چې یو پښتنی فرنټیئر افسر په قیوم لیډ کښې د شاملیدو په وخت دا بیان وکړو ۔ چې صفحه ۲ ته د حقیقت علم دے ۔ چې ولې خان د هندوستان نه روپۍ اخستې دی ۔ ما سمدستی په عدالت کښې مقدمه واچوله او د صفحه ۱ نه مې غوښتنه اوکړه چې دا ثابت کړی ۔ تاسو به حیران شئ چې صفحه ۱ تر اوسه یوځل هم عدالت ته نه ښکل مخ اونه ښودے ۔ او عدالت په دې حقله دا سې لا ویسه ښکاری ۔ چې صفحه په شپږو پنځو کالو کښې صفحه عدالت ته په حاضریدو او الزام ثابتولو دپاره نه ۱ شی مجبورولے ۔ یوځل چې ما جج ته ګیله اوکړه ۔ نو صفحه ۱ تجویز کړه چې چونکې دا یوه سیاسی مقدمه ده ۔ د دې د پاره د صفحه ۱ قسمه سمجھوتې کیدلے شی ۔ ظاهره ده چې الزام به تر عدالت پورې رسانی حاصله کړی ۔ او تجویز به ۱ پرې کړے وی ۔ چې صفحه د معافی غوښتلو ۔ د مقدمې د خرچې ورکولو او په هر بیان باندې چې ولې خان ۱ وکړی دستخط کولو ته تیار دے ۔ ما جج ته او وې چې ترکومه زمانه تعلق دے ۔ دا یقیناً چې یوه سیاسی مقدمه نه ۱ ده ۔ ما صفحه ۱ ته او وې چې زه ۱ د دې مقدمې د پاره) د دې منلو ته تیار یم چې د د دې صاحب د مشر عبدالقیوم خان « صفحه ۱ د وخت وزیر نه ۱ و ۱ خپل ذاتی او پراسونیټ انټیلي جنس سروس دے ۔ کوم چې په بین الاقوامی سطح کار کوی ۔ زه ۱ به په دې حقله بحث نه کوم زه ۱ به په دې لحاظ هم بحث نه کوم چې صفحه ۱ د اسروس د پاکستان د حکومت د ټولو انټیلي جنټس ایجنسو نه زیات تیز او اصل دے ۔ د دې د پاره صفحه ۱ د هند د حکومت د لپاره دین او د ټولو پټو کارونو نه خبر دے ۔ دا شان کله چې صفحه ۱ وا ۱ ۔ چې ما ذکر شوے نقشه د وهلی نه روان شو او کابل ته اورسیدو ۔ زه ۱

دغې منلو ته تیار یم ددغه نه پس دا اطلاع ښکاره ده - چې دکابل نه به هم روان شوے وی - زه په دغه بحث نه کوم ولې چې دقیوم خان تالی ست د پښتنو او شوقیان دی - زه خو صرف په دغې واقعه بحث کوم - چې هغه رقم ماته ورسیدلے دے، ما عدالت ته عرض پیش کړو چې په دغې بناء زه دا پیوه سا مقدمه نه کښهم - داخو د روپو د لین دین معامله ده - ماته ددغې صاحب نه معلومه شوه - چې یو خاص رقم کوم چې په الزام کښې ښودلے شوے دے تر دوو کروړو پورې چې رسی د دهلی نه کابل ته روان شو - چې هغه ولې خان ته وکړے شی - ددغې واقعې مدعا علیه ته پته ده - ددغه نه پس ددغه ویلو ده - چې هغه رقم د کابل نه هم راروان شو - چې ولې خان ته نه حوالې کړے - په دغې حقله دیوې خبرې چې ماته پته ده هغه داده چې هغه رقم ماته سالاو شوے نه دے - داشان جناب مالی! زه صفائی نامه نه غواړم - زه خو په دغې رقم کښې زیاته دلچسپی لرم - ددغې د پاره دغې عدالت خپل اختیار او وس چار استعمال کړی - او دا صاحب دغې مجبور کړی چې هغه د هغه سړی یا خلکو په حقله ماته اووائې چا سره چې زما هغه رقم دے - زه تراوسه پورې د عدالت د کوششونو د نتیجې کوم چې هغه مجبر ذوالفقار نه ماته ضروری معلومات راکولو باندې د مجبور ولو په لړکښې کوی - انتظار کوم زه امید ساتم چې د ښاغلی قیوم خان د کورنو چارو د وزیر جوړیدونه پس د خپلې پارټۍ د سړی دامطلبې سوادو په راکولو کښې به لاس امداد اوکړی - لیکن زه خیال کوم چې دا ټول خلک خپل اثر او رسوخ مدعا علیه د عدالت ته د وړاندې کولو نه دیوې کولو د پاره استعمالوی - صرف دا واقعه چې ما عفو تر اوسه عدالت ته د خپل مخ ښودلو د پاره په راکښلو کښې میاب نه شوم واضحه کوی چې دا خلک د دا قسمه الزامونو لګولو کښې څومره سنجیده دی د مفاد پرستو پارټیولو لرغه د بد نامولو او شومولو هم په دې زور اوشور روان دے - اخبارونه دا په ځټو ځټو کښې خوروی

په قبضه شوی پرلپسې کښې د دې ترمیم چاپ کول تقریباً ممکن نه دی. او د آخری کار په توګه که تاسو غوښتل عدالت ته راکاږئ نو غوښتل یې په جرګه توګه سره داسې انتظام اوکړی چې پنځو کالو په موده کښې یو ځل هم عدالت ته نه حاضر ېږی. - دا ده چې ملک په یو اوسېدونکی شپږه شوې ده نو که تاسو د واقعه لرونکی زیاته مبتکاره اوګورئ نو د دا د اسمبلۍ د یو ممبر او د یو سیاسی تنظیم د مشر خلاف سخت الزامات دی تر ګډ چې په دې حقله زما تعلق دے. ما دا الزامات د اول نه په عدالت کښې چیلنج کړی دی. زما دا مقدمه لاچلېږی او زه به دې عزتمند عدالت ته درخواست اوکړم. چې هغه د پښتو عدالت ته هدایت اوکړی. چې هغه کم نه کم میجر ذوالفقار عدالت ته د وړاندې کولو او د خپل دې بیان کوم چې هغه اخبارونو د وکړے وو په مرسته کښې د خپل بیان په وکولو مجبور کړی. او د داسې هغه کم نه کم د هغه رقم په وصولولو کښې خو زما مدد اوکړی. - کوم چې د مدعا علیه دوینا مطابق هغه ته ذاتی علم دے. چې هغه د دملی نه په کابل راوغلے دے.

او سی تاسو مانته صرف په دې باندې د دې زیاتی کولو اجازه راکړئ چې د سیاسی کارکونکو په حیث سړه مونږ د ملک د قانون او آئین دننه اوسېدو کښې سیاسی کارونه کړی دی او کوو هم. - مونږ پخپله په سنه طریقه د دې قابل یو. - چې خپل سیاسی جنګونه اوکړے شو. - او مونږ ته په دې حقله د چا بل ملک د هدایاتو او پیسو تپکو حاجت نشته. - نیپ د اول نه په دې حیثیت کښې دے. - چې هغه د حکمراني پارټۍ (پی-پی-پی) په سیاسی لحاظ سره مخالفت اوکړی د مونږ اندې صرف په څلورو سویو کښې په دوګه صوبو کښې دوګه ته په ووټونو کښې بیلات ورکړے دے. - بلکې مونږ د دې خبرې هم انتظار او کړو. - چې د (پی-پی-پی) چیرمین د صوبه سرحد د یوې حلقې نه د مفتی محمود د لاسه بیلات اوخوړو. - د داسې چې په دې سلسله کښې مونږ څه هم غواړو.

هغه صرف دادی - چې شهري آزادي دې بحال کړے شي - د معمول مطابق د سیاسي هلوځلو د جاري ساتلو موقع دې حاصله وي - د قانون د حکمرانۍ او د ملک د اتحاد د اوچتوالی او دې ته د ټولو سرتیټول -

یوځل چې جمهوري عمل شوروشي - او د پې پې مشران دې د مهذب انسانانو په شان د خلکو سره راشه درشه کړي - نو نصرین پرته یقین دے چې مونږ دوئ په وروتلو کښې راغورځولے شو - د دې د پاره مونږ نه د بهر ملکونو نه د کمک حاجت نشته - مونږ خو پخپله د خپل ملک دننه ګورو - او زمونږ تاریخ نصرین د دې کوشش او پالیسي بنکاره ثبوت - د مقصد جمهوري معاذ جوړول دی - لیکن د ښاغلی بهتو او د هغه ټولګی نه پته ده - چې کله یوځل جمهوري عمل شوروشي، شهري آزادي بحال شوې او آزاد او د انصاف ووتونه اوکړے شول - نو اولس به د پیپل پارټۍ په ټشو ناروو نه دهوکه کښې - او د دې نه د خپل زړه ستړې والی - او د دې د نزدیکت نه د بهروتلو اظهار به اوکړي - او دوئ به په لټو وهلو د ملک د سیاست نه بهر اوباسي - نه به په دوئ څوک د ژړا ګولو والا وي - اونه د غم د سندرو والا - په پښتو کښې یو متل دے "چې په هیڅ کښې نو زهرو نه حاجت نشته" مونږ په یقیني توګه محسوسوو - چې مونږ د دې سیاسي مهم چلونکی، قسمت ازمونکی او د دې چوریاړي کولو والا، لایسنس او پروت اختونکو، او په هره طریقه د دولت کټلو والا ټولګی په مقابله کولو کښې د هغوئ نه مضبوط یو - او په دې حقله مونږ له د څه قسمه بهرنی ملک د هدایاتو او پیسو ټکو ضرورت نشته - نه د هندوستان نه او نه د افغانستان نه او نه د روس نه اونه د عراق نه - په دې حقله مونږ ضروري کار کړے دے - او مونږ په سیاسي لحاظ سره ښاغلی بهتو د هوا مس نه په بهلولو کښې کامیاب شوے یو - مونږ محسوسوو چې د متحده محاذ جوړولو نه اوس مسئله داده چې یو طرف نه خو ښاغلے بهتو دے - او د دې په مقابله کښې بل طرف نه پاتې ټول پاکستان

او دا زمونږ کتنه او کامیابي ده - بناغلی بهټو او د هغهٔ ټولګی ته دا پته ده هغوی اوکتل - چې څنګه متحده محاذ دعوامو ډېرې لوړې لرغې جلسې تر دې چې د پنجاب په صوبه کښې هم کوم چې د بناغلی بهټو د سیاسی قوت مرکز دۀ - خپل ځان طرف ته راکاږی - بناغلی بهټو او د هغهٔ ټولګی هیله لرله - چې د ریډیو ټیلي ویژن او د مقبوضه اخبارونو په ذریعه دګمراه کولونه پس به د پنجاب اولس په ماباندې خپلې دروازې بندې کړې - داشان یو سړے د بناغلی بهټو او د هغهٔ د ټولګی دمایوسی اندازه په اسانه لګولے شی - ځکه چې د پنجاب خلک د زړګونو اولکهونو په تعداد کښې د متحده محاذ دلیډرانو سره د ولی خان صرکلے کوی او د هغوی د تقریرونو د اوریدلو د پاره په جوړ جوړ راغلل - داسے په حقیقت کښې هغه خبز کوم چې بناغلے بهټو پرېشانه کولو - بناغلے بهټو د دې پرواه نه ساتل - کهٔ زهٔ خپلې هلې ځلې صرف د صوبه سرحد او بلوچستان پورې اوساتم - هغهٔ ته چې کوم اعتراض دے - هغه زما په پنجاب کښې د داخلېدلو اونشوتلو دے - کوم چې د دهٔ د بادشاهی د طاقت مرکز دے - د پنجاب په سیاسی میدان کښې د سیاسی لاړې د راوګرځولو او دخل ورکولو زما دخهٔ قسمه قدم خلاف بناغلے بهټو تر لرې لرې پورې تیار دے - چې هغه د دواړو صوبو او پنجاب تر منځه په خپلو کښې لاشه درشه کټ کړې - زما په خیال خو دا خبره خو ډېره صفا اسانه اوساده ده - زمونږ د سیاسی بقا انحصار د اتحاد او د پاکستان د خلورو صوبو دیموکراټانو او غوښتونکو طاقت باندې دے - اود بناغلی بهټو مفلوکه په خپلو کښې په خپلو جګړو، په خپلو کښې د تو تو او میں میں، تر دې چې د پاکستان د مختلفو صوبو تر منځه د یو بل خلاف په جنګ جګړه کولو پورې کښې - داشان کوم خاوند چې بناغلے بهټو ماد تهوا حبهورې طاقتونو د شریک متحده محاذ جوړولو نه د منع کولو د پاره په ډېره ښې درجه سخت کوشش کوی - هلته زمونږ

سیاسی بقاد دې خبرې غوښتنه کوی چې موږ ته خپل ټول وسائل یوځای جمع کول پکار دی - یو معمولی پوهه سړے هم کتلے شی - چې که زهٔ غواړم چې بلوڅ او پښتانهٔ د پاکستان نه بېل شی - نو پنجاب به په مشکله هغه ځایونه کېدے شی - کوم ځایونه چې زهٔ رانشم - او دې مقصد ترسره کولو د پاره سیاسی کړېږ اوکړم - او یاده دې وکړې چې زهٔ په پنجاب کښې گرفتار شوے یم .

لیکن په دې سلسله کښې یوه خبره وپرېږده - دلته بنا غلی بهټو بیا دخپل عادت مطابق د خپلې پالیسی د مخالفینو په سر د ورتېلو د پاره کوشش کړی - ولې چې دا خو پخپله بنا غلے بهټو دے څوک چې د هدایت او امداد د پاره د سرحد ونې نه پوښتنه کړی - هغه خلک چې په بنا غلی بهټو نظریاتی مخالفت به ضرور دا نوټ کړی - چې د خپلې اوچتوالې او قابلیتوب ثابتولو د پاره به هغه د خپل خوا اوسنا خلکو باندې د اد ظاهرولو کوشش کوی - چې هغه د نورو په مقابله کښې ډېر اوچت سوچ کوی - او دیو ذهین او تېز عقل والا د بهرنو چارو د وزیر په حیث هغه د بین الاقوامی سیاست او پالیسو د هارونکو او د مخالفو د هارونکو نه ښه خبر اوسی - د خپل اوچتوالی او قابلیتوب د مظاهرې کولو په هغهٔ کښې دومره زیات شوق دے - چې که موږ ته د پیان د نرخ زیاتولو کیلہ اوکړو، نو بنا غلے بهټو د قیمتونو د زیاتولو وضاحت کولو سره به داثابتولو د پاره چې - دے خو بین الاقوامی شے دے - او داشان به کیوبا تردې چې تمبکټو پورې اوسی او په دوبره اوچتوالی به دالوتلو سره ټولو ته د ډېر اوچتوالی نه کتل غواړې چې د بحث په دوران کښې خلک حقیقی مسئلې هېرو اوسی .

غرض داچې متحده محاذ د عوامو نه په بېلولو کښې بنا غلے بهټو او پی پی کامیاب شول - نو بنا غلی بهټو د سیاسی مدد د پاره د سرحد ونو نه بهر کتل شروع کړل - دهٔ په دې فخر سره اعلان اوکړو - چې داد هغهٔ د شاهٔ

بهرنۍ چارو د پالیسۍ نتیجه ده - چې امریکې د پاکستان د خپلې خارجه پالیسۍ د پاره د بنیادی تیکۍ دکښدو اعلان کړه دے - دلته یو ساده شان سوال کیدے شی چې اخر د دغه اعلان نه څه فائده ؟ امریکه په یوې فوځي معاهدې (سینټو) کښې زمونږ دوست دے - لیکن د فوځي اعتبار نه د دغه معاهدې مقصد د کمیونسټ جارحیت پوښې محدود دے - په زیاتو اسانو ټکو کښې که چیرې مونږ کمیونسټو سره جنګ کول غواړو - نو بیا امریکه زمونږ امداد له راتلے شی اوبس زمونږ جغرافیائی محل وقوع بنائی چې صرف دوه - کمیونسټ ملکونه دی دکومو خلاف چې مونږ خپلا کولے شوے - چین او روس او نهیک په دغه وجه هندوستان سره په دوو جنګونو کښې امریکې زمونږ مدد اونکړے شو - ولې چې هغه د معاهدې ترمخه د دغه پابند نه وه - مونږ امریکائیانو ته د هغوئ دوعدې دخلاف ویدئ صرف په دغه بناء الزام ورکولے شی چې هغه د چین او روس سره په خپلې کښې زمونږ امداد له را اونه رسی دلته د بناغلی بهټو نه دا سوال کول پکار دی چې ایا هغه په سنجیدګی سره د خپلو دوو لویو کمیونسټ ګاونډیانو سره د خپلې کولو سوچ کوی - چې هغه سینټو بیا د سره راټوندی کړې ده - او د خپلو اعلی او اوچتو سیاسی خوبیو په ذریعه د امریکې ستیټ دیپارټمنټ مجبورولو سره په دې اعلان کولو کښې کامیاب شوے دے - اوکه د چین او روس سره د بناغلی بهټو د جنګ کولو څه ارده نه وه نو بیا د سینټو د راټوندی کولو اود امریکې په خارجه پالیسۍ کښې د پاکستان د بنیادی تیکۍ دکښدلو د اعلان نه مقصد څه دے ؟

ولې چې دا به مونږ ته په څو لحاظه نقصان رارسوی - ۱ دا دغه دا تولوا نه خطرناک ارخ ظاهر ده دادے چې مونږ یو طرفته خپل ځان په عالمی طاقتونو کښې یو طاقت ته د هغوئ د خارجه پالیسۍ د بنیادی تیکې د جوړولو دعوت ورکوو - نو بیا هغه طاقتونه کوم چې د مخالف ټولګی سره تعلق لری په قدرتی توګه به دے په سنجیدګی

کړی ـ مونږ نه دامریکې هغه واقعه هیره نه ده ـ کله چې ۱۹۴۷ کښې روسیانو دامریکې هغه جهاز وافورځولے وُ ـ او دا ثابتولو نه پس چې هغه امریکنې هوائی جهاز د پښتونو دعوائی اډې نه الوتے وُ ـ روسیانو په نقشه باندې د پښتونو کیرچاپیره سرحدُ دائره راکښلې وه ـ ایا بناغلے بهتو غواړی چې د پاکستان د ساحل اودده د نوک پاکستان کیرچاپیره داشانتې سرحدُ دایره راکښلے شی ـ زمونږ په پښتو کښې یو متل دے : " چې کله سندې کمان پخپلو کښې جنګ وی نو چنډ خان خواران پکښې هسې بې صیځه د پښتو لاندې چغې کیږی ، اوس که مونږ امریکې ته په خلیج کښې د خپلو سمندرې مشقونو کولو موقع ورکړو او په دې مونږ د هغوئ کوم باندې چې پیرو او که مونږ دوئ ته د بلوچستان په ساحل باندې د خپلې اډې چوپړولو د پاره اجازه ورکړو ـ نو ایا دے داسوچ نه کوی چې دې سره زمونږ د سوشلست بلاک سره په تعلقاتو باندې اثر پریږدی ـ ایا مونږ دومره لوئ او دومره مضبوط یو چې مونږ دې سندې کمانو ته پخپله زمکه د جنګ کولو او پخپلو کښې د فیصلې کولو دعوت ورکړو ـ داشان په دې حساس حقه مونږ په دې تپوس کولو کښې بالکل په حقه یو چې ترکوې دې سره د پاکستان د تعلقاتو مسئله ده اخر دې نه څه مقصد اوخه فائده ده ؟

بله داچې داځیز د نړیمې دنیا ، زمونږ د کاونډیانو اوخاصکر زمونږ د عربو وروڼو سره زمونږ تعلقات متأثر کوی ـ د نړیمه دنیا د غټو طاقتونو د بلاکونو نه بېل پدلو اوخپل ځان له دلاږې راوکښلو په کوشش کښې ده ـ اوکه د کمبودیا او ویتنام د واقعاتو نه پس که د بناغلی بهتو نوے پاکستان دامریکې دپچې کړوان اداء کولو ذمه واری اخستې وی ـ نو داصورت حال زمونږ کاونډیانو لکه هندوستان ، بنګله دیش ، افغانستان ترڅې چې ایران او خاصکر د افریشیائی بلاک په نظر کښې زمونږ پوزیشن به یقیناً چې دېر مشکوک جوړ کړی ـ بیا د شرق وسطیٰ پخپله چې د امریکې کومه

پالیسي نه هغه زمونږ ترمخه ده- او داهم سړے لیدے شي نن په دنیا کښې امریکه یواځینے ملک دے- کوم چې د پورتنۍ عرب ابادۍ خلاف د اسرائیلو مرسته کوي او په ۱۹۶۷ع کښې د عرب اسرائیل دویم جنګ او د عربو دا ډله په تبلو باندې د پابندۍ لګولو نه پس امریکائیانو د عربو خلاف د طاقت د استعمالولو پورې دا صرف ورکړیده که عربو د امریکائیانو په شرطونو د تبلو ورکولو نه انکار اوکړو غرض د امریکائیانو د اسرائیل دریاست په معامله کښې او داشان د تبلو په معامله کښې د عربو سره صفا جنګ دے- اوعین په دې جنګ کښې پاکستان د امریکې سره د خپلې ښوالۍ او دوکې شوې هغې دنوې ګولو پخلے کوي که مونږ د دې د پاره لازمه تیکي استعمال کړو نو وئیلے شو چې د اخیز د عربو سره زمونږ په تعلقاتو کښې کړکیچونه پیدا کولے شي- د اسې د کوم دچت په خلاف د اعلان کول چې پاکستان د امریکې په خاطر په پالیسي کښې د بنیادي تیکۍ حیثیت لري دا دې نه مونږ صرف د مطلب اخیستے شو- چې مونږ د امریکې په نظر کښې اسرائیل سره یو شان او برابر یو- ولې چې امریکې د اشان خبره د اسرائیلو نه علاوه دبل چا د پاره نه ده کړې- او خاصکر چې کله مونږ د پورتنۍ دنیا سره سره په خپلو ستړګو

حشر لیدلے دے- ایا مونږ بهتر ته د اخبره کولے شو

چې نه د هدایت، رهنمائي او امداد د پاره د خپل ملک د سرحدونو نه پورې کتلو سره د ملک د ملي طاقتونو د عالمي قوتي او جنګي پالیسیو په دهارونو او مخالف دهارونو په خطر وکښې اچولے شي.

د پاکستان د سالمتیا او بیوالۍ ضمانت د بل ملک په یقین ورکولو کښې نه دے- بلکې ددې د خپلو اوسیدونکو په جمع دکې شونتوا او ټولې پلې امداد سره کیدلے شي- د نورو ملکونو حکومتونه صرف د خپلو قومي مفادونو حفاظت کوي- او څه وخت چې د هغوئ خپل مفاد نه وي هغه لوڼ نو لول بې

اثر پرې پرېږدی ـ کله چې په داسې خلکو کښې داهمت نه وی چې هغوی خپلو عوامو ته مخ اوښودلے شی ـ یا هغوی د دوی ترمخه پاتې شی ـ په دې حالت کښې هغوی به په یو هواډ جهاز کښې کښینی او وتښته به امریکې ته تلل وی ـ ایا مناغلے بهتر او ددهٔ ټولګے هم داسې کولی سرچ کړی ؟

اوس موږ د دې الزام طرف ته راځو چې د افغانستان نه مناغلی داوُد خان یو تقریر نشر کړے دے ....

دا یو عجیبه دلیل دے ـ ولې چې په دې تقریر کښې خو داوُد خان د خپل ملك خلکو ته په یو خاص موقع خطاب کړے وُ ـ په کوم کښې چې د بعضې سیاسی اختلافاتو طرف ته اشاره کړې وه ـ کوم چې د هغهٔ د ملك د خلکو د پاکستان نه دی ـ دې د پاره په دې بناء د نیټې خلاف قانون کړنو په څهٔ قسمه هم کافی وجه موجوده نهٔ ده .

د دې الزام څو صفا صفا جواب دا کیدے شی ـ چې لاړ شئ او په هغه سړې مقدمه اوچلوئ ـ چا چې دا تقریر کړے دے .

زهٔ وکیل نهٔ یم لیکن د حکومت د طرف نه چې دا غیر متعلقه، بې کاره او فضول څیزونه راجمع شوی دی ـ او هغه څې دې معزز عدالت ته وړاندې کړیدی ـ هغه د دې معزز عدالت د سپکاوی برابر دی ـ لیکن اوس چونکې دا ټول د عدالت په ریکارډ کښې راغلی دی ـ دې د پاره زهٔ کښنم چې د دې جواب اوکړے شی ـ اوچې دا شان د دې ذهنی کمزورې کوم چې د حکومت د څېرونو په ذریعو سره کړے شوی یو اوچیزه پروپیګنډې نه پیدا شوی دی ـ لرې کړے شی .

موږ به وړومبے د داوُد خان تقریر واخلو زهٔ د مناغلی بهتی سره پوره اتفاق کوم ـ چې کله هغهٔ ته په افغانستان کښې د انقلاب نه سمدستی پس د داوُد خان په تقریر باندې د څهٔ ویلو د پاره اوویلے شول ـ نو هغهٔ جواب ورکړ

و ـ چې ، داؤد خان څه نوې خبره نه ده کړې داخو هغه خبره ده کومه چې د افغانستان حکمرانانو د اګست ۱۹۴۷ع یعنې کله چې پاکستان جوړ شوے دے ویونکی را روان دی ۴ خبره داده چې داؤد خان د جولائي ۱۹۷۳ع تقریر د افغانستان د بادشاه د هغه تقریر کوم چې هغه هرکال د افغانستان دیوم استقلال په ورځ کوله ، بالکل هم د کاربن کاپي وه ـ دلته یو ښکاره اوصفا سوال کېدلے شي چې اخر مباغلي بهتو د دې تقریر پچلله ضرورت ۱۹۷۵ع کښې یعنې د دې تقریر په ورځ مے څه کولو نه تقریباً دوه کاله پس په یو څه داسوچ ولې اوکړو ؟ بیا د هغه په طریقه کښې دا بدلے ولې راغے ؟ کله چې د دې نه مخکښې مباغلي بهتو د داؤد خان د دې تقریر د دفع کولو کوښښ اوکړو ، اوس هغه داد پاکستان په ګوښه چاروکښې دا کوتې وهل ګرځوی ـ

لکه څنګه چې ما پورته څه وئیلي دی چې مباغلے بهتو د خپل ملک خلکو ته دا تاثر ورکوی ـ چې هغه په پرو او اوچتو الوتو کوی ـ د کوم ځایه چې هغه د نورو ملکونو پالیسي د نورو په مقابله کښې ښه کتلے شي او د دې جائزه اختلے شي ـ او دا چې هغه ته د خپل کورنۍ سیاست ته د هغه تش په نوم دسازشونو نه کوم چې د ده خلاف او د ملک خلاف کېږي ـ مربوط کولو دی په دې حقله بعضې وخت هغه بعضې وېرې دلچسپي او مزېدار خبرې اوکړې د مثال په طور کله چې د ربوې حادثه پېښه شوه ـ هغه د خپلې دې برتري کولو خواهش پټ نه کړے شو ـ او هغه سمدستي دا بیان ورکړه چې د ربوې د دې حادثې دهندوستان د طرف نه د شوې ایټمي چاودنې ـ د ولي خان په کابل کښې د موجودګۍ او د داؤد خان د روس د دورې سره د پېل نزدیک تعلق دے ـ په نورو ټولو کښې د دې مطلب دا شو ـ چې ولي خان په کابل کښې په نامسته د ربوې د حادثې بند وبست اوکړو ـ بیا هغه هندوستان

ته د ایټمي چاودنې دپاره اووې - بیا ځې روس ته حکم ورکړو - چې هغه داؤد خان ته د دوې بلنه ورکړي - او داؤد خان ته ځې اووې : چې هغه د روس په دې دوه لاپښي - زما پوره یقین دے چې ښاغلی بهتره ته دا پته وه - چې ما د کابل د سترکو ماصر داکټر ته په لنډن کښې د خپلې سترګې د اپریشن نه پس د دې معاینې کول او د دې رپورټ ورکړ - فیلډ د سترګو هسپتال لنډن ته خپل سرجن داکټر ته لیږل وُ - زما په کابل کښې ایسا تیادې دپاره اوږده شوه - چې زما بینې کومه چې د خپلې خور او زما هرکلی دپاره کابل ته راغلې وه - ناڅاپه سخته ناجوړه شوه - او هغې ته په هسپتال کښې اکسیجن ورکول کیدے شو - یقیناً چې ښاغلی بهتره ته په دې کښې هم سیاست ښکاریدهٔ - هغهٔ ته د خپلې کرسۍ د بچ کولو دومره زیاتې پریشانۍ وې چې هغه ګڼې - چې پخپله د هغهٔ په خپل ملک او د ځانه ښه ټولو دنیا کښې د خورو شوو خلکو د دې نه سیوایل کار نشته - چې حضرت به هغه د هغه شاهي محل نه په کوم چې د ناستې دپاره دهٔ څومره ساز بازکړے وُ - ساز شوینې ځې کړی وو - تر دې چې خپل نیم ملک ځې پرې قربان کړو - بهر به ځې ترې اوباسي - داځان چې که نن لنډن پلان دے - نو بله ورځ روسي ویسله ده - او دې پسې بله ورځ عراق سفارتخانه ده - بیا د هندوستان سازش او د افغانستان سازش د دې ټول مرحلهٔ د هغهٔ د سیاسي مخالفینو د بدنامولو د پاره استعمالول په کار دی - چې داځان غیر ملکونه دد وې خپل دننې سیاسي ساز شوني سره وترلې شي.

زما افغانستان ته څوځله راتلل هم دغه شان وپاندې کړے شوید ی لکه چې هغه د مملکت خلاف دیو سازش شوروی - اګر چې ښاغلی بهتره ته پته ده - تر دې چې هغهٔ د قامي اسمبلۍ په ایوان کښې هم د دې ذکر اوکړو - چې زهٔ د سترګې پخوانے ډېمارېم دکومې دپاره چې باقاعده اوبیا بیا دکتنې

ضرورت دے۔ تر دې چې هغه د طبقې معاملې د پاره مانه د سهولتونو راکولو
د احسان پیغور هم راکړو۔ دلته مانه دیوې خبرې بالکل د وضاحت کولو اجازه
راکړئ۔ چې زه خپل خان د ملک د وفادارۍ او د دې سره د محبت په معامله
کښې د چا په مقابله کښې په دویم نمبر نه ګڼم۔ او یقیناً چې مانه دیو طرف او
سړي نه "خداې" دې کړي چې هغه خومره په اوچته شهده ولې نه وي
د ولس سره په محبت او وفادارۍ کې سند اختلې ضرورت نشته۔ او که
بناغلے بهټو امریکې، چین، روس او افغانستان یا بل طاقتې ته تلے شی
نو آخر ولې خان ولې نشی تلے؟ او په دې اعتبار سره ولې د پاکستان پوښتل
او مسئله ونکے نشی تلے؟ "ایا زه دا معلومول غواړی تلے شم۔ چې د فیلډ مارشل
ایوب خان دکابینې نه د خپلې برطرفۍ نه پس بناغلی بهټو څو ځله افغانستان ته
سفر اوکړو؟ "اوس به زه دې سوال بالکل صفا واضحه او ټهیک جواب غواړم
چې "ایا دا یو حقیقت نه دے۔ چې د پیپل پارټۍ چیرمین بناغلی بهټو د خپلې
پارټۍ د سنټرل کمیټې یو اجلاس په کابل کښې دکولو د پاره راغوښتے وُ؟ او
د دې نه هم زیات دا حقیقت دے۔ چې بالکل د بناغلی بهټو په شان خیالات
او سوچ لرلو والا یوه پارټۍ په افغانستان کښې هم وه۔ کوم چې د ځانې
یو پخوانۍ وزیر اعظم محمد هاشم میوند وال جوړه کړې وه۔ او د دې درېو
نومونو۔ جمهوریت د دې سیاست سوشلیزم د دوې محیټ، او اسلام د دوې
مذهب "د بناغلی میوند وال د اړخه د هغه د دې سیاسی پارټۍ د بنیادې
اصولو په حیث د ټولو نه اوّل اعلان کړے شوے وُ۔ بناغلی بهټو دا نعره
د دې نه پس خپلې کړې او اختیار یې کړه۔ د پیپل پارټۍ جنډه هم د
هاشم میوند وال د جنډې واخلے شوه۔ او د پیپلز پارټۍ په جنډه کښې
رنګونه هم بالکل هغه وُ۔ کوم چې د دې افغان سیاسی پارټۍ په جنډه
کښې وو۔ البته د دې په ترتیب کښې فرق وُ۔ د دې دواړه پارټیو

یو والے او په خپلو کښې مشابهت دومره پورې ؤ - چې د دواړه پارټیو د اخبارونو نومونه هم مساوات وو - اوس د تخیّل د یوې زمانې نه تر لرې د پرواز لاندې هم دا معامله په دوو کاونډی ملکونو کښې اتفاقاً یو شان اوهم په خپلو کښې د مشابه سیاسی سوچ کښې وتړ شی کیدے - نه پتوس کوم چې ایا دا قول چې د یوې منبع او مصدر نه راغلی هدایات او دې سره د ملاویدو والا اشاره خو نه ده ؟

په دې حقله د یو تولګی لپاره د داؤد خان د حکومت د تختې اړولو کوشش په کوم چې هاشم میوندوال دې نه زیات ککړ ؤ - او په کوم کښې چې د بهتو د پاکستان په پرده کښې د کګړ کیدو طرف ته صفا اشاره شوې وه - دا قول څه داسې حقیقتونه دی - کوم چې د داشان سمدستی نظر انداز کیدلے نشی - دا خاص طور دې د پاره چې د داؤد خان د تختې اړولو د دې کوشش او د دې د ناکامۍ نه سمدستی پس مباغلی بهتو د پره زیاته د جنګ جګړې رویه خپله کړله - د دې نه پس د مباغلی بهتو د قبائلی علاقې د دوړې اراده اوکړله - او بغیر د څه ظاهري سبب په نظر راتلونې په علته جذبات لپاروونکی تقریر وغیره اوکړله - او په دې کښې مباغلی بهتو دومره سپکه او نامهذبه ژبه استعمال کړه - لکه د مثال په توګه په یو تقریر کښې صفۍ اوویل :

اے داؤده یک یک بند کړه کښې نومونښ به خپله جنده، به کابل والګووؤ - دا ده ژبه کومه چې د یو ملک وزیر اعظم د یو مسلمان کاونډی ملک د مشر خلاف استعمالوی - او کله د دې خلاف په جواب کښې څه کار روائی کولے شی - نو دا جوابی کار روائی د نیپ خلاف قانون کړنو لوکانی وجه شمیرلے شی - د دې یو کاکړ او د دې یو پاکستان تر منځ زیاته جنګ کیږی او د صفۍ سزا به په نیپ او ولی خان باندې

ورتپلے شی ـ دکابل د دې پرو پیکنډې د مهم پخلۍ دوې څنډې وټلے شی او زمونږ د ملك خلکو د دا تأثر ورکولے شی چې دا صرف دکابل ریډیو دے کوم چې د پروپیکنډې دا مهم چلوی ـ حالانکې خبره داده ـ چې دا په نظر راځی ـ چې زمونږ ریډیو دو سترنې پیښور اوکوټه ددې نه زیات نور هیڅ نه کوی چې هغوی د پروپیکنډې دا مهم جاری اوساتی ـ اوس که بهتر د ملك د وزیر اعظم په حیث هغه الفاظ استعمالولے شی ـ کوم چې ما اوس پاس بیان کړل ـ نو یو سړے په سمه توګه دا تصور کولے شی ـ چې هغه خلك کوم چې په کښته سپکاری توکړو کښې دی ـ هغوی خومره لرې او خومره نښته پورې تلے شی .

لیکن نښاغلی بهتو د تقریرونو په خپل دې مهم کښې صرف د سپکې ژبې د استعمالولو تر حده پورې پاتې نشو ـ بلکې هغه خو دې نه هم یو قدم وړاندې لاړ او وې وې :

"که رنجیت سنګهه په جلال اباد حکومت کولے شی نو مونږ ولې نه شو کولے" دا شان هغه په افغانانو سپکاره کړه ـ چې هغوی د پاکستان د حکومت په ضد باندې دی ـ او هغوی فتح کولے شی ـ او یو نوابادی یې جوړولے شی کله چې هم نښاغلے بهتو او غواړی ـ دې دپاره که هغوی خپله خرمن بیج کول اوغواړی ـ نو هغوی نه په تیار او سنبال وی ـ دا شان که هغوی خپل خاوند پاکستان باندې د نښاغلی بهتو د جنډې لاندې ونه محفوظ کول غواړی ، نو هغوی نه به خپل ملګری او دوستان کښل پکار وی په چا چې اعتماد کولے شی ـ چې هغوی ددوی د مدد او حفاظت دپاره راتلے شی .

دلته زه په نښاغلی بهتو الزام لګوم ـ چې هغه مبنډ په سوچ او فکر د جنګ فضاء پیدا کوی ـ کله چې زه کابل کښې وم دا اسلامی ملکونو سکرټری جنرل حسن التهامی کابل ته راغے ـ دا نښاغلے ما سره هم ملاؤ شو ـ او د خپل دې ملاقات په دوران کښې هغوی ماته اوویل : چې داؤد خان هغه نه

وئیلی دی چې د هغهٔ د پاکستان سره د بلوچو او پښتنو د خپلو مسئلې نه علاوه نور څهٔ اختلاف نشته - او دا چې د افغانستان د پاکستان نه د څهٔ علاقې غوښتنه نشته - بناغلي تهامي مانه اووې : چې هغه د تولو مسلمانانو بادشاهانو د پاره عام طور او مرحوم شاه فیصل ، انورالسعادات او شاهنشاه ایران د پاره د داؤد خان دا پیغام د خان سره اوړي - چې پاکستان ته د بلوچو او پښتنو سره څهٔ روغه جوړه کوئ پکار دی - او د دوئ ترمنځه چې څهٔ ضم روغه جوړه لوښی - نو هغه به د داؤد خان د پاره منظور وي - اوس بناغلي بهتو د قبائلي علاقو د وړ اوهلته د دې راپاروڼکی تقریرونو کولو فیصله هغه وخت کوي کله چې د مسلمانانو ملګرتو مشران د دې مسئلې په حل کولو کښې لګیا دی - مولانا شاه احمد نورانی څرګ چې د بناغلی تهامی سره د هغهٔ د کابل د دورې نه پس ملاؤ شوے وُ - مانه اووې : چې بناغلی تهامی هغهٔ ته وئیلی وو چې داؤد خان د بناغلی بهتو د تقریرونو د لهجې او تېزۍ نه دوښ خفه دے - او اوس هغهٔ لږ، مختلفه رویه خپله کړېده - غالباً چې داؤد خان د بناغلی بهتو د تقریرونو د دهرې ډکې وړکې شوې لهجې ته د بناغلی هاشم میوند وال د طرف نه د هغهٔ د حکومت د اپولو د کوشش په ریښا کښې کتل - او ظاهره ده چې د دې په همدا جوړې عمل وُ.

داخبره په صفا ټکو کښې منکاڼ کوی چې د داؤد خان په پاکستان باندې د څهٔ علاقې دعوی نشته.

ما د بناغلی حسن التهامی سره د خبرواترو په ریښا کښې د قامی اسمبلۍ په ایوان کښې دا چیلنج وکړو - او س مونږ دې اعتراض ته راځو چې افغانستان د پاکستان په کومو چارو کښې ګوتې وهی - نهٔ به په شوروکښې دا واضحه کړم - چې صرف افغانستان یواځې نهٔ دے - په چا چې دا الزام لګولے شی - مونږ د پښتو او ګډې نه خوږوونکې د پښتو پروپیګنډ

واورو - نو مونږ به په دې نتیجه اورسو - چې د دې ریډیو سټیشنونه خاص کر د کوښتې د سټیشن نه چې څه ځوریږي - د هغې مواد او لهجه به په مشکله داسې وي - چې دوستانه جوابي عمل پیدا کړي .

مونږ کتلی دی چې څنګه څنګه د تیکنالوجۍ په اعتبار سره دنیا وړاندې ځي - او د سفر او سیل سپاڅې او مواصلاتو وسیلې منځ کښې انساني نسل په مزه مزه لیکن درجه په درجه د یوې ورورولۍ شکل اختیاروي او د دنیا په هره حصه کښې کیدونکې واقعه په لږ وخت کې په ټولو ملکونو کښې جوابي عمل پیدا کوي - دا ردِ عمل که خوشګواره وي او که ناخوشګواره - عالمي ورورولۍ د رنډې اونسل په امتیاز باندې اعتراض کوي - خواه که دا امتیاز په سهیلي افریقه کښې وي - یا روډیشیا کښې من د دنیا د مختلفو خلکو تر منځه د رنډې نسل او عقیدې په بنیاد هیڅ امتیاز او فرق نشي برداشت کیدلے - بالکل همدا شان په عالمي طاقتونو کښې د یو طاقت د طرف نه څه قدم - لکه چې امریکې په سهیلي ویتنام کښې اوکړو په ټوله دنیا کښې کیږي چاپیره یو جوابي عمل پیدا کوي - د مشرقِ وسطیٰ جګړه او دا شان نور واقعات، نور ملکونه مجبورووي - چې صفونې په داسې معاملو کښې یوه خاصه رویه اختیار کړي - مونږ خلک په پاکستان کښې په دې لحاظ د ډیر خوش نصیبه یو - چې مونږ سره بنا غلے بهټو موجود دے - څوک چې د خپل ملک په مقابله کښې د نورو ملکونو په کارونو کښې همیشه زیاته حصه اخلي - او په دې کښې د ټولو نه زیاته د مزې خبره دا وه چې هغه په دې معاملو کښې خپل اعلانونه عاموجلسو ته د خطاب په وخت په خپلو تقریرونو کښې کول څرګندوي - دا بنا غلے بهټو وُ - چا چې دا زما د کشمیر په دوسه کښې هغه خلکو ته څوک چې د کشمیر د هندوستان په حصه کښې اوسیږي د هر تلک کولو دپاره اووې - تر دې چې هغه د دې

نه هم وړاندې شو۔ چې هغهٔ د کشمیر د دې حصې نه رضاکار اوغوښتل چې مغوږې پاکستان ته راشي۔ دلته به مغوږې ته د ټاولې کارونو ټریننګ ورکولے شي۔ او دا اعلان او وړان کارو ته د ټریننګ ورکولو د اپیش کټ ئې د یوې عامې جلسې په تقریر کښې اوکړو۔ دا شان بناغلی بهټو د ترکۍ مریسته اوکړه کله چې هغهٔ خپل وسله بند فوځونه په قبرص کښې د یونان خلاف اولېږل۔ او د دې خبرې اعلان ئې اوکړو۔ چې په قبرص کښې اوسیدونکو ترکو د حقونو د حفاظت په خاطر ترکو ته د خپلو فوځونو لېږلو پوره حق حاصل دے۔ د فلسطین په مسئله کښې د دنیا د ټولو ملکونو نقطهٔ نظر چې صفا او بېباکه دے۔ او بناغلی بهټو خو مخکې یاسر عرفات پوره په لاهور کښې کېدونکې د مسلمان ملکونو د سربراهانو په کانفرنس کښې د فلسطین د آزادۍ د تحریک د مشرۍ کولو د پاره راغوښتے وُ۔ بناغلی بهټو په افغانستان کښې د اوسېدونکو مختلفو قومونو د حقوقو متعلق هم خبرې کوی۔ تر دې چې بناغلی دا تجویز اوکړو۔ چې د افغانستان پښتنو ته په پاکستان کښې شاملېدل پکار دی۔ ولې چې په پاکستان کښې پښتانه په زیات شمېر کښې دی۔ وغیره وغیره۔ پاکستان په بنګله دېش کښې د خلکو د خراب حالت ذکر کوی۔ او په آخر کښې دا چې مخکې بهټو د ایران د بادشاه په بلوچستان کښې عملاً دخل وهلو د مرکه حق په جانب اوګرځوله۔ لکه چې ما هغه وخت وضاحت کړے وُ۔ که تاسو ایران ته په پاکستان کښې د مداخلت حق ورکړئ۔ نو تاسو به د نورو دپاڅ هم دا دروازه ایښې کړئ۔ او خاصکر د افغانستان دپاره۔ هغه د دې دپاڅ چې د کاونډې او مسلمان کېدو نه علاوه د دهٔ یوه بله دعوی هم ده۔ ولې چې د سرحد دواړه طرف ته پښتانه آباد دی۔ او د بناغلی بهټو د بیان مطابق د افغانستان د پښتنو په مقابله کښې په پاکستان کښې د اوسېدونکو پښتنو شمېره زیاته ده۔

دا شان دا وېر عجیب دلیل دے۔ چې بناغلی بهټو ته د قبرص د

ترکو د حقونو د پاره د جنګ کولو پوره حق حاصل دے - تر دې چې هغه د روډیشیا او سویلی افریقې د مقامی اباديه د پاره د خپلواکۍ غوښتنه کوی - نو خو نور چې هغه په هند وستان کښې د سکنډ د حاکم چوګپال هم ملګرتیا کوی - بیا چې کله هغه یو مسلمان ګاونډی ایران له اجازه ورکوی چې هغه دا حکم ورکړی - چې کومه پارټی دې د پاکستان په کومه صوبه کښې حکومت اوکړی (د انتخابونو د نتیجو باوجود) او هغه یو بل مسلمان ګاونډی افغانستان باندې اعتراض کوی - کوم چې د خلکو د جمهوري حقونو د بحالۍ د پاره وینا کوی - یو بل اعتراض د ډیورنډ د کرښې چټله د افغانانو په روښ اوچتولے شی - اوس د دې مسئلې دوه اړخونه دی - یو اړخ خو ځپ پخپله د ډیورنډ کرښه ده - اوس چې ترکومه د ډیورنډ د کرښې تعلق دے - افغان د دویم افغان جنګ د خاتمې نه راوخلې تر اوسه پورې په دې باندې برابر اعتراض کوی - تر دې چې امیر عبدالرحمن خان چې چې د دې معاهدې او د حد بندی په سمجهوتې باندې دستخط کړے وُ - په ډیورنډ کرښه اعتراض اوکړو - او د دې خلاف ئې احتجاج اوکړو لیکن زبردست او طاقتور برطانیې د روسی حملې خلاف د خپل سلطنت د حفاظت ترمخه د کمزورۍ او بیلات خوږلی قوم د مطالبو او دعوو څه د پرواه او نه کړله - د امیر عبدالرحمن خان په الفاظو کښې د افغانانو په وجود باندې تپر ښه ږی - او د دوئ یو انډام دیل انډام نه بیلوی او ځی وغیره وغیره - افغان حکمرانان وخت په وخت برابر په دې کرښه اعتراض اوکړو - کله چې هم هغوئ ته د برطانیې د حکومت سره د دې مسئلې د اوچتولو موقع ملاوُ شوه - په اصل کښې په دې معامله کښې صرف د خپلو سامراجي مفادانو د محفوظ ساتلو زیات خواهش وُ - او هغوئ د حد فاصل د اکرښه ترکومې چې هغوئ ته د غیر محسوسولو او نظر کښې دنه

راتللو والا جوړول ممکن وو - جوړولو کوشش اوکړو - د دواړو ملکونو تر منځه په تجارت، کرنې او سکې باندې څه بند یزونه نه وو - د افغانستان تمول تجارت د هندوستان په لاره کېدلو - تاشقند، بخارا او وسطي ایشیا د علاقونه د مغولو په کمیونست لاسونو کښې د تلونه پس د سوونو نیولو تجارتي لارو په ذریعه تجارت کولو باندې په یو شان پابندی لګولو باندې زور اچولو سره انګریزانو غوښتل چې افغانان دامو دریاب نه اخوا د روسانو سره د څه قسمه تعلق او نه ساتي - د افغانانو پوره په پوره د بهرلېږلو او راغونښتلو تجارت ټ د هندوستان طرف ته کړو - انګریزان د خلوص وار طرف نه په اوچه کښې د دې کېږ ملک د ژوندې په لاره باندې قبضه دار وو - او مغولو همېشه هغه د هر دباؤ منې نه کله چې هم مغولو اوضاوو په تاثیر مجبورول. تر دې چې افغان پا وندو ته به د بهار په موسم کښې صوبه سرحد ته د راتللو اجازت ورکولے کېدهٔ - چې مغولو د خپل ځاې د سختې مخنیو د تکلیفونو نه بچ شي او دلته زمونږ سره د خپل ځان د پاره رونق اوګټي - کوم ځاې چې د خټې د کچه کورونو جوړولو او د اوبو نالې او لخټې کتلو او صفا کولو د پاره د مزدورانو سخت کمے وو - د دې نه علاوه د دې قافلو په ذریعه د افغانستان او هندوستان تر منځه د تجارت سامان د دې خوانه اخوا او د اخوانه دې خوا د وړلو او راوړلو عام اجازت وو - او دا سې د زرګونو په شمېر کښې دا پښتانهٔ د سرحد د پښتنو سره د هغه وخت نه چې ته زیات وخت کوم چې به عام طور مغولو په افغانستان کښې تېرولو - د تېرولو د پاره دلته راتلل - دا شان په دې لحاظ چې ترکومه د دې عام سره تعلق وو - دوې ته د دې ورته کرښه د پره کمه محسوسېدله.

نن مونږ ګورو چې بنا غلے بهتو هغه څه دوباره کوي - کوم چې د د ۱۸۴۱ء نه تر لګې قیوم خان د شلو کالو نه څه مخکښې دوباره کول. کله چې په ۱۹۳۷ء کښې د ډاکټر خان صاحب وزارت بالکل هم په دا شان حالاتو کښې بر طرف

کړے شوے وُ۔ لکه څنګه چې ده ٔ په بلوچستان کښې د میښګل وزارت برطرف کړے شوے دے۔ ۵ دواړو ته په خپلو خپلو اسمبلیو کښې په دربو و کښې د ددوُو اکثریت حاصل وُ۔ ۶ قیوم خان د سرحد په وزارت کښې خپل پوزیشن مضبوط غوښتل۔ دا ٔ شان د خدائ خدمتګارو خلاف کارروائ کولو سره هغه ٔ التزام اولګولو۔ چې داخلاک د پاکستان مخالف دی او خپل آزاد او خپلواکه ریاست... پښتونستان جوړوی۔ په دې دوولن کښې د پاکستان او افغانستان تعلقات خراب شول۔ موښ ځ ٔ په جبلونو کښې واچولو۔ او داشان موښ ته ځ ٔ خپله معامله درجه نه پورې غاړې د رسولو د موقع نه محروم کړو۔ او زموښ خلاف ځ ٔ اخبارونه په یو اړخیز پروپیګنډه کښې اخته کړل۔ افغانانو ته ځ ٔ یو اوبنده چې وګڼه چې هغوی ځ ٔ پرې پاکستان اوښې۔ داشان افغانانو د قیوم خان د خپل مطلب او خالصتاً د غیر وطن دوسته پالیسونه فائده اوچته کړله۔ او د قیوم خان الفاظ ځ ٔ صحیح کنټرول سره هغوی ځ ٔ د هغه پښتو کیسونه خوښ چې په جبلونو کښې بند وُو۔ د بې شرمیو او بې عزتیو نخښه جوړه پاته ل۔ او (چارسدې سره نزدې) بابړه کښې د کډونکی قتل عام وغیره سنګار شول۔ وکالت کوُله شورو کړله۔ په کابل کښې د پښتونستان تحریک په ۱۹۵۲ء کښې شوروشو۔ کله چې موښ په ۱۹۷۳ء کښې اوښیولے شو۔ وروسته بیا د پاکستان حکومت د پاکستان په لاره د کډونکی افغان تجارت باندې پابندی اولګوله۔ او داشان روس د هندوکش په غر کښې د ۱۹۷۹ء موښ ځ ٔ د کښتلو د افغانستان امداد له راوسپدلو۔ چې هغوی په تجارت باندې د لګښتلو پابندیونه افغانستان بچ کړی او محفوظ ځ ٔ کړے شی دا وړومبی موقع وه چې افغانانو د دیورنډ د کرښې تکلیف او د خپل معیشت بلکې پخپل ځوند د دې عمل دخل محسوس کړو۔ وروسته چې بیا د پاکستان حکومت د پاونده اسټ په داخلیاتو ځ ٔ د پابندیو لګولو حکم وکړو۔ نو د اول نه چې کومه د عمل سلسله شوروشوې وه هغه پوره شوه۔ نو دې

چې يو عام سړی هم دا محسوس شوی کړل چې واقعی د ډیورنډ کرښې نوم څه جدا کړونکی شے ښکته دے ـ دا احساس او شعور په زور په افغانستان باندې ور اوتپلے شو ـ دې ته صرف اتفاق لښی ویلے چې نن بنا غلے بهتو افغانستان یوځل بیا په دې جګړه کښې د ککړولو کوښش کوي چې دے صرف خپلو سیاسی مخالفو له تکلیف ورکړے شی ـ د ډاکټر ډډ سیاسی مشیر هم هغه قیوم خان پخپله موجود دے ځوک چې ملک د افغانستان سره د جګړې طرفته وړدیکی ـ په پاکستان کښې د موجوده پښتنو دښمنه یو سوچ کړے شوے او فیصله کړے شوے شعور پیدا کړلے شی چې د افغانستان د پښتون نه سیوا د هغوی بل ځوک دوست نشته ـ یو تحریک کوم چې د خپل جوړښت او کردار له مخې قامی دے افغانانو باندې هغه وړتیلے کښې ی په کوم کښې چې به هغوی نه د خپلې بقا او سلامتیا د پاره خامخا جنګ کول وی ـ او د آزادی د پاره که چرې هغوی کومښې نه او پاڅې نه ، نو بنا غلے بهتو به په کابل باندې خپله جنډه اوکوی .

اوس تر کومې چې د ډیورنډ د کرښې معامله ده ـ صرف افغانان نه دی چې په دې اعتراض کوی ـ چودهری رحمت علی ځوک چې د پاکستان د تصور بانی وو ـ په خپل کتاب « پاکستان د پاک قام د پلار نیکۍ وطن » کښې په صفحه (۲۷) باندې د ډیورنډ د کرښې پخپله لیکی :

"اوس که تاسو قبلې طرفته لاړشئ هلته یو سیاسی قام د ښمنه او غیر فطرتی افغانستان او افغانیه (صوبه سرحد) د یو بل نه جدا کړونکې د حد بندی کرښه ده "

اوس د نظریۍ پاکستان واحد محافظ او نګران او د سرحدی علاقو د چارو پخپله د بنا غلی بهتو د موجوده مشیر او د کورنۍ چارو پخپله د وفاقی وزیر عبدالقیوم د یو تقریر نه یوه ټکړه وړاندې کوم ـ دا ډه په چارسده کښې په زیم نوم کلی کښې په یوه عامه جلسه کښې د تقریر په وخت دا الفاظ اووې

مغربي اوږه چې د پاکستان او افغانستان تر منځه مصنوعي حد فاصل د ډیورنډ د کرښې په شکل کښې موجود دے - دا چې څومره زر ختم کړے شی هغه هومره د دواړو ملکونو په حق کښې ښه ده " وړځپانړه مشرق پیښور جون ۱۹۶۵ء - ۱۰ یا

ایا زه د دې تپوس کولو حق لرلے شم چې کله بنا غلے بهتو د افغانستان پښتنو ته په پاکستان کښې د شاملېدو دپاره وائی - ولې چې دده په نزد په پاکستان کښې اوسېدونکی پښتانه په زیانه شمېره کښې دی - نو د دې نه د هغه څه مراد دے؟ او دا تجویز او دعوت په څه باندې دلالت کوی - ایا د دې نه د ډیورنډ د کرښې نفی نه شی کېدلے؟ اوکه دا نه وی نو څه دی ؟

د بنا غلی بهتو پهقله مصیبت دا دے - چې هغه په یو مخصوص صورت حال کښې په یوه خاصه موقع باندې پوهېږی او د ضابطې د اعلان کولو د پاره هر وخت تیار اوسی - کوم چې روستو ظاهره ده - د پرېشانیو پیدا کولو وجه شی. او بیا دیر ذهین، قابل او تېز سیاست دان په حیث هغه نه دخپل اولنی موقف د قطعی او بلکل مخالف موقف اختیارولو کښې بالکل څه ګرانه نه وی - په دې حقله یوه واقعه د توجه قابل ده - بنا غلی بهتو نه د پاکستان د بهرنیو چارو د وزیر په حیث په ۲۲ جولائی ۱۹۶۳ء کښې په قومی اسمبلی کښې د نننه د ایران سره د حد بندی دیوې سمجهوتې د دفاع کول وو - هغه په دې باره کښې د تقریر په وخت اوویل:

" دا ټهیک نه ده چې پاکستان ایران ته د دې زره مربع میله علاقه ورکړي ده - مونږ ایران ته د ده د دې سوه مربع میله علاقه ورکولو باندې بضا شوی یو - په کومې چې برطانیې په زور قبضه کړې وه - کله چې مغربي پاکستان باندې حکومت کولو - د ایران حکومت په زبردستۍ د دغه قبضې باندې همېشه احتجاج کولو - ۱۸۷۱ء، ۱۸۹۶ء او ۱۹۵۵ء کښې برطانیې ایران د حد بندۍ

په معاهده کولو باندې مجبوره کړو - لیکن د ایران حکومت د دې معاهدو په بنا د حدودو مقرر ولو او مقرروونه همیشه انکار اوکړو - د پاکستان جوړېدو او ایران سره د ډیورنډ د دوستانه او ګاونډیتوب د تعلقاتو ترمخه د سرحدونو د دې مسئلې حل، کوم چې تاریخ حل کولو ته نه پرېښود - ممکن شوے دے.

RE-SHAPING FOREIGN POLICY 1948-1961 - Page 196-197

د بناغلي بهټو د پالیسۍ د اعلان په رښا کښې کوم چې د پاکستان د قومي اسمبلۍ په ایوان کښې شوے وُ، او دې د بحث لاندې مسئلې ته اوکښې شي نو د دې حد بندۍ د معاهدې په کومه کښې چې افغانستان د خپلې علاقې یوه حصه برطانیې ته په ورکولو باندې مجبور کړے شوے وُ - څه حیثیت پاتې کېږي ؟

دا ټول هڅې د ډیورنډ د کرښې مخالفه اوشو - اوس زهٔ د هغه الزاموونو طرف ته راځم کوم چې د اجمل خټک په لرکښې لګولے شوی دی.

په ۲۳/ مارچ ۱۹۷۳ء د پاکستان د جمهوریت دورځې په موقع متحدهٔ محاذ په پېښور کښې د یوې عامې جلسې اعلان اوکړو - چونکې هغه وخت د متحده محاذ د دوهمې په پروګرام کښې پېښور شامل نه وُ او د سرحد نیپ په دې جلسه کښې د شاملېدلو فیصله اوکړله او د متحده محاذ او ملګرو سره سره په دې جلسه کښې په ګډه شمېر کښې موږ شاملېدو اهتمام اوکړو - ما خاص طور د پېښور ۍ د دې جلسې په مسئله کښې د لچسپۍ لرلې وې چې څه موده وړاندې پې پې پې او د دې مشرانو د مختلفو خلکو پنجابیانو او پښتنو ترمنځه د ټنګ شبهې او جنګ جګړو د پیدا کولو سخت کوششونه کړې وو او د امونږ د سالمتیا او یووالی خلاف سخت کړدار کښلو - او محسوسولو مو - د دې د پاره زمونږ خواهش وُ - چې د څومره زیاتو نه زیاتو پښتنو راټول کېدے شي - نو چې هغوی په دې جلسه کښې د قومي اتحاد

او بیو والی د کتو دپاره راشی۔ چې هغوی د مختلفو سیاسی پارټیو اود پاکستان د مختلفو صوبو بلوچستان، سندھ او خاص کر پنجاب سره تعلق لرونکی لیډرانو د اتحاد هم په یو سیاسی پلیټ فارم عملی مظاهره اوویني۔ دا شان هغه سیاسی کار کوونکی او کتے شی۔ چې د پنجاب نه هم داسې لیډران مشته څوک چې د جمهوریت او وړو صوبو د حقونو دا جنټ کوی۔ نوابزاده نصرالله خان، میاں طفیل محمد، چوهدری ظهور الهی، سردار شوکت حیات ملک محمد قاسم دې جلسې ته تقریرونه کړل اوپښتنو نه د هغوی سره د خپل یو والی یقین ورکړل او په خپلو کښې په شریکه د دې شریک مقصد دپاره د جدّ وجهد کولو ددوی نه وعده اخستل وو۔ زمونږ په خیال صرف دا یوه لاره وه۔ د کومې په ذریعه چې مونږ د مختلفو صوبو ترمنځ اتحاد مضبوط کړے شو۔ لیکن پی پی پی ته په دې جلسه کښې خپل زاوال شکار پیدا کړل د دې جلسې ځایې د اشان د جلسې شورو کولو نه هم مخکښې چې لا مقامی خلک د جلسې ځایې ته را رسیدلی هم نه وو۔ په حاضرو خلکو کولې او وړلې شوې۔ په زرګونو کولې اووړلې شوې۔ اونګې بهیدونکی ګیسونه او اور لګوونکی بمونه استعمال کړے شول۔ لس سړی قتل کړے شول۔ او په درجنونو زخمیان شول۔ هغه بسونه چې پښتانه ځې راوړې وو هغه اوسوزولے شول او دا ټوله ډرامه داسې جوړه کړے شوې وه۔ د کومې چې مونږ سوچ کولو او غوښتله مو۔ داخلک ددې بالکل البته اثر پیدا کوی اول خو په دې جلسه د عملې نخښه د ملک د یو والی او سالمتیاوه۔ کومه چې په پښتنو شکاره کړے شوه چې هغوی ته د متحده محاذ د تقریرونو د اوریدلو هیڅ حق نشته۔ او داچې اسلام اباد او پینډی د پاکستان دارالخلافې کیدلے شی۔ لیکن دلته ستاسو دپاره هیڅ ځای نشته۔ او نه دلته تاسو ته د سر پټولو ځای ملاویږی شی۔

بناغلے اجمل خټک چې د اوخت د نیپ جنرل سکرټری ؤ ـ د جمهوري قافلې کومه چې د صوبه سرحد نه راغلې وه ټکوان ؤ ـ هغه زمونږ د پاټې نوم و په شان د چکوالو په باران کښې ؤ ـ او د ارباب سکندر خلیل د وینا مطابق اجمل خټک د یو خوان رضاکار طرف ته ټوک چې په کوڅه لګېدلے ؤ ـ ورمنده کړه او هغه ځپې په غېږ کښې راواخست ـ دې خوان د اجمل خټک په غېږه کښې ساه ورکړه ـ دا مار دهار ، قتل او وینې چې خپل کښې چاپېره اولیدې ـ نو اجمل خټک د ارباب سکندر طرفته ورېتاؤ شو ـ او هغه ته ئې اووې ـ د دې خوان خو ګناه ده ټوک چې د دومره لرې نه د قامي مشرانو تقریر اوېدلو ته راغلے ؤ ـ د دې نه پس اجمل د ارباب صاحب نه تپوس اوکړو ـ ایا دا ملک د دې جوګه دے چې په دې کښې خوک د عزت خاوند او خوږ ماړه سړے پاتې شی ؟ زه د جلسې د ملتوۍ کولو د اعلان سره سم د سوبه سرحد نه روان شوم چې د دې په راتلو بله حصه د کولو نه منع کړم ـ کومه چې په صوبه سرحد کښې د پښتون پنجابی د فساد ونو په شکل کښې شوړ کېدله ـ او د اسان د هغه بې ګناه پښتنو د قتل بدلې اخستې وه ـ په دې دوران کښې د پریشانه کولو والا خبرونه راتل شوړو شو ـ چې په تنګو او تیلړه کوڅو کښې د نالو او لختو نه لاشونه راوځی ـ د صوبه سرحد هر سړے د خپلو خپلوانو د ملاتې او د هغوئ د پټې معلومولو د پاره پریشان وو ـ زخمی پښتانه چې په هسپتالونو کښې وو ـ هسپتالونه ورته اوکولے شوې ـ او د هسپتال د ننه د دې پولیس په حراست کښې واخستل ـ کوم پښتانه چې ګرفتار شوی وو ـ د هغوئ شپږه تر سوړو رسېدله ـ هغوئ د پښتونې په علاقو کښې د پولیسو مختلفو تهانو ته اولېږلے شول ـ او هغوئ کوم ځایې دی ـ په دې خبره د حاکمانو نه هیڅ خبرنه ملاویږلے تر دې چې کوم خلک نیولے شوی وو ـ د هغوئ خپلوانو او د هغوئ پارټۍ هم هغوئ لاپته او ورک اوګڼل ـ او خیال ئې دا اوکړو چې هغوئ هم قتل کړے شوی دی ـ داوه د هغه بې یقینۍ او بې اطمنانی فضا ؤ په کومه چې مونږ په ټیو

خلک دا محسوس کړه چې اجمل خټک لا پته دے - او ددهٔ هیڅ پته نه لګی - موږ
ګنړلې چې شاید هغه پیپلز کار یا پولیس او فیډرل سیکورټی فورس د هغه
ځوانانو په لاس ورغلے دے - کوم چې دغه وخت د جلسې په ځای کښې موجود
وو .

ددې نه پس مونږ ته معلومه شوه - چې اجمل خټک ملک پریښے دے
او کابل ته تلے دے د پاکستان نیشنل د مرکزی کمیټې په ورځمیې اجلاس کښې
کوم چې ددې مارچ د میاشتې نه پس په اسلام آباد کښې اوشو - نیپ د اجمل
خټک سره خپل تعلقات ختم کړل - او سید قسور ګردیزی مرحوم ملتان نه د پارټۍ
جنرل سکریټری مقرر کړو - یقیناً د هغه وخت نه پس پارټۍ د اجمل د ځای عمل او
د ځای بیان د هیڅ قسمه ذمه واری نشی قبلولے - د مناغلی بهتر او د هغه د وکالت
کولو والاؤ نه ټپوس کوم - چې ایا هغوی اوس هم چې - اے رحیم د پارټۍ سکریټری
جنرل قبلولو نه تیار دی - او ایا هغوی د هغه د بیانونو او تقریرونو د ددې حقیقت
ترمخه چې هغه د پی پی پی ، د بانی غړی کېدلو دعوی کولې دے ؟ ټر دې
چې هغه اوس هم په ملک کښې ښکه دے - ذمه واری قبلوی - د ددې برخلاف
اجمل خټک په ملک کښې د ښه ښکه دے - او هغه د پارټۍ د سکریټری جنرل
کېدلو دعوی هم نه لری - بلکې د ددې برعکس د نیشنل سره شامل شوې خلک
دا منلې چې هغه خپله نیوه پارټۍ جوړه کړې ده - تر دې چې هغه د ولی خان په
پالیسو تنقید کوی - او دا تر دې حده لکه څنګه چې په عدالت کښې ورځ د
کړے شوی دستاویزونه ښکاره کوی - چې هغه د پی پی سره په یوه مرکه
کښې او وې : چې خان عبدالغفار خان او ولی خان به زما د خپل خپل سیاست نه
چې هغوی د پاکستان د ننه د بلوچو او پښتنو د حقونو د پاره جنګ کوی - زړه سترې
نشی - او د دوی ستر کې به پرانستے شی .

مونږ نه همیشه دا ټپوس کېږی - چې مونږ دا او وایو چې اجمل خټک

ولې ملاک پریښود ـ کسچې زهٔ دهٔ دوکیل په حیث ددهٔ د طرف نه بحث کوله نهٔ غواړم ـ او زهٔ دا کښوم چې هغه ددې بیانونو او تقریرونو او دهغهٔ د علوحدو حقهٔ حوالې یا مغې طرفته څهٔ اشاره د بحث لاندې مقدمې نه په مکمله توګه غیر متعلق ده ـ او هغه خلک د چاچې خیال دے ـ چې هغوی په افغانستان کښې د هغوی موجودګی د نیپ د خلاف قانون کرځولو جواز جوړ ولے شی ـ زما په خیال هغوی د عقل نه بلکل خالی دی ـ اوس چونکې په دې سلسله کښې د موادو پیوښلو دې عدالت ته وړاندې شوے دے ـ مونږ مجبور یو چې ددې تردید اوکړو ـ

د دې سوال جواب چې هغهٔ ملاک ولې پریښود ؟ د دروښم مارچ د عامې جلسې په دوران کښې د پښتونه په لیاقت باغ کښې ارباب سکندرخان ته چې هغهٔ څهٔ اووې : هغه ددې جواب دے ـ دا سوال د هغه لکهونو مهاجرو نه چاچې هندوستان پریښود ، او پاکستان ته راغلل پښتلے شئ ـ دا سلسله اوس هم روانه ده او بهاري مسلمانان د بنګله دیش نه پاکستان ته اوس هم برابر راځی او یا د راتلو کوشش کوی ـ که نیو حکومت په ملک کښې داسې حالات پیدا کوی ـ کوم ځایې چې د یو اوسیدونکی ژوند ، جایداد ، عزت او حقونه محفوظ نهٔ وی ـ نو په دې صورت کښې خو به هغه یاد یدنه طاقتونو سره مقابله کوی ـ یا به هغه د دې نه ځان بچ کړی او د ملکهٔ نه به اوځی ـ پخپله د اسلام مبارک دین دا لاره ښودلې ده ـ ولې چې پخپله رسول مقبولؐ هجرت کړے دے ـ لهکن په دې حقله د تولو نه حیرانونکې خبره داده ـ چې د هجرت باره کښې په پاکستان کښې د اوسیدونکو خلکو د طرف نه اعتراض کولے شی ـ تاسو د دې ملک په یوه حصه کښې او د دې څهٔ لرې پرتې علاقې یوکوټ ته لاړ شئ ـ تاسو به هلته خامخا څهٔ ناڅه مهاجر اومومئ ـ تاسو په پاکستان کښې د ژوند په یوه شعبه او محکمه کښې څهٔ ناڅهٔ مهاجر نهٔ مومئ ـ سیاسی مشران ، کارخانه دار ، لوی لوی سوداګر ، شاعر ، مصنف ، اخبارنویس او فوجی سیول افسر او عمله تهول مختصراً د پاکستان خپل وجود خو پامته داره دے ، د مهاجرو د غیر معمولی تخلیقی قابلیت او د هغوی

د کوششونو او قربانیو ، دې د پاره دلته د هغه سببونو کوم چې یو اوسیدونکی خپله پښه اوښت خاورې ته په مخه نه ښیولې او د خپلې پلار نیکه د وطن د خپلو سودونو کالو نارې تعلقاتو نه د خپل ټبر لو باندې مجبور کړي ، په کوټه کولو د پاره د دې ډې زیات کوشش ضرورت نشته .

د دې صورت حال نه چې کومې لازمي خطرې پیدا کیدلے شي - هغې طرفته زه برابر اشاره کوم - کله چې تاسو داسې حالات پیدا کړي - کوم چې د زغملو قابل نه وي - نو دا سیاسي خلک به خامخا ملک پریږدي - او د خپل نفس د عزت او د خپلو کورونو د عزت بچ کولو د پاره به هغوی تر آخري حد پورې ځي - کنه د معمول مطابق د جمهوري عمل د جاري کیدو اجازت ورکړے شي - او که د سیاسي کارکنانو د پاره د سیاسي هلو ځلو روایتي او رسمي طریقو پورې برابر رسائی وي او که د پي پي پي والو د بالغ ، پوخ او مهذب افسانانو په شان ژوندۍ اوسي او ژوندۍ پریږدي - طریقه خپله کړې وي - د اجمل خټک په شان خلک د ملک دننه د خپل سیاسي جدوجهد انټینې ، قانوف او جمهوري طریقوسره په جاري ساتلو باندې خپل ځان مجبور کړے وي - لیکن څه وخت چې نباغلے بهټو پورې په لاس کښې اخلي - او د کولمه په استعمال سره خپل ځان د فاتح جوړولو کوشش کړي - نو بیا د صورت حال د خلکو د پاره کوم چې د دې مخالف دې څې لاره پرانیځي . او د دې نتیجه خلک ، جګړې او د یو بل خلاف اودرېدل دي .

اجمل خټک خپل ټول بچ دلته پریښودل - او د ملک نه لاړو - نباغلي بهټو د هغه پوره کورنۍ اوښیولې - تر دې چې د هغه د خاندان د ټولو نورو کسانو سره د هغه ښځه او پېغله لور هم اوښیولې شوه - او سې داسې خلک کېدے شي کوم چې غالباً د داسې روپې پرواه او نه کړي - لیکن دا سې خلک هم شته - کوم چې د خپلو کورونو او خپلو زنانه وو - د حیاء او عزت بچ کولو د پاره خپل ژوندون ورکړي - د دې د کورنۍ سره چې کوم سلوک اوشو - دا په دې

حساس اوخود داوه خوان ختمك كښې څه جرابي عمل پيدا كوي - ددې اندازه لكول
ګران نه دی.

داهم الزام لګولے شوے دے چې زما نوم هم ملك پريښے دے او
تلے دے - زه تبوبس كوم چې ايا ددې نه سيوا هغه نور څه كولے شول ؟ اوشو
داسې چې مونږ تول زمونږ د زوم په كور كښې وو - زما پلار او زمونږ د كور تول
خلك هلته وو - د غرمې د روټۍ خوړلو نه پس وخت وُ - چې يوه نوكره په چغو
زنانه خاپړ ته په منډه راغله - چې پوليس د كور په دې حصه كښې راننوتے دے
ما سمدستې د كور نه بهر منډې كړې - او د پوليس سړې ته مې اووے : چې
هغه د زنانو خاپړ ته لاړ نه شې - ددې نه پس زه د كور د سړې حصې ته
راغلم - نو اومې كتل چې هلته د پوليس يو افسر ولاړ دے - ما هغه افسر نه اوږه
چې هغه ته دا معلومه ډل پكار دی - چې پښتون خپل ژوند وكول خوښوي
خو دا نه زغمي چې هغه دا شان خپلې زنانه بې عزته او ذليله او وينې - په دې حقله
دېره عجيبه خبره داوه - چې ما په علم جامو كښې دوه سوله سړي د پوليس والاوُ د
سړه او ليدل - دوستو ماته او ويلے شول - چې دا د دوئ د پيپل پارټۍ پټه
جاسوسان وو - او هغوئ پوليس سړه ددې د پاره كړے شوي وو - چې هغوئ د
پوليس په خلكو نظر ساتي - او كوي - چې حمله د وزير په حكمونو په پوځ ډول
عمل كوي او كه نه - په دې حالا تو كښې دا خوان (زما زوم) ته د هغه ځايه وتل
او خپل بال بچ ې او دوستو پريښودل وو - په دې خيال چې د هغه هلته په نه كيدو
به پوليس د هغه په كور چهاپه نه وهي - او د يو كور په عزت او د هغوئ په
ذاتي ژوند به اثر نه غورځوي - بيا دا چې كله دا خلقان كرفتار كړے شي - د
سي - ای - اے مارکې تكليف وركوونكي الو په ذريعه هغوئ ته د پنجاب پوليس
د شاهي قلعې په خاصو طريقو تكليف وركولے كيږي - دې د پاره چې تركومه
حده د هغوئ د پاره ممكن كېدلے شي - هغوئ به د پوليس په لاس كښې د راتلونه

بچ کېدل۔ بل طرف ته به چې پولیس دوئ ګرفتار نه ؤ کړے شول۔ نور پیپلز پارټۍ ذاتی جاسوسانو به په کورونو داشان دچهاپو وهلو انتظام کولو په دې دوران کښې به هغوئ په ذاتی کورونو کښې په زور ننوتل او د کورونو د زنانو ؤ حصّو بې عزتی به ئې کوله۔ په بعضو حالاتو کښې به هغوئ د زنانو و پورې د جامو تالاشی اخستله۔ دې خبرو ته چې به ئې کتل۔ نو تر څو چې به د هغوئ دپاڅ کېدلے شوه۔ داځوانان به پټېدل او د زمکې لاندې (انډر ګراونډ) به اوسېدل۔ لیکن کله چې به داسې سیول د هغوئ د برداشت نه بهر شول۔ یا به هغوئ نور د پټېدو نه د معذورتیا انتظام نه ؤ شو کولے۔ نو هغوئ به قبائیلی علاقې طرف ته لاړل۔ او بعضې به دې نه هم ولاړ شوې تر کابل تلل داځوانان به په خپله مرضئ نه ؤ تلل۔ هغوئ به په حقیقت کښې او د صحافه لحاظه دې صورت حال ته وې دیکر کېدل۔ خدائی خدمت کار د تېرو پنځو کلو راسې په عملی سیاست کښې دی۔ هغوئ به د تعاون نه ؤ کولو او سیول نافرمانه څو تحریکونه اوچلوول۔ لیکن هغوئ په دې ټول وخت کښې د تشدد نه ؤ کولو په پالیسی عمل کولو۔ د خدائی خدمتګار قیادت دا پرې لوبې کار نامه وه۔ چې هغوئ پښتنو ته د ګولې او توپک د یوې متیاد لې طریقې ښوولو او پرې به عمل کولو کښې کامیاب شول۔ ولې چې هر یو پښتون بالکل په لږه خبره چې توپک تاوچتوی۔ یقیناً چې هغه به د خپلو زنانه ؤ د څه قسمه بې عزتی نه برداشت کړی۔ بیا انګریزان هم د داسې خبرې څخه احتیاطاً لرې اوسېدل کوم چې د هغوئ ګولې نه د سیاسی جنګ په څای ذاتی جنګ جوړ کړی۔ د خدائی خدمتګار رضاکارو، کارکونکو او مشرانو تولو د سختو قیدونو، په د نه دوهلو او ګولو پورې په خپله مرضئ اوږه مقابله اوکړله۔ لیکن او س چې څه کېږی۔ دا یو نا اشنا څیز دے۔ مونږ ته د سیاسی بدل اختو داشان د ذاتی رنګ ورکولو د تولو نه په اول ځل په اګست ۱۹۴۷ء کښې د قیوم خان د

وزیر اعلیٰ جوړ بدلو نه پس سمدستی تجربه او شوه - او اوس مونږ هغه څیز یو ځل بیا وینو - دا یوه داسې تجربه ده - چې په هر یو سیاسی کارکوونکی به سبکاره کړی چې داځل چې کیږی - دا سیاست نه دے - په کوم کښې چې هغه ته د خپلو سیاسی حقونو د پاره جنګ کولو وی - او خپل قانونی او الیٰنی حقونه او موقعات محفوظ کولو وی - بلکې دا خو ذاتی دښمنی او شخصی جنګ دے - کوم څائے چې ددغه په مخالفه پارټۍ ددغه جامې اوباسی - اودے بربنډ کړی - او صرف دے نه بلکې ددغه د کور تر زنانو پورې یې اعزت او ذلیل کولو نه نه وېرېږی - داسې د هې بدل شوی حالاتو او د حکومت د هې خپل کړے شوی سیاست سره به هر سیاسی کارکوونکی ته خامخا ځان منلو ددې په نتیجه کښې په دوسره لویه پیمانه قبائیلی علاقې طرف ته د خلکو هجرت جاری دے - مخلصه، باشعوره او د قانون پابند سیاسی کارکوونکی او طالب علمان د قانون نه د مستکاری جوړ شول - او مغوړ د پناه ګزینو په حیث د قبائیلی علاقو او د هغې نه هم ولېندې د وطن په پرېښودلو مجبوره کړے شو - داسې تر کومې چې د خوانانو خلاف د جرمونو د موجوده مقدمو تعلق دے - هغه هم داخلک دی - د کومو غونے چې به تاسوته په دې کښې ملاوُ شی - لېکن د تولو نه زیاته خطرناکه لویه کومه چې بیغلی بهتو او د هغه د ضرورت نه زیات د جوش نه د کوه بچو او خوشامندیانو مشوره کړیده - داده چې داځل اوس صرف سیاسی مخالفت پاتې نه شو - بلکې داد ذاتی دښمنی او ذاتی جنګ یو حصّه اومنلے شوه - چرته چې مخالف نه صرف ستا ځان او جایداد اخلی - بلکې هغه ستا اوستاد ټول خاندان سره د زنانو په عزت هم حمله کوی - غرض داچې بیغلی بهتو د وینې دښمنو او پرله پسې د بدل اخستلو یوه داسې سلسله شوروکوی - د کومې چې صوبه سرحد او قبائیلی علاقې دوسره بلدې چې دې داسې د بیغلی بهتو پیپلز پارټی، قیوم لیګ او د دوی مشرانو د سیاست

دیو کتاب یوه نوې پاڼه اړولې ده - بښاغلی بهتو د یو وډیره په حیث د خپلو جګیړمارانه روایتونو او تربیت مطابق د لتو وهلو د پاڼې خپله غټه ونډه او اوږدې بوټان او کنځلو او بدو رد و وینا کې تر د پاڼې خپله اوږده ژبه دې زړه له استعمال کړې - دا څیز خو بعضې خلک په رعب او وډیره کښې راوستے او یرولے شی او هغوئ د دې نه او وډیږی لکه څنګه چې ما پورته ویلی دی - خپل وجود سمت پریږدی او ټول هرڅه برداشت کړی او خندا اخستے شی - لیکن داسې خلک هم شته - څوک چې به مخکښې لږ او وډیږی - لیکن چې څنګه د دې مقدمې نه لږ په حال شی - هغوئ په بد اوهنی - او بیا به جوابې کار رعلان کوی دکومې وجې نه چې دا صفا ساده سیاسی اختلافات زیات شول - او د یو جنګ شکل ې اختیار کړو - د سیاسی جنګ نه بلکې د ذاتی او شخصی قسم د جنګ - نو بیا خو دې خدایې پاک نه وویږ مل شی

زه دا خپله خبره صرف د خان عبدالغفار خان په یوه خبره چې هغه د پښتنو پرتله کړې وه ختموم - هغوئ ویلی وو :

« په میله خو به تاسو هغه دوزخ ته هم بوځئ - لیکن په زور نه زیاتې هغه جنت ته هم نشئ بوتلے »

بښاغلی بهتو د دې انتظام کړے دے - چې د دوئ د پلار نیکه دا وطن او د زمکې په دې ټکړه باندې دا جنت د دوئ د پاڼې واقعی چې یو دوزخ جوړ کړے دے - په کوم کښې چې هغوئ او د هغوئ مشران نو ته د مقبوضه اخبارونو په لیکونو کښې او د ریډیو او تیلیویژن په بیانونو کښې ، او مرکې (سوالونو او جوابونو) کښې ، نه صرف دا چې د مملکت سره د دوئ په وفاداره باندې شک کولے شی - بلکې د هغوئ د کافر بې دینه او کافر کښدلو څوک چې د پاکستان او اسلام په خرڅولو باندې هر وخت تیار دی - په صفا ټکی او په دا که اعلان کولے شی - او دا چې د تېرو اته ویشت کالو راسې د دې پښتنو او د دوئ د مشرانو

خلاف څه کښې ـ شیخ بیان، شیخ قول او اقرار او څه اعلان داخلك څوك چې د پښتنو خلاف دا څه کوی مطمئن کولے نه شی ـ د تابعداری او فرمان برداری په شیخ قسم د مملکت سو د دوئ وفاداری نشی ثابتولے ـ تر دې چې عام انتخابونه اود دې نتیجې ترکوې چې د بلوچستان او صوبه سرحد تعلق د ـ ـ د دوئ د پاره قبول نه دی ـ غرض دا چې ما پوزیشن دا ـ ـ ـ چې په پاکستان کښې مشغلی بهتو بلوچی او پښتنو ته هغه لار ښوولې ده ـ کوم چې هغه په دې ټاره لګولو بنګالیانو ته ښودلې وه چې:

(هلته تاسو دلته مونږ) ۔

په دې حقله چې نه کومه خبره بیانول غواړم - هغه داده - چې بلوڅ او پښتانه د یو داسې صورت حال طرف ته ورو ورو ځي دی - کوم ځانې چې دا په هیڅ شان هم سیاسي جنډه پاتې نه شي لکه چې دوی ځې کوي - بلکې دوی دا جدّي جهد په خپله دوی د بقا او سلامتۍ د پاره شوے وی - د دې ځایه سیاست په میلونو میلونو او کلونو کلونو وسته پاتې شوے دے د لوبو ټولې قاعدې او اصول بدلیږي یو طرف ته اینبی دی او اوس مریض ته کهلاؤ چهتی ده - او د چا په زړه کښې چې خه راځي کوی ځې . اوس پاکستان دې خوانانو ته د خپلو بچو په حیثیت کښې صرف داسې خپل جوړولے شي - که هغوی د دوی په سرتوب سرونو د پاسه د سرپرستۍ او مرستې د مینې او محبت ډک لاس کیږدی - خه بله پالیسي به خامخا د خوانانو مخالف جوړ کړي - او د دوی به د خپل ملک سره د کوم په پرېښودلو چې هغوی مجبور کړے شوی دی - د خپلو تعلقاتو کټ کولو باندې مجبور کړي - یو لږ وقوف هم په شبه شان په دې پوهیږي چې ظالمانه طاقت کله هم سیاسي مسئلې نه شي حل ګولے - دا د خه معاملې په اول کښې او تر خه وخته پورې خو دبلوولے شي - لیکن کله چې په اولس په زور جنډه ورو اوتپلے شي - او هغه هغوی د پاره د بقا او سلامتۍ شکل واخلي نو بیا زر یا پس د عوامو مرضۍ او اراده په ټولو د پاسه شي - د زیاتې خوږې طاقتونه بیلالت اوخوږي - او هغوی لرې اخوا کړے شي - نن سبا هوا په کوم خوا چلیږي ؟ د بلوچستان او صوبه سرحد د مختلفو کالجونو د طالب علمانو د یونین د ووټونو د نتیجونه د دې صفا او منکاره پته لګي - په ووټونو کښې (بی . ایس) او بلوچ (سټوډنټس ارګنائزیشن)

او پی. ایس. ایف (پښتون ستوډنټس فډریشن) تقریباً ۸۵٪ سپینو ګنډلی دی
د دې برابر او دومره اصله دا هم ده - چې بنا غلی بهتو او د هغهٔ ټولګی
په قامی اسمبلی، سینټ او د دواړو صوبو په صوبائی اسمبلیو کښې د نیپ
ممبران وانهٔ اړولے شول - دا شان په زړ ګوښو کارکنانو او طالب علمانو ټې په
جیلونو کښې واچول - خوانانو ته ټې تکلیفونه ورکړل او دوئ ټې د هر قسمه
دباؤ (د کومو زغملو چې دانسان د وس نه بهر دی) بنګار کړل - لیکن په
دوئ کښې یو هم وانهٔ اوښدلو - دا ټوله ده د هغه طاقتور کوم چې تاریخ
ته نوے شکل ښکښې - د دوئ د کردار ذاتی پوخوالے د دوئ وطن ته پوخوالے
ښکښی - او یقیناً چې یو ملک هم د داسې مشرانو په ذریعه پوخوالے نهٔ شی
حاصلولے - کوم چې د هر راختونکی نسل عبادت کوی - او په هر سړک د هر ځای
خدائ دې کړی چې هر څوک ټې وهی - د کومې عبادت کولے شی - او په دې
چې څوک ناست دے د دهٔ د مخ د کتلو په مشکله چرته زحمت کوی.
(څهٔ په هغه سپرلی چې نهٔ هم پرې غواخړی او نهٔ څښی)
(مارا چه ازین کاه آمد و خر رفت)

لیکن یو څیز چې زهٔ ټې په حقیقت کښې حیران کړے یم - هغه دا
دے چې د نیپ دښمنی په بنا غلی بهتو باندې ولکه د یو وهم داسې سوهٔ ده - چې
یو څیز هم هغه نهٔ شی مطمئن کولے - تاسو د خان عبدالغفار خان مسئله
واخلئ - زمونږ دا ډیر خواهش وُ - چې هغوئ خپله ټشې په نوم په بل وطن
کښې او سیدل ختم کړی - او صوبه سرحد ته واپس راشی - ما چونکې بنا غلے
بهتو په پریشانی کښې اچول نهٔ غوښتل - دې د پاڅ ما هغه د خپل خواهش نه
خبر کړو - هغهٔ تجویز اوکړو - چې ترڅو هغه یعنې بنا غلے بهتو هندوستان
ته نهٔ وی تلے - نو خان عبدالغفار خان دې پاکستان ته نهٔ شی راوستلے. کښې
نو د پنجاب خلك به په بنا غلی بهتو شك کوی - د دهٔ د هندوستان د دوړې

نه پس خان عبدالغفارخان راتلے شی۔ داشان چې کله بناغلی بهتو په اګست کښې د څلمې معاهده اوکړه۔ او واپس شو۔ نو مونږ په دسمبر کښې خان عبدالغفارخان پاکستان ته په واپس راتلو رضا کړو۔ لیکن بیا هم دهغهٔ په راتلو بناغلی بهتو ته اعتراض وُ۔ او هغهٔ داشان په دې خپل نیازمن انداز او لاسونو سره په اشاره کولو د کراچی په یوه عامه جلسه کښې د تقریر کولو په وخت اعلان اوکړو :

" ماته د عبدالغفارخان د مریستې هیڅ حاجت نشته "

ایا دا حیرانونکې خبره نهٔ وه۔ چې دا بناغلی بهتو وُ۔ چا چې د عبدالغفارخان پاکستان ته په واپس راتلو اعتراض کړے وُ۔ او اوس هم هغه واپس افغانستان ته د هغهٔ په واپس تلو اعتراض کوی۔ بناغلی بهتو ته به په یقینی توګه په دې دوو خبرو کښې دیو په حق کښې خپله فیصله کول وی۔ نهٔ د اجمل خټک د جلاوطنۍ په حقله د بناغلی بهتو اعتراض هم په دې زمره کښې کیښودل غواړم۔ په اصل کښې خو هغهٔ ته د ټیپ او د هغوټ د مشرانو د بدنامولو د پاره څهٔ بهانه کتل پکار وُ۔ خواه که هغه وړه کمزورې ولې نهٔ وی۔

په دې حقله زما د افغانستان تر تلو پورې هم ذکر شوے دے لکه څنګه چې ما وړاندې وئیلی دی۔ اخر زهٔ افغانستان ته ولې نهٔ ځم تلے ؟ په دې حقله هلته زما د سرکاری میلمه په حیث په ایسار تیاباندې هم اعتراض شوے دے ؟ اوس دې سندې وړې ته څوک باور وکړي چې د پښتنو څهٔ روایات دی او په دې کښې یو روایت د میلمه دوستۍ دے د بناغلی بهتو چې ترکۍ خپل تعلق دے۔ د افغانستان د میلمستیا په قبلولو کښې څه کله هم اعتراض نهٔ وو۔ او د ایوب خان د کابینې نه د برطرفۍ نه پس کله چې هغه بیا بیا افغانستان ته لاړ۔ نو هغهٔ د افغانانو میلمستیا

قبول کړه او په دې کښې شریك شو - او هغه وخت د بنا غلی بهتو د پاکستان سره په وفاداری باندې کله هم اعتراض اونه شو - لیکن که ولی خان افغانستان ته ځی - هلته د هغه قدر کیږی - ده ته متوجه ورکولے شی - او ده ته هر کلے وویلے شی - نو بیا خو خامخا شیخ خلاف قانون کړځول په کار دی -

ما ته د دې خبرې پوره یقین دے - چې بنا غلی بهتو په پاکستان کښې زما د مقبولیت او مشهورتیا په وړکه د معمول نه خلاف دومره زیات متأثره سبکاری - او خاصکر چې نه پنجاب ته راځم - کومه چې بنا غلے بهتو خپله خاصه علاقه کښې - نو هغه او ومره ښه - ولې چې هغه غواړی چې په سیاسی او قامی پلیټ فارم صرف یو سړے وی - او هغه بنا غلے بهتو وی د خان نه علاوه د چا بل سړی په خپله قسمه مشهور تیا د ده د پاره خطرې تمهید وی - لیکن که په کابل کښې زما سره د قدر او عزت سلوك کیږی - نو د بنا غلی بهتو په دې څه اعتراض کیدلے شی - ما ته د شاهنشاه له دې چې ایران ته د رانکو بلنه راکړے شویده - او که ما ته موقع ملاؤ شوه - او کله هم موقع ملاؤ شوه - چې د دې دعوت تعمیل اوکړم - او که په ایران کښې ما سره د یو سرکاری مېلمه سلوك اوشو - نو په دې به هم بنا غلے بهتو سوښ - او ومره ښه -

په هر مهذب ملك کښې چرته چې د جمهوریت قدر وی - په قامی اسمبلی کښې د مخالفې ډلې مشر سره د ښه سلوك کیږی او د متبادل قیادت د مشرۍ کولو والا په حیث د ده عزت کولے شی - او د ده ته د ښه د عزت په نظر کتلے شی - او ایا زه دلته بنا غلی بهتو ته دا یادولے شم - چې ترکۍ د بلوچستان او سرحد تعلق دے - هلته د ده د څه قسمه نماینده حیثیت نشته - د دې مطلب دا دے چې د وفاق د نیمې څه

مشری یوه بله سیاسی پارټی کوی ـ او بیا ماته داخبره هغهٔ ته په سبهٔ شان سره محسوس کړلو ته پریږدئ ـ چې نیټ یاد دې مشلنو ته د پیپلز پارټی یاد دې د چیرمین نه د وفاداریه د څهٔ ستد اختلو ضرورت نهٔ شته ـ په دې حقله د نیټ مطالبهرنو چارو د پالیسی په حقله نظریه ده ـ او هغه په دې خبره یقین ساتی ـ چې پاکستان ته د دوستانو ضرورت دے ـ د دښمنانو نه ـ او پاکستان ته د ټولو ملکونو سره او خاص کر خپلو کاونډیانو سره دوستی ساتل پکار دی ـ نیټ په مثبته توګه دا منی ـ چې زمونږ تعلقات د هندوستان، بنګله دیش، افغانستان او ایران سره د معمول مطابق دوستانه پکار دی ـ هغه دا محسوسوی چې تر ګهه د هندوستان تعلق دے ـ زمونږ د هغهٔ سره صرف یوه سیاسی جګړه ده ـ کومه چې پخپلو کښې په خبرو اترو خټول پکار دی ـ د افغانستان سره هم یوه جګړه ده ـ او په دې هم مونږ ته په خپلو کښې د باور، مرستې او کاونډیتوب د سبهٔ تعلقاتو په فضاء کښې په مینځ باندې په ناسته پخپلو کښې خبرې کوول پکار دی ـ مونږ داهم محسوسوو چې که زمونږ په زړهٔ کښې صرف د پاکستان مفاد وینه وی ـ او د خپلې ساراجی مشرانو خدمت کول، او د هغوی مقامی، قومی او جنګی پالیسیو ته د عمل جامه ورااغوستل نهٔ وی ـ نو دا ټول کیدے شی .

مونږ یقیناً د مبالغی بهیر د جنګ جګړې پالیسی ددهٔ د راپاروونکی تقریرونو کولو او په دې کښې د سپکې او غیر مهذبانه ژبې استعمالولو په کابل باندې د جنډې اودرولو د دهرکې ورکولو او بیا خپل ملک په سازشونو کښې ګډ کولو او د هاشم میوندوال مرستې او مدد سره د افغانستان د حکومت تخت اړولو ترحد پورې تلل ـ خپلو دې تشو دهرکو ته په حقیقت کښې د بدلولو په کارونو باندې تصدیق نهٔ کوی

او دا نړۍ خوښوو .

زما د کابل د تلو په حقله چې څه ویلې شوی دی - په دې حقله زه بښنه کوم چې زه همیشه هلته قانوناً د یو صحیح او باضابطه پاسپورټ باندې تلے یم - او چې کله هم حکومت اجازت نه وی راکړے - زه نه یم تلے - زه بعضې وخت خپل ځان په عجیبه پریشانه کښې وینم - ولې چې زما په حقله حکومت خپل خیال برابر بدلوی - زما خیال دے - چې د پښتو اخبار فرنټیر کارډین کښې د یوسف لودهی یو کارټون به زما د دې خبرې بښنه وضاحت اوکړی - په دې کارټون کښې د تلې وسړی د یو اعلان طرف ته اشاره ده - په کومه کښې چې ویلې شوی دی - چې مرکزی حکومت بیا ولی خان مړ بله حکمه پورې وطن دوسته کړ خولے دے - د دې کارټون ټوله خوبی د دې په اخری ټکو " مړ بله حکمه " کښې ده - ولې چې بعضې وختې خو زمونږ وفا دارۍ د شک شبهې نه دومره اوچته وی - چې مونږ ته په مرکزی وزارت کښې د شاملیدو د پاره ویلے شی - او چې کله مونږ په دې لوټ مار کښې د شریکیدلو نه انکار اوکړو - او د قانون د حکمرانۍ او د اټین او دستور د تابعدارۍ او فرمان برداری مطالبه کوو - نو بیا دا حکم واپس اخستے شی - او ولی خان بیا تر بله حکمه پورې غدار کړ خولے شی - دا د ګڼلنې خبره ده - د پاکستان حکومت مانه اووې چې زه کابل ته لاړ شم - او د خپل پلار سره اووینم - کله چې ما ته د افغانستان د تلو د پاره اوویلے شول - نو د افغانستان بادشاه د پاکستان په دوه ګ - او هاشم میرندوال هلته وزیر اعظم ګ - د پاکستان حکومت هغه وخت د خان عبد الغفار خان پاکستان ته د واپس راستو د پس خواهش کړلو - دا شان لرمانه توقع او شوله - چې زه کابل ته لاړ شم او هغه پاکستان ته په واپس راوستلو رضا کړم - د دې نه پس برابر زه د خپل پلار سره د لیدلو د پاره افغانستان تر تلم - زما د افغانستان په دې

دوربو کښې ماته یوځل هلته د سترګو شکایت او شو - او زه په کابل کښې د سترګو نور هسپتال نه بوتلے شوم - کوم چې عیسائی مبلغانو چلولو هلته د سترګو یو ماهر انګریز سرجن زما علاج اوکړو - د دې علاج زما په سترګه ښه اثر اوښو - وروسته ماته اووئیلے شول - چې یو د پرلوړې او د عالمی شهرت خاوند د سترګو ماهر او خصوصی معالج هارلی سټریټ د لندن نه د افغانستان د بادشاه د علاج د پاره حئ راځی - او د هغوئ په وینا چې بیا کله هغه کابل ته راځے - نو زه هغه سره ملاؤ شوم - په دې وخت کښې ماته د برطانیې نه د تلو پخپله خپل ډاکټر سو ،څوک چې د سترګو ماهر ؤ - د علاج کولو اجازت نه درکوئ - فیلډ مارشل ایوب خان زما پاسپورټ ضبط کړے ؤ - د ډاکټر ماته ټوله تر ټوله هارلی سټریټ لندن نه د راتلونکی د پاره خصوصی ماهر ډاکټر په علاج کولو دارو مدار کول وو - څنګه چې زه د کابل په هسپتال کښې د مقامی عملې په وسیله ملاؤ شوم - او د ډاکټر سره ما د خپل علاج پخپله مشوره کړې وه - جنرل یحیی د اقتدار د تړلاسه کولو نه پس ماته د لندن د تلو او خپل هغه ډاکټر نه د علاج کولو اجازت ولکړو - ښاغلی بهتو نه د دې ټولو خبرو پته ده - د دې هغه نه پخپله ذاتی علم دے - اوس که هغه زما د دې جسمانی معذورۍ او مجبورۍ هم د خپل سیاسی مقصد وپنود د پاره استعمالول خوښوی - نو دې د پاره زه په دې صرف افسوس کولے شم زه د سترګو پخوانے مریض یم - او اوس زه لا ماشوم وووم - چې زما یوه سترګه ببکاره شوه - هغه مې د پره وپاندې په ۱۹۳۵ء کښې په بمبئی کښې اوویستله د خپلې دوئمې سترګې د بچ کولو د پاره زه تقریباً ۱۵ کاله پس د پره باقاعده کړه به بمبئی نه تلم - لیکن داسې او شوه - چې د ۱۹۴۷ء د هندوستان پر پرډ د تحریک کښې د حصې اخستلو په وجه ما قید تېر ولو - دې د پاره د دې وجې نه په دې دوران کښې زه د بمبئی خپل ډاکټر ته نه شوم تلے او د دې وجې نه

زما د سترګې تکلیف د پرخطرناک صورت اختیار کړو ـ په دې د ۱۹۴۵ء په اخر کښې برطانوی حکومت زه پریښودم ـ په دې زمانه کښې ما به بمبئ کښې پوره پنځه میاشتې تیرې کړې ـ او زما د سترګې دوه اپریشنونه اوشول ـ نو هیله زه د دې جوګه شوم ـ چې زه د خپلې یوې سترګې چې صرف یوه پاتې شوې وه ـ بچ کړے شم ـ د خپلې سترګې د دې تکلیف باوجود ما په خپله ناخه طریقه خپل کار چلولو ـ تر دې چې په ۱۹۴۶ء کښې د ملک تقسیم اوشو ـ بیا لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده ـ قیوم خان رابنکاره شو ـ او زه تقریباً د شپږ کالو پورې په جیل کښې وُم ـ بیاد پاکستان سپریم کورټ له د دې ماته خلاصه ملاوُ شو چونکې اوس زه د خپلو سترګو د خصوصی ماهر داکټر سره د مشورې د پاره بمبئ ته ځنه شم تلے ـ او په دې تپوس موده کښې ماته د سترګې د بېر تکلیف وُ ـ دې د پاره ما په لاهور او پېښور کښې د مقامی داکټرانو سره د مشورې کولو او هغوی ته د ښودلو کوشش اوکړو ـ لیکن د دې سره ز ما دا برابر کوشش وُ ـ چې ماته د برطانیې ته د تللو د پاره پاسپورټ ملاوُ شی ـ چرته په ۱۹۵۷ء کښې ماته پاسپورټ ملاوُ شو او د علاج د پاره راته د برطانیې ته د تللو اجازت ملاوُ شو ـ هلته زما یو آپریشن اوشو ـ دوې نه پس په ۱۹۵۸ء کښې بل آپریشن اوشو ـ او بیا یو آپریشن په ۱۹۶۲ء کښې اوشو ـ

ماته په ۱۹۵۷ء کښې د برطانیې د تللو د پاره په پاسپورټ اخستلو کښې پوره څلور کاله اولګېدل ـ بیا د فیلډ مارشل ایوب خان مارشل لاء راغله ـ په دې دوران کښې زما پاسپورټ بیا ضبط شو ـ او زه چرته اوه کاله پس برطانیه کښې خپل داکټر له لاړے شوم ـ د جنرل یحیٰی خان په تلو او د بناغلی بهټو د نوې پاکستان د جوړېدلونه پس اګرچې ماته لندن ته په تلو او د خپل سرجن داکټر سره په مشورې کولو څه مشکل نه وُ ـ لیکن د بناغلی بهټو له اړخه داکټر سره د مشورې د پاره لندن ته زما تلل راتلل همیشه

د سیاسی غرضونو د پاره استعمال کړے شول - که زه برطانیې ته لاړم نو دا الزام اولګولے شو - چې زه د لندن پلان پخله تلے یم - که زه کابل ته لاړم - چې هلته دخپلو داکټرانو سره اوږمنم او داسان برطانیې ته د تلو د زیات خرچ نه د بچ کېدلو کوشش اوکړم - نو هغه ځې د افغانانو سره په شریکه زما سانس کول اوښودل - نوره داچې ښه کال زما یو اپریشن - دا دومره کوچنے آپریشن وُ - او دا تر دوه نیمو کلنو جاري وُ - د خپل دې علاج په سلسله کښې کافی وخت په برطانیه کښې تېر کړو - او په دې زما کافی خرچ هم اوشو - د لندن سرجن مانته اووې : چې زه په کابل کښې د سترګو خصوصی ماهر داکټر سره ملاوُشم - چا ته چې زما د علاج کولو ټول کاغذونه رالیږلے شوی وو - او د کابل ددې داکټر په ذمه دا لګولے شوې وه چې هغه زما ریپورټ لندن ته لیږی - مانته خاص طور سره وئیلې شوی وو - چې زه کم نه کم تر درې میاشتو پورې خپلې سترګې ته ډېره توجه ورکړم - او د اپریشن نه پس داسې کول ډېر ضروری وی - او وسره ځې دا مشوره هم راکړه - چې زه په کابل کښې دې خصوصی ماهر داکټر سره برابر هره میاشت ملاویږم " دا داکټر هم لندن د داکټر په شان غیر ملکی او یورپې ځ - چې هغه لندن داکټر ته زما په باره کښې خبر ورکوی - لندن داکټر مانته دنوره درېږو میاشتو پورې بالکل د خپلو اجازت نه راکولو - داسان دې سره مانته دا وعده کوله وو چې د کابل خصوصی ماهر داکټر سره به برابر ملاویږم - لیکن بهتر به خپل یو تقریر کښې - کوم چې هغه ځې په قبایلی علاقه کښې په شوې یوه عامه جلسه کښې اوکړو - مانته خبر کړے شوے دے چې هغه به ما زما د سترګو خصوصی ماهر داکټر ملاوښه وو د پاره کابل تلو ته نه پرېږدی - افسوس دے چې ما دې ټولو تفصیلاتو باندې نه

سره عدالت باندې بوج اوغوښتو او ـ لېکن زما خیال دے ـ چې موږ ډلته د ډیو نفسیاتو کلیس سره مخامخ یو ـ د ډیو داسې سړی کیس سره په چاپې د وېرې جذبه ډیو وهم په شان داسې مسلطه ده ـ چې هغه په هرګوټ او هره جاړه کښې خطره پرته وینی .

زهٔ دا هسې چې داخل په کابل کښې د اول نه لږ زیات په اعلیٰ پیمانه زما عزت اوشو ـ خاصکر چې کله موږ په سرکاري مهمانخانو کښې په یوه مهمانخانه کښې ایسار کړت شو . (ددې نه وړاندې به زهٔ او زما ملګري زما پلار هم ایسار ښه و) اوکله چې ما ددې خاصې توجه وجه اوپوښتله ـ نو هغوی چې کوم وضاحت اوکړو ـ هغه دې د لچسپ وُ ـ هغوی اوویل : چې ښاغلی بهټو د پاکستان د نننه زما د خصم لود پاڅه خلور خاه کوشښونه اوکړل ـ لېکن هغه ناکامه پاتې شول ـ حکومت افغانستان ته خبر ملاو شوے دے ـ چې زما د مړ کولو پنځمه کوشش د افغانستان په زمکه کېدلے شی ـ او دې د پاڅه دا ټول زیات احتیاطونه اوحفاظتی اقدامات دی ـ په ما باندې داهم الزام دے ـ چې کله زهٔ افغانستان ته ځم ـ نو د هغه ځاې لوړو لوړو عهدیدارانو سره وینم ـ دا صحیح ده چې کله هم زهٔ کابل ته لاړیم ـ نو د وزیر اعظم او بادشاه سره ملاوُ شوے یم ـ چې دا شان د هغوی د طرفه چې زما کومه مېلمستیا، عزت او درناوے کېږی ـ د هغې شکریه اداء کړم ـ دا خُل هم ما ته داکول وُ ـ لېکن دا خُل پخپله داوُد خان سرکاري مهمانخانې ته زما بال بوج دکتو د پاڅ راغه ـ او زهٔ مې په زیات مشکل کښې واچولم .

دالزاماتو پخپله داخبره هم ذکر ده ـ چې احمل ختک پخپل کاپی باندې د پښتونستان جنډه لګولې وه ـ او د نیپ د خلاف قانون کړنُولو یوه وجه داهم ده ـ په دې ریفرنس کښې دا او داسې نور چې کوم الزامونه لګولے شوی دی هغه په بنیادی توګه په عوامو کښې د

خو د ولو د پاڅه دی۔ ولې چې د دې مقدمې کرتا دهرتا یقینی طور په دې پوهه دی۔ چې په مونږ لګولی الزامونه خو به د ماتحت عدلت پورې د پاڅه هم د لحاظ قابل نه وی۔ بهرحال د دې الزامونو شاته د دې خلکو یو سیاسی مقصد دے۔ ماته رښتیا چې پته نشته۔ چې دا معلومات چا وکړل او په دې باندې د حکومت دپټ او سیاسی فنډونه به څومره خرچ شوے وی؟ اوس د پاکستان برعکس په کابل کښې خلك په خپلو کاډو د جنډ ولګولو سره اخبار د پخوا نه کړی۔ تر دې چې وزیرهم عام طور دا سې نه کوی واقعه داده۔ چې کله داؤد خان سرکاری مهمانخانې ته مونږ سره لیږه له راغے۔ نو پخپله دهغه په موټر هم جنډه نه وه۔ هغه موټر پخپله چلولو او هغه سره د هغه صرف خپل یو ملګرے وو۔

دې خټمولو نه مخکښې به زه د اخبره اوکړم چې ایا د ټولو سیاسی پارټیو لکه د دې پې پې ، او قیوم لیږه دی۔ د لیږه را نو چې کله مغوږ بهر ملکونو ته ځی۔ هلې ځلې ځې ، نظر لاندې ساتلے شی۔ او د دوی جانچ پړتال کیږی۔ زما پوره یقین دے۔ که د دوی د پاڅه هم داطریقه خپله کړے شی۔ کومه چې زما په معامله کښې خپله کړے شویده۔ نو د څو میدنامو نشته کارو باری سودا کانو اولیږ دین د معاملو نه علاوه به ملك ته دهر نیات معلومات پرلاس ورشی۔ او بیا داخوتول معزز او د سر خلك د وزیرانو په طور سفر کوی۔ او د دوی خرڅونه د قامی خزانې نه ورکولے شی۔

د نیټې او افغانستان تر منځه د واښه درښه د کړې موجود ګډ ثابتولو د پاڅه د حکومت خاوندانو د ټولو نیولے شوی خلکو د اقبالی بیانونو او منلو باندې تکیه کوی۔ اګرچې په دې سلسله کښې به د دې سخیال سائل دهر دلچسپ وی۔ چې دې تش په نوم د تشدد خوښه کارونو کښې دنیټې یو غړے هم ګډون نه دے بیا موندے شوے۔

د دې خلکو اعترافونه او په کومه طریقه چې د دوئ نه حاصلیږي دی۔ د دې قسم بیانونو نه کوم چې هغوئ په عدالتونو کښې وسکړل صفا ښکاره ده۔ دې څوانانو ته څنګه تکلیفونه ورکولے کیږي۔ او دوئ د څنګه سخت جسمانی عذابونو او تکلیفونو د برداشت نه پهر او غیر انسانی طریقو د پاره د مشق تخته جوړولے شی۔ دکومې په نتیجه کښې چې هغوئ ته پخه بیمارۍ اولګی۔ دا ټول څیزونه داسې دی۔ چې عدالت ته د هغې تحقیقات ګول پکار دی۔ لیکن زه صرف اوس د مدرسې د یوې استاذ د معاملې طرف ته اشاره کوم۔ هغه ته سخته سزا ورکړے شوه او کله چې د هغه نه د دې باوجود هم اجمالی بیان حاصل نه کړے شو۔ بیا په زیاتو صحیح ټکو کښې کله چې پولیس هغه په دې بیان باندې کوم چې پولیس پخپله لیکلے وو۔ دستخط او نه کړے شو۔ نو د هغه مکول د استاذ ښځه او خور ئې د پولیس تهانې ته راوستل۔ اوس د دې نه پس چې دې څوان عدالت ته څه وئیلی دی۔ هغه واوري۔ پولیس افسر د پریږدونه اغوستلو نه بغیر مات راغے۔ او د هغه خپل ذکر (غیبر) طرف ته په اشاره کولو سره ئې اوویل۔ چې اوس اوس هغه په دوو زنانو کښې د یوې سره ګډ والے کړے دے۔ اوکه هغه اوس هم په بیان باندې دستخط نه کوی۔ نو هغه به اوس لاړشی او بلې زنانه سره به هم داکار اوکړی۔ داده هغه طریقه په کومه چې دوئ د خلکو نه اقبالی بیانونه حاصلوی۔

زه به د دې حقیقت نه انکار نه کوم۔ چې دا اقبالی بیانونه د باغلی بهتو د پاره د صوبه سرحد او بلوچستان د فتح کولو په سلسله کښې د دې په موجوده سیاسی جنګونو کښې په کار راتلے شی۔ او دا هغه له په داور د صوبو کښې د خپلې نیوې پارټۍ د حکومت په جوړولو کښې مدد ورکولے شی۔ لیکن

د دې حرکتونو نه چې کوم نفرت پیدا شي - او سختې مخالفې جذبې یا اوچتې شي هغه به یقیناً جوابي عمل پیدا کوي - او دا به په اخره کښې خامخا د مملکت په سالمتیا او ښه والی باندې اثر پریږدي - دا به هغه ځوانان مجبور کړي چې هغوئ د بهتر په نوي پاکستان کښې د خپل حیثیت پخله په سنجیدګۍ سره سوچ اوکړي - په دې نوي پاکستان کښې چې د سیاسي اختلافاتو په بنیاد باندې یا په یوې مخالفې ډلې کښې د شاملیدو په وجه د دوئ سره د اسلوک کیږي - چیرته چې دوئ د آزادۍ نه محروم کړے شوی دی - چیرته چې د دوئ قابل انتقال او ناقابل انتقال جایداد دونه سرکاري کولے شي چیرته چې دوئ د داسې تکلیفونو او مصیبتونو نخښه کولے شي - او چیرته چې د دوئ د کورونو ترعزت پورې تالاکولے شي - تر دې چې د هغوئ د زنانوو د عزت خیال هم نه شي ساتلے - غرض دا چې دا داسې جذبات را پاروونکې کاروونه دی - کوم چې د سیاست او قانون د دائرې نه بهر دی او دا به اخر یقیناً هغه ځوانان مجبور کړي - چې هغوئ د دې بې عزته او سپکاوي بدل واخلي - د کومې چې د بلوچ او پښتنه معاشره کښې د دې نه بل مطلب نه وي - چې د داسې جرمونو کولو والا دې قتل کړے شي - د دا شان بهتو او د مهم چلوونکي او مطلب پرسته ټوله ډمونډ په سیاست کښې د تشدد او ذاتي دښمنۍ او نفرت په داخلولو کښې کامیاب شوے دے - دکوم چې ماته خطره ده - د دې د ملک په سیاست باندې په یقیني توګه د ډیر زیات اثرات پریږدي .

اوس زه په اخر کښې د تولو نه عفو الزام متر راځم - او هغه دا دے چې د نیپ د مشرانو د پاکستان نظریه ما " د پاکستان د یو قام نقصه " ته په لسانی اونلی خصوصیاتو باندې مشتملې د څلورو قومونو د نظریې پر وړاندې کولو سره دا عملاً نه دے منلے - او د دې قائله نه دے - په

دې بناء په نیپ باندې د الزامونو لګولے شوی دی .

ګراوند نمبر ۱ :- د دې عقیدې باره کښې ما اعتراض نه اوکړل۔ او د دې متعلق مې شک شبهې پیدا کول غوښتل .

ګراوند نمبر ۲ :- نیپ د خلورو یا پنځو قومیتونو ذکر کوی .

په دې غټ الزام د بحث کولو نه وړاندې به زه یوه غلط فهمی لرې کول اوغواړم - کومه چې قصداً پیدا کولے شی - او هغه داده چې دوه خبرې په خپلو کښې ګډوډ کولے شی - اوس یو قوم دے او یو قومیت .

نیپ دا منی - چې په دې ملک کښې یو قوم دے۔ او دا دے پاکستانے قوم - او دا پاکستانے قوم په قومیتونو باندې مشتمل دے - چا چې خپله خاصه ژبه او ثقافت دے - اوس په قوم او قومیتونو کښې خو فرق نشته - دا قومیتونه د کل په شان دی - کوم چې د خپلو خاصو رنګونو او خوشبویانو مړه یوځای شی او کل دسته تړې جوړ شی او د دې د وحدت اظهار په کثرت سره کوی .

د پاکستان نظریه

مونږ به د دې بحث شوړ و د پاکستان د ټکی نه کوو - د پاکستان ټکے د ټولو نه اوّل د برطانیې په مشر کیمبرج کښې د چودهری رحمت علی د پاکستان د قامی تحریک بانی - دیو پمفلیټ کتابچې مړ اوس یا بیا کله هم نا مطبوعه ۱۹۳۳ء کښې په نظر راغے - او په دې کښې تجویز کړے شوے وو .

" پنجاب قطبی قبلیزه سرحدی صوبه "افغانیه" کشمیر سندهه او بلوچستان ..... پاکستان نه په مذهبی معاشرتی او تاریخی بنیادونو باندې یو ګاڼه وفاقی آئین سلاوُ شی .

د پاکستان د تصور د ټولونه وړومبے او اصلی جوړونکے خوک دے؟

په دې حقله څه ذهني پېچیدګي دي - دا تاثر ورکولے شي - چې دا
دا ډاکټر اقبال وُ - چاچې د ټولو نه اوّل دا تصور وړاندې کړو .

ډاکټر سر محمد اقبال په ۱۹۳۰ء کښې په الهآباد کښې د
ال انډیا مسلم لیګ غونډې ته د تقریر په وخت په خپله خطبه کښې
د یو متحده قطبی قبلیُن انډین (هندوستان) مسلمان ریاست د جوړولو
تجویز اوکړو .

د ډاکټر اقبال په تقریر کښې د پاکستان نوم استعمال شوے نه
وُ - د هغهٔ دا تجویز د چودهرۍ رحمت علی د تجویز نه په دوه ارخه
مختلف وُ - یوخو داچې د علامه اقبال په غونډنه کښې کشمیر د دې
وحدت نه بهر دے - او دویم داچې په دې کښې دا ال انډیا فیډریشن
تصور وړاندې کړے شوے وُ - په کوم کښې چې داخلوب واړه صوبې یو
وحدت جوړوی - د یوه عجیبه خبره ده - چې د پاکستان شمر ختیزه
حصه په دې کښې نه راوسه شامله نه ده .

۱ - لیکن د پاکستان جوړولو مطالب دا ال انډیا مسلم لیګ د ۱۹۴۰ء
د لاهور په قرارداد کښې داسې وړاندې کړے شوه .

داچې د جغرافیائی لحاظ نه د نزدې وحدتونو داسې سیمې
علاقې جوړې کړې شي - او دا شان د علاقائی ردوبدل کولو سره کوم
چې ضروري وی - د دوئی داسې جوړول پکار دی - چې هغه علاقې په
کوم کښې چې مسلمانان د شمیر په لحاظ زیات وی - لکه د هندوستان د
قطبی قبلیزې اونمر ختیزې علاقې - دې یوځای کولو سره د آزاد ریاستونه
جوړ شی - په کومو کښې چې شامل وحدتونه خپلواکه او آزاد وی .

۲ - د ۱۹۴۰ء په قرارداد لاهور کښې وروسته د مرکزی اوصوبائی
اسمبلیو د مسلمانانو غړو په کنونشن کښې چې په دهلی کښې په اپریل

۱۹۴۶ کښې مشوره وکړه - دا بدلون اوکړه

دا چې هغه علاقې کومې چې د هندوستان په قطبي نمرخاته کښې بنګال او اسام باندې او قطبي نمر پرېوتهٔ کښې پنجاب، قطبي قبلښتنه سرحدي صوبه، سنده او بلوچستان باندې - يعنې دا پاکستاني علاقې کوم ځايونه چې مسلمانان په غټه اکثريت کښې دي - د دې ټولو يوځای کولو سره به يو آزاد او خپلواکه مملکت جوړ کړے شي ۴ .

۳ - په مې ۱۹۴۶ کښې د برطانوي کابينې مشن پلان وړاندې شو پرکوم کښې چې د هندوستان د وفاقي حکومت تجويز وړاندې شوے وو په دې کښې درې ګروپونه يا حصې جوړ شوې وو - ګروپ بي کښې پنجاب، صوبه سرحد، سنده او بلوچستان شامل وو - اے ګروپ کښې د هندوستان پاتې ټپر صوبې وې - او په سي ګروپ کښې بنګال او اسام شامل وو - دا د ډېوډ ګروپونه د انډين يونين يا هندوستان په وفاقي حکومت کښې يوځای اوسېدل - د چا په لاس کښې چې د دفاع، بهرنۍ چارې او مواصلاتو درې محکمې پاتې وې - د برطانوي کابينې مشن دا پلان مسلم ليګيانو منلے وو.

۴ :- او اخر چې کله په عملي توګه هندوستان اوويشلے شو - نو ددې په نتيجه کښې د مسلمان اکثريت دوه صوبو بنګال او پنجاب تقسيم هم اوښتو - او د اسام صرف د سلهټ ضلع د پاکستان په مشرقي حصه کښې شامل کړے شوه.

د پاکستان په پوره تحريک نظر اچولو سره او د چودهري رحمت علي او علامه اقبال د پاکستان يا بر عظيم کښې د مسلمانانو د پاره د يوځانګړے وطن تصور يو طرف ته په کښېښودلو او د نظر نه په اخواکېدلو سره ښه ډاوينو - چې د ۱۹۴۰ نه ۶ مه واخلي تر ۱۹۴۷ پورې چې په دې اوو کالو

په سوده کښې د زیاتو نه زیات خلوص مختلف پاکستانونه تجویز کړے شول او وخت په وخت د دې غوښتنه اوشوه ـ د ۱۹۴۰ء د قرارداد لاهور سر محنه د پاکستان ابتدا او اصلی مطالبه "د آزاد و اوخپلواکه ریاستونو وه ـ د دې نه پس په ۱۹۴۶ء کښې په دې کښې بدلون اوشو ـ او د آزادو او خپلواکه ریاستونو په ځای "آزاد او خپلواکه ریاست واخستو ـ بیا په کال ۱۹۴۶ء کښې د پاکستان نه مطلب دهند وستانی یونین د نه د وفاق یو وحدت یا د یونه زیات وحدتو نه واخستلے شو ـ او اخر په ۱۹۴۷ء کښې د مسلم لیګ د دې په قطعی توګه باندې یو دا سې پاکستان او منلے شو ـ په کوم کښې چې وښلے شوے پنجاب او بنګال شامل وو ـ او د اسام صرف د سلیټ سوبه یوه ضلع وه ۔

غرض دا چې په برعظیم کښې په عملی توګه د آزادی د راتلونه مخکښې زمونږ سره د پاکستان خلوص تصور نه وو ـ د پاکستان د جوړ یدو او د دې مختلف عناصر په نظر کښې د راتلونه پس په ۱۹۵۵ء کښې د پاکستان یو بل تصور پیدا شو ـ کله چې د پاکستان یو یونټ جوړ کړے شو ـ او مشرقی پاکستان ځې د خپل شمیر د اکثریت نه محروم کړو ـ او دے ځې په مرکز کښې د برابرې نمایندګۍ په قبلولو باندې مجبور کړو ـ او اخر د ۱۹۷۱ء د فوجی کارروائی په نتیجه کښې په پاکستان کښې یوه بله دېره لویه بدلی راغله د پاکستان اکثریت د پاکستان سره د تعلقاتو پریکولو فیصله اوکړه ـ او مشرقی پاکستان ته ځې د بنګله دیش نوم ورکړو ـ دا شان په پاکستان کښې چې څه بچ شو د دې نه د ښاغلی بهتو نوے پاکستان جوړ شو ۔

مونږ وینو چې د آزادی نه مخکښې د پاکستان خلوص تصورونه ووه او د آزادی نه پس دوه ـ دې د پاکستان څه وخت چې مونږ د پاکستان د نظریې په لږ کښې د دې وړاندې نقطې نه راځو ـ نو په دې لږ کښې چې کوم بنیادی

او اساسی سوال پیښیدلے شی ـ هغه دا ده چې د کوم پاکستان نظریه ؟ ولې چې د مختلفو تصورونو به یقیناً چې مختلفې نظریې وی ـ د ۱۹۴۰ء د قرارداد تر مخه «آزاد او خپلواکه ریاستونه» وو ـ په کوم کښې چې شامل وحدتونه به خپلواکه او آزاد وی ـ د دې په مقابله کښې تاسو په ۱۹۵۵ء کښې د مشرقی او مغربی پاکستان برابره نمایندگی او د مغربی پاکستان یو وحدت ته اوښکورئ ـ نو یقیناً د جون ۱۹۴۷ء د برطانوی کابینې مشن د پاکستان تصور په کوم کښې چې ګروپي سسټم تجویز کړے شوے وُ ـ او د کوم چې د مخه چې پاکستان د هندوستان یونین د یو یونټ یا دیومنه ډیا ستو یونټونو باندې مشتمل وُ ـ د دې موجوده پاکستان نه کوم چې مونږ ته په ۱۹۴۷ء کښې ملاوُ شو په بنیادی لحاظ سره مختلف وُ ـ په دې کښې پښتو شوے پنجاب او بنګال وُو ـ په اسام کښې صرف یو ضلع وه ـ تر دې چې په دې کښې کشمیر هم نه ؤ ـ لیکن اوس د قائد اعظم د پاکستان په مقابله کښې د بناغلی بهټو د پاکستان څه حال دے ؟ په دې سلسله کښې به زه د هغه الزاموتو طرف ته اشاره اوکړم ـ کوم چې د کوم نو چارو وزیر قیوم خان لګولے دی ـ هغه په قومی اسمبلی کښې د وطن د ښمنه هلې ځلې د قانون په مسوده د تقریر کولو په وخت اووې ـ چې ولې خان د پاکستان د سرحدونو د بدلولو کوشش کوی (ما د دغه ویر نه د اخوا چې په دې مقدمه کښې مدعی دے) تپوس اوکړو چې ایا هغه سړے دے ؟ ځواب چې همیشه د دعوے کوی ـ اخوا د ښځو اکثریت راګرځی ـ چې هغه د پاکستان د نظریې او د دې د سلامتیا ضامن محافظ دے ـ او د دې خبرې دعوے ګیر دے ـ چې هغه د قائد اعظم د تعلیماتو او د هغه د مسلم لیګ حقیقي پیروکار او قانون وارث دے ـ ما د کوم نو چارو د وزیر نه تپوس اوکړو ـ چې هغه دې اوښتائی چې د قائد اعظم د پاکستان سرحدونه کوم وو ؟ د هغه د پاکستان

خو د برما، اسام او مغربي بنګال سره شریک سرحدونه وو - د دې نه پرته
زیاتې داچې پاکستان ته د خلیج بنګال د پاسه یو غټ حیثیت حاصل وُ -
د دې پاکستان هغه سرحدونه چا بدل کړل ؟
که دا مسئله دا شان روانه وې - او د پاکستان اقلیت ته ځې پاکستاني وسیل
شوي وکړل - نو مونږ د پاکستان نه د هرڅا د دوستیو د دې عمل په
دوران کښې سبا له لاړکاني ته پاکستان وهیلو باندې زور اچولے شو - د دې
وینا نه ټما دا مراد دے - چې د بنا غلی بهتو د دې نوې پاکستان نظریه
به د قائد اعظم د پاکستان نه یقیناً چې بدله وې .
د یاندې له دې نه چې مونږ د نظرئې په دې نظریاتي بحثونو
کښې ذیات لږې لاړشو - ماته په اول کښې د یوې خبرې د واضحه کولو اجازت
راکړئ - د یو ملک یا یو مملکت او ریاست د نظرئې په حقله څه ذهنی
پیچیدګی بیا موندے شی - تر کومې چې د یو ریاست تعلق دے د ریاست
په حیث د دې څه مخصوصه نظریه یا د ژوند نظریه نه وی - د ۀ تر
د د ۀ د ژوند نظریه د هغه سیاسی قوتونو نه ملاویږې - کوم چې په
دې ریاست کښې حکومت کوی - د اولسی د ریاست په حیث څه نظریه نه ۀ
وې - په دې حقله بنیادی بدلی هغه وخت راغله - کله چې د ذار حکومت
په ځای کمیونسټ په حکومت کښې راغلل - د مارشل چینګ کائ شیک،
لاندې چین د هغه چین نه کوم چې د ماوزے تنګ او چو این لائ نه
د وروستو دی - بالکل مختلف دے - ویتنام، کمبودیا او برنګال د دې
واضحه مثالونه دی - تاسو پخپله د پاکستان معامله واخلئ - د هندوستان
د حصّه د مسلم لیګ د ریاست د کامیابۍ په نتیجه کښې یو نظریاتي ریاست
جوړ شو - د مسلم لیګ نه بغیر به پاکستان نه ۀ وو - د اشان په نورو -
الفاظو کښې د پاکستان نظریه او د ژوند نظریه پخپله د مسلم لیګ پارټۍ

نظریه ده - اوس نه صرف دا چې د ۱۹۴۷ز کال نه د پاکستان په جغرافیائی وجود کښې یوه بنیادی تبدیلی راغلې ده - بلکې د بناغلی بهټو د پیپلز پارټی په دې نوی پاکستان کښې په اقتدار کښې د راتلو په وجه یوه نظریاتی تبدیلی هم ښکاره شوې ده - ولې چې بناغلی بهټو با وجود د دې دعوئ کولو - چې هغه د خپلې خوانه په وخت کښې د مسلم لیګ غړی وُ - او وروسته هغه د فیلډ مارشل ایوب خان د حکومت په وخت کښې د کنونشن مسلم لیګ مرکزی سیکټری هم پاتې شوې وُ - د مسلم لیګ د سیاست نه اوس په مکمله توګه هغه جدائی اختیار کړې ده - د بناغلی بهټو ټوله زور په روټی، کپړې او مکان باندې وُ - د مسلم لیګ مخې ته چې کومه لاره وه - د هغې مذهبی او روحانی نوعیت وُ - او د دې په مقابله کښې سنګاړ ده چې دا مادی لاره ده - یو وقاتی وزیر او د قاضی اسمبلی د ایوان نائب مشر د شیخ رشید له دې څخه څه پرته وضاحت اوشو - کله چې هغه په قاضی اسمبلی کښې اعلان اوکړو - چې د برعظیم تقسیم بد ل نتیجه وه - د هغه معاشی عدم مساواتو او نه برابرۍ کوم چې د دوو فرقو هند وانو او مسلمانانو تر منځه موجود وُ -

هغه څه چې پورته بیان شول د دې نه صفا ښکاره ده - چې د اد بناغلی بهټو پیپلز پارټی ده - چا چې نه صرف د پاکستان نظریه په شک کښې واچوله بلکې هغې د نظریهٔ حیات له په بیلات ورکولو کښې په دوهره سرګرمۍ سره کار اوکړو - او د دې په نتیجه کښې هغوئ پاکستان د په خپله نظریه حیات ورکولو کښې کامیاب هم شو - د غه شان دا دے بنیادی فرق د قائد اعظم په پاکستان کښې او د قائد عوام په پاکستان کښې - او د دواړو په نظریهٔ حیات او نظریو کښې -

لیکن کله چې موږ د مسلم لیګ په نظریه او د ډوند په نظریه راځو - نو موږ وینو چې د دې نظریې د تګې د مسلم لیګ په قرارداد د ونو

دهغوئ په سرکاری بیانونو یا د دې د صدر په صدارتی خطبه کښې چیرته هم ذکر نشته ـ دا ټکے «نظریه» د دستور سازې اسمبلی په رویدادونو او داسې په هغه دستورونو کښې په یوکښې کوم چې وخت په وخت منظور شوے دے ـ نشته دے ـ دا ټکے نه د ۱۹۵۴ء د دستور په مسوده نه د ۱۹۵۶ء او نه د ۱۹۶۲ء د دستورونو او نه د ۱۹۷۳ء د دستور په مسوده کښې چیرته ملاویږی ـ تر دې چې دا ټکے په موجوده دستور کښې هم نشته ـ د دې طرف نه صرف یوه اشاره قدرې د ۱۹۴۶ء د مسلم لیګ د مدراس د غونډې په رویداد کښې شته دے ـ کوم چې د دوو قومونو د نظریې د پاکستان د نظریې په طور ذکر دے ـ زه د دلته د پاکستان په دستور ساز اسمبلی کښې په ۱۱/اګست ۱۹۴۷ء د قائد اعظم د افتتاحی خطبې نه کومه چې هغه د اسمبلی د صدر په حیث ورکړې وه ـ یوه ټوټه وړاندې کوم ـ هغوئ اووایی :

که تاسو خپل شپږ وخت بدل کړئ ـ او د دې جذبې سره په یوځائ کار اوکړئ ـ چې په تاسو کښې هر یو خواه که هغه د هرې فرقې سره تعلق لري ـ خواه که په شپږ وخت کښې د هغه تاسو سره څنګه تعلقات وو ـ خواه چې د هغه رنګ، ذات یا سیاسی عقیده څه وه ـ د دې ملک په اول، دویم او په اخره کښې یو اوسېدونکے دے ـ او د دې برابر حقوق، حقونه او ذمه واري دی ـ نو د دې ترقی به څه انتها نه وی کومه چې به تاسو کوئ .

زما دلته په دې ژیات زور ورکول ضروری نه دی ـ چې موږ ته د دې جذبې سره کار کول پکار دی ـ د وخت سره سره د اکثریتی او اقلیتی فرقو، د هندو فرقې او مسلمانې فرقې په خپلو کښې د اړیکو او تلخی به ختمې شی ـ ولې چې ترکومه پخپله د مسلمانانو تعلق دے

په دوئ کښې تاسو پښتون ، پنجابی ، سنی او داسې نور نو لکی مومئ ـ او داسې په هندوانو کښې تاسو برهمن ، دشتری لهتری او بنکالی ، مدراسی وغیره دی .

تاسو په دې مملکت د پاکستان کښې خپلو د عبادت خایونو ته په تلو کښې آزاد یئ ـ تاسو خپلو جماتونو یا د عبادت نورو خایونو ته د تلو د پاره آزاد لی ـ ستاسو مذهب ، ذات یا برادری یا بیو عقیدې سره تعلق کیدلے شی ـ ددې د مملکت د کار روزګار سره څهٔ تعلق اوکار نشته . . . . . .

زهٔ کنرم چې اوس موږ ته دا څیز د خپل تصور په طور خپلې مخې ته اینبودل پکار دی ـ او تاسو به او وینئ چې وخت په تېر ېدو سره به هندوان هندوان پاتې نهٔ شی ـ او مسلمانان به مسلمانان پاتې نهٔ شی ـ په مذهبی معنئ او مفهوم کښې نه ـ ولې چې په دې لحاظ مذهب د هر سړي خپله ذاتی عقیده ده ـ بلکې په سیاسی معنئ او مفهوم کښې هغوئ ټول د یو مملکت اوسېدونکی دی .

زما په نزد داد سیکولریزم « غیر مذهبی حکومت » صحیح تعبیر دے ـ که څوک ما سره دې کښې اتفاق نهٔ کوی ـ نو زهٔ غواړم چې هغه ما پوهه کړی .

دا دے د پاکستان د قومیت تصور کوم چې د پاکستان بانی ددې وضاحت کړے دے ـ او نیپ دا په پوره شان سره منی ـ دې د پاره په پیرا نمبر ۹ کښې درج شوی هر دوه الزامونه په کوم کښې چې وسیلې شوی دی ـ چې نیپ د ژوبې د نسل ، او قبائلی خصوصیاتو باندې مین او څلور و قومونو د نظریې پروپیګنډه کوی بالکل غلط او د دښمنۍ ده ـ د دې نه پس په دې وضاحت کښې د دې نه یو مختلف نقطهٔ نظر

خپل کړے مشوے دے۔ د الزاما تو په فهرست کښې په گراونډ نمبر ۳ کښې دی ۔ چې څلور یا پنځه قومیتونه دی ۔ دکومو د حقونو د پاره چې نیپ کوشش کوی ۔

زه به دلته هغه خبره بیا د وبارہ کول او غواړم ۔ کومه چې ما دده نه وړاندې ویلې ده ۔ چې موږ نه به دیوقوم او یو قومیت ترمنځه یو خطِ فاصل راکښل وی ۔ په حقیقت کښې چې کله قائد اعظم دا اووې : چې ترکوچې د مسلمانانو تعلق دے ۔ په دې کښې به تاسو پښتانه او پنجابیانو پورې بیا موږ ۔ نو پخپله ئې د قوم او قومیت ترمنځه د خط فاصل راکښلے دے ۔ بیا اوګورئ د دستور دفعه ۲۸ څه وائی ۔ د اوسېدونکو یوه حصّه ۔ کومه چې د نورو نه بدله او مخصوصه ژبه ، رسم الخط یا کلتور وی ۔ هغه ته ددې محفوظ ساتلو اوددې د خوندولو پوره حق به وی ۔ اخر د اوسېدونکو په یوه حصه کښې د چا چې خپله ژبه او کلتور دے ۔ او په دې قومیت کښې څه فرق دے ۔

په دې حقله بنیادی سوال دادے ۔ که تاسو دا نه منئ ۔ چې د پاکستان څلور صوبې دی ۔ کوم څانګې چې د اوسېدونکو حصّې یا قومیتونه اوسېږی ۔ او د هغوئ بدلې او مخصوصې ژبې او کلتورونه دی ۔ نو بیا د دستور په دفعه (۲۸) کښې د اضمانت اوګارنټی ولې او د حکومت دا وفاقی نظام د څه د پاره ؟

زه دلته د قیوم دکتاب ـــ GOLD AND GUNS ON THE PATHANS

. . . . . FRONTIER ! د پښتانه په سرحد باندې روپۍ اوتوپک نه یو ه

توته وسکول غواړم ۔

د پاکستان د نورو چې کوم قومیتونه یا یونټ لکه پښتون ، پنجابی ، سندهی ۔ بلوچی اوکشمیریان دی ۔ دده وئ به څه کېږی ؟

ایا د صوبه سرحد او قبائیلی علاقې پښتنو علاقوته به د خپل مستقبل د فیصلې کولو حق وی ؟ ایا هغوی ته به په هندوستان یا افغانستان یا پاکستان کښې د شاملیدو یا د هغوی د اوغواړی نو پخپله د خپل مملکت د جوړولو حق به ورته هم وی ؟ ایا دې صوبې سرحد ته به د پاتې پاکستان سره د دوستۍ اچولو دپاره ویلې شی - چې هغوی داسان په غټه شمیره کښې د غیر پښتنو راتلو رکاوټونکو په بهیر کښې خپل ځان ډوب اومومی ؟ بیا داچې شاید د بهرکم خلك به دا حقیقت محسوسوی یا هغوی ټې قصداً د نظر انداز کولو کوشش کوی ، چې صوبه سرحد ، قبائیلی علاقې ، د بلوچستان بعضې حصې او افغانستان کښې اباد پښتانه یوځای شی او یوقوم جوړوی خوك چې هم یوه څېره پښتو وائی - په دې شوق او جوش سره هم دیو مذهب اسلام تابعداری کوی - او د دوی هم یوکلتور وی ". صفحه

دادے د دې مقدمې مدعی او دعوی دار د کورنو چارو وزیر قیوم خان خوك چې په خپل کتاب کښې د قومیتونو او د هغوی د حقونو په حقله دا وائی - او اوس واورئ پرکوم کښې چې هغه په خپل یوتقریر کښې د دې پحقله غوښتنه کوی :-

د یو یونټ د ماتولو سره دې د پخوانی صوبه سرحد نوم پښتونستان کښودلے شی - د پښتون ستوډنټس فیډریشن یوې عامې جلسې ته د عبدالقیوم خان خطاب .

ورځپاڼه مشرق پښور ۹ / مارچ ۱۹۶۶ء

د دې پحقله چې پخپله د پیپلز پارټۍ چیرمین مبا غلی بهټو چې څه ویلی دی - موښ د دې جائزه اخلو - هغه په خپل Pakistan - A FEDERAL OR UNITARY STATE " پاکستان یو وفاق یا وحدانی ریاست " نومې کتاب کښې یو اصول وړاندې کوی :

«د مرکزیت پیدا کولو عمل ته په مصنوعی طریقې سره د تېزولو کوشش د یو والی او یو رنګی توقع لرونکی امکانات د همېشه د پاره په خطره کښې اچوی.» دا اوښیار او څېړنیز سړے د کتاب په صفحه نمبر (۱۵) کښې لیکی: «دا ټولې ټکرې چې زه دلته وړاندې کوم - د بناغلی بهټو دهغه کتابچې نه اختلال شوی دی - کوم چې د مغرب پاکستان په یو وحدت کښې د یو ځای کولو خلاف لیکلے شوی دی - په صفحه ۱۵ باندې بناغلے بهټو دوې لږ نور تفصیل کوی - لیکی چې د پاکستان جوړېدو نه پس.

«اګرچې د اسلام د متحد او یو ځای کولو والا اعلیٰ او اوچت طاقت، نسلی کلتور، ژبه او دود دستور په اوچتو اواوښتو رکاوټو نو کښې په تېرېدو وړاندې لاړو - چې هغه د مختلفو حلقو پخپلو کښې د یو ځای کولو او یو آزاد مملکت کښې بدلولو کې - لیکن د دې استونو په خپلو کښې د جدا جدا قسمونو کې بدلولو کوم چې د تاریخ د ډېر اولنی وخت نه راروان دی - برابر قائم دی او وړاندې نه شو .....»

«د اسلام د ورځې د خوشحالۍ او خوند د څېړنې سترے کولو والا یوشان نه بدلېدونکے او یورنګ نظام په ترقي کولو سره به بلکې د مختلفو قسمونو د کلتورونو او اخلاقي قدرونو د پورې طاقت سره پخپلو کښې د سمولو او خپلولو نه پیدا کېږي - د کتابچې په صفحه (۱۶) باندې د مولانا لاړکانوی د پاسه دا ارشاد دے - بیا په دې صفحه هغه وړاندې والی:

«عام طور سره د اسلام مجاهدینو د هغه خلکو سره کومو چې دوی سره جګړې اوکړې - د معمول خلاف ډېر بردبار او صبرناک وو - اوهغوی نه صرف د فتح کړے شوو علاقو کلتورونو او ژبې بلکې د هغوی جغرافیائی

وحدتونه مخ هم بالکل هم په هغه خپل حالت کښې پرېښودل .

" دصوبائیت دا مرض دموجوده وخت پیمارۍ ده۔ او دې دګرفت اوغلبې په نوره سببونو کښې یوځو سببونه دډېر زیات زور اوزبردستۍ طریقې دی ۔ کوم چې د مثال په طور د یو یونټ اودعلاقائی فهرښت سکیمونو ته د عمل جامه اغوستلو د پاره استعمال کړے شو ۔ جغرافیائی حدونه د قلم په یو حرکت سره ختمولے شی ۔ لیکن کلتوري اختلافونه د مقننې او انتظامیې په سمدستی حکمونو او اردې ننسونو سره نه شی ختمولے "

د دې نه پس کامریډ لاډکانوی وائی :

"تاسو د ډېرې خوشحالۍ سره د مغربی پاکستان وحدتونه دکم نه کم کړئ ۔ لیکن دا د کلتورئ ، جغرافیائی او په خپلو کښې د تاریخی رشتو په اصولو اوکړئ ۔ نو چې د خپلې خوښې په سازشونو باندې صفحه ۲۳

د خپل نقطهٔ نظر نور تفصیل وے کولو سره مباغلی بهتو د خپل خاص انداز مطابق ددې ملک د حدودو نه په الوتې سره دکینیډې نه لوړې رسی ۔ داشان لیکی :

د کیوبک او مشرقی پاکستان په خپلو کښې مشابهت د هر اهمیت لرې دکیوبک د خلکو نزدې د تعصب او لیونتوب ترحده دا خواهش چې مغربی دکینیډې قوم د ذیات تر وحدت د نه خپل خان له ثقافت د جنس ، نسل او ژبې محفظ اوکړی ۔ دومره لوی اوزوردار وه شوه چې د مشرقی پاکستان په دې خلکو کښې موجوده ده ۔ داسې ائین کوم چې د داشان جذبو مخالف او د مغربی نه نفرت کوی ۔ هغه په خامخا ضد او نافرمانه ته هوا ورکوی ۔ ص ۱۸ :

او په اخر کښې دی :-

" داسې اوشوه چې په هغه ملکونو کښې کوم خائ چې کنې قسمه

خلک موجود وو۔ د وفاق حکومت تجربه په دې برخه کښ ناکامه او د ذکر قابلې کامیابۍ سره اوشوه۔ او په امتحان کښې پوره اوختل ۔

د امریکې او سوویت یونین مثالونه دلته صرف د دوو ذکر کولے شی ۔

د تاریخ په صفحو کښې لیکلی دی ؛ امریکه د دنیا په ټولو حصّو کښې د خلکو د چاپېر مختلفې ژبې ، مختلف دستورونه او رواجونه ، مختلف مذهبیت او مختلف عادتونه دی ، په یو قامی وحدت کښې تړې ۔ هلته د ټول خلک دی ۔ یونانی ، ایران ، هندو ، مسلمان ، سوب اینډین ، چینی په دې کښې هر یو د خپل اصل ، نسل او جنس د خپل مذهبی او خپلې تهذیب وړاندې فخر کوی ۔ او دې ټول سره هغه د یو امریکئی په حیث د خپل عظمت پوره پوره شعور لری ۔

د اشان په سوویت سوشلست جمهوریتی یونین کښې هر جمهوریت په خپل ځای یوه دنیا ده ۔ او دې باوجود هغه ټول د یو واحد قانونی وحدت په وفاق کښې تړلی دی ۔ ص ۲۳ ۔

په دې حقله دومره څه وئیل کافی کېدل پکار دی ۔ زه اوس د ا بحث د پاکستان په قامی اسمبلی کښې د سیاسی بهتو په تکو ختموم ۔ په یوه خاصه مرحله باندې د بعضې سیاسی خلکو له ایجنټ یو مهم شور و شوے دے ۔ په کوم کښې چې د پښتو ځه په د پولونو څه د اشان نارې لیکلے کېدلې ۔ ۔ ۔ ۔ ۔ ۔

سیاسی بهتو قامی اسمبلی ته راغے ۔ ظاهره ده چې هغه د هغه نارو په وجه غصّه وُ ۔ هغه د دې لیکلے شویو نارو یو فوټو ستیټ کاپی په هوا کښې اوخوځوله او په خپل اوچت آواز ئې اووې :۔

لیکن اخر موږ د تاریخی حقیقتونو نه مسترګې ولې پټوو ؟ د دنیا

په نقشه د پاکستان د سنګاره کېدلونه وړاندې د بلوچستان ، سندھ ، صوبه سرحد او پنجاب خلک څه وو - په دې حقله یو ځل زمانه یو ډېر دلچسپ سوال اوکړے شو . سبه ده ولی خانه ! ولایه ته څه ئې ؟ روښیے مسلمان ئې که پاکستانے یا پښتون ؟

زما جواب د ډېر صفا اوساده وُ - ما وېلے اوویل : - زه د شپږو زرو کالو د عمر پښتون یم - د زرو کالو د عمر مسلمان او د اووه سوو کالو د عمر پاکستانے .

سوال دا دے چې څه کوم یو څیز دے - کوم چې مونږ ته د اسو راکوی - چې یو پښتون مسلمان نه شی کېدلے - یا یو مسلمان پاکستانے کېدلے نه شی - زمونږ پښتانه مسلمان او پاکستانی کېدل داتاسې څخه حقیقتونه دی - او مونږ د دې نه ستړے نه شو پټولے .

اختتامیه «اخره»

زما توقع ده چې داعزتمند عدالت به پوره اندازه اولګوی - چې په دې حالاتو کښې زما د پاره بالکل دا ممکنه نۀ ده - چې د دې غیرمتعلقه دخبرو بوج ګوم چې خامخا د مقدمې کارروائی ته داوښدوالی د پاره عدالت ته وړاندې شوے دے - جواب اوکړے شم - ترکومې چې نیپ د لاږ نه اخوا ګولے وو - هغه مقصد نو پوره شو - دې ته د وړاندې نه د زیاتونه زیاته سزاورکړے شوې ده - یو سړی ته پهانسی ورکړے شوه - او د دې نه پس د هغۀ د پاره اپیل داخل شو - زما په شان یو عام سړی ته کوم چې د قانون ماهر نۀ دے - دا ټوله محامله داسې سنګاری .

او داپه پوره شان په سوچ کښې د رائلو والا خبره هم ده - ولې چې حکومت او د دۀ وکیلانو ته پوره پته ده - چې د قانون تر نظره په دې مقدمه کښې هیڅ هم نشته - داخبره د دې غلی بهتو د تقریرونو نه کوم چې هغۀ د نیپ د خلاف قانون ګرځولو نه پس کړی دی - کله چې مقدمه د سپریم کورټ په وړاندې وه - د دې د پاره د سماعت لاندې وه - صفا بنکاره ده - دې ګنډلو سره چې پنډلې په استغاثه کښې زمونږ خلاف هیڅ نشته - مغلی بهتو دې ته د یوې سیاسی مقدمې نوم ورکولو کوښش کړے دے - د پنجاب د نښه یوې عامې جلسې ته د تقریر کولو په وخت هغۀ تر دې حده لاړ - چې هغۀ حاضرو خلکوته اووې : چې که په سپریم کورټ د نیپ د خلاف قانون ګرځولو حکم واپس اخستو فیصله اوکړې - نو بیا به دا زما ذمه واری نۀ وی - او زیاته ئې لا تر دې اووې : چې زۀ به د نیپ سره په غرونو کښې جنګ کېږم - ایا د حکومت د کیس د کمزورۍ کیدو او

او د ملک د اعلیٰ نه اعلیٰ عدالتی منصب په حقله چې هغهٔ د کومې بې ادبۍ او سپکاوی اظهار کړے دے ـ ددې متعلق د ددې نه زیات صفا او واضحه څهٔ ثبوت کیدلے شی ـ لیکن د بناغلی بهتو د تقریر د تولونه مزیدار حصّه، هغه وه ـ په کوم کښې چې هغهٔ دغیب د خلاف قانون ګرځولو حکم طرف ته د اشارې کولو په وخت په چغه اووې :ـ

"دازما فیصله ده ـ داد خدائ فیصله ده ـ داد عوامو فیصله ده"

داشان هغهٔ په دې معزز عدالت باندې واضحه کړله ـ چې د نیپ د خلاف قانون ګرځولو حُکم د بناغلی بهتو دے ـ دوئیر اعظم دے اود دې لوئ او طاقت والا خدائ پاک هم دے ـ او داچې د دې ملک د عوامو دے.

اوس به کوم یو عدالت د دې د ډیرو د طاقتونو د حکم نافرمانی اوکړې شی ـ په دې کښې هر یو طاقت د هغه خپل دے او دې د ډیرو "د بناغلی بهتو د وینا مطابق، نیپ ته د پهانسی ورکولو فیصله کړې ده ـ اوس د ددهٔ د نافرمانی خوك همت کولے شی.

دلته یو څیز کوم چې زهٔ د عدالت په توجه کښې راوستل غواړم ـ هغه دا حقیقت دے ـ چې د متحده جمهوریت محاذ جوړولو پس نه واخله نیپ په محاذ کښې د شاملیدو د پاره سره نږدې کومې چې د عملی مقصدونو تعلق دے ـ د نیپ په حیث خپلې کارروائ بندې کړې وې ـ او خپلې تعلقې خلې ئې د متحده محاذ دننه په اوسپدلو کښې صرف د جمهوریت حقونو د بحالۍ د پاره د یو شریک او متحده محاذ پوښې محدودې کړې وې ـ او هغې به د متحده محاذ د هدایتو مطابق ښودلې کاروائ سرته رسول داخیز به پخپله په کتو کښې راشی ـ چې هر تقریر کوم چې په عامو جلسو کښې کیدهٔ ـ په دې کښې د دې تولو نه اهمه واقعه یعنې د متحده محاذ جوړولو طرف ته به اشاره وې ـ ما به د دې ـ ذکر کولو سره پخپلو تقریرونو کښې

د دې پخپله دا دلیل وراندې کولو - چې قوم ته د دې مشرانو شکریه ادا کول پکار دی ، د کومو چې د دې خطرې د وراندې کومې ته چې د املنا مخالف دے ، په خپلو کښې اتفاق اوکړو - او د متحده جمهوري محاذ د جوړولو د ذکر قابل ګڼې د پوهې او وطن دوستۍ مظاهره اوکړه - په محاذ کښې شامل د دوۍ خپلو خپلو پارټیو ته د دوۍمې درجې حیثیت ورکړے شو - قامي سیاستونو ته فضیلت ملاوُ شو - او دې ته اولنے حیثیت ورکړے شو تقریباً د ټپرو اتلسو میاشتو راسې دا پوزیشن راروان دے - چې د نیپ د خپلې پارټۍ پروګرام ، چې هغه هغه هم وُ - په وختي لحاظ پریښود لے شو د دې ترهغه اخر مینا غلی بهتو ته کوم جواز ملاوښد ے شی - چې هغه عین اوس په هغه وخت په نیپ باندې خپل ګذار اوکړے - ګله چې هغه صرف د متحده محاذ د یو جزء په طور کار کوی - او دے خپل ځان د هغه دولسو نکتو پورې محدود کړے دے - په کومو چې تولو سیاسي پارټیو اتفاق کړے وُ .

دغه دپاره موږ ته داحقیقت په پوره شان محسوسوو - چې نیپ دې مقدمې کولو سره صرف د خپل ځان دفاع نه کوی - بلکې هغه داد قانون د حکمرانۍ او اټکل او دستور د تابعدارۍ د جدوجهد دیوې حصې په طور کوی - مینا غلے بهتو خو په زوره زوره دا باتې کوی - چې هغه د دې ملک ته دستور ورکړو - لیکن سوال دا دے - چې هغه دستور دے کوم ځائے ؟ په قامي محافظ خانه کښې - کوم ځائے چې سرکاري کاغذونه او ډاډه تاریخي دا ستاوېزونه اینبوده ده شی ؟ په دې دستور عمل نشی کولے - په صوبائي خپلواکۍ کښې تر تاکلی حد باندې د اتفاق راوستلو پخپله د یو شورشغرب کښې - لیکن هغه صوبائي خپلواکی کوم ځائے ده ؟ کوم یو دستور ته هغه صدارتي وګ کړ پارلیمانی ډاډوالۍ چې په صوبائي اسمبلۍ کښې د اوو ممبرانو

نه اکثریت جوړیږي او د خوارلسو نه نه ۰ ۰ لکه څنګه چې د بلوچستان په اسمبلۍ کښې اوشو) مونږ محسوسوو - او په دې نوره دا محسوسوو - چې که پاکستان جمهوریت لاره خپله کړې وے - اوکه نه مونږ د مشرقي پاکستان وګړو له د پاکستان د اوسېدونکو او یوقوم د کسانو حیثیت نه مثلے شوے وے - نو د دې به پخپله نه مونږ په یو والی او وحدت باندې دې زبردست اثر شوے وی - او په دې به کشمیر په پاکستان کښې د شاملېدو نه مونږ په جدّوجهد کښې یقیناً چې دې نه مدد ملاوُ شوے وی - په بنګله دیش کښې شوې واقعاتو د ریاست په هندوستانی حصه کښې کشمیري مشران بیدار کړل - او هغوی د اسوج شوروکړو - چې کومو چې د پیپلز پارټۍ قیادت د بناغلی بهټو د نوې پاکستان په ځای شان سره د سائلو کوشش کوے - د بلوچستان او صوبه سرحد دواړه صوبو د ګورنرانو په دې سپکه طریقه برطرفي او د مینګل د وزارت په غیر اصلي او غیر قانوني توګه د برطرفه دا کارونه د ټولې د وفاق په دمانچه اوددې په روح باندې د ټولو نه لوی چکدار وی - او د صوبائي خپلواکۍ ختمېدل وو - د دې کټو سره ایادا د حیرت خبره نه ده - چې شیخ محمد عبد الله او د هغه ملګرو اخر په قطعي توګه هندوستان د خپلې سختې ۰ نرمه د دوه ځو ملګرو جوړولو فیصله اوکړله - زه په بناغلی بهټو باندې سپه په سوچ او پوهه کشمیر په لته د وهلو او د پاکستان د غېږې نه د بهر کولو او د هغې هندوستانی یونین ته د لېږلو الزام لګوم - شیخ عبد الله او د هغه ملګرې په دې بالکل په غلطه نه وو - هغوی ته په دې معامله کښې زیات انتظار هم او نه شو - هغوی اوکتل چې هم هغه شان په زور او زبردستۍ سره د آزاد کشمیر د صدر سردار عبد القیوم خان بستر ګول کولو سره

برطرف کړے شو۔ او د دې پس د بهتو ستاسیل ووټونه اوکړے شول.

مونږ د دې مقدمې کولو سره د حقیقت محسوسوو ۔ او د دې پوهه شعور لرو ۔ چې مونږ د پاکستان د وحدت او یو والی او سلامتی د پاره جنګیږو۔ ولې چې مونږ د اپوخ یقین دے ۔ چې یو ملک ته صرف د دې دپښو د اهمواري او د دوئ په مضبوطتیا سره قیام او استحکام حاصلیدلے شی ۔ د دې اداري دی ۔ مقننه (قانون جوړولو والا کمیټی) عدلیه او انتظامیه ۔ د دې اداروپه کمزورې کولو او د دې دیو فرد واحد د خپلې خوښې او مزاج د تلون، تابع کولو، هرکوښش چې د مملکت د بنیادونو کمزورې کولو او د دې د هانې او عمارت ته عملاً او مادی لحاظ سره پرې اثر پریباسی۔ دې د پاره په دې مقدمه کښې مونږ دلچسپی او مونږ مفاد ذاتی نه بلکې قومی دی ۔ زما خیال دے چې نیږ تر دې وخته هر سړے قائل کړو ۔ او هغه ته ئې دا یاد ورکړے دے ۔ چې هغه د عهدو او وزارتونو پسې منډې نه وهی ۔ د داسې په هغه د خپلو اصولو پرځله کله هم مصلحت نه کوی ۔

ما ته افسوس دے ۔ چې د دې معزز عدالت ما ته د دې طرف ته راکړې دی ۔ چې اګرچې مونږ دا محسوسوو ۔ چې دا مقدمه د جمهوریت د مستقبل د قانون د حکمرانۍ د حکومت د پارلیمانی نظام او د دې د وفاقی دهانې او مونږ د دستور او آئین روح ته او د دا شان پخپله د مملکت په سلامتیا به ډیر زیات اثر پرې باسی ۔ لیکن د دې باوجود مونږ ته د پاکستان د عوامو د پاره او د هغوئ د طرف نه د دې مقدمې کولو د پاره اسانتیا ګانې رانه کړے شوې ۔

به هرحال دا د نیږ خلاف مقدمه ده او بیا هم دې ته د دې مقدمې د کولو اجازت ورنه کړے شو ۔ حکومت د عدالت حکم هم برابر

د نظر انداز کولو کوشش کوی ـ د مثال په توګه زما د دې درخواست په جواب کښې چې د نیپ د طرف نه د دې مقدمې په حقله که څوك بااختیاره جماعت فیصله کولے شی ـ نو هغه د نیپ مرکزی کمیټی ده ـ عدالت حکم اوکړو ـ چې د دې کمیټی غوښتنه دې ړ اوبللے شی ـ حکومت چې د عدالت د دې حکم بې اثره کولو د پاره کومه طریقه اختیار کړه ـ هغه د هغه سنګاره ده ـ د مرکزی کمیټی هغه ټول غړی چې د حکومت په حراست کښې دی ـ هغوی ته د کمیټی د دې فیصلې کولو والا غوښتنه په بحثونو کښې د شرکت اجازت ورنه کړے شو ـ په بلوچستان کښې د کمیټی په دولسو غړو کښې الله په جهلو نو کښې وو ـ داسې د صوبې سرحد په دیارلسو غړو کښې لس د حکومت په حراست کښې وو ـ باوجود د دې چې د دې غړو نه بغیر تش په نوم د نیپ د مرکزی کمیټی غوښتنه په اسلام اباد کښې اوشوه ـ اوبیا باوجود د دې چې پنځه اصم او لوی ملزمان د اسلام اباد سره مابلکل نزدې په سهاله کښې موجود وو ـ هغوی ته په غوښتنه کښې د شریکیدو او نورو غړو سره په یو ځای د صلاح مشورې کولو او په شریک خپل فیصلې ته د رسیدلو اجازت ورنه کړے شو ماته خو دا ټوله یوه تماشه سنګاره شوه ـ او د عدالت د حکم په پوره توګه د خلاف ورزۍ د عدالت ته یقین ورکوم ـ چې د دې معزز عدالت عزت په مونږ د پرګران دے ـ ګنې مونږ د نیپ د مرکزی ورکینګ کمیټی د غوښتنه کله هم د یو باقاعده سرکاری غوښتنې په حیث نه ګڼو منلے۔

او بیا کله چې عدالت د لسو لنډیدو په سهاله کښې د یو ځای ساتلو حکم اوکړو ـ لیکن حکومت سمدستی نواب خیربخش خان مرې او میر غوث بزنجو ته اوتهل بلوچستان او ارباب سکندر خان خلیل ته پیښور ته اولیږلو ـ او داسې یې نور د سره هم اوکړل ـ د دې نتیجه

دا ډاووته ـ چې زه په سهاله کښې د حاجی غلام احمد بلور سره یو ځای پاتې شوم ـ چونکې ماته د ستر کې د نارو عتیا په وجه د زیاتو لیکلو او لوستلو اجازت نه وو ـ او چونکې ما سره څوک نه وو ـ چې د مقدمې د فائل سره یو ځای حوالې اولولی ـ او ماته یې واوروی ، دې د پاره ما د مغرب شپږ بجو صفحو مطالعه قدرې اونه کړې شوه ـ د دې نه د اخبره صفا بنکاره ده ـ چې حکومت نمونې په لاسه کولو کښې د رکاوټونو پیدا کولو پورې انبټې دے ـ

پنځله دا واقعه چې د دې مقدمې پنځه په پنځه ملزمان په جیلونو کښې د ننه دی ـ د حکومت د عمل په پوره توګه وضاحت کوی ـ دا یوه سیاسی مقدمه ده ـ یوه سول مقدمه یا د نظربندۍ د حکم مقدمه نه ده ـ په کوم کښې چې وکیلان خپل خپل دلیلونه ورکړی ـ په دې کښې خو به د بحث مسئله ډیره وروسته راځی ـ ورڅخه به د دې مقدمې د پاره د دستاویزاتو بیانونو ، تقریرونو ، مضمونونو ، کتابونو ، رسالو او اخبارونو حوالې د پرې ضروری دی ـ د مثال په توګه تاسو هغه خط او کتابت واخلئ کوم چې د بناغلی بهټو او نما تر منځه شوے دے ـ زمونږ په دې خط او کتابت نه څنګه لاس اوږدی ـ پاتې ټول کاغذونه او د ستاویزونه په پیښور کښې زما په دفتر کښې وو ـ دا د فتر په چوک یادګار پیښور کښې قیوم خان (درخواست کوونکے او دعوا کوونکے) دیو جذبات دا پاروونکی تقریر نه پس یوې مجمعې کوم چې د صوبائی کابینې د پیپلز پارټۍ وزیرانو په مشرۍ کښې د جلوس په شکل کښې روان وو ـ او سوزوو ـ دا بالکل د منصوبې مطابق وو ـ بلکې دوه څپانړې شهباز ټول فائیلونه او ریکارډ دې هم اوسوزول بیاد اخبره هم ده ـ چې دنګرانه په وجه مونږ د جیل د قاعدو ولاندې یو ـ دا شان ټول کتابونه او د هرقسمه لټه پچر تر دې چې د ښاغلې او

بچو خطونه هم سنړه کېدل۔ او بیا چې کله یوه داسې مقدمه وي چې په کومه کښې چې بناغلے بهتو په ذاتي توګه دلچسپي لري۔ عدالت په دېره سپېڅلتیا د حاکمانو دا نو ډاډ تصور کولے شي۔ کوم چې مغوي ته په قاعدو او ضابطو پورې په عمل کولو کښې پېښېږي۔ په کومه طریقه چې د حکومت ټول نوکران ېې څومره بې عمته او بېرولی دي۔ او مغوي ېې د کورونو د نوکرانو حیثیت ته راښکته کړې دي۔ په دې حالا تو کښې چې په مونږ څه تېرېږي۔ عدالت د دې په سپېڅلتوګه تصور کولے شي۔ د اشان د جبل حاکمان، پولیس، سي۔ ای۔ ډي انټیلي جنس بیورو او سنړه کولو والا افسرانو ترمنځه تاسو ایله په مشکله رقبدے شئ۔ په دې حقله بل مثال دادے۔ چې اګرچې مونږ د مختلفو صوبو سره تعلق لرو۔ لېکن مونږ نظربند ساتلے شوي یو۔ په پنجاب کښې او بیا په مونږ کښې بعضې د صوبائي حکومت په حکم نظربند دي۔ او نور د وفاقي حکومت په حکم سره۔ د دې په وجه پوره اړه کړے دے۔ د اشان د پنجاب حکومت، د بلوچستان حکومت، د صوبه سرحد حکومت، وفاقي حکومت په نزد صوبائي او وفاقي حکومت د کورنو چارو پحقله د خوسیکټریانو ترمنځه زمونږ څه ځای نشته۔ تر دې چې د ډکشنرۍ د حاصلولو د پاره که هفتې نه نو څو څو ورځې لګي۔ بعضې وخت زما قانوني مشیرانو ته په ملاقات کولو کښې مشکلات پېښېږي د پاره د دې مقدمې پخپله چې مونږ څه هم کوو۔ هغه یو کوشش دے۔ د انتهائي بدخیز نه هم د ښې والی د څه اړخ را اوکښلی۔ زمونږ په لاره کښې د هر زیات رکاوټونه دي۔ لېکن مونږ بیا هم د دې مقدمې کولو د پاره تیار یو۔ بلکې د تیار نه څه زیات یو۔ لېکن د مقابله او میچ دے یو غیر مساوي او نابرابره۔ د د خواست ګذار مدعي یعني د پاکستان د حکومت سره۔ د مملکت ټولې وسیلې دي۔ او دوئ سره د مقدمې کولو د پاره او د

د دلیلونو راوړلو د پاره - د وکیلانو یو فوج دے - په دې حقله د مبالغې نه بهتره نیت بالکل ښکاره دے - هغه د کشتۍ یو د ښګل کول غواړي - لیکن د دستور مطابق د قاعدو او ضابطو نه بغیر - هغه اول زموږ لاس او پښې بنده کلکې اوتړي - او د دې نه پس بیا د ښګل کول غواړي - موږ صرف د دې معززه عدالت نه توقع کولے شو چې هغوئ دې دا د ښګل برابر او مساوي جوړکړي زموږ لاسونه او پښې دې پرانیزي - او موږ له د برابرۍ موقع راکولو په حقله دې حکومت مجبور کړي - چې هغه د دفاع خرچ راکړي - که زیات نه وي نو کم نه کم دومره خو دې وي - څومره چې حکومت د دې مقدمې کولو د پاره په بجټ کښې اېښے دے .

موږ په پوره یقین سره دا محسوو - چې دا مقدمه د پاکستان د وفاق مقدمه ده - او که د وفاق حکومت نیم وحدت بل نیم د دې بنیادي، جمهوري قانوني، دستوري او ائیني حقونو د موجودګۍ او ژوندي اوسېدو د حق نه محروم کولو پسې شوے دے - نو په دې معزز عدالت باندې د خپله طرفه او د پاکستان د اولس له طرفه دا فرض کېږي - چې هغوئ دې وفاق پاکستان بچ کړي - او دې ټولو وحدتونو ته دې یو شان او برابرۍ موقع ورکړي

مدعا علیه (په چا چې دعوه شوې وي)

تصدیق (ثبت)

د پېښورد په سهال جېل کښې نن ورځ - جون ۶ سنه ۱۹۷۵ کښې تصدیق کولے شي چې په پوره ته حلفیه بیان کښې بیان کړے شوي خبرونه زما د بهترین علم او خبر مطابق صحیح او ټهیک دي

مدعا علیه .

پاکستان سپریم کورټ کښې
(اوریجنل جیوریس ډکشن)

ریفرنس نمبر ۶ د ۱۹۷۵ء

اسلامیه جمهوریه پاکستان — عرض ګذار مدعی
(درخواست کوونکے دعویدار)

په مقابله

د خان عبدالولی خان — مدعا علیه (په چاچې دعوه شوېده)

د حقایقو حلفیه بیان

دا ټکی لیکلو والا جے - ډی - اکبر چې ایډوکیټ ان ریکارډ په پورته ذمه واری سره ددې خبرې تصدیق کوم چې د الیکشن شوے بیان د اعلیٰ مرتبې په عدالت کښې د داخلولو پاره زما په حواله شو.

جے - ډی - اکبر
ایډوکیټ آن ریکارډ
د پاره
مدعا علیه

نیټه ۱۴ د جون ۱۹۷۵ء

پاکستان سپریم کورټ کښې
(اوریجنل جیورس ډکشن)

ریفرنس نمبر ۱ ، جون ۱۹۵۸ء

اسلامیه جمهوریۀ پاکستان (درخواست کوونکے ، دعوه کوونکے)

په نوم

د خان عبد الولی خان

د خبرورکولو حلفیه بیان

داتګی لیکونکے جے۔ ډی اکبر جی په پوره ذمه واری سره دا تصدیق کوم چې ما د درخواست کوونکی دعوه کوونکی ته چې د پاکستان په سپریم کورټ کښې د دې لیکلی بیان د داخلولو په باقاعده طور اطلاع ورکړه ۔ او د دې لیکلی بیان یوه کاپی مې درخواست کوونکی ته ورکړه

(جے۔ ډی۔ اکبر جی)
ایډوکیټ آن ریکارډ

د پاره د
مدعا علیه
نیټه :- ۱۴/جون ۱۹۵۸ء

باچا خان

په

هندوستان کښې

لیک: محمد اسماعیل ذبیح
مترجم: شاه جهان صابر

باچا خان" ۔ ابتدا اولاد ہی



باچاخان" او میرمن نسیم ولی خان

جماجم ضحايا مذبحة حلبجة بعد استعادة المدينة من قبضة الجيش العراقي



باچاخانؒ اندرا گاندھی اور پرکی راجیو گاندھی سرہ



باچاخان" او د هند وزیر اعظم اندرا گاندهی



باچاخان" سره د هند وزیر اعظم نرسمارا ؤ ملاویکی

باچاخان په هندوستان کښې

د محترم خان عبدالغفارخان صاحب د هند د اوسنۍ دورې د خبرو تقریرونو او پریس کانفرنسونو او د احمدآباد د دورې څرګندونې

شاید د هند د تقسیم نه پس د هندوستان د مسلمانانو د پاره داجتماعی خوشحالی به دد ډیره نه بله غټه موقع داسې نه وی راغلی کومه چې د باچا خان د هندوستان د دې دورې له رویې د هغوئی نصیب شوه او کیدائی شو چې ما هم د خوش اعتمادی باوجود د باچاخان د هندوستان د موجوده دورې همه کبیر اثرات په پوره توګه محسوس کړې نه وے که چرې ما پخپله د هندوستان په خاوره پخپلو سترګو د باچاخان طوفانی هلې ځلې او دبام و در لرنو وونکے آواز اوریدلے نه وے او پخپله مې د هندوستان احتیارونه لوستلے نه وے د مسلمانانو سره مې لیدلے نه وے او د هغه مسلمانانو مشرانو خیرې مې اوریدلے نه وے چا چې د ویرې په ترڅ کې په چاپیریال کښې د باچاخان سپینې سپینې خبرې، برملا تنقیدونه او د فرقه پرستۍ خلاف بنکاره جهاد د مسلمانانو د پاره امداد غیبی ګڼلو او چا چې عین په هغه وخت کله چې په احمدآباد کښې د مسلمانانو د قتل عام نه پس د ځنګل د اور په رنډا کې د خوږیدونکی فسادونو خطره هر ځای محسوسوله - د باچاخان مینه پاره مینه او کلی په کلی د هندوستان د دورې نه پس د اطمینان ساه اخستې وه.

زه په یو دې پر غمجن ماحول کښې هندوستان ته راغلے وُم. د ۲۷ نومبر ۱۹۴۹ء

مسلمانانو کله هم نشوے کولے. او که چرته هغوی د غه خبرې کړې وے نو سزاوار شوی به وو، په داسې حال کښې به د مسلمانانو فریاد چا اوریدو؟ په وحشیانو کښې به داچا خپرولو؟ هغه جلسې به څنګه کیدې چې هند وستانی مشرانو حکومت او فرقه پرست کسانو ته سپینې سپینې او په ډانګ پیلې خبرې واورولے شوې.

د مولانا محمد اسحاق علمی د خبرو په ربنا کښې باچا خان د پاکستان وقار اوچت کړو، د هندوستان د مسلمانانو وقار ئې اوچت کړو، او هندوستان ته ئې د امن و آمان تلقین او د ظلم او تشدد په خلاف وډرېدو او د ټولو مظلوم انسانیت خدمت ئې اوکړو. او په هندوستان او پاکستان کښې ئې د فرد شناسی درد مند عه او میرنی قیادت هغه معیار اوډرولو چې اوس نایاب دے.

د هند او پاکستان د خرابو تعلقاتو یوه بیده نتیجه داهم ده چې اوس د دواړو ملکونو ترمنځ اخبارونه او مجلې په ډاګه نښتی تلے. په دې سلسله کښې دواړه حکومتونه په یو بل الزامونه لګوی. خدای سنه پوهېږی چې د اخبارونو وانډیز د چا د دماغ ایجاد دے؟ خو بهرحال دا د افسوس خبره ده چې د پاکستان یو عظیم لیډر د تېرو خو میاشتو راسې د هندوستان په طوفانی دوره دے. هغوی په ډېرو اهمو موضوعاتو تقریرونه وکړل. او د هندوستان په کروړونو اوسېدونکو ته ئې ښه آواز ورسولو. هغوی نه یوازې د هندوستان او هندوستانی مسلمانانو خدمت اوکړو بلکې د پاکستانی مفاداتو ئې هم احسنه ترجمانی وکړه. خو د هغوی د خپل وطن پاکستان په یوه علاقه کښې هم د غه تقریرونه خپارۀ نه شول. په احمدآباد کښې چې هغوی څنګه د ګجرات مجرم حکومت مرعه ته لاس واچولو او غم وهلی مسلمانان ئې د ظالمانو د پنجې نه خلاص کړل، د نفرت او تشدد خلاف ئې چې کوم دائره ډک آواز پورته کړو او چې څنګه ئې شپږ کروړه مسلمانانو ته د عزم، خود اعتمادی، ایمان

او حوصله مند ی په بنیاد دیو والی درس ورکړو د هغې ښځې تذکره په پاکستانی صحافت کښې او نه شوه، لکه چې د ۵۵ کروړونو په ملک کښې د شپږو کروړو کم شمیره د حفاظت د پاره لکه د عنز او د ریډل . په اکثریت او اقلیت کښې محبت پیدا کول، د نفرت اومرکول، د عدم تشدد تلقین کول، هندوستانیانو ته د گاندهی جی اصول وریادول او هندوستانی مسلمانانو لپاره په هندوستان کښې د تولو بشپړ حقوقو د ترلاسه کولو کوشش کول څه قابل تعریف کار نه وی . چې ذکر ئې اوشی. او د داد او آفرین دوه ټکی پرې اولیکلے شی.

دا هندوستانی مسلمانان څو صرف دې د پاره نه وو۔ د چا په قربانیو چې پاکستان جوړ کړے شی او بیا یکسر هیر کړے شی .

د باچاخان د تقریرونو، پریس کانفرنسونو، بیانونو او مختلفو غونډو نه د خبرو چې کوم لنډیز او نمونې په دې څاڅ کښې ورکړے شوی دی، هغه پخپله گورپانه دی. ما صرف هغه ترتیب او تلخیص کړی دی . ټول توپیر د باچاخان خپل دی . چې زیاد تر د مسلمانانو اخبارونو نه راختل شوی دی . ما د دې اخبارونو تورتراشې د خان سره راوړې دی چې ما سره محفوظ دی . زه د دې په اخبارونو لپاره د مولانا محمد اسحاق علمی صاحب شکرگذار یم چې هغوئ د ښه کاپۍ په توګه د پاکستان اوسیدونکو ته وړاندې کړی دی .

ما چې په هندوستان کښې د موجوده ایسارتیا په دوران کښې د باچاخان د دوړې کومې نتیجې اخذ کړی دی هغه په لاندې ډول دی .

۱۔ کله چې باچاخان دا وخت هندوستان ته تلے نه وے نو د احمدآباد او گجرات د فسادونو په توګه به د هندوستان په ټوله خاوره نور سنګین مسلم کش فسادونه شوی وو. فساد کوونکی فرقه پرست جماعتونه د رتلې ریتلې بهانو په لټه کښې د دې تیارې کړې وی. باچاخان د احمدآباد او گجرات د گڼو ضلعو د ۲۲، وخت دوړې په ترڅ کښې د هغه مجرمانه بربنډ (ښکاره) کړل. او غلا ئې عین په

د باچاخان درنه خوږ وُ۔ دامې لکه چه په هندوستان زلزله راغلې وې۔ خو باچاخان چې د یو بې تاجه باچا په ژبه د هندوستان په اولس کښې پاتې شو چرې هم د خپل مشن نه غافله نه شو۔ هغهٔ د خپل تعریفونو او استقبال دباوُ قبول نه کړو، او هرځائ ئې د اولس په وړاندې په دانګ پیښلې خبرې اوکړې۔ د احمدآباد په فساد ئې لعنت اوویلو۔ په تشدد او تعصب ئې ملامتیا اوویله د فرقه وارانه یو والی تاکید ئې اوکړو او د غربت په خلقولو ئې زور ورکړو۔

سالم هندوستان چې په کومه توجه د باچاخان خبرې اوریدلې وې د هر مخلص پاکستانی صم داخواهش دے چې هغه کامیاب شی۔ ولې د دې مرحلې صحې اثر به روستو لیدے شی۔

۶۔ ځائ په ځائ چې د هندوستان عوام او خواص په کوم خلوص باچاخان ته کسوړې (ټوپلی) وړاندې کړی او څنګه چې د هر مذهب عامو خلقو په دې کښې برخه واخسته۔ بیشکه چې دا د عقیدت لوئ اظهار دے۔ خو دا پیسې د باچاخان ذاتی نه دی۔ بلکې دا یوه دیره لویه قامی پنګه (فنډ) دے۔ چې دیرې ډلې (کمیټی) په نګرانۍ کښې دے چې د باچاخان په مشوره به خرچ کړی۔ د دې یوه برخه به د احمدآباد او ګجرات د مظلومو مسلمانانو په آبادکارۍ کښې لګولے شی، یوه برخه به ئې د مسلمانانو په ژبې شوو جوماتونو او اسلامی مرکزونو لګولے شی۔ اوڅه حصه به ئې تعلیمی اداروته ورکولے شی، په دې به د خدمت خلق اداره هم چلولے شی۔ او له هرڅه وروسته زیات رقم به په فرقه وارانه یووالی لګولے شی۔ یعنې د دې پیسو نه به د وسپنې برخې په توګه د مسلمانانو اداروته امداد هم کولے شی۔ باچاخان پخپله هم اعلان کړے دے۔ چې دا قامی پنګه (فنډ) دے۔ او د کمیټی د ممبرانو هم داوینا ده۔

د هندوستان د مسلمانانو د پاره د افغان نیغ په نیغه په دوو وجهو سترد همند دے۔ ورومبے دا چې په دې به د دوی د اداروملی امداد وشی۔ او

بلد دا چې دا به په فرقه وارانه یووالی خرڅ کېږی. چې لویه فائده به ئې مسلمانانو ته رسی. له همدې کبله نن په هندوستان کښې د امن او عدم تشدد او دهاندی جی د اصولو معنی صرف داده چې دکم شمېره مسلمانانو مال او ځان محفوظ اوسی.

۷.- باچاخان په دې دوره کښې دا خبره بلکل پټه اونه ساتله چې زه پاکستانی یم. هغوئ په واکه ویلی دی چې هغه پاکستانی دے. د هندوستان باشنده جوړېدل نه غواړی، هغه به واپس پاکستان ته ځی، پاکستان کښې د هغه زیات ضرورت دے. هغه نه د پښتونستان د پاره د څه سرمائې یا بل امداد ضرورت نیشته د هغه پښتونستان د پاکستان دننه دے، هغه برسر عام د متحده هندوستان (اکهنډ عبارت) غندنه اوکړه، او په هر دول ئې ځان د پاکستان د سالمیت علمبردار اوښودلو.

دې سره سره باچاخان په بیا بیا دا اعلان اوکړو، چې پاکستانی هندوان په هندوستان کښې د آباد و مسلمانانو نه په ښه حال کښې دی، اوږدا چې په پاکستان کښې تول کم شمېره غربی اوتر یوکروړه هندوان په پوره امن او سکون ژوند تېروی.

باچاخان په خپله دوره کښې په بیا بیا هندوانو ته دا درکه ورکړه که چېرې تاسو په هندوستان کښې د اوسېدونکو مسلمانانو قتل عام بند نه کړو نو په پاکستان، افغانستان، ایران او عرب ملکونو کښې په میشته هندوانو د دې ردعمل څرګندیدے شی. او مسلمانو ملکونو سره د هندوستان تجارت هم په خطره کښې پرېوتے شی. بلکې ماته یاد ښی چې باچاخان د بهار په دوره کښې په ښکاره توګه دا ویلی وو چې که هندوان د فرقه پرستی نه منع نه شول - نو بې شمېره نور پاکستان غوندې ملکونه به جوړ شي.

باچاخان هندوان لیډران او د هغوی فرقه پرستی د هندوستان د

خواهشمند دے. باچاخان د خپلې دې خبرې نه روستو نه شو- او هغوی د کشمیر دوره هډو ختمه کړه- خو که هغهٔ د کشمیر دوره هم اوکړه نو هغه به خپله دې فیصله کلک ولاړ وی- چې د کشمیر د مسئلې هوارے د کشمیری اولس د مرضی مطابق پکار دے.

هغه هندوستانی خلقو چې د باچاخان د پاکستان د بنیادی پالیسی نه د اوړېدو خوښونه لیدل، اوس هغوی ته دا معلومه شوې ده، چې سره د باچاخان ټول پاکستانیان په خپله قامی پالیسی کلک ولاړ دی او د کشمیر مسئله خپله نهٔ ده لا ژوندی ده.

هغه څوک چې د تقسیم هند نه پس په هندوستان کښې د پاتې شوو کسانو د حال نه خبر دی- هغوی ته دا اندازه ده، چې د هندوستان د مسلمانانو مسئلې د ځانونو د مال د بربادی وېره، د قیادت نشتوالے، د نصب العین ختمېدل، د سیاست نه یو ډډې ته کېدل، مذهبی بې اتفاقی، فرقه بندی بې روزګاری، غربت او افلاس او د اکثریتی عوامو له خوا په دوی د پاکستانی کېدو الزامونه وغیره دی- د هغې وجې په فرقه وارانه فسادونو کښې د دکانونو او مالونو تباهی له دوی نه خود اعتمادی او حوصله مندی تر ورلې ده- د پاکستان جوړولو په وخت هغوی د یو طوفان په رنا کې وو- ولې اوس داسې برېښي چې هغوی د امنګونو نه خالی فقط د خپلو تونو یو تصویر وی، هر درد مند زړه د دوی په حال اوښکې تویوی چې د شپږو کروړو د اکثریت باوجود ځان یو لاچاره اقلیت ګڼي، له دوی نه اجتماعیت ورلې شوه، دا پاکستان چې د دوی په وینه او خوله جوړ شوے دے له دوی نه تردې حده بېګانه شو- چې اوس که څوک د یو خپلوان سره د لیدلو لپاره پاکستان ته راتلل غواړی- نو په دهلی کښې د پاکستان مقامی هائی کمیشن په دفتر کښې د دوی لپاره هم درد دی هم نیشته، امداد کول خو دې لرې خبره ده، د پاکستان د لیدونکو او پاریدو د اوچتو اوچتو مشرانو سره

د هندوستان د مسلمانانو لپاره څه مشوره څه منصوبه یاځه کلکه هډوډی هم نیشته. د بې وفائ حد دے چې پاکستان کښې اوسېدونکی هغه لیډران د چا چې د هندوستان د مسلمانانو سره د وینې رشته ده هغوی هم خپل وروڼه هېر کړل.

په دې حالت کښې باچاخان لږ څو میاشتو راسې په هندوستان کښې دے او د هغوی د کلهمو بې شانه کوششونو او دېښې او وحشې دوړو حاصل دادے چې د هندوستان د مسلمانانو ځان او مال محفوظ وی، هغوی د هندوستان عزت دار اوسېدونکی وګڼړلے شی، هغوی ته برابر شهری حقوق حاصل شی او په هندوستان کښې د مسلمانانو د قتل عام تشدد بند شی. هندوستان د ګاندهی جی په اصولو روان شی او په هندوستان کښې فرقه وارانه لعنت ختم شی. او د قانون یو والی فضاء جوړه شی.

د دې مقصد لپاره باچاخان هندوستانی لیډرانو ته څه وویې، او هندوستانی اولس ته ئې څه اووې، هندوانو طالبعلمانو ته ئې څه وویې، او پخپله مسلمانانو ته ئې څه وویې. دا هرڅه تاسو په دې لاندې کرښو کښې لوستے شئ.

لومړے خبره داده چې باچاخان د هندوستان مسلمانانو ته برملا د قرآن پاک او اسوهٔ رسول باندې د عمل کولو تلقین وکړو، هغوی ته ئې د خود اعتمادۍ درس ورکړو، هغوی ته ئې د متحد او منظم اوسېدو فن اوکړو، هغوی ته ئې د خپل حفاظت پخپله کولو او د خپلو مسئلو پخپله د هواری نصیحت اوکړو، او هغوی ته ئې دا وخت د هرڅه نه اهم، هرڅه نه ضروری او د قسمتونو بدلولو کے دا نصیحت اوکړو چې هغوی د هندوستان په اجتماعی سیاست کښې برخه واخلی، په اجتماعی توګه د مخلوق خدمت اوکړی، مخلص قیادت راپیدا کړی. فرض شناس کارکنان را وپاندې کړی، تاسو شپږ کروړه ئئ. دا هندوستان هم ستاسو دے. تاسو

زماد موجودګی په پاکستان کښې زیات ضرورت دے۔

ګورکھپور یکم دسمبر «خان عبدالغفارخان د سیاسی کارکنانو په یوه درنه غونډه کښې د یو سوال د ځواب په وخت اعلان وکړو چې زهٔ اوس دوباره د هندوستان شهریت اختیارولے نشم، زماد موجودګیٔ اوخدمت په پاکستان کښې زیات ضرورت دے۔

(روځپانړه سیاست جدید، کانپور، ۳/ دسمبر ۱۹۶۱ء

زمونږ د پښتونستان د پاره د هیڅ قسم بهارتی امداد پکار نهٔ دے۔

کشن ګنج (صوبه بهار) ۶/ دسمبر - دلته باچاخان یوې ډېرې درنې جلسې ته د تقریر په وخت وفرمائیل: چې مونږ ته د پښتونستان د پاره د هیڅ قسمه بهارتی امداد ضرورت نشته، مونږ خپل پښتونستان ښکاره ولیږو۔

(روځپانړه صداې عام، پټنه، ۷ دسمبر ۱۹۶۱ء

د متحده هندوستان (اکهنډ بهارت) هډو سوال نهٔ پیدا کیږی

بنارس، ۲۹/ نومبر :- نن باچاخان د بنارس هندو پوهنتون کښې د طالب علمانو او استاذ انو یوې درنې غونډه کښې دوه ساعته ډېرې کړے شوې سپاسنامې د ځواب په وخت د متحده هندوستان (اکهنډ بهارت) د خیال غصه نه وکړه او وې ویل چې هرکله دوه فرقې پخپلو کښې د فرقه وارانه یو والی لاندې اوسېدے نه شی نو بیا د اکهنډ بهارت څه سوال پیدا کیږی؟

روځپانړه قومی آواز - لکهنؤ، یکم دسمبر ۱۹۶۱ء

۲ - الهآباد:- ۳۰/ نومبر نن دلته باچاخان یوې درنې جلسې ته د خطاب په وخت وویل چې: څوکسانو ماته پوښتنه کړې ده چې «اکهنډ هندوستان» ممکن دے؟ ما دوی ته صفا ویلی دی چې دا ممکنه نهٔ ده، تاسو چې دلته د مسلمانانو قتل عام کوئ نو دا توقع څنګه لرلے شئ چې نور مسلمانان د اکهنډ هندوستان

سوچ لرلے شئ.

(روښانۍ سیاست جدید، کانپور یکم دسمبر ۱۹۶۹ء)

پاچاخان ته وسکرې شوې پیسې به هندوستان کښې خرڅ کولے شی
دیوپی د وزیر اعلیٰ مسټر گپتا اعلان

لکهنؤ ۲/ دسمبر :- محترم خان عبدالغفارخان دویکټوریه پارک په چوک کښې د پښتوس زړه کسانو یوې جلسې ته د تقریر په وخت د خلقو دیوتر بله په جګړو دهر په درد بدلی اندان دافسوس څرګندونه وکړه، او وې ویل چې: داجګړې خو غرضه خلق کړی، نتیجه یې دا شوه چې نن هندوستان د آبادۍ په ځای د بربادۍ خواته روان دے. په دې جلسه کښې د صوبې یوپی وزیر اعلیٰ چند ربهان گپتا د لکهنؤ داوسیدونکو له خوا د اتو لکو روپو یوه کسوړه پاچاخان ته د عقیدت په توګه وړاندې کړه او وې ویل چې مونږ تولو ته معلومه ده چې پاچاخان به دا روپه خان سره واپس نه وړی، بلکې چې کوم کارونه د صغرې په نظر کښې ښه وی د صغې کارونو لپاره به یې مونږ ته واپس راکړی. پاچاخان په خپل تقریر کښې د ښار داوسیدونکو منننه اوکړه او د گپتا جی کسوړې ته یې اشاره وکړه - او وې ویل چې زه به د دې یوه پیسه هم په خپل ذات خرڅه نه کړم، ځکه چې دا زما عادت نه دے زه چې په هندوستان کښې د کوم کار لپاره څومره روپه مناسب ګڼم، د هغې د خرچ کولو مشوره به ورکوم

(قومی آواز، لکهنؤ ۳/ دسمبر ۱۹۶۹ء)

مونږ د پاچاخان د دیدن کول غواړو.

مونږ د ډېره اسماعیل خان د علاقې نه راغلی ښ. وسځ په بنارس کښې آباد یو. سرحدی ګاندهی خان عبدالغفارخان هندوستان ته راغلے دے مونږ

هم د مغربی دیدن کول غواړی. موږ د هندوستان سرکار ته درخواست، کوو چې د دهلی نه تر بنارس دپوخصوصی ریل ګاډی بندوبست وشی، چې د بنارس اولس هم د باچاخان د خبرو نه مستفید شی.

۲ / د سمبر ۱۹۶۹ء

باچاخان ته ورکړے شوے فنډ به د هندوستان د اولس په خیر سنبکړه خرڅ کولے شی

کلکته ۹ / د سمبر ۱۹۶۹ء:

موږ باچاخان ته مرکلے وایو او هیله لرو چې د مغربی (لویدیځ) مغربی بنګال دورې به هم کامیابۍ، د باچاخان کسوړی له په لویدیځ بنګال کښې هم چنده راغونډولے شی، د دې لپاره ګورنر، وزیراعلی، نائب وزیر اعلی او نورو د هرو لیډرانو اپیل کړے دے. اولس له پکار دی چې په دې چنده کښې په ارت مټ برخه واخلی. ځکه چې په داسې کولو به زموږ د مینې او عقیدت د جذبې څرګندونه اوشی او دا فنډ به د هندوستان د اولس د خیر سنبکړی په کارونو خرچ کولے شی

اپیل لخواد مدیر وچاپانړه آزاد هند، کلکته

۹ / د سمبر ۱۹۶۹ء

د باچاخان د زوکړې (سالګرې) کمیټی په رقم به د احمدآباد د رنګ شوو جماعتونو تعمیرکړی

نوے دهلے ۱۶ / د سمبر:

د خان عبدالغفارخان د زوکړې (سالګرې) کمیټی چې چیرمین یې جے پرکاش کرشن نارائن دے د باچاخان دانیا ئمې زوکړې د نمانځلو لپاره چې کوم پروګرام جوړ کړے دے په هغې کښې داخبره هم شامله ده چې د فرقه وارانه فسادونو په دوران کښې د تباه شوو عبادت مرکزونو د وباره تعمیر دې وشی.

یاده دی وی چې د غفارخان د زوکړې (سالګرې) کمیټې په لویه پیمانه فنډ را غونډ وی، چې د فرقه وارانه پروالی په کنټرول کښې پروکړامونو به خرڅ کولے شی. او د احمدآباد وغیره په فسادونو کښې چې کوم جماعتونو ته نقصان رسیدلے دے. د هغو د پاره تعمیر کار به هم د دې زوکړې (سالګرې) کمیټې د فنډ نه پوره کولے شی.

ویځپاڼه سیاست جدید کانپور (۱۸ / دسمبر ۱۹۶۹ء

د رباط کانفرنس کښې هندوستان ولې ذلیل شو؟

۱- آله اباد، ۳۰ نومبر:

ټن خان عبدالغفارخان د آله اباد پوهنتون طالبعلمانو ته د خطاب پرمهال وفرمائیل چې تاسو د رباط کانفرنس نه سبق واخلئ۔ تاسو والئ چې ستاسو وفد د کانفرنس نه اوکښلے شی چې ستاسو رسوائی پریږدی وشوه، خو تاسو یاد ولرئ چې ستاسو وفد د احمدآباد د فسادونو په سبب راوکښلے شی

ویځپاڼه سیاست جدید، کانپور ۴ دسمبر ۱۹۶۹ء

۲- بنارس ۲۹ نومبر:-

ټن د بنارس پوهنتون د استاذانو او طالبعلمانو یوې لوې غونډې ته د خطاب په وخت باچاخان او فرمائیل چې د رباط کانفرنس کښې څه رشل، دا نه د قام سپکاوے دے اونه د ټول د حکومت د ناکامۍ نوم وکړلے کیدای شی۔ خو په دې هندوستانی اولس سپکاوے ضرور شوے دے چې د فرقه وارانه ذهنیت د کبله د ملک پونډ پریښے کوی۔

ویځپاڼه: قامی آواز، لکهنؤ یکم دسمبر.

په پاکستان کښې هندوان په ښهٔ حال کښې دی .

کشن ګنج - ۷ دسمبر :

خان عبدالغفارخان مې د ډېنګه ته د تلو په وخت د وېښاور نامه نګارو سره د خبرو په وخت و وې چې په هندوستان کښې د مسلمانانو کوم حال دی ، په پاکستان کښې د هندوانو حال دهغې نه ډېر ښهٔ دی

(وېښاور څخه ساتهی ، پټنه ۸ دسمبر ۱۹۶۹ء)

د ختیز پاکستان هندوان د هندوستانی مسلمانانو نه په ډېر ښهٔ حال کښې دی

پټنه : ۳ / دسمبر ۱۹۶۹ء

خان عبدالغفارخان د پټنه کالج د استاذانو او طالبعلمانو یوې درنې غونډې ته د خطاب په وخت وویل چې د ختیز پاکستان ټولو هندوان په ډېر ښه حال کښې دی هغوی دامسې نهٔ دی لکه چې څنګه د ملت مسلمانان دی .

وېښاور څخه ساتهی . پټنه ۳ / دسمبر ۱۹۶۹ء

پاکستان کښې هندوان په ډېر امن سره اباد دی

کلکته ، ۱۳ / دسمبر ۱۹۶۹ء :

مې باچاخان د ټولې ډېر جماعت کښې د جمعې د مانځه نه پس د مسلمانانو یوې لویې غونډې ته د خبرو اترو په وخت مسلمانانو ته د متحد او منظم کېدو تلقین اوکړو او د لویدیز بنګال مسلمانانو ته یې د فرقه پرستۍ د جړې په اوکښلو مبارک ورکړه هغوی وویل چې د هندوستان بالخصوص د لویدیز بنګال اوسېدونکی دې دا یاد ولري چې په هندوستان کښې د فرقه وارانه اړې کړې به سبب د خارجي هېواد ونو سره په پاکستان کښې اوسېدونکی هندوان د مشکلاتو سره مخ کېدای شی - هغوی اعلان اوکړو چې په پاکستان کښې هندوان په ډېر امن او سکون سره ژوند تېروی

(وېښاور څخه آزاد هند کلکته ۱۳ دسمبر ۱۹۶۹ء)

مسلمانان په فساد ونو کښې ورانديږ کېږي نا

کشن ګنج بهار ۷/ دسمبر :

خان عبد الغفارخان نن محرلس نيپي جې دربنګه ته د روانېدو نه آګاهو اخبار والاؤ سره د خبرو اترو په وخت وويې: چې زهٔ د مرکزي حکومت د څېړنې کوونکې ټولې (تحقيقاتي کمېټن) دا رپوټ چې په هندوستان کښې په فرقه وارانه فسادونو کښې مسلمانان پيل کړي، منلونه تيار نهٔ يم .

وچُپانړه ساتهی ۳ پټنه ۸/ دسمبر ۱۹۶۹ء

پاکستانی ايجنټان فساد ونه نهٔ کړي

دربنګه بهار : ۷/ دسمبر :

باچاخان نن دربنګه ته د تلو په وخت اخباري نامه نګارو ته وويې : چې صفر جې پرکاش کرشن نارائن دې خبرې سره اتفاق نهٔ لري چې د هندوستان په فرقه وارانه فسادونو کښې د پاکستانی ايجنټانو لاس دے . هغوی زياته کړه که بغرض محال په فرقه وارانه اړې کړي کښې که د پاکستان ايجنټانو لاس وي هم . نو هغه ايجنټان به مسلمانان نهٔ وي بلکې هندوان به وي .

وچُپانړه ساتهی پټنه ۸ / دسمبر ۱۹۶۹ء

د هندوستان د مسلمانانو په وفاداري شک کول سياسي چال دے .

نوے دهلي : ۲۹/ نومبر :

خان عبد الغفارخان نن د دهلي نه بنارس ته د تلو په وخت يو اخباري بيان کښې وئيلي دي چې د هندوستان د مسلمانانو په وفاداري شک کول يو سياسي چال دے . هندوستان مسلمانان د هند دښمنان او سپېڅکي نه کم وفادار نهٔ دي . هغوئ شکايت اوکړو چې زما تقريرونه بعضې اخبارونه غلط پلط خپرول . زهٔ دا خبره په دې اګاه کول غواړم چې د مسلمانانو په وفاداري شک کول يو سياسي چال دے . او د هندوستان مسلمانان د چا

نه هم په وفاداری کښې کم نۀ دی.

وخپاندې ساتلی «پټنه ۳۰ / نومبر ۱۹۶۹ء

د هندوستان د مسلمانانو د قتل عام اثرات به په نورو مسلمانو ملکونو هم پریوځی

آلدآباد: ۳۰ / نومبر:-

فن خان عبدالغفارخان د هندوستان په مشرانو سخت تپکونه وکړل او وې ویل: چې دا مشران د دې خوب په ویښتیا کولو کښې بېخی ناکامه شوی دی د کوم د پاره چې مونږه او نور د وطن سره مینه لرونکو جنډې کړے وې - هغوئ د هندوستان اوسیدونکو ته درکړه ورکړه - او وې ویل چې فرقه وارانه لېونتوب به تر هندوستان محدود پاتې نۀ شی. بلکې د دې اثرات به په اسلامی ملکونو هم پریږدی - چرته چې هندوان مېشته دی زۀ به تاسو ته د ډېر په اخلاص اپیل اوکړم چې تاسو هندوان په خطره کښې مۀ اچوئ د دې لکه به تاسو په مالی حیثیت هم خراب اثر وغورځېږی. او د دې رد عمل هم سنګاره کېدے شی.

وخپاندې سیاست جدید، کانپور ۲ / دسمبر ۱۹۶۹ء

په هندوستان کښې د فرقه وارانه فسادونو اثر په مسلمان ملکونو هم پریوتے شی

آلدآباد ۳۰ / نومبر:

فن باچاخان د آلدآباد د پوهنتون طالبعلمانو او استاذانو ته د خبرو اترو په وخت وې ویل: چې زما په علاقه، افغانستان، ایران او نورو اسلامی ملکونو کښې د پر هندوان اوسېږی - د دې لپاره تاسو یاد ولرئ چې ستاسو د دې کارونو اثرات په هغو هم پریوتے شی. زما اولس ته اپیل دے چې دلته د فسادونو لکه په نورو ملکونو کښې د اوسېدونکو هندوانو د پاره مسئلې مۀ پیدا کوئ.

وخپاندې سیاست جدید، کانپور ۲ / دسمبر ۱۹۶۹ء

په اسلامی ملکونو کښې هم هندوان اوسی

رکشن کنج صوبه بهار. ۷ / دسمبر: باچاخان د اخبار والا ډلې سره د خبرو په وخت هندوستانی

اولس ته خبردارے ورکړے دے چې په هندوستان کښې د فرقه وارانه فساد ونو اثر په اسلامی ملکونو، په هندوستان او نورو مسلمانو هیواد ونو کښې مېشته هندوانو باندې هم پرېږدے شی۔

(ورځپاڼه ساتھی، پټنه ۸ د دسمبر ۱۹۶۹ء)

هندوستان په اسلامی ملکونو کښې د کروړونو روپو تجارت کوی

(پټنه: ۳ د دسمبر) مونږ په کاندهی والا کښې د یوې لوی راغلو کسانو جلسې ته د خطاب کولو په وخت خان عبدالغفارخان وویل: چې مذهب دلوبې مار او اوږدولو نوم نه دے، مذهب د انسانیت، تهذیب، امن او شرافت درس ورکوی۔ هغوئ زیاته کړه چې فساد ونه خود غرضه او مفاد پرسته خلق کوی۔ ځکه چې غریب اولس د خپل غربت خلاف جدوجهد اونه کړے شی۔ زه ستاسو مینې دلته راوستے یم۔ دلته په راوسېدو هاته ډېر درد راورسېدو۔ د دې ځای لیډران غواړی چې خلق د ډب پنجلو کښې مُشت وکړیوان وی۔ چې د هغوئ په عیش کښې څه خلل راغلے نه شی۔ هغوئ وویل: چې کاندهی جی د مینې وروسته ولې اوعدم تشدد حد به لیدل غوښتل۔

ولې مونږ دلته د فسادونو اوظلم زیاتی سلسله روانه ده چې یو مسلمان قتل کړی او د هغه نوکری هندو ته ورکړے شی۔ یا دیو مسلمان دکان وسوزولو وی او په هغې هندو قبضه وکړی، خو د دې نقصان به هم هندوستان ته رسی، ځکه چې د دې ملک د کروړونو روپو کاروبار د مسلمانانو ملکونو سره کېږی، او په کروړونو هندوان په اسلامی هیوادونو کښې اوسی۔ تاسو پخپله په دې سوچ وکړئ چې ستاسو له کبله هندوستان ته څومره نقصان پېښېدے شی۔

باچاخان هندوانو لیډرانو ته اپیل وکړه چې هغوی مسلمانانو ته د هم اوږدلو او د هغوئ خدمت دې اوکړی۔

(ورځپاڼه ساتھی، پټنه ۴ د دسمبر ۱۹۶۹ء)

باچاخان د هندوستان مشرانو ته څهٔ ووې؟

دکم شمیره فرقو غلط فهمیانې لرې کړئ!

(جمشید پور، ۸ د سمبر) نن خان عبدالغفارخان د ټلته یوې درنې جلسې ته د تقریر کولو په وخت د هندوستان مشرانو ته ووې چې د هندوانو او مسلمانانو تر منځ به اعتمادی خوره ده - د هغوی فرض جوړیږی چې دکم شمیره فرقو سره کلک تماس اونیسی اود هغوی غلط فهمی لرې کړئ.

ورځپاڼه ملاپ، دهلی ۱۰ د سمبر ۱۹۶۸ء

د هندوستان د تباهی ذمه وار د هغهٔ لیډران دی

(آله آباد یکم د سمبر) نن د ټلته یوې درنې اولسی جلسې کښې باچاخان د هندوستان په موجوده لیډرانو سخت تکونه اوکړل، او وې ویل چې دا لیډران د هغه مقصد ونو په پوره کولو کښې پاتې راغلل د کومو لپاره چې بې حسابه خلقو خپل ژوند قربان کړو.

داوخت چې د هندوستان کوم بدترحال دے. دد ې هم دا مشرات ذمه وار دی - ځکه چې هغوئ داولس صحیح لارښوونه اونهٔ کړے شوه. د خوراک اوغریبی مسئله حل نهٔ شوه - خوکسان د آزادی خوندونه اخلی، پاتې اولس د یو وخت دوډی د پاره ژړیږی. هغوئ په فرقه وارانه امن باندې زور ورکړو - او وې ویل چې که چرې د هندوستان مسلمانانو سره منهٔ سلوک اونهٔ شی نو دد ې اثر به په اسلامی ملکونو پرېږدی چې چرته چې هندوان آباد دی.

ورځپاڼه تیج دهلی ۲ د سمبر ۱۹۶۹ء

هندوستانی سیاست مدار د صلحې، امن اوفرقه وارانه اتحاد د لارې نه اوړېدلی دی:

(بمارشریف ۴ د سمبر) باچاخان نن د ټلته یوې درنې جلسې کښې د تقریر په

وخت اولس ته اووې: چې مغرئ دې د خپل ملك سره مینه زده کړي- اود خود غرضه سیاست دانانو په لاسونو کښې د کوم اکو جرړې وند دې ډډه اوکړي. دا سیاست دانان ملك ته نقصان رسوي- سیاست دانان صرف دکاندهي جي نوم استعمالوي، ولې دهغوئ د اصولو نه اوپ پدلی دی، چې د صلح امن او فرقه وارانه اتحاد اصول وئ.

(رښتیانې صدای عام، پټنه- ۶ د دسمبر ۱۹۶۹ء

د عدم تشدد په لاره روان شئ کښې د هندوستان او پاکستان ترمنځه خطرناك جنګ انګښتې شی

(کشن ګنج) ۷ د دسمبر) د پښتنو مشر خان عبدالغفارخان د سیاسی کارکنانو یوې غونډې ته د خطاب په وخت وویل: چې د هندوستانیانو رویه د حرصناکو په رنګ ده- ولې چې مغرئ ذاتی مفاد د کلهم قامی مفاداتو نه مقدم ګڼي مغرئ دغه کسانو ته مشوره ورکړه چې د عدم تشدد نظریه خپله کړئ، او دا ویره ئې منکاره کړه چې کله داسې اونه شوه نو د هندوستان او پاکستان ترمنځه دیر زر یو خطرناك جنګ انګښتې شی.

خان بابا وویل: چې د هندوستان د تقسیم ذمه وار چې پوه شو نو کله د هغه وخت د کانګریس لیډران وو. مغرئ په خپره کیله منده لهجه کښې وویل چې: دا فرقه وارانه فساد ونه دهیڅاد پاره هم فائده منه نه دی، خو خود غرضه کسان د مذهب په نوم ملك تباه کوی.

(رښتیانې ساتھی، پټنه ۷ د دسمبر ۱۹۶۹ء

بابا خان د هندوستان اولس ته څه اووې؟

په یوه خاصه فرقه خپله خربنی مه منئ!

(جمشید پور ۸ د دسمبر) نن دلته یوې لوئې جلسې ته د تقریر په وخت خان عبدالغفارخان وویل: چې د هندوستان په رنګ مملکت کښې چرته چې د مختلفو

مذهبونو منونکی آباد دی ،فرقه وارانه اتحاد پرهیے شرط دے ، د دې مطلب دادے چې د کرورونو غریبانو په غم و درد کښې گډون وشی . په یوه خاص فرقه خپله خوښی نشی منلې کیدے ، بلکې د دې لپاره د مینې او یووالی ماحول جوړول او برقرار ساتل ډیر ضروري دی .

فرقه وارانه فساد وینه به صرف تر سرحدونو محدود پاتې نشی

(نوے دهلے ۱۳ نومبر) نن د دهلی جامعه ملیه کښې یوې جلسې ته د خطاب په وخت باچاخان اوفرمائیل : چې ترڅو د ملک دننه د هندوانو اومسلمانانو په منځ کښې د فرقه وارانه یووالی او یو تربله د مینې اومحبت پیدا کولو په لپ کښې بې غرضه کوششونه ونه شی ، تر هغې وخته به د هندوستان سباوون په تیارو کښې پاتې وی . هغوی دا خبره په کوته کړه چې که چېرې د هندوانو اومسلمانانو ترمنځ دا جګړې همدغسې کښې نو د دې نتیجې به د دې ملک د سرحدونو تر حده محدود ه پاتې نشی بلکې په نورو ملکونو کښې به هم د دې خطرناکې نتیجې راووځی .

وګڼاړه « انقلاب » بمبئی ۱۸ نومبر ۱۹۶۱ء

په فساد ونو کښې صرف د غریبانانو تباهی ده -

(کلکته ۱۱ دسمبر) نن یوې ریلکارنلې اوعظیم الشانه اولسی جلسې ته چې صدارت ئې د لوېدیځ بنګال وزیر اعلی جې مکرجی کولو اوپکښې په زرګونو پښتنو دخپل قامی رقص څرکندونه وکړې ، باچاخان د خپل خطاب په وخت په هندوستانی اولس زور واچولو چې د دې ملک خلق پخپله په دې ملک کښې د مصیبتونو ذمه دار دی ، چې د غربت ، لوږې او فرقه وارانه بدامنۍ په صورت کښې له (۲۲) کالو راهسې په دې خاوره مسلط دی . دوئ چې کوم کسان د ځانونو مشران کړی دی ، هغوئ وینه دا ټول مصیبتونه رانجنبلی دی ، د کلکتې د دنګو عمارتونو ځړاته باچاخان اشاره وکړه او وئې ویل چې هغه له درهوئ هفته د هندوستان د کوټ کوټ په دوره دے ، هغوئ صرځائ لوئ لوئ عمارتونه او ښاري اسانتیاګانې ولیدې

ولې اصل هندوستان چې په کلي کښې اباد دے ۔ هغوئ هم هغسې د بربادئ سنګار دی هغوئ زیاته کړه چې په دې فسادونو کښې د بې شمیره غریب اولس ځانونه ضایع شول، آیا دد ې څخه ورځ حاصل شته ؟

هغوئ اولس ته نصیحت اوکړو چې د فرقه وارانه تشدد نه پرهیز وکړئ، چې هندوستان پرې ذلیلیږی ۔ او دا هم مهٔ هیروئ چې د سرحد نه ور آخوا یوکروړ هندوان هم پاکستان کښې اوسیږی چې پرې ددې فسادونو رد عمل کیدے شی ۔

(هندوستان ټائمز دهلی ۱۲ر دسمبر ۱۹۶۹ء)

د کرکې او فرقه واریت د نظریې د بدلولو کوشش وکړئ

(لکهنو ۲ر دسمبر) د کانډهی جی د سلمې کلیزې په موقعه د یو لوړ نمایښ د پرانستې په وخت باچاخان نن عامې جلسې ته وفرمائیل: چې د خلې آزادۍ په وخت کښې به په فضاء کښې د هندو او مسلمان وروڼو وروڼو نعرې خوریږی وې، اوس د هغې ځائ د هندو او مسلمان دښمن دښمن آوازونو واخستو ۔ هغوئ اولس ته اپیل اوکړو چې هغوئ دې د غریبی او جهالت وکولو او د کرکې او فرقه واریت د نکته نظر د بدلولو کوشش وکړی ۔

(ورځپاڼه قومې آواز ، لکهنؤ ۳ر دسمبر ۱۹۶۹ء)

د انسانیت مرسته وکړئ هدا مذهب دے

(له دیوبند په دوالۍ) ۲۹ر نومبر :

عظیم پښتون راهنما خان عبدالغفار خان چې د یوبند نه اوږدلیدو نو د نبار د معزز ینو سره سره د دارالعلوم دیوبند استاذانو او مولانا سید سعد مدنی خلف حضرت مولانا احمد مدنی وغیره هم د هغوئ د هرکلی لپاره موجود وو. له هرڅه اکاهو باچاخان دارالعلوم دیوبند ته تشریف یروړ

او د علماء دیوبند سره یې خبرې اترې وکړې. دارالعلوم دیوبند یې وکتو، د حضرت شیخ الهند په مزار یې حاضري وکړه او فاتحه یې ولوسته ـ دې نه پس هغه یوې درنې ناستې ته د خطاب په وخت وویل: چې زه د هیڅ یو سیاسي ګوند سره تعلق نه لرم، زه د خدائ خدمتګار یم ـ زما مقصد د خدای د مخلوق خدمت کول دی ـ زه اوس اوس د ګاندهي جي د وطن ګجرات نه راغلے یم ـ په یوه زمانه کښې ما هلته په خپلو کښې مینه او ریشتونی لیدلې وه ـ ولې اوس مې هلته تشدد ولیدو ـ ما وړاندې هلته هندوان او مسلمانان وروڼه وروڼه لیدلی وو او هلته په یو وخت یو جماعت جوړ شوے وُ ـ د کوم په تعمیرکښې چې مسلمانانو او هندوانو په شریکه کار کړے وُ، ولې ما اوس د مینې په دغه چم کښې د محبت په ځائ نفرت او د عدم تشدد په ځائ تشدد ولیدو.

د هندو او مسلمان وروڼه، وروڼه د نفرو په ځائ مې د هندو ـ مسلمان دښمن دښمن آواز ونه واوریدل، د جماعت د جوړولو په ځائ مې د جماعت وړانېدل ولیدل ـ کوم قام چې خود غرضه شی، هغه نه د خپل ملک فکر کوی، نه یې په هندوتوب غرض وی او نه په مسلمانئ.

ستاسو وطن د بربادئ په لوړې روان دے ـ خو یاد ولرئ چې بربادئ کله راځئ نو په ټولو راځی، له هغې هیڅوک بچ پاتې کیدے نه شی ـ ما وکتل چې په دهلی کښې خو د پرلوے لوئ عمارتونه جوړ شول ولې په کلو کښې هم هغه زاړه ځوپړۍ دی، هم هغه پخوانی غریبي ده، د دنیا ترقی وګورئ، او خپل ځان ته وګورئ ـ ۲۳ کاله وشول ـ چې مونږ آزاد شوی یو ـ ولې د خپلې خپټې د پاره موغله قدرې پیدا نه کړې شوه، هغه هم د امریکې روس او استریلیا نه غواړو ـ زه چې دلته وینم ګورم چې د مذهب په نوم لوټ مار کښې، او رونه لګولے شی، نو د هر افسوس راځی، په اصل کښې مذهب خو د مینې، رینبتیني او د مظلوم د امداد لپاره دے، د انسانیت مرسته وکړئ همدا مذهب دے، اصل مذهب دا نه دے چې وجنګیږه

مرشه!، غلاوکړه! داکه واپچره، دا هرڅهٔ د سرمایه دارو مذهب دے۔

(روښانهٔ المجمعیت دهلی)

باچاخان د هندوستان طالبعلمانو ته څهٔ ووې؟

هغه بنیادونه رښتیا کړئ چې نفرت تري ولاړ دي۔

(پټهنه ۳ر د سمبر) باچاخان د طالبعلمانو یوې غونډې ته د تقریر کولو په وخت ووې: چې د طالبعلمانو فرض جوړیږي چې پخپلو سترګو وګوري چې هندوستان د تباهۍ په کوهو لاړو روان دے، نړۍ یواځې چاپیره غربت، مفلسي، لوږه او بې روزګاري زمونږ د تباهۍ ذمه وارې دي، بلکې د مذهب په نوم تعصب او یوتریلد کړکې هم مونږ بې ځایه تباه کړو، هغوئ طالبعلمانو ته نصیحت اوکړو، چې هغه تول خندان لرې کړي - چې د مستقبل لار کښې ولاړ دي او هغه مشران له خپلې مخې یوخوا کړي چې د خود غرضۍ په بنسټ په ملک کښې یوتریله د کړکې خوړلو باعث دي۔

هغوی طالبعلمانو ته دا هم ووې: چې د فرقه وارانه کړکې اور به نهٔ یواځې مصیبت زپلے اولس نور تباه کړي، بلکې دا به په تولې اسلامي نړۍ کښې د رد عمل سبب وګرځي۔

(روښانهٔ هندوستان ټایمز من دهلی۔ ۴ر د سمبر ۱۹۶۹ء)

طالبعلمان دې د اولس د خدمت د پاره ملا وتړي

(شانتی نکتین «لویدیز بنګال» ۱۶ر د سمبر)

د شاعر اعظم ټیګور وشو بهارتي یونیورسټي په یوې استقبالیې کښې د تقریر په موقع عظیم پښتون راهنما خان عبدالغفارخان طالبعلمانو ته ووې: چې ستاسو فرض دی چې په چټهیانو کښې د کلیوالو غریبانو لپاره اوږو کسانو ته ورشئ، او د هغوئ مشکلات معلوم کړئ، طالبعلمان دې د اولس د خدمت د پاره ملا اوتړي۔

د اوخت ملاګ یو خوا د غریبی په لانجه کښې گیر دے او بل خوا د تشدد بنکار دے ، هغوی دغه طالبعلمانو ته اپیل وکړو چې د شاعر اعظم تهګور د مینې پیغام خور کړی .

(روښانه سیاست جدید ، کانپور ۱۸ ، دسمبر ۱۹۳۱ء)

د پره د غم خبره ده چې په احمد آباد کښې د مذهب په نوم انسانان قتل کړے شول

(الهآباد ، یکم دسمبر) خان عبدالغفارخان کلهم هندوستانی اولس ته اپیل کړے دے چې په خانونو کښې د وطن د مینې او قومیت جذبه راپیدا کړی او د هندو او مسلمان په نقطهٔ نظر مسلوته مه کوری ځکه چې په داسې کولو سه ملاګ کښې خرښحالی راوستې کیدے شی او ملاګ په ورانۍ تلے شی ، هغوی ووې چې: د قومیت تعلق د وطن سره دے نه چې د مذهب سره ، خو غرضه خلقو او سرمایه دارو د مذهب نه یوه وسیله جوړه کړې ده ، کښې یو مذهب هم د قتلو لوټ مارا او اور لګولو تعلیم نه ورکوی . هغوی ووې : زه په دې لیدو د پره ودرېدم چې په احمد آباد کښې خلقو د مذهب په نوم قتلونه وکړل ، کورونه یې اوسپزل او لوټ مار یې وکړو .

هغوی ووې چې یو مذهبی سړے د چا نه هم کرکه نشی کولے . کوم سړے چې په زړه کښې کرکه لری هغه چرته هم مذهبی سړے کیدے نه شی .

اتیاکلن د آزادی مجاهد باچاخان د پوهنتون زلمو ته ووې چې که هغوی د هر مذهب په تاریخ نظر واچوی نو ورته به معلومه شی چې کله د دنیا قاموسه غیر ترقی یافته ، خو غرضه ، بې ایمانه او دیوبل دوینو تږی وو ، نو الله تعالیٰ د هغوی د هدایت لپاره پیغمبران راولیږل د انسانانو د خدمت لپاره نه چې د وژلو لپاره . د خدای مذهب د انسانانو خدمت دے ، د انسان دښمنی مذ

د خدائ مذهب نه دے د سرمایه دارو دے.

خان بابا زیاته کړه چې دا ستاسو خپل ملک دے، ستاسو خپل حکومت دے، خود غرضه، سرمایه دار، کله دمندر په نوم کله د جماعت په نوم، کله د برهمن او کله د غیر برهمن او کله په مسلمانانو کښې د شعیه او سُنی په نوم فساد نه کوی.

څه تنګ نظره خلق هم د فرقه وارانه کړکې خورولو ذمه وار دی چې د خپلې فائدې لپاره د خلقو مذهبی جذبات راپاروی او خپل کار اوباسی.

باچاخان وویل چې د ملک مسئلې په امن او سکون، پر تربله په اتحاد یووالی او مرسته هوارېږی شی. په کشمکش، انتشار او جګړه نه هوارېږی. زه وینم چې بعضې خلک اوس هم د ذاتی مفاد لپاره د مذهب په نوم د اړ کړی او انتشار پیدا کولو لګیا دی کوشش کوی.

په جلسه کښې په ډیر شمېر کښې طالبعلمانو هم راغلې وې، باچاخان هغوئ ته مخ راواړولو، او ورته ئې وویل چې دوئ له پکار دی چې د غریبانو مسلمانانو کورونو ته لاړې شی او د مسلمانو بچوئ د ژړا نو نه دوبړې لرې کولو هڅه اوکړی.

هغوئ وویل چې د سړو په مقابله کښې بچوئ زیاتې مخلصې او مینه ناکې وی او هغوئ داکار په ډېره ښه توګه کولے شی.

(روزنامه قومی آواز، لکهنؤ ۳ / د سمبر ۱۹۶۹ء

اولس ته د انسانانو په توګه د ژوند تېرول وښائئ!

(لکهنؤ ۲ / د سمبر) خان عبد الغفارخان نن سحر د لکهنؤ پوهنتون طالبعلمانو ته د خطاب په وخت وویل: چې هغوئ له په هند وستان کښې د مذهب پر نوم د خپلوا شوی نفرت خپلو په لرکښې کارکول پکار دی، هغوئ اووئیل چې صندوستان په اړی کړی او فرقه وارانه فسادونو کښې د ګیرېدو د کبلو مخ په شاه تلے دے. دلته غریب

تباه دے۔ او سرمایه دار د خپلو مفادو لپاره فساد وښه کوی۔ ۲۲ کاله وشول چې آزادی موږ ته لاسته کړې ده۔ ولې نن هم دهندوستان داحال دے چې د نورو ملکونو نه د نخدو او غلې خیر غواړی۔ هغوی طالبعلمانو ته اپیل وکړه چې اولس ته دې د انسانانو په توګه د ژوند تیرول وښایی۔

(د ځپانړه قومی آواز، لکهنؤ ۳/ دسمبر ۱۹۶۹ء)

کرکه هیره کړئ او په مینه یوبل ته ورغاړه وځئ!

(آګره ۲۱/ نومبر) نن خان عبدالغفارخان د پنځوس زره نه زیاتو کسانو یوې درنې غونډې ته د تقریر په وخت د هندوستان په موجوده حال د افسوس څرګندونه وکړه چې دلته د عدم تشدد تعلیمات هیرکړې شول او د هغې په ځای د کرکې، سپکاوی، قتل وغارت او اوږدو لګول خپل کړې شول۔ انسانیت په سلګو دے چې یو مذهب نې هم اجازت نه ورکوی، او الله تعالیٰ نې هم نه خوښوی، هغوی په دې درد پدلی آواز د هندوستان لیډرانو او اولس ته اپیل اوکړه وچې کرکه هیره کړئ، یوبل په مینه راوغاړې باسئ، او ملک نه د لوټې د ختمولو لپاره دزړه له اخلاصه کار وکړئ!

(د ځپانړه قومی جنګ، کانپور ۲۳/ نومبر ۱۹۶۹ء)

یلچاخان د هندوستان مسلمانانو ته څه ووې؟

په خپل منځ کښې اختلافات ختم کړئ یو موټے شئ!

(علیګړه ۲۸/ نومبر) خان عبدالغفارخان صاحب د نبار په جامع مسجد کښې د جمعې د مانځه نه روسته یوې درنې جلسې کښې د تقریر په وخت مسلمانانو ته وویل: چې خپل منځ کښې اختلافات ختم کړئ او یو موټے شئ، د خلقو خدمت اوکړئ او کرندی شئ، په دې کښې د هغوی خیر دے، او هم په دې ترګه د

هغوئ د ملك خدمت کولے شی.

(ورځپانړه "سیاست جدید" کانپور ۱۱ د دسمبر ۱۹۶۹ء)

د خود اعتمادئ جذبې سره د مخلوق خدمت اوکړئ!

(بنارس ۳ نومبر) خان عبدالغفارخان ټن د مقامی جګ کمیټې لخوا راغونبتې شوې جلسه کښې د تقریر په وخت وویل چې مسلمانانو له د خپلو مسئلو د هواری د پاره منظم اوپه خانونو کښې د خود اعتمادئ اوبه مخلوق د خدمت جذبه پیدا کول پکار دی. هغوئ په دې خبره د افسوس اظهار اوکړو چې مسلمانان یوتن بله په پرو حبیبو کښې انښتی دی او په هغوئ کښې د خپلو فرضونو پوټ کولو د جذبې کمے دے.

خان عبدالغفارخان وویل: چې د احمدآباد د فساد زپلو علاقو د دورې په وخت هغوئ دا سې یو ټولے (تنظیم) هم اوښلے لیدو چې د فساد زپلو په خدمت کښې مصروف وی. هیڅوك هم دا سې نه وو چې ماته ئې د دغه مشکلاتو پخلا معلومات راکړے وے.

(ورځپانړه "قومی آواز" لکهنؤ یکم د دسمبر ۱۹۶۹ء)

په اتحاد او تنظیم خپلې مسئلې پخپله هواری کړئ!

(بهاګلپور صوبه بهار ۹ د دسمبر) ټن باچاخان په جامع مسجد خلیفه باغ کښې د جمعې د مانځه نه پس د بهاګلپور د مسلمانانو یوې درلې غونډې ته د خطاب کولو په وخت اوفرمائیل: چې مسلمانانو له د خپلو مسئلو د هواری لپاره خپلې لاړې راوښکل پکار دی. ددې د پاره لوئ ضرورت د اتحاد او تنظیم دے

ټن د مسلمانانو ژوند اجتماعی پاتې نه شو، انفرادی شو، حکه خو لس کروړه عرب د شلو لکو یهودو یانو د لاسه ذلیل او خوار دی. هغوئ د قرآن پاك په حواله وویل چې د خدای ﷻ فیصله ده چې که مسلمانانو د نبۍ لارې نه مخ وارولو نو نه دا

چې په دنیا بلکې په اخرت کښې به ئې هم ذلیل کړم . مغوئ زیارته کړه چې حضور صرف په دُعاګانو اکتفاء نه کول . بلکې دې سره نېک عمل هم د مغوئ د مبارک ژوند حصه وه.

(ورځپاڼه «ساتهی» پټنه ۳ر دسمبر ۱۹۶۹ء)

دوؤلکو مسلمانانو ته دې اختر مبارک شي

(کلکته ۱۱ر دسمبر) باچاخان د دوو لکو مسلمانانوسره یوځای د اختر مونځ وکړو چې د لرې لرې نه دخپل محبوب مشر د زیارت لپاره راغونډ شوې وو، باچاخان په دې خواږه جوړ شوی سنګلی ستیج باندې ودریدو او مسلمانانوته ئې د اختر مبارکی ورکړه ، او مغوئ ته ئې په خپل اعتمادئ او د مذهب په اعلیٰ اصولو د عمل تلقین وکړو .

(ورځپاڼه "هندوستان تایمز" ۱۲ر دسمبر ۱۹۶۹ء)

مسلمانان دې د احمدآباد د فساد نه سبق واخلی .

(دهلی ۱۵ر نومبر) عظیم شاه جهانی جامع مسجد کښې د جمعې د مانځه نه روسته د شپېتو زرو مسلمانانو لوی درنې غونډې ته د تقریر په وخت باچاخان د احمدآباد او ګجرات د خپلې اوسنۍ دورې تفصیلات بیان کړل ، او وئې ویل چې له دې نه دې د هندوستان مسلمانان سبق واخلی - مغوئ وویل چې ماد مسلمانانو او هندوانو هغه مشرانو سره هم اولیدل چې پخپلو کښې انښتی دی چې د سطحی سیاست نه په یو پلیټ فارم د راجمع کېدو د صلاحیت نه محروم شوی دی.

د احمدآباد مسلمانان د اوسنو واقعاتو نه دومره وېرېدلی وو چې مغوئ خپل مشکلات مانته د وئیلو نه هم وېرېدل . باچاخان وویل چې صفه کله احمدآباد

ته ورسیدو، نو مغوئ غوښتل چې امدادي کیمپ وویني، چرته چې فسادزده
پناه اخستې وه. خو د ګجرات د حکومت متعلقه وزیر مغوئ ته وویل چې خلق
په کیمپونو کښې د ډیر ایسار نه شول او خپلو کورونو ته واپس لاړل، او
اوس نښه په مزو کښې دي. مغوئ وویل چې یو مسلمان کښې دا همت نه وو
چې مال راغلے وے او مانته ئې وئیلے وے چې حقیقت دا دې اپریشن دے، داخو،
مانته یو هندو کمیونیسټ وویل چې په زرګونو تباه حاله نو ښځې او ماشومان
په ډیر خراب حال کښې د ښار په مختلفو کیمپونو کښې پراته دي. زه د مغوئ
سره د غه کیمپونو ته لاړم او هلته مې د خلکو افسوسناک حالت ولیدو.

باچاخان وویل چې مغه یو هم دا سې لوستے مسلمان ځلمے د خپلو په
خدمت ونه لیدو - هر کله چې ما بعضې هندوانې ښځې او سړي ولیدل چې د د غه
متاثره خلقو خدمت ئې کولو - زه د ګجرات او دیا پیټه د طالبعلمانو نه ډیر
متاثره شوم چې په کلي کښې ئې خدمت کولو - ما د غه طالبعلمانو ته وویل چې
مغوئ دې د مسلمانانو خدمت هم اوکړي - ما د ګجرات کورنو ته هم چاسره چې
د ډیره وخم - وویل چې مغوئ دې دا سې مسلمانان طالبعلمان راوغواړي چې د
مسلمانانو د خدمت جذبه لري، ولې راتلونکی طالبعلمان د خبرو کولو نه هم ویریدل
په دوئ کښې صرف یوه باهمته جینۍ وه چې د خپلو فرقې مشکلات ئې بیان کړل.

باچاخان وراندې وویل: چې د مغوئ زړه ته په دې کتلو درد راوسے
دے، چې مسلمانان په سماجی توګه ډیر پاتې دي. د مغوئ خوله لیدو نشته،
مشري ئې نشته. حکه په ډیره آسانه د مفاد پرستو په لاسونو کښې لوبیږي.
او د خدمت په ځای د دولت او اقتدار په چکر کښې تباه کیږي.

(ورځپاڼه "قامی آواز" لکهنؤ ۱۶ نومبر ۱۹۶۹ء)

په یوپي او احمد آباد کښې د خدائی خدمتګار په تنظیم د خوشحالی اظهار

(لکهنؤ ۲ر دسمبر) د خان عبدالغفارخان په راتلو د مسلمانانو ځلمو د مشر شاد محمد فاروق عطا په مشرئ کښې راغلی یو وفد ته د خطاب په وخت باچاخان وویل چې هغه په دې خبره خوشحاله شو چې په یوپي کښې هم د مخلوق د خدمت د پاره خدائی خدمتګار تنظیم جوړولے شی. هغوئ دا خبره هم په واګه کړه - چې په احمدآباد کښې د خدائی خدمتګار تنظیم جوړ کړے شوے دے - د غه وفد د فرقه وارانه فسادونو له وجې پیدا شوی د عدم اطمینان او عدم تحفظ په احساس او ویرې ددې په بدتریته اثراتو هم د خپلو تأثراتو څرګندونه وکړه. وفد د باچاخان د جوش نه ډک هرکلے اوکړو، او په هغوئ ئې ګلونه اوشیندل.

(روښانه، قامی آواز، لکهنؤ ۳ر دسمبر ۱۹۶۴ء)

د زړۀ په صدق د سرور کائنات ﷺ اسوۀ حسنه خپله کړئ!

(علی ګړهـ ۲۸ر نومبر) محترم خان عبدالغفارخان د جمعې د ماښځه نه پس د شنبه په جامع مسجد کښې د مسلمانانو یوې درنې جلسې ته د تقریر په وخت وویل چې مسلمانانو له پکار دی چې د حضور ﷺ د ښکلی ژوند نه سبق واخلی، هغوئ وویل: چې د نړۍ مسلمانان نن دکومو مصیبتونو سره مخ دی، دهغې سبب همدا دے چې هغوئ د خپلو اسلافونه زده کړے سبق هیر کړے دے زمونږ قام نن ورځ صرف په دې وجه مخ په شکته روان دے چې دوئ عمل پریښودو - د بې عملی لاره ئې خپله کړه، او همدا وجه ده چې صرف خلو لکو یهودیانو په کروړونو عربیانو ته ماتې ورکړه اود هغوئ په د یرو علاقو ئې تعبیته واچوله اود فلسطین په مسلمانانو انسانیت سوز ظلمونه کوی، هغوئ وویل چې حضور ﷺ په دنیا کښې یو زبردست انقلاب پیدا کړو ځکه چې د هغوئ ذات

مبارک د سرته تر پښو عمل عمل دی۔ حضورؐ صرف په دعاګانو اکتفاء نه کوله بلکې جدوجهد، مسلسل عمل، د استقامت لار د هغوئ دا ډول وینده یوه لازمه حصه وه۔ باچاخان مسلمانانو ته مشوره ورکړه چې په خپلو کښې اختلافات ختم کړي او یو موټے شي۔ د مخلوق خدمت دې وکړي او ګډوډي دې نه شي، هم په دې کښې د هغوئ خیر دے۔ او هم په دې طریقه هغوئ د ملک خدمت کولے شي۔

(سیاست جدید ۱۱، د سمبر ۱۹۶۹ء)

مأیوسه کیږئ مه، د ملک په ترقئ کښې پوره برخه واخلئ!

(ګورکهپور ۲، د سمبر) د پښتونخوا عظیم لیډر خان عبدالغفارخان په مقامی جامع مسجد کښې د مازیګر ماڅنه نه پس د مسلمانانو یوې درنې غونډې ته وفرمایل چې هغوئ دې مأیوسه کیږي نا۔ او د رسول اللهؐ په سنت د عمل کولو سره دې د صبر او زغم نه کار واخلي۔ مسلمانانو له پکار دی چې د ملک په ترقئ کښې پوره برخه واخلي، یو تربله دې د مرستې جذبه پیدا کړي د خود غرضئ لار دې پریږدي او د ماڼیوسئ نه دې کار نه اخلي۔

(روزنامه قومی آواز، لکهنؤ ۳، د سمبر ۱۹۶۹ء)

که مونږ د حضورؐ په سیرت عمل وکړو نو په مشکلاتو قابو مونډے شو۔

(سهارنپور ۲۲، نومبر) نن د مازپښین ماڅنه نه پس د نبار په عظیم الشان جامع مسجد کښې یوې بې مثاله درنې غونډې ته د خطاب په وخت باچاخان د قرآن پاک د بې شمیره آیتونو د تلاوت نه روستو مسلمانانو ته د صبر او ضبط تلقین اوکړو او نصیحت ئې وکړو چې د همت او حوصلې لمن پرې نږدئ هغوی وویل: چې زمونږ تاریخ د دې خبرې ګواه دے چې په مونږ لوئ لوئ آزمیښتونه راغلی دی۔ ولې مونږ تل په قربانئ او جدوجهد د هر مشکل مقابله

کړې ده۔ هغوئ د ګجرات د دورې او د هغهٔ ځای د درد پدلی حالاتو ذکر په وخت مسلمانانو تر په سختۍ ووېرېږي چې پخپلو کښې اتحاد پیدا کړي۔ اوهر ساعت د حضور اکرمؐ ژوند ځانته کښې ډډئ، حضور صلی الله علیه وآله وسلم مسلسل په تکلیفونو او پریشانیو کښې وخت تېر کړے وُ۔ د مکې نه ئې مدینې ته هجرت اوکړو، غاښونه مبارک ئې شهیدان شول۔ ولې د حضورؐ عزم اوتقین په هرڅه غلبه وموندله۔ او مونږ هم د دغه پاک ژوند په نقش قدم باندې د ټولو لرویه په خپلو مشکلاتو برے بیاموندے شو۔

(اووه ورځنی «پې باک» سهارنپور ۲۸ نومبر ۱۹۶۹ء)

د صوبهٔ بهار د مسلمانانو سره د باچاخان خبرې اتري

د ځان د حفاظت لپاره تنظیم جوړول فرقه پرستی نهٔ ده۔

(پټنه ۳ د سمبر) د صوبهٔ بهار د مسلمانانو نمایندګان د غوندې ترڅې د مولانا نظام الدین صاحب ناظم امارت شرعیه صوبهٔ بهار په مشرۍ کښې راغلی وُ، باچاخان د تقریر په وخت وویل چې د انسانیت تقاضا ده چې د ځان د فکر سره د نورو فکر هم وشي۔ مسلمانانو د اجتماعي ژوند نه پرې ده کړې ده، حالانکې اسلام په دُنیا کښې د اجتماعي ژوند پیغام راوړے دے، تاسو مسلمانان یئ۔ ولې د اسلامي اصولو سره ستاسو مینه پاتې نهٔ ده۔ د انسانیت غوښتنه ده چې د خپل ځان او د بچو د فکر سره سم د نورو او د نورو د بچو فکر هم اوکړئ۔ تاسو د رسول کریمؐ د ژوند نه هم هیڅ سبق حاصل کړے نهٔ دے۔ د خپل قام او خپلې ټولنې د بدلولو په لړ کښې خلق تر د الله تعالیٰ د پیغام رسولو په لار کښې رسول کریمؐ څومره تکلیفونه برداشت کړي دي؟ او څومره قربانۍ ئې ورکړي دي، که چرې د انقلاب لپاره مرګونه او دُعاګانې کافي وي، نو ستاسو پیغمبرؐ به دومره تکلیفونه ولې برداشت کول؟ د هر قسمه تکلیف او مصیبت زغملو نه پس حضورؐ د مدینې منورې په هجرت مجبور شول۔ هلته هم هغوئ په آرام نه ناست وُ، که صرف دُعاګانې کافي وې، نو حضورؐ به کور ناست وُ او دعاګانې

به ئې خوښېدې، او دا ټول مصیبتونه به ئې په ځان ولې تېرول؟ باچاخان وویل زه احمدآباد ته لاړم چې ستاسو په مسئلو ځان پوه کړم. ستاسو مصیبتونه ووینم، او په دې پوه شم، چې ددې د هواري لپاره څه کېدای شي؟ زه چې هلته لاړم نو په یو مسلمان کښې هم داجرأت نه وُ چې رامخکښې شوے وے او زه ئې له هرڅه خبر کړے وے. سرکاري کسانو ماته وویل چې په کیمپونو کښې کوم مسلمانان وو، هغه ټول په خوښحالۍ خپلو کورونو ته بېرته تلی دی، اوس په ښار کښې د هغوئ یو کیمپ هم نشته. هلته ما له یو هندو کیمونیسټ راغے، او راته ئې وویل: چې په دغه کیمپونو کښې هغه ناروا ظلمونه و نشول! چې خلق ئې هغه ځای نه په تېښته مجبوره کړل، په دغه هندو کیمونسټ کښې دومره همت او جرأت وُ. چې د سرکاري وزیرانو په مخ کښې ئې ووایي چې سرکار دروغژن دے، او دروغ وائی، ولې په مسلمانانو کښې سرکار ته د دروغژن وئیلو همت نه وُ. چې دوهرې او تریخې داحال وی، نو سړے څنګه په عزت ژوندے پاتې کېدلے شي؟ داوخت دیر خوښ نه آواز راغے "مونږ څه وکړو؟ ټول قصور د مسلمانانو لیډرانو دے".

باچاخان وویل چې هر سړے په ځان د خپل عمل ذمه دار دے، الله تعالیٰ به یواځې لیډرانو سره حساب کتاب نه کوی، بلکې هرکس نه به حساب اخلی شی.

ناظم امارت شرعیه مولانا نظام الدین صاحب وویل: چې تاسو د سکهانو مثال وکړو هغوئ ته خو خوله هم وطن دښمن او غیر وفادار نه وائی. ولې که مسلمانان د مسجد اقصیٰ لپاره احتجاج کړی، نو په هغوئ د فرقه واریت او شرجوړولو الزام لګی. په داسې حالاتو کښې د مسلمانانو د منظم او متحد کولو کار څومره ګران دے؟ تاسو ددې اندازه لګولے شئ.

باچاخان وویل چې د هندوستان مسلمانان د هېرجذباتیان دی، د دوی د دغه جذباتیت نه نورو ته د غلط فائیدو اوچتولو موقع په لاس ورځی. او هغوی بیا داچې وهی چې فرقه واریت خو پېدا کړی. باچاخان وویل چې ما د ګجرات ګورنر ته داخبره وکړه، چې که مسلمانان د خپل حفاظت لپاره څه تنظیم جوړ کړی نو په هغې کښې خو تاته فرقه واریت ښکاری

اوچې کوم خلق داوائی چې مسلمانان غیر وفادار دی۔ وئې وئرئ اودے ځانته ئې اویاسئ۔ د هغوئ فرقه واریت تلته نه ښکاری، ته د هغوئ خلاف قدم ولې نه پورته کوې؟

ما د ګجرات ګورنر ته داخبره هم اوکړه چې په احمد آباد کښې تر درېو ورځو د فسادونو بازار ګرم وُ، نه د پولیس پته وه او نه د فوج۔ که چېرې حکومت د مسلمانانو د حفاظت جوګه نه وی، نو هغوئ ته د خپل حفاظت پخپله د کولو حق حاصل دے۔ تاسو د خپلې دفاع د پاره څه خو وکړئ، که چېرې حکومت اعلان اوکړی چې مونږ ستاسو دفاع نشر کولے نو آیا تاسو به هدایې ناست یئ او وهل به خورئ؟

مولانا نظام الدین صاحب ناظم امارت شرعیه وویل چې که مسلمانان چرته د خپل حفاظت کوشش کوی هم، نو پولیس په منځ کښې راودانګی او هغوئ صفا هم ونه ګرځی شی۔

باچاخان ووې چې ماته هرڅه معلوم دی۔ ما ستاسو صدر او وزیر اعظم ته هم په ډاګه وئیلی دی چې "ستاسو پولیس فرقه پرست دی" ما د ګجرات ګورنر ته هم وئیلی دی، چې پولیس د مسلمانانو په حفاظت کښې پاتې راغلے دے، د هغوئ کار دا نه دے چې د هندوانو طرفداری اوکړی، ما دې ټولو ته وئیلی دی چې په داسې حالاتو کښې هم تاسو داوایئ چې زمونږ ملک سیکولر دے۔

دا ملک څومره چې د هندو دے، دومره د مسلمان هم دے د حکومت فرض جوړیږی، چې د هغه د ټولو اوسېدونکو پریشان خیال اوساتی، خو صرف زما په وینا به دا دا مسئله نه حل کیږی، دا مسئله به ستاسو په همت او جرأت صرا ریږی۔ په تنظیم اتحاد او اتفاق اخلاص او عزم او حوصلې سره به حل کیږي۔ تاسو دا اوګورئ چې څه درکښې شته اوڅه نیشته؟ د دې صفتونو نه د محرومې لکیله چې دیر قام کوم حال وی هم هغه ستاسو دے۔

(د ځپانې ساتمی، پټنه ۵، دسمبر ۱۹۶۹ء)

شپږ کروړه مسلمانان څه کډې چېلی نه دی !

(سهارنپور ۲۸ نومبر) له اووه وجۍ بیباک د خبریال ظهیرالدین لخوا) د ماسپښین مونځ باچاخان د سهارنپور په جامع مسجد کښې وکړو ، د هغوئ د خبرو د اوریدو لپاره دنیا راغونډه شوې وه ، غونډه دومره درنه وه چې جماعت په دوالوښو ، چتونو او ونو باندې اوشاه عمارتونو هم د خلقو غوبل وو . باچاخان د مولانا اسد مدنی او جرنیل شاه نواز صاحب سره راغلے ، له هرڅه اړخیزې د کلام پاک د آیت ترجمه وړاندې کړه ، او بیا ئې مسلمانانو ته د صبر تلقین وکړو او وئې ویل چې تاسو د صبر او استقامت لمن ونیولې او ګټل ، اتفاق او قربانی خپله کړئ ، زمونږ تاریخ ددې خبرې ګواه دے - چې په مونږ غټ غټ ازمېښتونه راغلی دی خو د قربانۍ او جدوجهد په ذریعه مو پرې برے موندے دے .

زهٔ چې کله په احمدآباد کښې وُم نو اوریدلی مې وو چې دې خلقوته د سرحد (پولې) نه وړاخوا پاکستان ته د تلو اجازت نیشته ، دلته په هندوستان کښې بعضې خلق وائی چې مسلمانانو تاسو دلته نه وړځئ ، ګنې اوبه وژلے شئ ! زهٔ وایم چې بابا داخلق چرته لاړشی ؟ اوچرته پناه واخلی ؟

خان صاحب وویل : چې په داسې خبرونقصان هم هندوستان ته رسی ، دلته شپږ کروړه مسلمانان پېښته دی ، دا انسانان دی خو ګډې چېلی نه دی هغوئ حاضرینو ته مخ راواړولو او وئې ویل چې تاسو د حضور ﷺ ژوند لحاظ نه مخکښې کښې دئ ، هغوئ ته له عُمر د ازمېښتونو سره مخ وُو ، خو ددې مقابلې په عزم ، جدوجهد او صبر کړې وه ، تاسې په دُعا ګانو حالت نه بدلیږئ ، مونږ له د قربانۍ او پرله پسې جدوجهد اصول خپلول پکار دی .

« بیباک » سهارنپور ۲۸ نومبر ۱۹۶۹ء .

د رسول ﷺ سنت خپلول د باعزته ژوند تېرولو لاره ده .

(کوړکهپور ۲ ر دسمبر) درونده پښتون مشر فن د مازیکر مونخ نه پس په جامع مسجد کښې یوې درنې ناستې ته د خطاب کولو په وخت وویل : چې مغربۍ دې مادیوسه کیږی نا - او د رسول ﷺ په سنت او تعلیماتو دې عمل اوکړی ، د صبر او زغم نه دې کار واخلی - مغربۍ ووې چې مسلمانان فرقه د ملک په ترقۍ کښې پوره پوره برخه اخستل پکار دی ، د مرستې جذبه راپیدا کول پکار دی او د خود غرضۍ روبه پرېښودل پکار دی ، که داسې وشی نو ژوند به ئې په عزت تېر شی ، او هیڅکله به د مادیوسۍ سره مخ کیږی نا ، اسلام د خود غرضۍ تعلیم نه ورکوی .

۱۹۶۹ء

(روښانه ، قومی آواز ، لکهنؤ ۳ ر دسمبر)

د هندوستان نظام بدلېدل پکار دی

(لکهنؤ ۲ ر دسمبر) نن سحر په سرکاری میلمستون (مهمانخانه) کښې د لکهنؤ د علماؤ او د ینی کونسل د ممبرانو یو وفد د خان عبدالغفارخان سره ولیدل او د مغربۍ په خدمت کښې ئې سپاسنامه وړاندې کړه - د هغې په ځواب کښې پلچلنان ووې : چې مانته د هندوستان د ناقص تعلیم علم دے ، او زه په بیابیا لګیایم دا وینا کوم چې دا نظام تعلیم دې بدل شی او د دې په ځای د مینې ، اتفاق او اتحاد تعلیم ورکول پکار دی ، مغربۍ په دې خبره افسوس څرګند کړو چې په هندوستان کښې بنیادی تعلیم نظر انداز کړے شوے دے .

(قومی - آواز لکهنؤ ۳ ر دسمبر ۱۹۶۹ء)

د هندوستان لیډر راوړد باچاخان په حقله څه وویل!

باچاخان زمونږ لارښود دے له راغلے دے

(بنارس ۲۹ ر نومبر) د بنارس پوهنتون د طالبعلمانو او استاذانو یوې یادګارۍ

غونډې ته د بنارس پوهنتون وائس چانسلر، ډاکټر کے ، ایل شری مالی ووې:
چې زمونږ خوش قسمتی ده چې باچاخان چې بې تاجه باچا او د بې مثاله قربانیو مجسمه ده ، زمونږ په مینځ کښې ې هغه شمع روښانه کړې ده ، کومه چې ګاندهی جی بله کړې وه . د بنارس ټر درځنو د مزدورانو تنظیمونو، تعلیمی اداروو او سیاسی ګوندونو هغوئ ته سپاسنامې وړاندې کړې ، او د دې عقیدت اظهار ې اوکړو چې باچاخان زمونږ د لارښوونې د پاره مونږ په مینځ کښې موجود دے .

(د خپانړه « قامی آواز » یکم دسمبر ۱۹۶۹ء)

باچاخان د احمد آباد په زخمونو مرهم کیښود و .

(نوے دهلے ۸ ، نومبر) د هندوستان وزیراعظم مېرمن اندرا ګاندهی نن د ملته یو پریس کانفرنس ته د خبرو په وخت ووې : چې هندوستان د باچاخان د راتلو خیر مقدم کړے دے ، مونږ په دې خوشحاله یو چې هغوئ د ملته راغلل او د هغوئ په راتلو د احمد آباد په اوسېدونکو د پر بنډ اثر اوشو ، مېرمن اندرا ګاندهی زیاته کړه چې باوجود دې حقیقت چې په احمد آباد کښې د پر اړے کړے دے ، باچاخان د دې په خلقولو کښې تر د پره حده پریالے شو ، هغه چې هرځوا لارو د هغوئ تلو په زخمونو لکه د مرهم کار اوکړو .

(د خپانړه « قامی آواز » لکهنؤ ۹ ، نومبر ۱۹۶۹ء)

باچاخان زمونږ ضمیر ته نوے ژوند ورکړو

(نوے دهلے ۲۵ ، نومبر) مشهور محب وطن جے پرکاش نارائن د هندوستان اوسېدونکو ته اپیل کړے دے چې په ۲۴ ، دسمبر د خان عبدالغفارخان زوکړه (کلیزه) په ټول ملک کښې په لوئ کچ د انسانی وروړ ولې په توګه ونمانځئ ، ټولې ریاستی کمیټې

سیاسی کوندونه او نور سماجی تنظیمونه دې په دې سلسله کښې په خصوصی غونډه کښې کډون اوکړی، د بلچاخان د اوسنی دورې ذکر په وخت جې پرکاش نارائن وویل چې هغوئ دلته د شپږو هفتو راسې دېره دی. او دا شپږ هفتې مونږ تهولو لپاره زمونږ د ضمیر د نوی ژوند سبب گرځیدلی دی باچاخان چې کومې خبرې په هوائی ډګر کړی دی لږ هغه نه مونږ دلته متأثره شوی یو د گاندهی جی نه پس په هندوستان کښې داسې نږدې وو شوی.

(د رخپانړه "انقلاب" بمبئی ۲۶ / نومبر ۱۹۶۹ء)

باچاخان آفاقی شخصیت دے.

(نوے دهلے) تېره ورځ د هندوستان سرکار لخوا د باچاخان په درناوی کښې یو، خصوصی پروګرام وشو چې پکښې د هندوستان د حکومت وزیران، د پارلیمنټ ممبران سفارتی خلق او نورو کسانو په کښ شپږ کډون درلود، په دې موقع باچاخان ته نهرو امن ایوارډ ورکړے شو، دا ایوارډ ورکولو په وخت د هندوستان صدر وی وی گری ووې: چې د چا نه آفاقی انسان وئیلې شی نو هغه خان عبدالغفار خان دے حکه چې هغه په تنګ نظریه او اسړه اصولو نه ورتېر د داسې دائمی اقدارو منونکے او په هغو عمل کړونکے دے چې تل ژوندی وی. باچاخان په خوابی تقریر کښې د ټولو راغلو کسانو منه وکړه او وئیل چې په مونږ کښې د هرچا فرض دے چې هغوئ د اولس سره د مینې او د هغوئ په منځ کښې د صلحې تلقین اوکړی، خلق دې د تشدد، فرقه پرستۍ، جګړو او د خودغرضئ په خلاف اولس په خدمت کولو راضی کړے شی. هغوئ د خپلې د ګجرات د دورې ذکر اوکړو او وئیل چې د مینې ځای کرکې ونیولو او د ګجرات د اوسیدونکو د روایت خلاف هلته د تشدد بازار ګرم دے.

(د رخپانړه "قومی آواز" لکهنؤ ۱۶ / نومبر ۱۹۶۹ء)

د باچاخان د خیالاتو نه هوښیار له سبق حاصلول پکار دی

(لکهنؤ ۲ر دسمبر) مونږ دلته په یوه درنه جلسه کښې د باچاخان د هرکلی په وخت دیوپی وزیر اعلیٰ چندربان گپتا وویل چې هغوی زمونږ د آزادی سرچپل دی، د دوی مصیبتونو سره مخ پاتې شوی دی ـ هغوی دلته په داسې وخت کښې راغلل چې د ملک په ځایې ځایې کښې جنگونه شوی دی، د باچاخان په لوړې گپتا جی اشاره اوکړه او وې ویل چې زمونږ ترمنځه یوه داسې هستی موجوده ده چې په پیړیو کښې هم توله نړۍ ته د مینې او محبت درس ورکوی، هیله ده چې د لکهنؤ اوسیدونکی د دوی خیالات واوری، نو سبق به ترې حاصل کړی او خپله دغه رویه به صحیح کړی لکومې چې باچاخان ته درد ورسېدلے دے۔

د خپرونې "قومی آواز" لکهنؤ ۲ر دسمبر ۱۹۶۶ء

د باچاخان راتلو سره د بیداری چپې خوړې شوې

(د پرهٔ دون "یوپی") د خپرونې فرنټیر میل پخپله اداراتی مقاله کښې لیکلي دي چې خان عبدالغفارخان په ۲۵ر نومبر ۱۹۶۹ء د پرهٔ دون ته راغلل او خان سره یې د تازه هوا چپه راوړه، دې بزرلې مشر د زخمي زړه نولپاره مرهم راوړے دے، د دوی په راتلو په ټول ملک کښې د بیداری چپې خوړې شوې د دوی په آواز د اولس د زړه نو سازونه په غږېدو شول ـ د اولس ضمیرونو ته چې دې پښتون مشر کوم اپیل کړے دے، د هغې اثرات سینکاره کېږی، دیوې لحظې لپاره د سوچ او فکر کولو او په یوې نړۍ لاړې د تلو موقع په لاس راغلې ده، مونږ غواړو چې باچاخان کم نه کم یوکال د پاره په هندوستان کښې اېسار شی۔

بحواله د وساحپا نړۍ "سیاست جدید" کانپور ۱۸ر دسمبر ۱۹۶۹ء

د احمد آباد فساد او باچا خان

باچا خان هغه کار اوکړو چې بل هیڅوک نه کړے شو د مقبوضه کشمیر اسمبلۍ (اسټیټ) د ممبر ښاغلي شمیم احمد شمیم یو مضمون "د باچاخان سره څوکړې" د سرخط لاندې د هندوستان په ګڼو وړځپاڼو کښې خپور شوے دے، د بیباک سهارنپور د ۷ د سمبر د خپرونې ددې مضمون خلاصه وړاندې کوله شي چې د باچاخان د هغه خدمتونو اندازه ترې کیدے شي چې د احمد آباد د ژیلې اوس لپاره ېې کړې دی.

د احمد آباد په فساد د باچاخان بیباکه تبصره:

ما دومره د جلال نه ډکه، باوقاره او غصبناکه څېره په ژوند کښې وار نه لیدلې ده باچاخان سره د ۲۵ منټو د ملاقات نه پس تر دې وخته زما په غوږونو کښې د هغه آواز په کړنګار وو.

باچاخان په جامعه ملیه کښې د مرحوم ډاکټر ذاکر حسین په هغه کور کښې استوګن دے چې هره خبره ېې د ذاکر صاحب د خوښ طبعۍ، نفاست، بناښیست اوکړو وړوکړاوې ورکوی.

پېښلې مرد ولاسارا بانۍ زما پېژندګلو د باچاخان سره اوکړه، او هغوئ په ډېر شفقت او مینه زما سلام واخستو، د هندوستان د مسلمانانو د مسئلو او مستقبل موضوع وچېړله شو - باچاخان وویل:

د هندوستان مسلمانانو سره د خپل مستقبل فکر نشته، هغوئ ته ددې خبرې صحیح اندازه نشته چې هغوئ د خومره سنجیده اونازکو مسئلو سره مخ دی هغوئ نن هم په وړو وړو خبرو پخپلو کښې په جنګ دی، من په دې ملک کښې څلوئ فرقه پرست ګوندونه د مسلمانانو د ختمولو یا د دوئ د ملک نه د وېستلو په کوشش کښې دی. د بهار نه تر ګجرات ته د فرقه وارانه فسادونو سلسله شوروشوې د، په دا سې حال کښې په ځانې د دې چې مسلمانان متفق شي او د خپل مستقبل فکر اوکړی، هغوئ یو بل سره په جنګ

دی.

ما اوس په لنډو وجوکښې د ګجرات دوره اوکړه ، اوما چې پخپلو سترګو هلته کومه تباهي اولیدله ، له دې نه زهٔ په دې نتیجه رسیدلے یم چې دا هرڅه د یو منظم سازش لاندې وشول.

د باچاخان په آواز کښې لږه شان ریړا راغله - ما محسوس کړه چې هغه په زهٔ کښې دننه ددرد یو سړپکیه د پټولو ناکامه کوشش کوی .

ما د هغه ځایې سرکار ته وویې "هغوئ د خبرو سلسله بیا جاری وساتله" چې ماته د لته فرصت کیمپ وښائی ، هغوئ راته وویې چې کیمپ خو خالی شوے دے تول خلق خپلو خپلو کورونو ته تلی دی ، ما ورته وویې چې ماته خالی کیمپ وښائی زهٔ ئې هلته یوتلم او واقعی هلته په کیمپ کښې میخلوڅ هم نهٔ وو ، هلته مسلمان دومره بې زړه دے ، یا دا به وویل چې دومره وېرولے شوے دے چې یو مسلمان هم دا زړه ورتیا ونهٔ کړه چې ماته ئې صحیح حال وئیلے وے ، یوکمیونسټ هندو راته وویې ، چې تاته د هوکه درکولې شی ، مسلمانان پناه ګزین ئې دې کیمپ نه بل کیمپ ته اړولی دی ، ما سره د ګجرات د حکومت دوه وزیران وو ، ما هغوئ ته وویې چې تاسو ځئ لاړشئ خپل کار وکړئ ما سره ولې وخت ضائع کوئ ، اوخپل دغه کمیونسټ ملګری ته مې اووې : چې راځه ماسره په موټر کښې کښېنه ، اوبیا مې ډرائیور ته اووې : چې کوم خوا درته دے وائی هلته ځه ! لږه شېبه پس مونږ هلته اورسېدو چرته چې یو نا ، دوه نا ، دریو نا تقریباً لس کیمپونه وو چې د مصیبت زېړلو خلقونه ډک وو

زما خپل خیال دے چې د ګجرات د فسادونو ذمه وار د ګجرات کانګرسی سرکار دے ، زما په نزد د ګجرات حکومت فرقه پرست دے او د هغه ځایې پولیس هم ، ځکه چې ماته اووئیلے شول چې د پولیس روبیه هم بېحده غیرانسانی وه ، د هغه ځایې مسلمانانو ماته وویې چې هندوان مونږ ته وائی چې تاسو له دې

ځایه لاړ شئ. او که نه څئ نو خپل مذهب او معاشرت پریږدئ. ما کورنۍ شریفې نرانۍ ته وویل. چې زه دې ځای مسلمانانو هلکانو او جینکو سره لیدل غواړم، هغوئ ما سره ملاقاتی کړه، کورنۍ د پر مسلمانانو هلکانو راوغوښتل، نو ما هغوئ ته اووې: چې ستاسو دلته استوګنه ده، د خپل مستقبل فکر اوکړئ، چې دلته به څنګه اوسیږئ، د املاک څنګه چې دهندوانو دے همدغسې ستاسو هم دے، هلکانو خوشحاله ونه ویل، خو یوه جینئ اوږده اوګویانه شوه، بابا مونږ تاسو ته وایو چې د خپل مستقبل فکر اوکړئ، مونږ څه فکر اوکړو؟ هندوان راته وائي چې ستاسو په سکولونو اوکالجونو څه کار؟ تاسو به کله نه ننه وئ، نو سبا به لږدې ځایه شئ. چې په ځلمو اوجونکنې د بې بسئ او بې کسۍ احساس دامې سخت وی نو بیا څه کیدای شی؟

د باچاخان له ستریو شغلي وړیدې، دامې معلومیده چې د کلیات واقعاتو د هغوئ شعور او احساس او جذبات د پرزیات مجروح کړی وو، د هغوئ په حمله ما اوس پدلی وو چې پخپله د پرې خبرې نه کوی د بل اوږی خو د احمد آباد قتل وغارت ئې د ضبط تحول بندونه زیاتې کړي وو او هغه په یو سخت روحاني تکلیف کښې ګیر ښکاریدو.

بعضو خلقو کید کړي وه - چې په فرقه وارانه فساد ونو کښې پخپله د مسلمانانو فرقه پرستانه رویه هم پوره ذمه واره ده.

ما د احمد آباد د اوسنو فسادونو بحقله د شرماچې پرکاش ترانۍ د مفروضې متعلق د باچاخان د رائے لپاره وپوښتل.

زه له دې خبرې انکار نه کوم چې په مسلمانانو کښې هم فرقه پرست خلق شته دے. ولې زه دا وایم چې د اوسنیو فسادونو لامل غلط دی چې دلته ټول مسلمانان پاکستان دی یا د پاکستان امداد کوی، هغوئ راوښیئ او سختې سزا ګانې ورکړئ، خو تاسو له په یوه ستر ګه کتل د کوم ځای انصاف دے؟ او تر کومه چې د احمد آباد،

د اوسنو فسادونو تعلق دے ، دا بیخی بیخایه پروپیگنډه ده ، چې هلته شوږو مسلمانانو کړې وه .

زه پخپله جګن ناتھ مندر ته لاړم ، مانه معلومه شوه چې مندر ته دننه هډوخلګ تلی نه دی ، دې لپاره هلته د زیان هډو سوال نه پیدا کیږی صرف په بهرنۍ دروازه کښې یوه شیشه دوه ماتې شوې دی ، او مانه څوکسانو اووې چې دا هم روستو فسادیانو پخپله ماتې کړې دی ، ماد مندر بامبیانو (پجاریانو) او نورو خدمت ګارو نه پوښتنه اوکړه ، نو هغوئ راته اووې ، چې موږ نه هندوان یو او نه مسلمانان ، موږ خو انسانان یو ، موږ هندوانو ته هم دوده ورکوو او مسلمانانو ته هم .

هرکال زموږ جلوس راوځی چې هم مسلمانانو موږ ته کڼه سترګه نه دی کتلی . خو سږ کال دیوې معمولی پیښې په بهانه د قتل وغارت او لوټ مار سلسله بناد کړے شوه ، د احمد آباد دا اوسنو واقعاتو متعلق هم په دې دواړو شاته دروغ پروپیګنډه اوشوه ، زه چې سیدا کرام ته اورسیدم ، نو هلته راځلکو تپوس اوکړو چې آیا دا ښه شیا دی چې په احمد آباد کښې مسلمانانو هندوانې جینکې تښتولې وې ؟ او د هندوانو ښځو پستان ټې پرې کړی وو ، ما هغوئ ته اووې چې دا تاسو څه وایئ ؟ مسلمانانو کښې دا جرئت له کومه راشی چې هندوانو ته په کڼه سترګه وګوری ؟.

هن ! هندوانو مسلمانانې جوړه وتښتولې او د مسلمانانو ښځو سپکاوے ټې وکړو . پولیس تر درځې ورځو تماشه کوله ، او چې په حرکت کښې راغلل نو مسلمانان ټې دومره وډیرول چې څومره نور نه وو وهلی ، زه وایم دا څنګه سیکولر حکومت دے او څنګه سیکولرېزم دے ؟

تبره ورځ صدر مستر کړی ماله دلته راغلے وو ، ما هغوئ ته هم اوویل چې دا څنګه صورت حال دے چې تن ۲۲ کاله پس هم دلته دا سې فساد ونه کیږی - هغوئ

رانه ووې چې تاسو او والئ چې دې لپاره څه کول پکار دی؟ ما ورته اووې: چې ماسره خوښ دا علاج دے، چې بدمعاش تر ضرور سزا ورکول پکار دی، که هغه هندو وی که مسلمان۔ ما داخبره وزیراعظم ته هم کړې ده، ما ورته اووې چې په گجرات کښې په زرګونو کسان او وژلے شول، ایا یو سړی ته هم پهانسی ورکړے شوه؟ وزیر اعظم اووې چې په قانون کښې داسې کمزورې ده چې مجرم ته لاس نه شی اچولے کیدے، ما ورته اووې چې قانون دنیا ته د ښودلو د پاره خو نه وی مجرم ته د سزا ورکولو د پاره وی۔ که مجرم د قانون په مریسته بچ کیږی نو داسې قانون بدلول پکار دی۔ زهٔ وایم چې هم له دې کبله د قاتلانو او فساد یانو حوصلې زیاتې شوی، هغوئ والئ چې وژلو خلق تپوس کولو والا څوك نشته۔ خو که د قاتل د یقین اوشی چې د هغهٔ د جرم سزا به پهانسی وی نو هغه به د قتل کولو نه اکاهو پخوس کرته سوچ کوی۔

د دې اپوټه مسلمانان دومره بې زړهٔ او خود غرضه دی چې ماله یو د پټې وزیر راغے، هغوئ اووې چې شتهشن ته د مسلمانو مهاجرو کتلو ته تلے وُم، او دا ټول خلك زما خلاف شوی دی او والئ چې دے اوشړئ، ما ورته وې چې ته د پټې وزیر ئې او هغه خبره نشې کولے، نو ته به دا د پټې وزیری څنګه؟

مسلمانانو ماته ګیله اوکړه چې که هغوئ څه تنظیم جوړوی، نو حکومت والئ چې دا کمیونل دلده، ولې د حکومت نه څوك هم دا تپوس نه کوی چې آر ایس ایس او نور جماعتونه څه دی؟

بابا خان اوس پوره په جلال کښې راغلے وُ، اوس د خبرو کولو په وخت، هغهٔ لاسونه خوښول هم شوروکړی وو، او زما یقین دے که خو بی بی (پیغله مردولا ماتا بائی) ورته یاد کړے نه وے چې د هغهٔ پروګرام څهٔ دے نو هغه به د خپل زړهٔ د یوج سپکولو لپاره د برخه وئیلی وو، احمد آباد د هغه مزاج او پوره شخصیت متاثر کړے دے۔

احمد آباد کښې د باچاخان خدمات

د استېتېن دهلی د نمایندې زبانی

(محترم خان عبدالغفار خان چې د فساد زېرلی احمدآباد او ګجرات په بعضې نورو ځایونو کښې د شلو وړځو د ایسارتیا په وخت د فرقه وارانه امن او اتحاد د بیا راوستلو په لړ کښې کوم بې مثاله کوششونه کړی دی د هغې په بابله د استېتېن دهلی د خصوصی نامه نګار د مضمون خلاصه وړاندې کولے شی چې ترڅو د هندوستان د مسلمانانو د تاریخی خدمت او د باچاخان د زړه ورتیا او همت یې اندازه لګېدلې شی.)

ترکومه پورې چې د احمدآباد وغیره د تازه فسادونو د تفصیلاتو د معلومولو تعلق دے، خان صاحب عملاً دیر تنی تحقیقاتی کمېټی په ترڅ کې دا کار تر سره کړو. د هغوئ د دا قسم هلې ځلې بعضې وخت د صوبائی کانګریسی حکومت لپاره د پریشانیو سبب وګرځېدې، ځکه چې خان صاحب په هغه پټو او پناه کونکو نو هم نظر واچولو چې حکومت سنبکاره کول نه غوښتل او د دې ظاهرولو کوشش یې کولو چې هلته هیڅ هم نه دی شوی.

د واقعاتو تر تله درسېدو لپاره خان صاحب خپلې طریقې اختیار کړې. سرکاری بیانونو ته عموماً هغوئ هم د هغه شک په نظر اوکتل چې د اخباری رپورټرانو سره ترڅنګ ګرځېلے شی، د احمدآباد نه هغه بېړوده، پالن پور، دلباکړ سادا او نوپاد ته لاړو او هرځایئ هغه د اصرار اوکړو چې د وېرې ترڅې وهلې ځایونه اوګورې، د مظلومانو سره یې پخپله اولیدل، مقامی افسرانو، د سیاسی ګوندونو مېرانو او مختلفو سماجی تنظیمونو سره یې پخپله کښېناستو او د حادثاتو او واقعاتو معلومات یې اوکړل، څو وارې د ګجرات حکومت د بعضې ځایونو نه په دې بهانه د هغوئ د ایسارولو کوشش اوکړو چې هلته به د هغوئ د حفاظت بندوبست اونه شی، یا داچې هلته په تلو راتلو د هغوئ په صحت خراب اثر پرېوتے شی، خو،

هر څل خان صاحب په داسې موقعو د دغه ویناګانو نه اپوټه تأثر واخستو او همدغه خایونو ته د تلو او د فساد زیاتو خایونو په خپلو سترګو د کتلو اصرار یې وکړو. کله چې هغه د شمالي ګجرات یو ښار پالن پور (چې یو مسلمان ریاست دے) ته لاړو. چې ته چې د فساد د جوړېدو په وخت کښې تقریباً څلویښت دُکانونه سوزولے شوی وو، نو مقامي افسرانو وېره په سختۍ دا مشوره ورکړه چې هغه دې دلته ته نه ځې ځکه چې هلته د هغه ژوند د حفاظت معقول انتظام نا ممکنه دے، ولې خان صاحب په دې اصرار دلته ته لاړو، د فساد خایونه یې وکتل، په یو جماعت کښې یې د ویښو داغونه اولیدل، په دې جماعت کښې یواځې اوسېدونکے امام وُ کله مؤذن عن د مونځ په حالت کښې یو شرپسند دې ډلې ټوټے ټوټے کړے وُ، همدغه دغلته مغروړ یو داسې سړے هم اولیدو چې عمر یې ۱۰۵ کاله وُ. چې پولیس د داسې واقعاتو د ثبوت حاصلولو لپاره بندی کړے وُ. چې هغه پولیس ته له ورانډې معلوم وو. او بیا هم دغلته یوې درنې جلسې ته په تقریر کولو یې سرکاري افسران نو هم په تشویش او پریشانۍ کښې واچول.

همدغسې حاکمانو د هرکوشش اوکړو چې هغه فساد کلی (چې ته چې د سړه اد پټیل آن جهاني کړے دے) ته لاړ نه شی - د دې کلي پنځه زره هندوانو اوسېدونکو د مسلمانانو د د پرېښو کولو نه ټول کسان یعنې راوکښل، د کلی یې یعنې ویښل، اوکړونو ته یې ورله اور ورته کړو او ایره ایره یې کړل. خان عبدالغفار خان د دې کلی ته لاړو، او په دې خبره یې د هره حیرانتیا ښکاره کړه - چې بد معاشه فسادیان څنګه د یو جماعت شهید کولو ته پریښودے شول؟

د خان عبدالغفار خان د دې طریقه کار په کتلو یې پولیس افسر په دې ویناء مجبوره شو چې مونږ څومره د دهٔ نه د یوځیز پټولو کوشش کوو - هومره دے د هغې ځل ته ورسی.

هرڅوکه خان صاحب د دې دورې په برکت بعضې واقعات راښکاره شول

او حالات هم څه قدري ښه شول بيا هم بعضي ذاتي قسم مأيوسي هم په دې سلسله کښې مخې ته راغلې.

هغوئ د دې تأثر اظهار هم اوکړو چې که چرې يوه فرقه د بلې فرقې په رحم وکرم پريښوولې شي، نو په داسې حال کښې چرې هم اتحاد جوړيدې نه شي دې لپاره مسلمانانو ته پکار دی چې په ځان کښې طاقت راپيدا کړي. د دې مقصد لپاره پکار دی چې هغوئ د خدائی خدمتګارو په نمونه د مخلصو اود قربانيو په جذبه د مأيوسو کارکنانو يوجماعت تيار کړي. چې هغه فساد زيږولو ځايونو ته لاړ شي او د برياد شوو مسلمانانو ړنګ کورونه د سره بيا د آباد ولو کوشش اوکړي. پرته له دې د اکثريت سره ښه تعلقات جوړ کړي، هغوئ په دې خبره مأيوسي څرګنده کړه چې تر اوسه د داسې مخلصو کارکنانو تنظيم جوړ نه کړې شو.

خان عبدالغفارخان په دې خبره هم ډير افسوس او نا اميدی ښکاره کړه چې هغه خلق کوم چې خانونو ته د ګاندهی جی پيروکار وائی. د فساد په سلسله کښې هيڅ هم اونه کړل، هغوئ د افسوس په لهجه کښې اووې چې د (ګاندهی جی جوړ کړې شوی) سابرمتی اشرم نه يوکس هم مهر را ونه ويتو چې د دې د ايسارولو کوشش نې کړے وے. هغه غير د ګاندهی جی جوړ کړے شوی د ګجرات او د ياپنهه سيو طالبعلم هم خپل ګاونډ کښې د مسلمانانو د هاسټل (دارالاقامه) د سوزيدو نه د بچ کولو د پاره کوشش اونه کړو. د غه نمونه باچاخان ته د دې خبرې په معلوميدو نرم درد اوسيدو، چې د فرقه پرستی زهر په پوليس کښې او ترڅه حده په لوړه ګانو کښې هم خواره شوی دی. د دې خبرې اعلان او اظهار نې د احمد آباد په تقريرونو کښې په بيا بيا اوکړو.

(استفهامیه پحواله د بهباک سهارنپور)

۱۸ نومبر ۱۹۶۹ء

د باچاخان پیغام زما په نظر کښې

د مشهور بهارتي لیډر آر. آر. وی واکر دیر مضمون خلاصه

باچاخان زمونږ په ملک کښې دے، د شپږو هفتو د اولس په وړاندې په دې هره بې باکه او د زړه په صدق د خپلو خیالاتو اظهار کوی، څنګه چې آسانه وینو بهاوے، ویلی دی چې په دې ملک یو واړې بیا د ګاندهي جی ریښتونې لښکر شریف باچاخان هم په هرانۍ ډګر د دې خیال په لښکر ډول څرګندونه اوکړه چې هرکله تاسو د ګاندهي جی خبرې وانه اوریدلې نو زما په خبرو به څه عمل اوکړئ. باچاخان ۲۲ کاله پس هندوستان ته راغلے دے، او د راتلو سره سم یې اعلان کړے دے.

مانه نه ستاسو د پیسو ضرورت نشته او نه د پښتونستان لپاره ستاسو د امداد - زه یوخدائی خدمتګار یم - زه ستاسو سره ستاسو د مشکلاتو په څلې د خبرو لپاره راغلے یم.

باچاخان د هندوستان په غربت او د اولس په بدحالۍ باندې د افسوس اظهار کړے دے، او څنګه چې نن هندوستان په فرقه پرستۍ کښې راګیر دے او نفرت او تشدد پنجې سپنې کړې دی - هغه د باچاخان په نزد د هندوستان د تباهۍ سبب دے.

باچاخان خپلو بې شمیره تقریرونو، کانفرنسونو او غونډو کښې نه دا چې د تشدد غندنه کړې ده، بلکې د هندو او مسلمان د سنګښتوب ذات په منځ کښې د مساواتو او د تړلو فرقو په یو والی یې زور اچولے دے، هغوی د سیاست مدار او خود غرضی او مفاد پرستی چې په اولسی او حکومتی کچ خوړ ده د ملک د ترقی د سنبمنه کرځولې ده.

بعضو خلقو باچاخان ته او وې چې د هندوانو او مسلمانانو جګړې انګریزانو پیدا کړې دی. باچاخان سمدستی ددې په خواب کښې اووې چې مونږ ولې د انګریزانو په لاسونو کښې لوبې شو، او ولې د خپل ملک د فائدې لپاره د هوشې نه کار نه اخلو.

د باچاخان د دې تقریرونو په ملک ښه اثر پریښے دے.

د روزنامه "پائنیر" لکهنؤ ۷ د دسمبر ۱۹۶۹ء

ماباچاخان اولیدو

د رام نگر بنارس مشهور عالم اوادیب مولانا محمد امام الدین صاحب له قلمه ماخان عبدالغفارخان ولیدو ، تاسو به وائی په دې کښې ستاسو خصوصیت دے چې دا سرخط دې اولیکلو ، باچاخان د بنارس زرکونو بنځو ، سړو اوماشومانو ولیدو ، بلکل رښتیا دی - ماته معلومه د چې منو مندو پوهنتون ناګرۍ پرچارنې سبها او نورو د پاره اداره اود بنارس کارپوریشن په جلسو کښې ګډون اوکړو اوتقریرونه ېې اوکړل ، خو چې چاهم باچاخان اولیدو پخپل نظر ېې ولیدو ، زما په نظر چا ولیدو ؟

انجمن ترقی اردو ته د شپې د باچاخان د استوګنې په ځای کښې هغوی ته د سپاسنامې ورکولو موقع ترلاسه شوه .

باچاخان د بنارس دمهاراجه په بنګله کښې چې ند یسر کښې ده ، ایسار شوے وُ - د انجمن عهده دارو اونورو کسانو سره زهٔ هم ندیسر بنګلې ته لاړم . د بنګلې نه بهر بې شمیره موټرې ولاړې وې ، باچاخان تر اوسه له سټیوه واپس تشریف نه وُ راوړے ، د هر خلق اخواد پخوا ولاړ وُو ، انتظار ېې کولو ، د بنګلې په شاه یرلوې ټمبو لګولے شوے وُو ، لوېدیز اړخ ته د باچاخان دناستې بندوبست شوے وُ - مونږ تول هلته کښېناستو - یوه شېبه پس معلومه شوه چې باچاخان راورسېدو - تول خلق پاسېدل ، وروسته پته اولګېده چې په بنګله کښې دننه به ناسته کېږی ، ځکه تول خلق دننه ننوتل ، د انجمن د وفد نه علاوه نور خلق هم وُو ، ماته د باچاخان دناستې د ځای سره نزدې ځای ترلاسه شو .

لږ ساعت پس باچاخان له خپلې کمرې نه راووتو ، او په کډې کښېناستو همدا وخت وُچې ما د هغه نزدې نه باچاخان ولیدو ، سور سپین رنګ ، دنګ ږنه ، پلن اوږد مخ ، پراخه تندے ، غټ غټ سترګې لکه دیو مفکر راز وړ ځنده پلنې پلنې خپرې ې ، اوږده اوږده لاسونه ، د پیرۍ ېې دا حال وُ ، نو ځوانی خو به ېې داسې وه چې

کله ازمری ته یې غاړه وسته، نو د هغه به یې هم پښې مانړلې، فقیرانه لباس، د غبرګې کپړې لو تر غوږونو راغلې د خاکې رنګ تر پسې، اړته بېرته کړته، خاکې پرتوګې د پاسه پرې لوټې د خاکې رنګ څادر، په ظاهر، باطن دواړو خاکساره چې د دې پرې انکساریه یاوجود بادشاهان هم په خاطر کښې نه راوستلو والا ملنګ، د غریبانو او تکلیف وهلو، مصیبت زپلو، د زمانې د لاسه در په دیکو خلقو او مظلومانو ریښتونې همدرد، د هر تعریف او صفت نه بې نیازه، بې باکه، حق ګو، د جنګ آزادۍ جلیل القدره او دماغې د تصور نه نا اشنا سپه سالار، د هغه قاهر اوجابر او وسیع سلطنت د سپاهیانو د ګولو د باران نه مخ نه اړونکے چې هدو نمن پکښې نه پرېږوتو او هغه د خپل ملک نه یار وېستونکے، د خدائ نه بغیر د بل چا نه نه ویرېدونکے، د حق او انصاف علمبردار، د انسانیت نمونه، د اخلاقو مجسمه، د عدم تشدد او فرقه وارانه اتحاد حامی، په حقیقی معانو کښې د سرحدی ګاندهی په نرم دیاد ولو مستحق.

د ملک د آزادۍ نه پس د څوونډ اصول بدل شول، زېږونه او دماغونه بدل شول، ماحول بدل شو، د همالیې پوښ یخن بدل شو، خو باچاخان بدل نه شو. څومره عظیم دے باچاخان!

(د ښاغلې "قومی موچه" رامپور ۳ د دسمبر ۱۹۶۸ء)

د باچاخان په خدمانو!

د څو مسلمانانو اخبارونو اداریتی مقالې:

(د ښاغلې سنګهم کلکته - ۱۴ دسمبر ۱۹۶۸ء

د وونډ مشر مېلمه او ستر سیاست دان چې کلکتې نه تشریف راوړو، نو د هغوئ د پېر تود هرکلے اوشو، د سرکاری هرکلی سره سره په اولسی کچ هم د هغوئ بې مثاله هرکلے اوشو، داختر په ماخه کښې په سې ډوډۍ د لکونو فرزندان توحید زېږولونکه بې شانه خې شخصیت، او یوه خوښحالی کې داختر وه نو بله د باچاخان، د باچاخان زېږ د سون ورځ دا زنه وه، هغوئ د هندوستان فرقه وارانه مسئلې له د پېر ښه د ب

لیدلی دی، اوخان یې پرې رسولے دے، هغوی چې څه سوچ کوی اوخه غواړی
له دوه نیمو درې میاشتو د هندوستان په لرو اوبرکښې یې له څه وپرې رښتیا رښتیا
بیاموړی. د هغوی د ټولونه زیاته توجه په فرقه وارانه مسئلو ده، حکه چې د احمدآباد د بې رحمه
قتلونو د هغوی په زړه اودماغ غټي ورټوټه میلی دی، د باچاخان په زړه کښې چې کوم
درد دے اود حالاتو د سینه کولو په لړ کښې چې کومه د خیر غوښتنه ده، له هغې انکار
نشی کېدای، که بد خبره ترې نصیحت او عبرت واخلی هم، د باچاخان تقریرونه به
د فرقه پرستو خلاف د یوې وسلې په توګه خامخا استعمالیږي.

ورځپاڼه "قومی جنګ" رامپور ۶ د سمبر ۱۹۶۹ء

خان عبدالغفارخان چې هندوستان ته راغے نو د هغوی د راتلو مړه دا سې
محسوسیده له لکه چې په تاوجنه فضاء کښې یخه او تازه هوا را الوتې وی.

خان عبدالغفارخان چې هندوستان ته راغے، نو وې لیدل چې د زهرو
کوم تالاؤ د کاندهی جی د ژوند د ختمولو سبب شوے ؤ ارت او پراخه شوے
او بې انتها سمندر شوے دے، د بغض او عداوت د کومو هوا ګانو پرځای اوس
د کرکې، تنګ دلی، او حقارت دا سې توده سیلۍ په دې ملک کښې را الوتې ده
چې لکه د اور توده والی کښې په زړګونو کسان لکه د ډکو الوزی. په سالم هندوستان
کښې د نفرت بازار لګیدلے دے، هرځای د دښمنۍ او بدګمانو لوګی خپرې.
د یو رښتونی عملی انسان او رښتونی لیډر په شان باچاخان د دې ملک درد
محسوس کړے دے. هغه آفاقی روح چې د هر رښتونی انسان او رښتونی
لیډر په وجود کښې وی، هغوی هم د دغه آفاقی روح په مدد د هندوستان
جاج اصلاح دے.

همدغه اخبار د خپلې ۲۲ نومبر ۱۹۶۹ء په اداریه کښې یو واړی
بیا لیکی:

چې د هندوستان د مسلمانانو حال څه دے؟ دوې د ۱۹۴۷ء نه راپدې خوا

د زوال څومره ژوړې کنډې ته پریښتل ، د هغو اندازه د دې ځای عام مسلمانانو ته نشې کېدای ، تر څو چې یو داسې کس د هغې ګواهي ورکړي ، چې دیانتدار او تجربه کار وي. د خان عبدالغفارخان نه به ښه مسلمان شاید چې د اوښتې نړۍ هندوستان کښې نه وي. د هندوستان مسلمانانو سره د هغه تعلقات که ژوړند وي، نو مربوط ضرور وو، هغه مسلمانان او مسلمانانو هغه پېژندو ، او اوس چې مثل کالد پس هغه بیادې مسلمانانو له راغے ، نو دیولوی شخصیت بې وزنه هغه په رومبې ځل د هندوستان مسلمانانو د قیادت او نظم وضبط نه بغیر اولیدل ، اوس کېږي چاپېره خاموشي خوره ده ، مسلمانان لکه د خښتو کانړو او د ملبې د ډبرو په توکه خواره واره دي .

د هندوستان په مسلمانانو کښې خو دا جرأت هم نشته چې د ګجرات حکومت خلاف له خولې یو دوه ټکي اوباسي ، په دوی کښې دومره همت ، جرأت او اخلاقي قوت هم نشته ، چې خان عبدالغفارخان ته پټ په مسلمانانو د ګجرات د حکومت ظلمونه بیان کړي .

ورځپاڼه ملت اوملت دهلی . ۲۱ اکتوبر ۱۹۶۹ء .

دګران میلمه باچاخان د خلوص اوحق کوئ نه انکار ممکن نه دے . هغوئ د پیرۍ او ستومانۍ باوجود دې ورځې زمونږ د ګناهونو په کفاره کښې روژه اوساتله ، او بیا ئې اخبارنویسانو ته اووې : چې د هندوستان د تولو مشکلاتو سبب بې غرضه خدمت ، دیانتداري او ایمانداري ده ، د هغوئ د اخبره دېره ترخه وه او هم دا د هغوئ د حق پرستۍ ثبوت دے ، د مخلص لوبه پېژندګلی هم دا ده ، دې لپاره زمونږ فرض دے ، چې د خپلو خامو، غلطیو جاج واخلو او د دې د صحیح کولو کوشش اوکړو .

ورځپاڼه آزاد هند کلکته ۹ دسمبر ۱۹۶۹ء

خان عبدالغفارخان د خپلو تپاکلی پروګرام نه یوه ورځ اګاموپه لښتم

د سمبر کلکتے تہ راورسید ونکے دے ۔ د لویدیځ بنگال اولس د جنټ آزادی د دې مرد مجاهد د هر کلی د پاره ستر کې په لار دے ۔

باچاخان په دې آخری عمر کښې هندوستان ته راغلے او د ټول ملک د دورې پروګرام ېې اوښیولو ، تراوسه هغه د ډېرو صوبو دوره کړې ده ، لمانځې په ځایې ېې تقریرونه اوکړل ، چې په اولس ېې ښه اثرات پریښتل ، او خلقو ډکا مذهبی جې نه پس یو واری بیا د حق هغه آواز واورېد و چې هیڅ قسم دروغ او فریب پکښې نه وُ ۔

د سیاست کندګی د اسې بوی خوره کړے دے چې پوهه ته لاس نیول غواړی نن سبا د خلقو خبرو کښې ملاوټ (کډوون) راغلے دے ، څوک که هرڅه وائی ، یقین کول پرې ګران وی چې دے څه وائی ۔ حقیقت دے که د الفاظو جادوګری ده ۔ او اولس ته فریب ورکول دی ، باچاخان چې د هندوستان په خاوره د قدم اینبودو سره سم په کومه زړه ورتیا د امن آواز پورته کړو ، هغې د ګرګټ په شان رنټې بدلوونکی کسان ېې حق دق حیران خو کړل ولې اولس پرې بېځده خوشحاله شو ۔

اووه ورځینې بلیاک سهارنپور ۷ / د سمبر ۱۹۶۹ء

د هندوستان لپاره د خان عبد الغفارخان په زړه کښې جوړشوی زخونه راښه کېږی ، چې پکښې د هرڅه نه د پر تکلیف ورکوونکے او قابل تشویش ځای زخم دے چې د مذهبی منافرت او فرقه وارانه چارچیت نه لګېدلے دے ، خان عبد الغفارخان د هندوستان د ژوند په هره برخه کښې بدحالی په ډېره ژوره محسوس کړې ده ، او دیو دردمند لارښود په رنټې ېې په ډېره صفا ساده اوښکاره ټکو کښې د احتیقتونه په کوته کړی دی ، چې تر ې د اجتماعی قامی تیاهی سره بل هیڅ څه تر لاسه کېدای نه شی ۔

باچاخان اعزازی ډګری نه قبلوی

زه خدائی خدمتګار یم د داسې تکلفاتو نه ډډه کوم.

(شانتی نکتین ۸ د سمبر)

خان عبدالغفارخان د پر په ادب او احترام د وشوا بهارت اعزازی ډګری «د دیش کویاما» د قبلولو نه انکار کړے دے، خو دا وئیلے شی چې که هر څو هغه ډګری اخستل نه غواړی خو په ۱۵ د سمبر به شانتی نکستین ته ځی

پرون وایس چانسلر یونامه نګار ته اووې چې د باچاخان یو نزدې ملګری ماته خبر راکړے دے «چې باچاخان خدائی خدمتګار دے، هغه اعزازی ډګری نشی قبلولے. مغوئی په دې لړ کښې معذرت کول غواړی. وائس چانسلر وراندې وویې چې لکه باچاخان د شاعراعظم بندرناتھ ټیګور د پر احترام کوی، په دې وجه به هغه په ۱۵ د سمبر شانتی نکستین ته په راتلو رضامندی څرګنده کړې ده.

باچاخان په ۱۴ د سمبر د شپې لعل پور سټیشن ته راورسی او په مله ورځ به شانتی نکستین ته تشریف راوړی او هم په دغه ورځ به مازیګر واپس ځی.

(آزاد هند کلکته ۹ د سمبر ۱۹۶۶ء)

باچاخان د هندوانو فرقه پرستو په نظر کښې

د باچاخان هندوستان ته راتلو او د هندوانو د فرقه پرستی خلاف تېره تنقید وو نو ته د هندوستان فرقه پرست هندو پریس په ډېره غصه اوښړاری کتلی دی، چې یوه نمونه ئې د پرتاب دهلی هغه کار تون دے، چې په دې کتاب کښې ورکړے شوے دے، دویمه نمونه ئې د هندوانو فرقه پرستو د سرخیل جن سنګھ د ترجمان ارګنائزر دهلی» د امضا ورن دے چې په جمهوریه نمبر کښې خپور شوے دے. ارګنائزر لیکی.

په هندوستان کښې مسلمانان دوهمې ټولګې تبروی. او په اسلامی
ملکونو کښې هندوان په امن اوسی.

" - په ختیز او لوېدیز پاکستان کښې کم شمېره هندوان په امن او خوشحالۍ
آباد دی ولې د هندوستان کم شمېره مسلمانان نورمحمد داوینا نشی کېدے.

" - هغه خلق چې د هندوستان آئین ئې جوړ کړو د هرچا لاس ووچې د سیکولرزم
په اړکښې ئې دوه څلور مسلمانان تراوچتې مرتبې اورسول، ولې د مسلمانانو
دېره شمېره په مصیبتونو کښې بند یرانه ده.

" - صدر داکټر ذاکرحسین صم خوشحاله نه وو، لکه چې هغه د هغه کول نه منل
وئې نه کړے شول. حقیقت دادے چې هغه د صدارت نه لاس اخستل
غوښتل.

" مسلمانانو ته د سکھانو په رنګ زړه ورتیا نښودل پکار دی، مسلمانان
ولې د خپلو حقوقو لپاره متحد او کړندی کېږی نا؟

داخو اقتباسات مونږ د خان عبد الغفارخان د هغه تقریرونو نه
اخستی دی کوم چې هغه په سویلی هندوستان کښې کړی دی. مونږ داچې د
باچاخان خدمات تو او قربانیږل کبله د هغوئ د پر قدر کوو، خو د دې خبرې
اجازت نشو ورکولے چې هغه د ټولهم هندو قام بدنام کړی.

داخیره کول چې په پاکستان کښې د هندوانو حالت د هندوستان د
مسلمانانو نه د پر ښه دے. حقائق پټول او دروغ ویناده.

خان عبد الغفارخان په څو کرته د مسلمانانو د لوئې جرګې (کنونشن)
داغوښتو غږ کړے دے، کم چرې داسې او شول نو د دې جرګې (کنونشن)
شوو جرګو (کنونشنونو) په رنګ وی.

(ارګنائزر دهلی جهورسیټ نمبر)